بسم الله الرحمن الرحيم

د سعدالدین شپون په شین‌ټاغي ناول کې د برچارونو څېړنه

(د هالیډې د چاروالې نظریې پر بنسټ)

څېړونکی: نصیراحمد طاهري

لارښود استاد: پوهاند ډاکتر اجمل ښکلی

سلاکار استاد: پوهنوال ډاکتر رحیم‌الله ځیرک

کتاب‌پېژندنه : طاهري، نصيراحمد- Taheri, Nasir Ahmad
د کتاب نوم او لیکوال : د سعدالدین شپون په شین ټاغي ناول کې د برچارونو څېړنه، نصيراحمد طاهري
د خپرېدو ځانګړنې :
ظاهري ځانګړنې : ۲۱۶ مخونه
کنکش/ISBN :
موضوع : ژېپوهنه، چاروالە ژېپوهنه، ادبيات، شين‌ټاغی ناول

څېړونکی: نصيراحمد طاهري
لارښود استاد: پوهاند ډاکتر اجمل ښکلی
سلاکار استاد: پوهنوال ډاکتر رحيم‌الله ځيرک

د سعدالدین شپون په شین‌ټاغي ناول کې د برچارونو څېړنه

(د هالیډې د چاروالې نظریې پر بنسټ)

کال: ۱۴۰۵لمریز

کنکش/ISBN :

خپرندوی: کابل پوهنتون

برېښنالیک: nasirahmad.taheri2015@gmail.com

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العلمين والعاقبة للمتقين والصلاة والسلام على رسوله الكريم.

مخکنۍ خبرې

الحمدالله والصلاة والسلام على عباده الذين اصطفى، امابعد! د الله ﷻ شکر اداکوم، چې د څه ليکلو او څېړلو توان يې راپه برخه کړ. دا څېړنه د پښتو ژبې د معاصرې ژبپوهنې اړوند ده. دا څېړنيزه موضوع په شين ټاغي ناول کې د برچارونو څېړنه ده. البته د هالېډې د چاروالې نظريې پر اساس. دا نظريه په ژبه کې د بېلابېلو ژبپوهانو له لورې رامنځته شوه او هالېډې اتمام ته ورسوله. ما چې کله د دوکتورا په دوره کې چاروالە ژبپوهنه ولوسته؛ نو دا مې وپتيله، چې دا نظريه په پښتو ناولونو کې تطبيق کړم او يا يو ناول د همدې نظريې پر اساس وڅېړم. همدا وو، چې په شين ټاغي ناول کې مې د برچارونو څېړنه، د پوهاند ډاکتر اجمل ښکلي په لارښوونه وټاکله او پوهاند ښکلی راته لار ښود استاد وټاکل شو.

د دې موضوع د ټاکلو څو انګېزې وې. لومړی انګېزه دا وه، چې دا يوه نوې نظريه ده او لا تر اوسه د کوم څېړونکي له لورې په ناولونو کې نه ده تطبيق شوې. دويمه انګېزه دا وه، چې دا ډول نظريې څېړل او د هغو تطبيق په پښتو ناولونو کې د پښتو ژبې او ژبپوهنې لپاره يو ګټور کار دی او بايد لوستونکي او ښوونکي ترې خبر شي، ويې لولي او د ژبپوهنې اړوند په تېره بيا په نحوه کې ترې ګټه واخلي. درېيمه انګېزه د موضوع د ټاکلو دا وه، چې ډېره موده کېږي، چې په پوهنتون کې د نحوې مضمون تدريسوم او په پښتو نحوي کتابونو کې له ډېرو نيمګړتياوو سره مخامخ شوی يم. هڅه مې وکړه، چې دا نحوي تيوري د يوې موضوع د څېړلو لپاره وټاکم، تر څو د پښتو نحوي کتابونو نيمګړتياوې هم بشپړې کړم او بل دا چې هغه پوښتنو ته ځوابونه ووايم، چې پښتو نحوې يې له ځواب څخه عاجزې دي. بله انګېزه دا هم وه، چې د دوکتورا دورې پرې بشپړه کړم او يو نوی تحقيق د لوستونکو او ښوونکو لپاره وړاندې کړم.

د پورته څو انګېزو په نظر کې نیولو سره مې دا موضوع وټاکله او دا دی، اوس مې بشپړه کړه. دا چې چېرته کار وي، هلته اشتباهات هم وي، ښایي تېروتنې ولري، هیله لرم، چې ما وبښئ .

د یادونې وړ بولم، چې د ډې موضوع په لارښوونه کې پوهاند ډاکتر اجمل ښکلي، چې زما لار ښود استاد هم دی او پوهنوال ډاکتر زېرک چې ملګری او صمیمي دوست مې دی، را سره ډېره مرسته کړې، ترې منه کوم او دوی ته د الله ﷻ له لوی دربار څخه د خیر او ښېګڼې دعا لاسونه لپه کوم.

درناوی

پوهنوال نصیراحمد طاهري

لنډيز

دا اثر په شين ټاغي ناول کې د برچارونو څېړنې څخه بحث کوي. برچارونه د چاروال گرامر مهمې برخې دي، چې د تيوري په شکل د مايکل هالېډې له لوري وړاندې شوې او يوه نحوي تيوري ده. په معاصر وخت کې خصوصاً د ژبپوهنې په برخه کې نوې تيوري بلل کېدای شي.برچارونه درې دي، چې تجربي، وګړمنځی او متني په نوم يادېږي. هر برچار بېلې ځانګړنې لري. چاروال گرامر له مخې يوه ژبه دا درې مهمې دندې همزمان پرمخ بيايي. چې هم تجربه بيانوي، هم د وګړوترمنځ د خبرو تعامل رابېيي او هم د جملو او فقرو انسجام مورِ ته رابېيي .کله چې ما چاروال ژبپوهنه ولوسته نو دا پرېکړه مې وکړه، چې د کتورا دوره بايد په همدې برخه کې بشپړه کړم او د پښتو ژبې د معاصر کيسه ليکوال سعدالدين شپون په يوه ناول(شين ټاغي کې د برچارونو څېړنه) موضوع وټاکم، چې همدا کار مې وکړ او ښاغلي استاد پوهاند ډاکټر ښکلي هم په ورين تندي راسره ومانه .د همدې موخو په نظر کې نيولو سره، ما هم ياده موضوع وټاکله. د يادې موضوع د اډانې په لومړی څپرکی د موضووع کليات دي، د سريزې، د مسالې بيان، د موضوع موخې او اهداف، د موضوع د ليکلو ارزښت، د څېړنې پوښتنې چې په اصلي او فرعي برخووېشل شوې راغلي دي. دويم څپرکی د موضوع شاليد، نظري بنسټ او د مفاهيمو پېژندنې ته ځانګړی شوی او د هغو اثارو او ليکنو څخه پکې يادونه شوې، چې په همدې برخه کې له ما څخه وړاند څېړونکو کړي دي. د موضوع درېيم څپرکی د څېړنې روش دی او هغه مېتود چې ما د موضوع په څېړلو کې تړې ګټه اخيستې معرفي کړی مې دی. څلورم څپرکی موندنې دي او د اصلي موضوع ټول محتويات په څلورم څپرکي کې راوړل شوي دي. پينځم څپرکی کې پايله، مناقشه، پايپايله، وړاندیزونه او اخځليکونه راغلي دي .د يادونې وړ بولم، چې د برچارونو ټولې برخې مې څېړلي دي او د شين ټاغي ناول څخه مې ورته غونډلې راوړې دي. د برچارونو په يفيت او کميت مې خبرې کړي دي او دا مې روښانه کړې، چې په سياسي ناولونو کې تجربي، وګړمنځی او متني برچار په کومه کچه او کوم کيفيت راوړل شوي؟ د دې موضوع په بشپړولو کې د تحليلي ـ تشريحي مېتود څخه ګټه اخيستل شوې؛

ځکه چې ټوله موضوع په یوه مشخص ناول کې څېړم او نورو روشونو ته پکې اړتیا نشته. دا چې دا موضوع په پښتو کې نوې ده او لا تراوسه کوم څېړونکي نه ده څېړلې، په دې خاطر د داسې موضوعاتو څېړل ډېر اړین او ضروري دي. دا څېړنه د ژبپوهنې په ډګر یو نوی کار دی. دا تیوري د هالېډې ده او د دا ډول تیوري تطبیق ډېر ارزښت لري، د نحوې د برخې ستونزې پرې حل کېدای شي او دا موضوع نوې ده، د بل کوم څېړونکي له لوري نه ده څېړل شوې؛ نو ځکه ما وټاکله.

آر ویبونه: برچار، پروسې، چار، چاروالە، شین ټاغی؛

نیولیک

سرلیک مخ

لومړی څپرکی

د څېړنې کلیات

۱,۱ـ سریزه ۱

۱. ۲ـد مسالې بیان ۳

۱. ۳ـپوښتنې ٤

۱. ۴ـد څېړنې موخې ٤

۱. ۵ـد موضوع د څېړلو ارزښت ۵

۱. ٦ـد څېړنې حدود ۵

۱. ۷ـد څېړنې نوښتي اړخونه ٦

دویم څپرکی

د څېړنې شالید، نظري بنسټ او د مفاهیمو پېژندنه

۲. ۱ـ شالید ۷

۲. ۱. ۱ـ کتابونه ۷

۲. ۲ـ د څېړنې نظري بنسټ ۱٦

۲. ۲. ٦ـد سعدالدین شپون پېژندنه ۲۵

۲. ۲. ۷. ۳ـد استاد سعدالدین شپون د هنري نثر ځانګړنې ۳٤

۲. ۲. ۳ـ د مفاهیمو تعریفونه ۳٦

۲. ۲. ۴ـپایله ۳۸

درېيم څپرکی

د څېړنې مېتودولوژي

۳. ۱ـ د څېړنې ډول ٤١

۳. ۲ـ د څېړنې مېتود ٤٢

۳. ۳ـ د موادو لاټولولو لارې چارې ٤٢

۳. ۳. ۱ـ سرچينې ٤٢

۳. ۳. ۲ـ نمونه اخيستنه ٤٣

۳. ۴ـ د څېړنې اخلاقي اصول ٤٣

څلورم څپرکی

د موادو تحليل او موندنې

۴ـ ۱ـ د استاد سعدالدين شپون په شين ټاغي ناول کې د برچارونو څېړنه ٤٥

۴. ۱. ۱ـ په شين ټاغي ناول کې د تجربي برچار څېړنه ٤٥

۴. ۱. ۲ـ په شين ټاغي ناول کې ډېرې استعمال شوې پروسې او لاملونه يې ١٠٤

۴. ۱. ۳ـ ګډوني (مشارکتي) توکي ١٠٨

۴. ۱. ۴ـ څنډني توکي ١١٤

۴. ۱. ۵ـ په شين ټاغي ناول کې د پېښو د کارېدلو لاملونه ١١٦

۴. ۲ـ په شين ټاغي کې د وګړمنځي بر چار څېړنه ١٢٦

۴. ۲. ۱ـ وجه ١٢٧

۴. ۲. ۲ـ د وجهې ټوکونه ١٣٧

۴. ۲. ۳ـ په شن ټاغي ناول کې وجهيتونه ١٤١

۴. ۲. ۴ـ قطبيت ١٤٥

۴. ۲. ۵ـ پاتې شونې ١٤٧

۴. ۲. ٦ـ بشپړاند ١٥٣

۴. ۳ـ په شين ټاغي کې د متني برچار څېړنه ١٥٩

۴. ۳. ۱ـ د اطلاع نظام ١٥٩

۴. ۳. ۲ـ پیلامي نظام یا رغښت ۱۶۶
۴. ۳. ۲ـ د پیلګر ډولونه ۱۷۳
۴. ۳. ۳ـد متن د انسجام عوامل ۱۸۳

پینځم څپرکی

پایله او مناقشه

۵. ۱ـپایله ۲۰۳
۵. ۲ـمناقشه ۲۰۶
۵. ۳ـپای‌پایله ۲۱۲
۵. ۴ـوړاندیزونه ۲۱۴
اخځلیکونه ۲۱۵

لومړی څپرکی

د څېړنې کلیات

۱,۱- سریزه

الحمدالله والصلاة والسلام علی عباده الذین اصطفی، امابعد! د الله ﷻ شکر اداکوم، چې توان یې د لیکلو او څېړنې راکړ. دا پوهه یې را په برخه کړه، چې د خپل مسلک اړوند یوه نوې څېړنه وکړم. دا نوې څېړنه د پښتو د معاصرې ژبپوهنې اړوند ده.

په پښتو ژبه کې ژبپوهنې پیل ډېر لرغونی نه دی او کومې څېړنې چې د پښتو ژبپوهنې په برخه کې شوي دي، په دودیزې ژبپوهنې ولاړې دي او د معاصرې ژبپوهنې چې په شلمه پېړۍ کې رامنځته شوې، څرک پکې نه لیدل کېږي. اوس اوس معاصرو ژبپوهانو همدې برخې پام را اړولی او د معاصرې ژبپوهنې په بېلابېلو برخو کې یې څېړنې وکړې. څېړنیزې مقالې، څېړنیز کتابونه، تالیفي کتابونه یې په همدې برخه کې ولیکل، چې دا یو ګټور ګام دی، چې د معاصرې ژبپوهنې په باب پورته شو.

په ۱۴۰۲لمریز کال کې چې کله د کابل پوهنتون د پښتو ژبې او ادب څانګې دوکتورا دورې ته بریالی شوم؛ نو د معاصرې ژبپوهنې ځینې کتابونه مو ولوستل، چې له دې جملې څخه اداراکي ژبپوهنه، چاروال ګرامر، زېړند ګرامر او نور وو. نو ما هم دا پرېکړه وکړه، چې هغه پخوانۍ ټاکل شوې د ډیزرټېشن موضوع، چې(د وردګو او ځدرانو د ګړدودونو پرتلیزه څېړنه) وه پرېږدم او د چاروالې ژبپوهنې اړوند موضوع د څېړلو او د دوکتورا دورې د بشپړولو لپاره وټاکم. همداسې مې وکړل د پښتو څانګې د استاد پوهاند ډاکتر اجمل خټکلي سره مې مشوره وکړه او دا یې را سره ومنله، چې د معاصرې دورې د کیسه لیکوال

سعدالدین شپون په ناول(شین ټاغي کې د برچارونو څېړنه) د همدې دورې د بشپړولو او په دغه پرخه کې د یوه نوي اثر د رامنځته کولو وټاکم.

ما هم په خورا مینه دا موضوع ومنله او مطالعه مې پیل کړه او د موضوع د څېړلو لپاره مې د هالېډې د نظاممن چاروال ګرامر تیوري وټاکله او دهغې په رڼا کې مې بشپړه کړه. دا موضوع په پښتو معاصره ژبپوهنه کې نوې موضوع ده او خورا ارزښت لري.

د دې موضوع ارزښت دا دی، چې له یوې خوا به، دا نظریه په پښتو ژبه کې دود شي او له بل پلوه به، نویو څېړونکو او لوستونکو ته، دا انګیزه هم ورکړل شي، چې چاروالە نظریه په ناولونو او یا په ټوله کې په نثري اثارو کې هم د څېړلو وړ ده او یو نوی کار به د لوستونکو او په ټوله کې د پښتو ژبې لپاره وړاندې شي.

ما چاروالە ژبپوهنه پخوا نه وه لوستې؛ خو د دکتورا دورې په لوستلو کې مې ولوستله او په زړه مې ولګېده، په همدې خاطر مې ورته مخه کړه او نن مې ان شاءالله په یاده برخه کې ډیزرتیشن بشپړ کړ. زما د څېړنې موضوع په پینځو څپرکو کې بشپړه شوې. لومړی څپرکی د موضوع کلیات دي، دویم څپرکی د موضوع شالید، نظري بنسټ او د مفاهیمو تعریفونو ته ځانګړی شوی، چې د هغو څېړنو او لیکنو څخه پکې یادونه شوې، چې له ما څخه وړاندې په دغه برخه کې چا کړي دي.

دریم څپرکی د موضوع روش ته ځانګړی شوی او د موضوع د څېړلو روش پکې معرفي شوی دی. څلورم څپرکی اصلي موضوع ته چې موندنې دي بهل شوی.پینځم څپرکی د موضوع وروستۍ برخه په خپله لمن کې رانغاړي، چې هغه پایله، مناقشه، پایپایله، وړاندیزونه او اخځلیکونه دي.

د یادونې وړ ده، چې دا څېړنه وروستۍ نه ده، لوستونکي او څېړونکي کولای شي، په همدغه برخه کې نورې ډېرې داسې څېړنې وکړي، چې په کیفي او کمي لحاظ زما د څېړنې څخه ښې وي. زه هم د همدې برخې د څېړونکو څخه هیله لرم، چې پام ورته راواړوي او خپلې نظریې په همدغو برخو(چاروالە ژبپوهنه) کې شریکې کړي، تر څو معاصرې ژبپوهنې یوه خوا هم څه ناڅه روښانه او د نورو لوستونکو لپاره د یوه معتبر ماخذ په توګه وړاند شي.

دا چې د کار او څېړنې په جریان کې هرو مرو تېروتنې وي، ښایي زما څېړنه او لیکنه هم له تېروتنو څخه خالي نه وي، د ټولو لوستونکو څخه هیله لرم، چې پخپلې پوهې سره ما وښني او زما تېروتنې را په ګوته کړي تر څو بیا بیا ورسره مخامخ نه شم.

۱. ۲ـ د مسالې بیان

د معاصرې ژبپوهنې د معاصرو نظریو څېړنه، د پښتو ژبپوهنې د غني کولو، د نویو نظریو د دودولو، د پښتو ژبپوهنې د لوستونکو، ویونکو او لیکونکو لپاره، ډېره ګټه لري. دا ځکه چې د رغښتي ژبپوهنې څخه د چاروالې ژبپوهنې په لوري ګامونه اخیستل دي. دا خبره د یادونې وړ ده، چې څېړل شوې موضوع په شین ټاغي ناول کې د برچارونو څېړلو ته ځانګړې شوې. شین ټاغی ناول د سعدالدین شپون یو سیاسي ناول دی، چې د جهاد د دوران وضعیت پکې راغلی دی. برچارونه د مایکل هالېډې لخوا وړاندې شوې نحوي تیوري ده. اګر که دا تیوري د هالېډې څخه وړاندې هم مطرح شوې؛ خو هالېډې بشپړه کړې ده. ما وغوښتل، چې دا تیوري په پښتو هنري نثر کې تطبیق کړم؛ نو هماغه و، چې د دوکتورا دورې ډیزرټېشن لپاره مې دا موضوع وټاکله او بشپړه مې کړه.

د معاصرې ژبپوهنې(چاروالې) د لوستلو څخه وروسته دا فکر راته پیدا شو، چې د پښتو ژبې د غني کېدلو لپاره مهمه داده، چې د پښتو ژبې په هنري نثرونو کې، د چاروالې ژبپوهنې نظریه وڅېړم. ښه مې وبلله، چې په شین ټاغي ناول کې دا برخه روښانه کړم. دا برخه نوې ده، لا تر اوسه د کوم څېړونکي له لوري نه ده څېړل شوې، علاقه مندي مې ورسره پیدا شوه او په ډېره علاقه مې د ژبو او ادبیاتو پوهنځي فوق لیسانس بورد ته غوښتنلیک وړاندې کړ او د څه اصلاحاتو وروسته یې را سره قبوله کړه.

یوه خبره د یادونې وړ ده، چې په دغه برخه کې مهمه ستونزه داده، چې په پښتو کې مواد نشته او زه هم اړ یم، چې د فارسي ژبې له ځینو اثارو څخه ګټه پورته کړم. دا هیله لرم، چې په راتلونکې کې به دا ستونزه هواره شي او د نورو لوستونکو لپاره به د یادې برخې د موضوعاتو په څېړلو کې مشکل نه پیدا کېږي.دا چې برچارونه او د برچارونو ټولې برخې ، په فقرو او جملو کې واضح کېږي، په دې لحاظ دا یوه نحوي تیوري ده. د دې موضوع

څېړل، د موجودو نحوو ټولې ستونزې حلولای شي. هغه ستونزې چې اوسنی نحوه ورته ځواب نه لري. دا یوه مهمه ستونزه هم ده. د دې موضوع ټاکلو څخه موخه داوه، چې د نحوې مضمون اړوند ستونزې ټولې پرې حل شي.

پخوا نی ټولې ژبنی نحوي څېړنې په بنه او شکل څرخېدلې او ټولو هغو پوښتنو ته یې ځواب نشوای ویلای؛ چې د ژپوهنې په تېره بیا هغه پوښتنې چې د جملې په کچه موجودې وې؛ خو د چاروال، اداراکي او نورو معاصرو ژبپوهنو په راتګ سره ټولې پوښتنې ځواب شوې او په دې برخه کې پرتو ستونزو ته د حل لارې وموندل شوې.

۱. ۳ـ پوښتنې

۱. ۳. ۱ـ اصلي پوښتنه

په شین ټاغي ناول کې کوم برچارونه شته؟

۱. ۳. ۲ـ فرعي پوښتنې

۱ـ په شین ټاغي ناول کې د تجربي برچار پروسې کومې دي؟

۲ـ په شین ټاغي ناول کې کومې وجهې شته؟

۳ـ په شین ټاغي ناول کې د متن انسجام عوامل څه ډول راغلي دي ؟

۱. ۴ـ د څېړنې موخې

۱. ۴. ۱ـ اصلي موخه

په شین ټاغي ناول کې د برچارونو څرګندول.

۱. ۴. ۲ـ فرعي موخې

۱ـ په شین ټاغي ناول کې د پروسو روښانه کول.

۲ـ په شین ټاغي ناول کې د وجهو ښکاره کول.

۳ـ په شن ټاغي ناول کې د متن د انسجام د عواملو څرګندول.

۱. ۵ـ د موضوع د څېړلو ارزښت

د دې موضوع د څېړلو په باب باید ووایم، چې دا موضوع نوې ده او لا تر اوسه کوم څېړونکي نه ده څېړلې او د پښتو ژبې په ناولو کې لا تر اوسه چا نه ده څېړلې. دویمه خبره داده، چې ددې موضوع ارزښت مور ته ښه په ډاګه کوي، هغه دا چې د معاصرې ژبپوهنې له بېلابېلو برخو سره د لوستونکو اشنایي پیدا کېږي او دابرخې دادي:

۱ـ د چاروالې ژبپوهنې نظریې څېړل، د پښتوژبې د لوستونکو، لیکونکو او څېړونکو لپاره ډېر ضروري او مهم دي. د همدې نظریاتو د روښانه کولو او څېړلو ؛ګټې هم ډېرې دي؛ ځکه چې باید دا برخې په پښتو ژبه کې د لوستونکو لپاره عامې شي، چې په خپلو څېړلو او لوستلو کې ورته اسانتیا رامنځ شي او ښې یې تطبیق کړای شي.

۲ـ د نویو نظریو پربنسټ د خپلو اثارو څېړنه مو له نویو پایلو سره مخامخ کوي او داسې اثار د نویو پایلو له پلوه اهمیت لري.

د موضوع د څېړلو اړتیا

د څېړنې د اړتیا په باب ویلای شم، چې په ناولونو کې او په تېره بیا په شین ټاغي ناول کې لا تر اوسه چا د چارول ګرامر برچارونه نه دي څېړلي او پخوانۍ ژبنۍ څېړنې یوازې بڼه او شکل په نظر کې نیول کېده؛ خو اوس چې معاصره ژبپوهنه په تېره بیا چاروال ګرامر پښتو ژبې ته راګډ شو؛ نو ټولې هغه پوښتنې، چې تېرې ژبپوهنې ورته ځواب نشوای ویلای، چاروال ګرامر یې تر یو حده ځوابوي او د نحوې د برخې پرتې ستونزو ته حلاره پیدا کوي.

۱. ٦ـ د څېړنې حدود

هره څېړنه یوه محدوده لري او حدود یې باید معلوم وي. پر دې اساس زما د څېړنې حدود په شین ټاغي ناول کې د برچارونو(تجربي، وګړمنځی او متني) څېړنه ده. هر برچار مې له ټولو ځانګړنو سره څېړلی او د شین ټاغي نه مې جملې ورته راوړې دي.د څېړنې حدود په درېو برخووېشم:

۱ـ د څېړنې موضوعي حدود: د څېړنې موضوعي حدود معلوم او مشخص دي، چې د هالېډې د نحوي تیورۍ پربنسټ په شین ټاغي ناول کې برچارونوڅېړل دي.

۲ـ د څېړنې مکاني حدود: دا ناول د سعدالدين شپون دی، مکان يې افغانستان دی او د ناول د محتوا د جهاد دوران مقاومتونه دي، چې د بغلان له کيله ګي سيمې څخه پيل دي او ترپښوره او بيا تر سوات پورې رسېږي او ناول هم پای مومي.

۳ـ زماني حدود: دا ناول د معاصرې دورې ليکوال استاد شپون ليکلی او شپون د اوسنۍ دورې ليکوال او شاعر دی او د شين ټاغي د چاپ کال ۱۳۷۹لمريز ښودل شوی.

۱. ۷ـ د څېړنې نوښتي اړخونه

د يادې موضوع په باب تر اوسه کوم څېړونکي څېړنه نه ده کړې؛ نو په دې لحاظ نوې موضوع ده او ډېر نوښتي اړخونه لري؛ لکه:

۱ـ استاد سعدالدين شپون په شين ټاغي ناول کې، برچارونو څېړنه او د پروسو د کارېدلو لاملونه کوم دي؟

۲ـ په شين ټاغي ناول کې، د يادو پروسو د کارېدنې فيصدي څومره ده؟

۳ـ په شين ټاغي ناول کې د وګړمنځي برچار د محتوياتو او د فقرو برخو ښکاره کول.

په ټوله کې دا موضوع نوې ده او پورتنۍ برخې يې ماته نوښتي اړخونه معلوم شول.

دویم څپرکی

د څېړنې شالید، نظري بنسټ او د مفاهیمو پېژندنه

۲. ۱ـ شالید

وړاندې مو هم څو ځایونو کې دا یادونه وکړه، چې معاصره ژبپوهنه پښتو ژبې ته اوس اوس راغلې او د ژبپوهانو او لوستونکو د خورا پام وړ ګرځېدلې ده. په همدې خاطر یادونه کولای شم، چې د دې موضوع (**د سعدالدین شپون په شین ټاغي ناول کې د برچارونو څېړنه**) په باب تر اوسه کوم څېړونکي څېړنه نه ده کړې او دا سې یو اثر ما پیدا نه کړای شوای، چې په دغه برخه کې کوم څېړونکي لیکلی وي. ځینې داسې مقالې او کتابونه، د چاروالې ژببوهنې او چاروال ګرامر اړوند لیکل شوي او څېړل شوي او زما د موضوع د څېړلو سره څه نا څه مرسته کولای شي، هغه اثار درته معرفي کوم؛ خو لومړی هغه اثار راوړم، چې هغه کتابونه دي.

۲. ۱. ۱ـ کتابونه

د موضوع د شالید په برخه کې چې زما د موضوع دځېړلو سره څه نا څه مرسته کولای شي او زه هم د یوه معتبر اثر او ماخذ په توګه ترې ګټه پورته کولای شم، هغه د ډاکتر صاحب ښکلي د ژبپوهنې نظریې کتاب دی. دا کتاب د ښاغلي استاد د مقالو ټولګه ده او ځینې مقالې د چاروالې ژبپوهنې نظام په اړه هم شته. په دغه کتاب کې یو سرلیک د چاروالې ژبپوهنې نظام ته ځانګړی شوی او په همدغه نوم هم دی.د دې مقالې په یوه برخه کې راغلي دي:((د شلمې پېړۍ د ژبپوهنې په مکتوبونو کې یو مهم مکتب د لندن دی، چې د

فرث غوندې مشهور ژبپوه پکې تېر شوی. د دې یو مهم غړی مایکل هالېډې دی، چې ژبوهنیزې نظریې ته یې چاروالە او ګرامر ته یې سیستمیک چاروال ګرامر وایي... د نوموړي په اند ژبه داسې یو سیستم دی، چې درې سطحې، څلور ډلبندی او درې تلې لري. په دې سیستم کې د ننه بېلابېل ژبنې توکي لکه کلمې، ګرامر، قرینه او مانا خپلې خپلې دندې یا چارې ترسره وي))(شکلی، ۱۴۰۱: ۸۲ـ ۸۳).

د ژبپوهنې نظریې په کتاب کې نورې مقالې هم د چاروالې ژبپوهنې اړوند شته؛ خو د ټولو یادول اړین نه دي. زما د څېړنیزې موضوع سره چې بل کوم کتاب اړخ لګوي، هغه د ډاکتر صاحب حمید زی (گذاره از معقوله و میزان به دستور نقش گرایی نظام مند هالیدی) دی. دا کتاب د هالېډې نظریه نغاړي او کوم محتویات چې د هالېډې په نظریه کې موجود دي، په همدغه کتاب کې راغلي دي. په دغه کتاب کې ګڼ شمېر سرلیکونه راغلي، چې ټول د هالېډې نظاممن ګرامر نغاړي. د کتاب په یوه برخه کې راغلي دي:((هالېډې د ژبې د کارونې چارونه په درېو برخووېشلي دي:تجربي، وګړمنځی او متني. هالېډې د ژبې د توصیف چارونه، د ژبې د معنا د توصیف چارونه بولي. د ژبې د درېو چارونو په وسیله د ژبې درې معناوې رامنځته کېږي او دا اعتقاد لري، چې هره فقره هممهاله د درېو معناوو لرونکې ده او هېڅکله یوه معنا د بلې د معنا ځای نشي نیولای))(حمید زی، ۱۳۹۸: ٦) .

په انګلیسي ژبه د مایلکل هالېډې کتاب چې نوم یې Introduction to Halliday's Functional Grammar دی، د چاروال ګرامر په باب یې لیکلی. د دغه کتاب په یوه برخه کې راغلي دي:((هالېډې وایي چې ژبه یوازې د ګرامري قواعدو ټولګه نه ده، بلکې د معنا جوړولو یو ټولنیز سیستم دی. د هغه په نظر، خلک ژبه د دې لپاره کاروي چې په ټولنه کې تجربه بیان کړي، اړیکې جوړې کړي او متونه منظم کړي. دا نظریه د ژبې د جوړښت پر ځای د ژبې د کارونې (use) پر اهمیت ټینګار کوي (Halliday, 1985, pp. 1–3)) .

یو بل کتاب چې هالېډې لیکلی، په هغې کې راغلي دي:((هالېډې د ژبې درې اساسي دندې وړاندې کوي:

- Ideational Function: د تجربې او فکرونو بیان

- Interpersonal Function: د خلکو ترمنځ اړیکې او تعامل
- Textual Function: د متن جوړښت او انسجام

هغه وایي چې دا درې واړه دندې په هره جمله کې یو ځای کار کوي))
(Halliday & Matthiessen, ۲۰۱۴: ۳۴ـ۲۹) .

بل کوم کتاب چې زما د څېړنیزې موضوع په څېړلو کې مرستندوی واقع کېږی، هغه د عبدالحق سلامزوی د ماستری تېزس(چاروال ګرامر ته کتنه) دی. دغه تېزس هم په همدې برخه کې غنیمت ګڼل کېږي. د سلامزوی په تېزس کې ګڼ سرلیکونو راغلي او بحث پرې شوی.دغه اثر اته برخې لري او چاروال ګرامر نږدې ټول محتویات نغاړلی شي. د نورو سرلیکنو تر څنګ یې د چاروال ګرامر مخینه هم راوړې او د نړۍ په بېلابېلو ژبپوهنیزو مکتوبونو کې چې چاروال ګرامر ته پام شوی او نظریات وړاندې شوي دي راغلي. د نورو ټولو سرلیکنو تر څنګ یې د هالېډې نظاممن چاروال ګرامر محتویات هم راوي او ورته کتنه شوې ده. د دې تېزس په یوه برخه کې راغلي دي:((د چار په اړه هالېډې دوه مفهومه په نظر کې نیولي دي:

الف) ګرامري چارونه

ب) ژبنې چارونه چې دی د ژبې ټول چارونه ټولنیز چارونه ګڼي... هالېډې وایي ژبه ټولنیز پدیده او بدلېږي رابدلېږي او همدا خبره د ژبې بنسټ جوړوي. هغه زیاتوي د دې پرځای چې دا ژبنۍ بې نظمۍ ایسته وارتېرو، ښه ده چې ویې منو او د عمل جامه ور واغوندو. نو د هالېډې نظریه په ټولنه کې د ژبې موجودې بڼې شني، واقعي متنونه سپړي او ژبه د اړیکو او رغښتونو داسې شبکه بولي چې اړیکې رامنځته کوي. دا نظریه د ژبې په رنګارنګۍ ټینګار کوي او د متن په محور راچورلي.

دا نظریه تجربه واله ده او ژبه یوه تکاملي پدیده ګڼي. یعنې د ژبې نظام د لومړنیو ارتباطي نظامونو د بشپړېدو محصول ده. دا لید توګه پیل له(باندینۍ) نړۍ یا اوبد څخه کوي او وایي، چې ژبه د بشر د تجربې نظریه ده. هالېډې خپله ګرامري لیدتوګه چاروالە بولي، ځکه وایي، چې د ژبې په اړه نظریات د فورم پر ځای د ژبنیو توکو پر چار ولاړ دي))(سلامزوی، تېزس، ناچاپ) .

یو بل ارزښتمن کتاب، چې چاروال ګرامر هم پکې یو اندازه معرفي شوی، هغه د نظریه های زبانشناسي په نوم یو کتاب دی. دا کتاب آغلې راحلې حمیدزی لیکلی. په دغه کتاب کې د ژبپوهنې مکتبونه، په ښلاښلو هېوادنو کې ژبپوهنه او ورسره په څنګ کې د هالېډې نظامن چاروال ګرامر په باب هم بحث شوی دی. دا کتاب درې برچارونه او اوب مور ته راپېژني. د دې کتاب په یوه برخه کې لیکل شوي:((چاروال ګرامر د ژبې د کارونې له هغو لیدلوریو څخه دی، چې لومړی ځل یې په پراګ مکتب (۱۹۳۰م) کې وده وکړه. دغه مکتب د چاروالې تیورۍ بنسټ کښېښود.چاروال ګرامر پوهان باور لري، چې ژبه له ټولنیزو، فرهنګي او رواني عواملو څخه بېله نه ده. د ژبې تر ټولو مهمه دنده د انسانانو ترمنځ د اړیکو ټینګول دي، نه دا چې یوازې د مانا او جوړښت له پلوه وڅېړل شي. له همدې امله، د ژبې د ماهیت د څېړلو لپاره باید د هغې د کارونې واقعي بڼه تر ټولو مهمه وګڼل شي.همدارنګه دوی ټینګار کوي، چې ګرامر د ژبې د کارونې زېرنده ده.له دې نظریو څخه یو مهم لیدلوری د مایکل هالېډې چاروال نظامن ګرامر دی، چې تر ډېره د لندن له مکتب سره تړاو لري.

هالېډې په خپل چاروال ګرامر لیدلوري کې باور لري، چې د ژبې جوړښت د هغې دندې او کارونې پورې تړلی دی.له همدې امله په دې لیدلوري کې د ژبنیو عناصرو نقش او دندې ته ځانګړې پاملرنه کېږي.

۱ـ چاروال ګرامر

دغه ګرامر د دې پر بنسټ ولاړ دی، چې ژبه څنګه کارول کېږي. هر ویناوال یا لیکوال باید خپل مطلب په داسې ژبني چوکاټ کې وړاندې کړي، چې د اړتیاوو د پوره کولو لپاره مناسب وي. یعنې ژبه د هغه رول له مخې تنظیم شوې ده، چې د انسانانو د اړیکو او اړتیاوو په پوره کولو کې یې ترسره کوي.

۲. د ژبې بنسټیزې ماناوې

د ژبې ټولې ځانګړنې او ماناوې د درېیو بنسټیزو ماناوو پر اساس تنظیمېږي، چې هغه دا دي:

الف) تجربي مانا یا چار

ب) وګړمنځې مانا یا چار

ج) متني مانا یا چار

د چاروال ګرامر بله ځانګړنه

په دې لیدلوري کې د ژبې هره برخه د ټول ژبنې نظام په چوکاټ کې تعریفېږي او ارزول کېږي. له همدې امله د ژبې ټول واحدونه لکه:فقرې، عبارتونه، لغتونه او نور یو بل سره تړلي دي او هر یو د ژبې په جوړښت کې ځانګړی رول لري.هالېډې ژبه په درې لاندې کچو وېشي:د مانا کچه، د لغت او دستور کچه، د غږونو کچه. هالېډې باور لري، چې ټولنیز رولونه د ژبې د جوړېدو لامل ګرځي. ژبه یوه وسیله ده، چې د مانا د لېږد لپاره کارول کېږي او هغه ماناوې چې انسان یې انتخابوي، د ژبې د ټولنیزو رولونو له مخې په ګرامري جوړښتونو کې څرګندېږي.هالېډې وایي، چې د ژبې ګرامري نظام د درېیو مهمو ټولنیزو دندو پر بنسټ ولاړ دی:

تجربي دنده: د انسان د بهرنۍ او درونۍ نړۍ د تجربو بیان

وګړمنځې دنده: د انسانانو ترمنځ د اړیکو، احساساتو، قضاوت، غوښتنې او ټولنیزو تعاملاتو څرګندول.

متني دنده: د ژبې داسې تنظیم چې وینا یا لیکنه منسجمه او یو له بل سره تړلی شي.

هالېډې په دې باور دی، چې د ژبې او وینا ترمنځ هېڅ څرګند سرحد نشته؛ هر څه چې انسان یې ویلای شي، د همدې درېیو دندو په مرسته څرګندېږي.د هالېډې د چاروال ګرامر تر ټولو مهمه ځانګړنه دا ده، چې مانا د ګرامر بنسټ ګڼي. په بل عبارت، دا نظریه ګرامر له مانا څخه نه بېلوي، بلکې دواړه سره نږدې او یو له بل سره تړلي ګڼي)) (حمیدزی،۱۴۰۲: ۱۳۵ـ۱۳۶).

بل کتاب د ښاغلي سمون دی، چې د(ډېسکورس شننه) تر سرلیک لاندې یې لیکلی او زما د موضوع سره په یوه برخه کې څه ناڅه اړخ لګوي. سمون په خپل کتاب کې لیکلي، چې د متني برچار پر مټ ژبه متن رامنځته کوي او د ځان او شرایطو ترمنځ اړیکه جوړوي. د همدې شرایطو له مخې، چې متن پکې رامنځ ته کېږي، وینا شونې کېږي؛ ځکه وینا وال او یا لیکوال یې له مخې متن تولیدوي او اورېدونکی یا لوستونکی یې له مخې

تولید کړی متن تشخیصوي(سمون، ۱۴۰۳: ۱۷۲).

سمون په خپل کتاب کې متني برچار نظامونه هم په ګوته کړي، چې یو یې پیلامګر نظام دی، چې پیلګر او پایګر پکې مطالعه کېږي. دویم نظام په متني برچار کې د اطلاع نظام دی، چې نوې او زړه اطلاع پکې مطالعه کېږي. له دې سره یې انسجام هم معرفي کړی او د رغښتي انسجام اوزار یې اړیکویکي، ارجاع، همرجع، حذف او ځایناستی ښوولي او ورسره په څنګ یې پیوستون هم راوړی دی. سمون د خپلې لیکنې په دوام لیکلي:((هالېډې او رقیه حسن د پیوستون په اړه وایي: په یوه متن کې د دوو یا څو توکیو ترمنځ اړیکې ته وایي، چې د متن له رغښته بهر دي... د پیوستون اړیکه هله رامنځته کېږي، چې په وینا کې د څو توکیو تعبیر او تاویل په بل توکي یا بل پورې ټرلی وي او د یوه له پامه غورځولو سره متن د سم درک وړ نه وي))(سمون، ۱۴۰۳: ۱۷۷).

د چاروال ګرامر د پېژندنې په هکله سمیع الله شاهد د (هالېډې د چاروالې نظریې پر بنسټ د اوب څېړنه) کتاب کې څه نا څه برخې لیکلې دي. لومړی یې چاروال ګرامر معرفي کړی او وروسته یې ځینې نورې برخې، چې ښایي د چاروال ګرامر لومړی تیوري پورې اړه ولري راوړې دي. زه دلته د چاروال ګرامر د پېژندنې او ارزښت وړ ټکي تر راوړم. ښاغلي شاهد لیکلي دي:((دا چې ځینو ژبپوهانو ولې چاروالې غوره کړه، څو علتونه لري. د ګیون په وینا داسې ډېر ژبني شواهد شته، چې د نقش د ارزښت په اړه یې وړاندې کړي دي. د ژبې تاریخي بدلون، د ماشومانو او لویانو د ژبنۍ زده کړې پراوونه او د وینا ارزښت د لیک پروړاندې دا ښیي، چې چار په ژبپوهنه کې ارزښتناک دی، ځکه چې د ژبې تاریخي بدلون دا ښیي، چې ژبه په پیل کې د ارتباطي نقش د ترسره کولو په پار منځته راغلې ده؛ خو بڼه او رغښت د همدې پدیدې د بشپړتیا لپاره راڅرګند شوی دی))(شاهد، ۱۴۰۳: ۱۳).

دا کتابونه د چاروالې ژبپوهنې اړوند وو، چې ما پورته یادونه ترې وکړه او څه ناڅه یې زما د موضوع سره په یوه برخه کې نه، په یوه برخه کې اړخ لګاوه. بله برخه هغه کتابونه دي، چې باید په شالید کې ترې یادونه وشي، چې په شین ټاغي لیکل شوي. یو په خپله شین ټاغی دی، چې زما اصلي موضوع په کې ټاکل شوې. بل هغه کتابونه دي، چې په

شین ټاغي لیکل شوي. په دې برخه کې یو کتاب د استاد شپون داستاني کلیات دي، چې استاد ازمون ټول داستاني کتابونه راغونډ کړي او شین ټاغی هم پکې ځای شوی او ورسره د علومو اکاډمي غړي ښاغلي اسحاق مومند لیکلی کتاب، چې د سعدالدین شپون ژوند او اثار دی. په دې کتاب کې شین ټاغی یوازې معرفي شوی او دا هم لیکل شوي، چې دا یو سیاسي ناول دی. بل یې دشین ټاغي د نومونې په باب لیکلي دي، چې په شین ټاغي یې ځکه نوم شین ټاغی کېښود، چې د ښاغلي شپون یو شین ټپلر غوندې موټر و او په جرمني کې یې اخیستی و او چې کله ده دا ناول ولیکه نو هماغه شین ټاغی نوم یې پرې کېښود(مومند، ۱۴۰۲: ۲۵۰) .

کوم کتابونه چې زما د موضوع سره مستقیماً اړخ لګوي او لیکل شوي وي نشته. دویم ډول ماخذونه چې زه په خپل تحقیق کې ښایي په ځینو برخو کې ترې ګټه واخلم، هغه علمي مقالې دي او په لاندې ډول د موضوع په شالید کې ترې یادونه کوم.

۲. ۱. ۲ـ مقالې

د همدغه موضوع په اړه، دویم ډول ماخذونه چې زه ترې ګټه اخیستی شم، هغه علمي مقالې دي. په علمي مقالو کې لومړی د پکتیکا د پوهنتون استاد رحمت الله حکیمي علمي مقاله ده، چې د افغان نړیوال اسلامي پوهنتون د علمي سیمینار مقالو په ټولګه کې د (په علمي مقالو کې د انسجام د نقش څېړنه) تر سرلیک لاندې خپره شوې ده او پکې راغلي دي:((دچاروالې ژبپوهنې له اړخه انسجام د ژبنیو عناصرو ترمنځ اړیکې جوړوي. د ژنیو توکیو ترمنځ د اړیکو ارزښت او موثریت د دې لامل شو، چې مایکل هالیډې توجه یې ورجلب کړه، له دې وړاندې عبدالقاهر جرجاني ژبه د یوه منظم جوړښت په سیستم کې معرفي کړې وه او د(نظم نظریه) یې رامنځ ته کړې وه. د هغه په وینا:« انسجام یو معنوي مفهوم دی، چې په موجود متن کې د شته عناصرو ترمنځ رابطې ته اشاره کوي.»... د یوې مقالې انسجام د کلمو په زنځیره یي کارونه، د ورته وییونو ځای په ځاینه، د ضمني مانالرونکو وییونو په حذف، له اړیکویکو څخه په ګټه اخیستنه، د آر وییونو په تکرار، د جملو رغښتي تغیر او اوږدوالی او له منځپانګې سره په ارتباط ورکولو ولاړ دی)) (حکیمي، ۱۴۰۳: ۲۳۱، ۲۳۲).

پورتنی متن د انسجام اړوند دی او انسجام په علمي کتابونو، مقالو اونورو متنونو کې ډېر ارزښت لري. انسجام ځینې اوزار لري، چې دهغو په راوړلو سره رامنځته کېږي. د علمي مقالو په برخه کې بله مقاله چې زما د موضوع سره په یوه برخه کې مرسته کولای شي، د لغمان پوهنتون استاد کډوال ده. دا مقاله د (چاروالې ژبپوهنې بر بنسټ په پښتو جمله کې د بشپړاند څېړنه) تر سرلیک لاندې د وړمې مجلې د ۱۴۰۳کال په اوومه ګڼه کې خپره شوې ده. په دغه مقاله کې یوازې په بشپړاند څېړنه شوې او بشپړاند د وګړمنځي برچار له مخې د جملې دویمه برخه ده، چې لومړی برخه یې وجه بلل کېږي.په دغه مقاله کې د بشپړاند په باب لیکل شوي دي:((بشپړاندونه په ژبنې چوکاټ کې مهمې برخې دي، چې د یوې جملې مانا بشپړوي، ډېری وختونه د سربلونو سره مله وي. د هالېډې په وینا دا عنا صر د یوې فقرې د لېږندوی(خبر، مسند) د بشپړولو لپاره اړین معلومات چمتو کوي، په اصل کې د هغو بنسټیزو جزیاتو مرسته کوي، چې د فعل په وسیله د مشخص شوي عمل یا حالت په اړه وضاحت ورکوي. بشپړاندونه د خپلې وړتیا پربنسټ د جملې په اصلي عناصرو کې د ژورتیا او ټاکلتیا د ډېرولو له مخې پېژندل کېږي، چې په وینا(ډسکورس) کې د لېږدول شوي ټولنیز پیغام په رغونه کې مهم رول لوبوي. په سیستمیک چاروال ګرامر کې، د بشپړاند مفهوم مختلف ډولونه او دندې لري، چې هر یو جلاجلا نظري مفهومونه لري. هالېډې بشپړاندونه په مختلفو ټولګیو کې ډلبندي کوي، چې د فاعل، مفعول او سربلي بشپړاندونه پکې ورګډېږي، دوی هر یو د جملې په جوړښت او مانا کې ټاکلې وندې ترسروي))(کډوال، ۱۴۰۳: ۱۴۸).

بله مقاله چې د وړمې مجلې په همدې ګڼه کې خپره شوې ده، د کابل پوهنتون د استاد یحیا همای ده او د مقاله یې د (چاورالې ژبپوهنې پر بنسټ د پښتو رسنیو په خبرونو کې د پیلامګر جوړښت څېړنه) تر سرلیک لاندې خپره شوې ده. په دغه مقاله کې پیلامګر معرفي شوی او دا برخه په چاروال ګرامر کې په متني برچار پورې اړه لري. پیلامګر د جملې لومړی برخې ته وایي. ښاغلي همای لیکلي دي:((د فقرې پیل که فاعل وي، فقره یې نښه او که بل راشي، نښور دی. فقرې ته زمینه مساعدوي، له ژبنې اوب سره اړیکه لري. په پیلګر کې دا لاندې توکي راتلای شي، چې د فقرې منځپانګیزه ټولګه ترې جوړېږي.

پیلګر د تجربي، وګړمنځي او متني ستر نقش له پلوه درې ډوله لري. پیلګر په درېواړو برچارونو کې توپیر لري:

۱ـ تجربي پیلګر: چارګر، تجربه ګر، حسګر وي چې د یوه بهیر محور جوړوي.

۲ـ وګړمنځی پیلګر: په یوه ټولنه کې د حاضرو وګړیو تعامل او اړیکې پکې اغېز لري او پیلګر رامنځ ته کوي.

۳ـ متني پیلګر: د متني برچار ښوودنه کوي، چې د متن بېلابېلې برخې او متن له اوبد سره پیوستوي او د متن د بېلابېلو برخو ترمنځ مانیزه اړیکه پیداکوي))(همای، ۱۴۰۳: ۱۳۶، ۱۳۷).

ښاغلي همای د همدې مقالې په یوه برخه کې د فقرې برخې هم روښانه کړې او لیکلي یې دي، چې دمتني برچار له مخې فقره درې مهمې برخې لري، چې معلوماتي، پیلامي او انسجامي په نومونو یادېږي. په ادامه یې لیکلي، چې معلوماتي نظام د اورېدونکو لید لوری ښیي، په پیلامي نظام کې فقره د پیغام په توګه تولیدېږي او په انسجامي اړیکو کې په متن کې انسجام د تجربي او وګړمنځي چارونو له تعامل څخه پیدا کېږي(همای، ۱۴۰۳: ۱۳۶).

د چاروال ګرامر درې برچارونو کې ځینو څېړونکو څه ناڅه لیکنې کړې دي؛ خو دا لیکنې یوازې او یوازې د هر برچار یوه وړه او کوچنۍ برخه را معرفي کوي. په یوه بله مقاله کې استاد حکیمي د وجهې په باب څه نا څه لیکنه کړې. وجه او وجهیتونه دواړه د وګړمنځي برچار یوه برخه جوړوي. استاد حکیمي د وجهې په باب لیکلي دي:((وجه په ژبني تعامل کې د وینا وال موخه ټاکي، چې په وګړمنځي پرچار کې د حاضرو وګړیو تعامل راته په ګوته کوي... وجه د همدغه وګړمنځي برچار یو مهم اړخ بلل کېږي، چې په وسیله د وینا‌وال مقاصد او تمایلات ښودل کېږي... وجه یو له هغو جوړښتونو څخه دی، چې له یوه اړخه په وینایيز فعالیت کې د وګړیو ترمنځ متقابل کردارونه راښیي، له بلې خوا جملې ته له زماني اړخه د کارونې په ساحه پورې ارتباط ورکوي. د وجه له مخې بیان په درې ډوله دی:

الف: خبري وجه ب: پوښتنیزه وجه ج: امري وجه))(حکیمي، ۱۴۰۳: ٦٧).

دا هغه کتابونه او مقالې وې، چې زما د موضوع سره يې په څېنو برخو کې مرسته کولای شوای او ماهم تړې ګټه پورته کړه او د ماخذ په راوړلو سره مې وليکل.

۲. ۲ـ د څېړنې نظري بنسټ

د څېړنې نظري بنسټ کې لومړی تيوري راوړم او وروسته به هغه معلومات راوړم، چې د ښاغلي شپون په ژوند، اثارو او د ده په هنري اثارو پورې اړه ولري.

۲. ۲. ۱ـ د پاريس په ژبپوهنيز مکتب کې چاروالە

د پاريس په ژپوهنيز مکتب کې اندرمارتينه يو ژبپوه و، چې د ژوند زمانه يې غالباً(۱۹۰۸) وه. دغه ژبپوه د چاروالې ژبپوهنې په باب داسې نظز درلود، چې چاروالە ژبپوهنې موخه د ژبې تشريح ده او دی هم د تشريحي ليده ژبې ته ګوري او دا هم اضافه کوي، چې ژبه ننۍ او باندينۍ اړيکه ټينګوي. د باندينۍ اړيکې څخه موخه داده، چې ژبه ټولنيز بنسټ دی او ټولنيز بنسټونه د بشر د اړتيا په موخه رامنځته کېږي او فطري نه دي.بله مهمه خبره په باندينۍ اړيکه کې داده، چې د ژبې اصلي چار او دنده، په ټولنه کې د وګړو ترمنځ د اړيکو ټينګښت دی او د اړيکو په دغه ټينګښت کې هر ډول فکرونه يو بل ته لېږل کېږي. د ياد ژبپوه له نظره د چاروالې ژبپوهنې په اډانه کې ژبې بله موخه ننۍ اړيکه ده، دا مانا چې ژبه د باندينۍ اړيکې تر څنګ ننۍ(داخلي) اړيکه هم لري، چې يوه برخه يې داده، چې ژبه پر ليک ولاړه ده او بله مهمه برخه داده، چې ژبه دوه ګونی وېش لري او په دوه ګوني وېش کې فونيمونه او مورفيمونه سره څېړلي دي.

سلامزوی پخپل تېزس کې ليکلي، چې د مارتينه له انده، ژبه دوه چاره لري، چې اصلي چار يې د تقابل دی او بل چار يې عاطفي دی. اصلي چار د ځاينا‌ستۍ په محور کې عمل کوي او عاطفي چار يې د خواناستۍ پر محور عمل کوي (سلامزوی، تېزس، ناچاپ).

۲. ۲. ۲. ـ د پراګ په ژبپوهنیز مکتب کې چاروالە

د پراګ په ژبپوهنیز مکتب کې تر ټولو ښکاره بریالیتوبونه په دوو برخو کې وو، چې یو د جملې چاروالە برخه وه او بل د فونولوژي په برخه کې. دا مکتب په دې خاطر د پام وړ وګرځېد، چې د اېښي او اېښوني بحث پکې ژوندی وساتل شو. د فونولوژي د علم په برخه کې ډېر پام د فونیم د مفهوم وړاندې کولو ته و او د فونولوژي نظریې ته وده او پراختیا ورکوله. دا مانا چې فونولوژي په یوه نظام او رغښت کې د غږونو چار ته پام و.

د پراګ ژبپوهنیز مکتب له مخې ژبه د پوهاوي او راپوهاوي ټولنیزه دنده یا چار پرمخ وړي. دا چار کله په مستقیمه بڼه او کله په ادبي بڼه هم وي. مانا دا چې ژبه یو نقش لوبوي او د ژبې ټول واحدونه بېلابېل نقشونه او دندې لري، چې د غږپوهنې نه تر مانا پوهنې دا ټوله برخه پخپله لمن کې رانغاړي.

۲. ۲. ۳ـ د لندن په په ژبپوهنیز مکتب کې چاروالە

کله چې د لندن ژبپوهنیز مکتب خبره کېږي؛ نو لومړی دوو فونټیک پوهانو نومونه ذهن ته راځي، چې هغه جونز او سوېټ دي.له دې سره جوخت د فرث نوم هم د عمومي ژبپوهنې په برخه کې د یادونې وړ دی او باید یاد شي.سوېټ چې کله د ژبپوهنې په برخه کې زده کړې وکړې؛ نو لومړی دېته پام شو، چې د هرې ژبې په څېړنه کې یوې داسې الفبا ته اړتیا شته چې د اوازونو ټول بېلوونکي ډولونه پکې وي او له مانیزو توپیرونو سره اړه ولري (سلامزوی، تېزس، ناچاپ).

د سوېټ تر څنګ جونز هم د اوازونو چاروال او رغښتي اړخونو کشف کړي او دې برخې ته یې پوره پام کړی.یو بل ژبپوه چې فرث نومېږي هغې هم د اوازونو برخې ته پام وکړ او دا یې وویل، چې په هر فونولوژیکي رغښت کې هره څپه او د یا د څپو ډله یو یا څو عروضي واحدونه هم وي.دی وایي، چې عروضي واحدونه ټاکلي جوړښتونه لري؛ خو د فونولوژیکي واحدونو په ډله کې نه راځي او دا عروضي واحدونه څکه په نظر کې نیول کېږي، چې د څینو فونټیکي ځانګړتیاوو تر منځ د خواناستی اړیکې وښیي او شرحه یې کړي. (سلامزوی، تېزس، ناچاپ).

۲. ۲. ۴ـ د کوپنهاګن په ژبپوهنیز مکتب کې چاروالە

د کوپنهاګن مکتب د یېلمزلېف له لوري رامنځ ته شو او نورو ژبپوهانو هم برخه پکې لرله. دغه نوموړي ژبې ته د یو نظام په سترګه کتل او د قیاسي مېتود څخه یې کار واخیست او خپل کار یې له کل نه پیل تر جز پور ورساوه. منظور دادی، چې د ده له انده متن له جملو، جملې له غونډونو، غونډونه له کلمو ، کلمې له اوازونو څخه جوړې شوې دي. ده دا نظر درلود، چې د متن په لیکلو کې او تشرېح کې له پاکې څخه کار واخیستل شي، یعنې تناقض ونه لري او ساده وي.یېلمزلېف ژبه په پوړونو ووېشله چې له لوړ پوړ نه پیل بیا تر کوچني پوړ پورې رسېږي. په پاس پوړ کې لاندیني کوچني پوړونه خپل نقش لوبوي او همدې نقش د هالېډې د چاروالې په ګډون په نورو هم اغېز وکړ. یېلمزلېف وایي چې ټولې ژبې ځنځیر دي او هر ژبنی ځنځیر د مانا له د حوزې او د لفظ حوزې له ځنځیره جوړې دي او هر ژبنی جوړښت همداسې ځنځیر بولي.منظور دادی، چې هر بنه بدون له مانا او هره مانا بدون له بنې نشي موجود کېدای (سلامزوی، تېزس، ناچاپ) .

۲. ۲. ۵ـ د هالېډې نظاممن چاروال ګرامر

هالېډې خپله نظریه د آر.فرث، د پراګ او لندن د اروپایي چاروالې د دود پربنسټ او په استفادې منځ ته راوړې ده.فرث دا نظر درلود، چې د ژبې څېړنه یوازې د وینا د ملموسو نمونود څېړنې پر بنسټ کېږي او دا یې هم ویلي، چې د ژبې واقعیت د ویونکو په همدې ټولنیزو چلندونو کې پروت دی. د فرث د غه ټولنیز لید لوری د موقعیتي اوبد په چوکاټ کې وړاندې شو. د فرث په نظریاتو د ده د یوه ملګري چې پولنډی و او مالینوسکي نومیده، اغېز وکړ او وویل چې مانا په لوی مفهوم کې له اوبد او له چار سره یوشان ده. ده ویل چې په اوبد کې هم رغښت او هم ټولنیز اوبد راځي. دا هماغه لومړنی لید لوری و، چې د هالېډې د ژبپوهنې د عمومي نظریې لومړنی ماډل منځ ته راوړ.هالېډې دا باور درلود چې ژبه د نښو نظام نه دی؛ بلکې د مانا د تولید لپاره نظاممنه سرچینه ده (سلامزوی، تېزس، ناچاپ) .

د هالېډې لومړنۍ نظریې د تلې او ګټګورۍ په نوم یادې شوې او ورو ورو چاروال

گرامر او وروسته نظاممن چاروال گرامر ته ورنږدې شو.چاروال گرامر چې په فارسي کې ورته زبانشناسی نقش گرایي وایي، یو له هغو گرامرونو څخه دی، چې په ژبه کې ډېر استعمالېږي او ترې ګټه اخیستل کېږي. د دې گرامر بنسټ په لومړي ځل د پراګ په ژبپوهنیز مکتب په ۱۹۲۰م کې اېښودل شوی.

چاروال گرامر گرامر پوهان په دې اند دي، چې زبه نشو کولای بدون دې ټولنیزو او فرهنګي لاملونو د پېژندلو څخه مطالعه کړو.دوی دا نظر لري، چې د ژبې د ماهیت څرنګوالی او کارونه د انسانانو تر منځ د اړیکو په منځته راوړلو کې شونی دی نه په بل څه کې. ددې مکتب د مشهورو پوهانو څخه هالېډې دی، چې د لندن ژبپوهنیز مکتب ته منسوب دی. هالېډې خپله ټاکلې ګرامري لاره، د چاروالې په نوم یاده کړې او دی متعقد دی، چې خپل نظریات یې نظر شکل او بڼې ته، ډېری په ژبني چار پورې تړلي او اړه لري.هالېډې وایي:

((۱ـ دغه ګرامر چاروال ګرامر دی، ځکه د ژبې د څرنګوالي د کارونې پر اساس منځته راغلی او هر متن که هغه لیکلی وي او که لیکلی نه وي، د اوب په کارونه کې خپل مفهوم وړاندې کولای شي.

۲ـ د ژبې د معنا اساسي او بنسټیزې ځانګړنې، همغه محتویات او ځانګړنې دي، چې په چارونو کې راښکاره کېږي او ټولې ژبې په درېو اساسي ماناوو کې رابرسېره کېږي، چې هغه عبارت دي له:

الف) تجربي مانا

ب) وګړمنځې مانا

ج) متني مانا))(حمیدزی، ۱۴۰۲: ۱۳۶).

په نظاممن چاروال ګرامر کې چار د ژبې ذاتي ځانګړنه بلل شوې، دا مانا چې د ژبې رغښت د ژبې د چارونو په مرسته رامنځته کېږي. دېته ځکه چاروالې وایي یا ځکه چاروال نظاممن ګرامر وایي، چې د متنونو تعبیر، د نظام تعبیر او د ژبنیو رغښتونو د توکیو تعبیر دا درې اړخونه سره یو ځای کېږي او همدا چاروال ګرامر رامنځته کوي. د متونون له تعبیر څخه موخه داده، چې د ژبې د کارونې څرنګوالی راښیي او دا یو طبیعي ګرامر دی نه

قراردادي. د نظام تعبیر څخه موخه داده، چې په ژبه کې د مانا آر توکي د چاروالو توکیو په توګه تشریح کېږي او کله چې د مانا توکي د چاروالو توکیو په توګه تشریح کېږي، بیا دغه توکیو ته برچارونه(برنقشونه) وایي. له دې خبرې څخه موخه داده، چې د ټولې ژبې د دوه ډوله مانا پربنسټ تنظیم شوې، چې یوې برخې ته تجربي او بلې برخې ته وګړمنځې مانا ویلای شو او له دې دواړو ماناوو د یوځایوالي څخه درېمه مانا چې متني مانا بلل کېږي، رامنځته کېږي. ژبنی رغښت د ژبې په فقرو کې مشخصېږي. دا مانا چې په غونډله یا فقره کې د ننه د ماناوو څرګندېدل له یوه واحد ګرامر سره برابروالی دی (سلامزوی، تېزس، ناچاپ) .

هالېډې ګرامر مانا بنسټه بولي، دا مانا چې په نظاممن چاروال ګرامر کې هرې رغښتې نظریې مفهوم په مانا ولاړ دی. منظور دادی، چې د شکل او صورت ترڅنګ مانا هم لري. سره د دې چې هالېډې ژبه د ټولنیزو علومو یوه برخه بولي؛ خو د ژبې اداراکي اړخ ته هم پام کوي. دی وایي، چې د ژبې ګرامري نظام چې کومه بڼه لري، د ټولنیزو او شخصي اړتیاوو سره اړیکه لري؛ خو په ګرامر هر څه د هغو د چارونو پربنسټ تعینېږي.

په نړۍ کې نور ژبپوهنیز مکتبونه هم شته، چې چاروالې ته یې پام کړی. ما دا ځینې د دې لپاره راوړل او تري یادونه مې وکړه، چې د چاروال ګرامر بحثونه پکې ډېر وو او د ټولو راوړل زما څېړنیزه موضوع اوږده وي او زه یې مناسب نه بولم.زه دلته غواړم، چې د برچارونو پېژندنې هم راوړم.

۲. ۲. ۵. ۱ـ تجربي برچار

د چاروالې ژبپوهنې یا په چاروال ګرامر کې یوه مهمه د بحث وړ موضوع د ژبې چارونه(دندې) دي. د دغو چارونو په وسیله مانا بیانېږي.یا په ژبه کې د مانا آر توکي د چاروالو توکیو په وسیله بیانېدای شي، چې دغه چاروالو توکیو ته برچارونه وایي او دا برچارونه درې دي، تجربي، وګړمنځی او متني په نومونو یادېږي او زمونږ لومړنی بحث هم تجربي برچار دی.

د تجربي برچار په مرسته پېښه مفهومي کېږي، په کټګوریو وېشل کېږي او بلاخره

زمونږ تجربې تنظيموي.د تجربي برچار په وسيله مونږ پوهېدای شو، چې جملې او فقرې کومې تجربې راته بيانوي. د تجربي برچار له مخې بهرنۍ نړۍ ته مانا ورکول کېږي او د واقعيت له مخې ژبنې رغښتونه تنظموي.تجربي برچار دا مانا چې هر انسان چې په بهرنۍ نړۍ کې څه تجربه کړي او دا تجربې د مانا په توګه د ژبې پرمټ بيان شي، تجربي برچار ورته وايي. يا داسې مونږ ويلای شو، چې د تجربي برچار په مرسته د بهرنۍ نړۍ تجربې او د هغوی ماناوې د ژبې په مرسته بيانېدای شي.

استاد ښکلي د تجربي برچار په اړه ليکلي دي:((د انسان تجربه په ژبه کې د ښکارند په مټ راښکاره کېږي. انسان په فزيکي يا مصداقي نړۍ کې يوه تجربه کوي او دا تجربه د مانا په توګه د ژبې په مټ بيانېږي. مثلاً: يو کس اسمان ته ګوري او مارغان ويني. دا تجربه د لاندې جملې په بڼه په ژبه کې وايي:

ـ مارغان الوتي))(ښکلی، ۱۴۰۱ ۹۰ـ ۹۱) .

دلته يوه خبره بايد لږ واضح شي، چې هغه د ښکارند خبره ده. ښکارند په لويه طبقه کې د کوچنۍ طبقې استازي ته وايي او دا برخه په پروسو کې(چې ټول فعلونه پکې شاملېږي) راځي. پورتنۍ جملې ته که ځير شو، چې (د انسان تجربه د ښکارند پر مټ بيانېږي)؛ دلته ښکارند د«الوتي» د کلمې«ي» ده او دا د کوچنۍ طبقې استازي کولای شي. له پورته جملې څخه ښکاري، چې څوک بېرون مارغان ويني، چې په هوا کې دي او دا ځيز يې تجربه کړی؛ خپلې تجربه يې مانا داره کړې او بيا يې د ژبې په وسيله بيان کړې ده؛ نو ځکه وايي، چې مارغان آلوتي.يا داسې هم ويلای شو، چې فعلي خاتمې هم ښکارند دي. له دې ټولو څخه دا پايله لاس ته راځي، چې د تجربي برچار ټولې برخې په پروسو پورې تړلي دي او په پروسو کې ښکاره کېږي. يا دا چې بهرنۍ نړۍ ټولې تجربې د پروسو په وسيله بيانولی شو. پروسې هماغه فعلونه دي، چې د فقرو او جملو په پای کې راوړل کېږي.

استاد حميدزی ليکلي دي، چې تجربي برچار د ژبې لومړی چار دی، چې د محتوا د بيان لپاره ترې ګټه اخيستل کېږي. دا چار هغه چار دی، چې انسان ته دا توان ورکوي، چې خپلې تولنيزې او وګړيزې تجربې د هغو په قالب کې نښاني کړي او رايې وړي. د

همدې چار په وسیله لوستونکی او لیکونکی د خپلې واقعي بهرنۍ او ننۍ نړۍ تجربې منسجمې کولای شي او یا هم د بهرنې او ننۍ نړۍ ټولې تجربې د یوې فقرې او جملې په بڼه بیانولای شي(حمیدزی، ۱۳۹۸: ۱۲۹) .

وړاندې مو دا یادونه وکړه، چې په تجربي برچار کې ټولې تجربې مانا لرونکې کېږي او په ژبه کې د پروسو په وسیله بیانېدای شي. دا پروسې په لومړي سر کې په آرو او نا آرو وېشنه مومي. زه دلته غواړم، چې د خپل پروپوزل مطابق لومړۍ آرې پروسې د استاد سعدالدین شپون په شین ټاغي ناول کې وڅېړم. زما هڅه داده، چې د ټلو برچارونو په کمیت او کیفیت هم خبرې وکړم. د تجربي برچار په اړه باید یادونه وکړم، چې په شن ټاغي کې شپږ پروسې څېړل شوي دي او د همدې شپږو پروسو کمیت هم ښودل شوی. یوه بله پروسه د استعاري پروسې په نوم ما پکې ډېره کړه او بېلګې مې ورته راوړې. د دې ترڅنګ د تجربي برچار نورو برخو کمیت او کیفیت هم پکې څېړل شوی دی.

۲. ۲. ۵. ۲ـ د وګړمنځي برچار پېژندنه

د وګړمنځي برچار له نوم څخه ښکاري، چې په ژبه کې د وګړو ترمنځ تعامل ته وایي. دا برچار په وینا کې د شریکو کسانو متقابل عمل ښیي. دا چې متقابل عمل یې وښود؛ نو د اړیکو رامنځته کول، د اړیکو ډول، د اړیکو په رامنځته کولو کې د دوی نقشونه او لید لوری تر بحث لاندې نیسي. د وګړمنځي یا منځ وګړي برچار په باب استاد ښکلي لیکلي دي:((په یوه ټولنه کې د حاضرو وګړو ترمنځ تعامل ته وایي... دا چار ښیي، چې وینا وال یوازې په یوه موضوع نه غږېږي، بلکې له یو چا سره هم غږېږي. ژبه یوازې د بهرنۍ نړۍ اړوند د ویناوال تجربې نه تفسیروي، لا چې هممهاله منځوګړیز(بینافردي) تعاملات هم پلي کوي، چې زمور د بقالپاره اړین دي... په منځوګړیز چار کې ویناوال داسې یو څوک دی، چې له مخاطب سره اړیکه یا خپلوي لري. ښایي ښځه اومېړه وي، یا ریس او مدیر یا شاګرد او استاد او یا دوښمنان. دا ټول حالتونه په ویناییزه ټوټه کې د ژبنیو ټوکونو د غوراوي، ترتیب، خج او نورو بڼو څان ښیي. شا ګرد له استاد سره په محترمانه او ټیټ غږ خبرې کوي. استاد د تسلط انګېزه لري، ځکه خو ورته شاګرد د«ته» پر ځای تاسو وایي،

فعل هم جمع ګردانوي او غوښتنه يې نامستقيمه او مودبانه وي. استاد د خپل تسلط د ټينګښت لپاره د «افرين» غوندې کلمه غوره کوي، مفرد ضمير کاروي او مستقيم امر کوي.

په دې توګه د وګړنځي نقش مطلب مازې د جملو او کلمو کارونه نه ده، بلکې موخه له وينايیزې ټوټې سره د نښو ترښت دی، چې په ژبني تعامل کې د ښکلیو وګړيو تمايلات، انګېرنې، ننګېرنې او لومړيتوبونه رابرسېره شي))(ښکلی، ۱۴۰۱: ۱۳۸ـ ۱۳۹) .

له پورته وينا څخه داسې معلومېږي، چې وګړنځی (بينافردي برنقش) برچار د ژبې هغه مانيز نظام دی، چې د ويناوال او اورېدونکي ترمنځ ټولنيزې اړيکې، تبادله، دريځ، ارزونه، احساسات او د خبرو رولونه تنظيموي. د دې برنقش اصلي ګرامري نظام Mood دی او مرکزي عناصر يې Subject ، Finite او Modality دي.مود يا د حالت نظام د ويونکي او اورېدونکي تر منځ د اړيکو جوړولو لپاره کارېږي. همدا برنقش دی، چې ژبه له يوې ساده د واقعيت بيانولو وسيلې څخه، د انساني تعامل، اړيکو او ټولنيز ژوند په يوه فعاله وسيله بدلوي.

د وګړنځي برچار اصلي موخه د راکړې او ورکړې ده. منظور دادی، چې په دغه برچار کې راکړه او ورکړه کېږي او دا راکړه او ورکړه لومړی په وجهو کې ښکاره کېږي او وروسته دهغې څخه د همدې برچار په نورو برخو کې لکه: وجهيتونه، حاشيوي زياتونې، بشپړاند، قطبيت، تفسيري زياتونې او نورو کې معلومېږي. په دغه برچار کې ويناوال يوازې يوه موضوع نه بيانوي؛ بلکې د يوچا سره هم غږېږي او راکړه ورکړه کېږي.

د چارولې نظريې له مخې د شين ټاغي ناول وګړنځي برچار کميت او کيفيت څېړل، زما د موضوع يوه برخه جوړوي. کله چې ما چاروالە نظريه ولوسته او بيا مې د وګړنځي برچار ټولې مکالمې، راکړه ورکړه، وجهې او نورې برخې پرې وتللې، ډېره ارزښتناکه پايله ترې راووته. په شين ټاغي ناول کې راکړه ورکړه شوې او په ډېره اندازه د دوو يا ډېرو کسانو ترمنځ مکالمې شوي دي. دا مکالمې ډېری په مادي پروسو کې راوړل شوې، دا ځکه چې ناول د سفر، حرکت، تګ راتګ او نورو برخو څخه حکايت کوي.

٢. ٢. ٥. ٣ـ د متني برچار پېژندنه

په متني برچار کې متن او د متن انسجام، د انسجام اوزار، اطلاع، زړه اطلاع، نوې اطلاع، پيلګر او ډولونه يې او نورې برخې رانغښتل کېږي. متن يوازې ليکلي بڼې ته نه ويل کېږي؛ بلکې متن کېدای شي، ليکلی وی، غږيز وي، جملې وي او يا فکر وي. عبدالحق سلامزوی په خپل تېزس کې ليکلي دي:((متن په بېلابېلو ډولونو توليدېدای شي لکه: کلامي متن چې په کتاب کې شعر، اېملونه، ليکنې، چټ، داستان راځي... صوتي متن چې غږيز متون هم ورته وايي، په دې کې موسيقي او راډيو راځي.نقاشي او عکس په انځورونو کې راځي))(سلامزوی، تېزس ناچاپ) .

متني برچار په متن کې څېړل کېږي او دا برخه ژبې ته يوه نوې دنده په لاس ورکوي. دا دنده د جملې د نن د توکيو د ځای، ناستي او د کلمو په موقعيتونو پورې اړه لري. يا متني برچار په جملو کې د تجربي او وګړنځي برچارونو د معلوماتو د اوډون او اېښودنې په څرنګوالي پورې اړه لري. يا داسې هم ويلای شو، چې د متني برچار پر مټ ژبه متن رامنځته کوي او د ځان او شرايطو ترمنځ اړيکه جوړوي. د همدغو شرايطو په مرسته وينا شونې کېږي. کله چې وينا توليدېږي، د دوو برخو ښکلتيا پکې اړينه ده، چې يوه د خبرې کوونکي او بله د اورېدونکي برخه ده. خبرې کوونکي په برخه کې پيلګر او پايګر راځي او د اورېدونکي په برخه کې نوې اطلاع او زړه اطلاع راوړل کېږي.

استاد ښکلي ليکلي:((د تجربي او منځ وکړي دواړه چارونه وبله پېچلي، اوډلي او اوبدلي وي. د دې دواړو له تعامل نه په متن کې انسجام راپيدا کېږي او دا انسجام په خپله د متن د ټوکونو ترمنځ په متن کې وي يا د متن او د متن د موقعيت د قرينې ترمنځ وي... د تجربي او منځ وګړي هغه نه په دې بېلېږي، د ده د بحث واحد په خپله ژبه ده))(ښکلی، ١۴٠١: ١۴٢) .

په متني برچار کې لومړی د اطلاع نظام او يا د معلوماتو نظام دی. هغه داسې که په يوه جمله کې معلومات وړاندې کېږي، معمولاً نوې اطلاع او يا هم نوي معلومات دي او که چېرې په دويمه جمله کې نومځری راځي؛ بيا نو مخکنی زړه اطلاع يا زاړ معلومات دي. دويم نظام چې په متني برچار کې اړين او ضروري دی، هغه د وينا وال نظام دی. دا

نظام هم دوې برخې لري، چې یوې برخې ته یې پیلګر او بلې برخې ته یې پای ته رسونکی یا پایګر هم ورته وایي. پیلګر په درېو واړو برچارونو کې توپیر لري. په تجربي برچار کې د متن په پیل کې راځي. په وګړنۍ برچار کې د ندایي او تعجبي کلمو په ښه راځي او په متني برچار کې تر تجربي پیلامګر وروسته راځي او د متن برخې یو له بله او موقعیتي قرینې سره نښلوي او ترمنځ یې منطقي او مانیزې اړیکې رامنځته کوي. پیلامګر په درې ډوله وېشل شوی، چې یو تداومي دی، چې وینا ته ادامه ورکوي او د زاړه او نوي وینا وال ترمنځ اړیکه ټینګوي، لکه: هو، نه او نور. دویم ډول یې ربطي پیلامګر دی، چې یوه غوندېله د بلې سره نښلوي او معمولاً د ربط د اداتو په وسیله سره کېدای شي، لکه: چې، که، خو، نو او داسې نور ادات. درېیم ډول یې ویناییزې زیاتونې دي، لکه: په دې توګه، پرلپسې، همداراز، پردې سربېره او داسې نور (ښکلی، ۱۴۰۱: ۱۴۳) .

د چاروالې نظریې له مخې راته ښکاره شوه، چې متني برچار په شین ټاغې ناول کې په ډېره اندازه شته. په متني برچار کې د متن انسجام، د متن د انسجام عوامل، پیلګر، د اطلاع نظام او نورې برخې خوندورې راغلي دي او د اطلاع نظام، مخ مرجع، پس مرجع، پیوستون او نورې برخې هغه څه دي، چې ناول ته یې نوی رنګ او خوند ورکړی. دا چې د تیوري برخه پای ته ورسېده، اوس د شپون پېژندنه او اثار راوړم:

۲. ۲. ٦ـ د سعدالدین شپون پېژندنه

۲. ۲. ٦. ۱ـ زوکړه

استاد سعدالدین شپون د پښتو ژبې او ادب د معاصرې دورې د تکړه او د ښه قلم لرونکو لیکوالو له جملې څخه یادېږي. استاد شپون د قاضي برهان الدین زوی دی. په ۱۳۱۱ش کال د کندوز ولایت د خان آباد ولسوالۍ د قاضي برهان الدین په کورنۍ کې زېږېدلی دی.قاضي برهان الدین درې ښځې لرلې او یوه ښځه یې د ننګرهار د خوګیانیو وه او شپون هم د همدې ښځې زوی و. استاد شپون څلور اولادونه وو، چې دوې یې لونې او دوه یې زامن وو.

قاضي برهان الدین په خپل وخت کې د ځینو دندو د کولو لپاره، د افغانستان شمالي

ولایتونو ته تللی او هملته په کندوز کې میشت شوی دی. له همدې امله استاد شپون هملته لوی شوی.

۲. ۲. ٦. ۲ـ زده کړې

کله چې شپون لږ راغټ شو، پلار یې د خان آباد په یوه ښوونځي کې شامل کړ او لومړنۍ زده کړې هلته وکړې او د منځنیو زده کړو لپاره یې کابل ته راوست او د حبیبیې په لیسه کې یې شامل کړ او منځنۍ زده کړې یې بشپړې کړې. په ۱۳۳۱لمریز کال کې د کانکور له ازموینې څخه وروسته د طب پوهنځي ته بریالی شو او شپږ میاشتې یې ولوست او دا چې د استاد شپون له ساینسي مضمونونو سره ډېره مینه نه وه، په دې خاطر ترې راووت او د ادبیاتو په پوهنځي کې یې داخله وکړه او په۱۳۳۵کال یې په بریالۍ توګه ترې فارغ شو.

کله چې د پوهنتون څخه فارغ شو، په پښتو ټولنه کې یې دنده پیل کړه او وروسته یې د لا لوړو زده کړو(ماسترۍ) لپاره امریکا ته لاړ، د ایوا پوهنتون په مقایسوي ادبیاتو کې درسونه پیل کړل او په ۱۳۴۴لمریز کال ترې فارغ شو او بېرته خپل هېواد ته راستون شو.

۲. ۲. ٦. ۳ـ دندې

وړاندې مو هم یادونه وکړه، چې کله استاد شپون د پوهنتون څخه فارغ شو، پښتو ټولنه کې دنده پیل کړه او د ماسترۍ تر لوستلو وروسته بېرته خپلې اصلي دندې ته راستون شو. د یادونې وړ ده، چې د پښتو ټولنې د دندې تر څنګ یې، د خپلې هېوادنۍ مینې له امله، د کابل پوهتون د ادبیاتو پوهنځي کې محصلینو ته درس هم ورکاوره او د لیکوالۍ اثر یې هم ولیکه.له بل پلوه یې د معاصرې تیورۍ په رڼا کې د کره کتنې په برخه کې هم محصلینو ته تدریس کاوه (مومند، ۱۴۰۲: ۱۳۸ـ ۱۳۹).

نورې غیر رسمي دندې یې هم سرته رسولې او د امریکا سفارت د اطلاعاتو په کتابتون کې یې ژباړه کوله او ځینو نورو شرکتونو سره یې هم د ژباړن په توګه دنده سرته رسولې ده. د کورنیو اړو دوړو په جریان کې بېرته خان آباد ته تللی او د داود خان له کودتا او څه وخت بې کارۍ وروسته بېرته کابل ته راستون شو او د ازاد رقابت له لارې په کابل

کې د ملګرو ملتونو د اطلاعاتو او عامه اړیکو د ریس په توګه ټاکل شوی او څو کلونه یې دنده سرته ورسوله او د یوه رسمي سفر په ترڅ کې نیویارک ته لاړ او د بیا نه راتګ پرېکړه یې وکړه.

د نیویارک ځخه پېښور ته ستون شو او د پیر سید احمد ګیلاني اړوند ګوند په محاذ کې د فرهنګي چارو د ریس په توګه وټاکل شو او له دې ځخه ورسته بېرته امریکا ته ستون شو او کله چې د امریکا غږ نړیوالې رادیو په کار پیل وکړ؛ شپون یې د پښتو خپرونې مسولیت ومانه او شل کاله یې پکې دنده سرته ورسوله او په کال ۱۳۸۲لمریز کې کابل ته راغی او له رادیو ځخه یې تقاعد واخیست (مومند، ۱۴۰۲: ۱۴۲) .

استاد شپون د کابل پوهنتون د ماستریٰ دورې محصلینو ته هم درس ورکاوه او د پوهنې وزارت اړوند د تالیف او ترجمې ریاست کې هم د مشاور په توګه دنده سرته رسولې ده.

۲. ۲،٦. ۴ـ مړینه

د هېواد دا تکړه لیکوال او شاعر پر افغان او افغانستان مین شخصیت، تر څو میاشتو نارغې ځخه وروسته د امریکا د ویرجینیا ایالت په ستنفورډ روغتون کې، د ۸۴کلونو په عمر په کال ۱۳۹٦لمریز کې مړ شو او جنازه یې د وخت د ولسمشر محمداشرف غني په امر را انتقال او د لغمان په سرخکانو کې خاورو ته وسپارل شوه (مومند، ۱۴۰۲: ۲۲۲) .

۲. ۲. ۷ـ د سعدالدین شپون اثار

د استاد سعدالدین شپون د پښتو ژبې د تکړه لیکوالانو له جملې ځخه و، چې پښتو ژبې او ادب ته یې ډېر کار کړی دی او د غه کړی کار یې له نوښته کړی، کلیشه یې پرېښې او هرې موضوع ته یې په یو بېل انداز کتلې. استاد د لیکوالۍ تر څنګ شاعري هم کړې ده او حتا خپلې لیکنې یې له شاعرۍ پیل کړي دي؛ خو دا چې ده له لیکوالۍ سره ډېره مینه وه؛ نو ځکه یې په نثر کې ډېرې لیکنې کړي دي او هنري نثرونه یې ډېر لیکلي دي. د استاد لیکنې موږ په څو برخو کې خلاصه کولای شوو، چې هنري نثرونه، ژباړې، خپل

ژوند، څېړنیزې لیکنې، منظوم اثار ، مقالې او نورې دي.
زه غواړم، چې د استاد شپون اثار په دوو برخو(منظومو او منثورو) ووېشم او تر همدې سرلیک لاندې یې ټول اثار راوړم.

۲. ۲. ۱,۷ـ د استاد شپون منثور آثار

استاد شپون هم نظم لیکلی او هم نثر او پیل یې له نظم څخه کړی؛ خو وروسته یې د نظم لار پرېښې او نثر ته یې مخه کړې او هغه څه یې لیکلي، چې د ټولو لیکوالو او لوستونکو زړونه یې ګټلي دي.

شپون هرې موضوع ته په یو نوي نظر کتل او په نوي انداز یې لیکله حتا تردې چې خپل ژوند یې چې لیکلی هم په هنري انداز یې لیکلی. کله چې د ښوونځي د لوستلو لپاره کابل ته راځي دغه صحنه یې داسې لیکلې ده:((مور مې راته په ګونډو شوه، د شنه پاچ پګړۍ مې چې ول ول په غاړه لوېدلې وه، په سر راوتړله او په دواړو مخو یې چپ کړم، بیا یې زما مخ په دواړو پستو لاسونو کې ونیو او همداسې یې راته وکتل، په سترګو کې یې اوښکې ډنډې وې، په ژړغوني غږ یې وویل: څه ورځیه بچیه!زه پوهېدم چې ته د اوبو ماهی یې، څه! خپل همت دې مل شه! زه اریان پاتې شوم، چې دا څنګه چل دی، په خپله خوښه مې کابل ته لېږي او بیا راته وایي ته د اوبو ماهی یې!؟

خو نن چې له هغې نېټې نه دیارلس کاله تېرېږي، د مور هماغه غږ مې په غوږو کې ، لکه ګونګرو داسې شرنګېږي .

اوس هم چې کال کې یو وار خان آباد ته ولاړ شم،د مور په زنګانه سر ږدم او زاری ورته کوم، چې «ادکو»زه به سترګې پټې کړم ته راته یوه شېبه لولو وایه!))(روهي، ۱۳۸۴: ۱۲۱).

کله چې پورتنۍ لنډه لیکنه مورِ لولو، هنریت پکې له ورایه ښکاري، چې دا د شپون د لیکوالۍ یوه ځانګړنه ده. په هر صورت زه اوس د شپون منثور اثار درپېژنم:

۲. ۲. ۷. ۱. ۱ـ د بنګي غاړه

دا استاد شپون د لنډو کیسو مجموعه ده، چې د دانش خپرندویې ټولنې له لوري چاپ شوې. ښاغلي روهي صاحب لیکلي، چې دا اثر په ۱۳۷۷لمریز کال په پېښور کې د دانش خپرندویې ټولنې له لوري چاپ شوی او محمد اسحاق مومند لیکلي، چې په ۱۳۸۵لمریز کال د دانش خپرندویې ټولنې له لوري چاپ شوی. ښایي مومند تېروتلی وي او یا ښایي دویم ځل چاپ یې ښایي؛ خو ورسره لیکلي یې نه دي، چې دا لومړی چاپ دی او که دویم.

په دغه اثر کې هغه کیسې راغلي دي، چې د استاد شپون پخپل کور او کلي کې پېښې شوي دي. دا کیسې د شپون د ژوند تجربې دي او هره کیسه یې بېله هم ده او یو په بل پسې ترڅې هم ده. یعنې د مفهوم په لحاظ یو په بل پسې ترښت لري. د استاد شپون دا کیسې هنریت هم لري او خپله کلیوالي محاوره اولهجه یې لیکلي دي. منظور دادی، چې د ده په لیکوالۍ کې خپله لهجه لیدل کېږي او دا کار یې شعوري کړی.

۲. ۲. ۷. ۱. ۲ـ شین ټاغی

د استاد شپون لومړنی ناول شین ټاغی دی او موضوعات یې سیاسي دي او د سیاسي بدلونونو ښکارندویي کوي.دا ناول لومړی ځل په ۱۳۴۷لمریز کې خپور شوی او دویم چاپ یې په ۱۳۷۷کال کې خپور شوی. ددې کتاب د چاپ په اړه هم دوه نظرونه موجود دي، چې استاد روهي یې د چاپ کال ۱۳۷۷ښوولی او مومند یې د دویم چاپ کال ۱۳۷۹لمریز ښودلی.

ددې اثر نوم ځکه شین تاغی اېښودل شوی، چې شین ټاغی پخپله د استاد شپون شین ټپلر غوندې موټر و، په جرمني کې یې اخیستی و او د خلکو لخوا په موټر شین ټاغی نوم اېښودل شوی(مومند، ۱۴۰۲: ۲۵۰) .

شین ټاغی ناول د استاد شپون د داستاني اثارو له جملې څخه یو اثر دی. دا اثر هم د نورو داستاني اثارو په څېر په روانه پښتو لیکل شوی، خوند او رنګ دواړه لري.د استاد شپون د هنري او داستاني اثارو ژبه خوږه ده؛ ځکه چې په روانه پښتو ژبه یې ټول داستاني

اثار لیکلي دي. د ټولو داستاني اثارو منځپانګه یې په روانه پښتو لیکلې او دی به تل د خلکو په زبه به غږېده، لیکوالي یې نه سختوله، کلمې یې ښکلې ټاکلې، د ورځنۍ محاورې کلمې یې انتخاب کړي دي.د استاد شپون په داستاني کلیاتو کتاب راغلي دي:((ده د زده کړې له دورې له کیسه لیکنې سره مینه لرله. خدای پاک یو عجب قلم، عالي ذهن او لوړ استعداد ورکړی و. خوش طبعی، لطف او لفظونه ورسره وو. د خدای لورینه پرې شوې وه او ده دغه لورېنه وکارولې، له ده یې لوی کیسه لیکوال جوړ کړ، یو داسې کیسه لیکوال چې ځانګړې لار لري، ځانګړی نثر لري.

د لطف، مهربانۍ او ادبي نزاکت ډکه ژبه لري، طنز او شوخي لري، سوکنډنې لري، داسې څه وایي او په داسې ژبه یې وایي، هغه د ده د کلي، چاپېریال او د خلکو ژبه ده. دی له خلکو سره بلد، د خلکو په ژبه پوه او د خلکو سره راستر شو. د بنګي شور یې ذهن په څپو راوست. د کلي ژوند، پوله او پټی یې ګز و ګام کړل. له خلکو یې زده کړل، له خلکو سره پاتې شو او ببرته یې د خلکو په ژبه د خلکو کیسې ولیکلې. د ده په لیکنه کې طبعي منظرې، اتلان، پېښې او پښتانه خوینه ځلېږي. د ده بربنډې خبرې مور ته بربنډې دي، خو ولس ته نه. هغه چاته بربنډې دي، چې په پښتني چاپېریال کې یې وخت نه وي تېر کړی. د ده خبرې هماغه د چاپېریال خبرې دي، ځکه چې هغوی زغملی شي، خوند ترې اخلي او ژوندي انځورونه دي. دی مړې کلمې نه کاروي. دی غواړي، چې په ژوندیو او حسي کلمو د لوستونکو او اورېدونکو ذهن نېغ په نېغه پېښې یا سیمې ته بوځي))(ازمون، ۱۳۹۸: ۵).

د دغه ټوټې د راوړلو څخه ښه معلومېږي، چې استاد شپون په داستاني اثارو کې کې د خپلې سیمې او خپله لهجه او د خپلو خلکو لهجې کارولې او د خکلو په ژبه غږېدلی، ژبه یې سوچه، رسا او نرمه ده. په لیکنه یې هر څوک ښه پوهېږي او هر لوستونکی د خپلې پوهې په اندازه اخذ ترې کړای شي. شین ټاغی ناول یې هم په همداسې الفاظو لیکلی. دغې ناول ته که ځیر شو، د همدې موټر د اخیستو نه یژ راونیسه، تر افغانستانه، بیا تر کندوزه، بیا تر حج پورې او بلاخره د مجاهدینو سره د مرستې لپاره د صلاح تر انتقاله او بیا په سالنګ کې د واورې او یخنۍ له امله تر بندیدو او بیا تر کهمرد او سیغان تر ولسوالۍ

پورې تګ او بیا بېرته کابل ته او بلاخره خوګاڼیو ته تللو پورې ټولې مکالمې یې ډېرې سوچه او په روانه ژبه لیکل شوي دي.

۲. ۲. ۷. ۱. ۳ـ ګټیالی

دا اثر هم د استاد شپون د هنري لیکنو څخه بلل کېږي او ژانر یې ناول دی، په کال ۱۳۷۸لمریز کې دانش خپرندویې ټولنې خپور کړی دی. د دغه ناول موضوع پر افغانستان د شوري یرغل او په پای کې د خپل هېواد پرېښودل او د مهاجرت غمیزې ته ځانګړې شوې، چې په میلیونونو افغانان مهاجر شول او نږدې دوه لکه او یا ډېر په شهادت ورسېدل. په دغه ناول کې د مهاجرت ښې او بدې خاطرې ټولې بیان شوي دي او د ناول اتل(کرکټر) ګلاجان دی، چې په امریکا کې یې هم خپل افغاني غرور او هویت ساتلی دی. د ناول په موضوعاتو کې افغاني صداقت، رښتینولي، هڅه او زیار هم راغلي . دا ناول په تول پوره ناول دی.

۲. ۲. ۷. ۱. ۴ـ د سمځې یاران

د سمځې یاران د استاد شپون درېیم ناول دی، چې په ۱۳۸۱لمریز کال د دانش خپرندویې تولنې له لوري، په پېښور خپور شوی.په دغه ناول کې مرکزي کرکټر کمال خان دی او دغه کرکټر تل له خلکو سره نیکي کوي. دغه ناول موږ ته دا راښیي، چې موږ له هر ډول حالاتو او محیطونو سره بلد شو؛ خو خپل اصلي کلتور له لاسه ورنکړو او له بدو کړو وړو څخه ځان وساتو، چې د پیسو په مقابل کې هر پوډري او ناوړه انسان ته د خویندو واده کول دي. داسې اوداسې نورې ښېګڼې لري او زه یې ټول تفصیل نشم راوړلای.

۲. ۲. ۷. ۱. ۵ـ ښایستو

د استاد شپون وروستی ناول ښایستو دی، چې په ۱۳۸۸لمریز کال، د دانش خپرندویې ټولنې له لوري په کابل کې خپور شوی دی.د دې ناول ژبه خوږه او ولسي ده.د دې ناول مرکزي کرکټر پخپله لیکوال او تر هغې وړاندې یې خپله مېرمن د مرکزي کرکټر په توګه

ټاکلې او هغې ته يې ښايستو ويله ده. په دغه ناول کې هم زمور د کلتور دواړه خواووې(ښه او بد) بيان شوي دي.

۲. ۲. ۷. ۱. ٦ـ و، نه و، يو شپون و

دا اثر استاد شپون خپل ژوند اوخپلې خاطرې(ځان پېښې) په هنري انداز ليکلي دي. د پښتو په معاصر ادب کې استاد شپون هغه ليکوال و، چې په ډېرو برخو کې ليکوالي کړې ده.په داستاني ادبياتو کې يې ټول پېژني، په ناولونو، ځانپېښو او نورو برخو کې يې خپل قلم چلولی او د ټولو د پام وړ ګرځېدلی. په دغه اثر د استاد شپون خپل ژوندليک ته ځانګړی شوی او د دانش خپرندويې ټولنې له لوري په ۱۳۸۴لمريز کال کې خپور شوی. د دې اثر په يوه برخه کې پخپله استاد شپون ليکلي، چې که ما دا نه انګېرلی، چې لوستونکو ته يو څه نشته پکې، هرګز به مې دا نه و ليکلی. د دې کتاب د محتوا اړوند ډېرو ليکوالو ليکنې کړي دي، چې راوړل يې اړين نه بولم.

۲. ۲. ۷. ۱. ۷ـ د مچۍ ځاله

د مچۍ ځاله کتاب د استاد شپون د بېلابېلو سياسي، ادبي، فرهنګي او طنزي ليکنو ټولګه ده. ددې کتاب مقالې لومړی په تاند پاڼه خپرې شوې دي او وروسته د ليکوالو په هيله دا راټولې شوې او د کتاب بڼه ورکړل شوې، چې د مچۍ ځاله کتاب نوم پرې کېښودل شو. دا کتاب لومړی ځل ۱۳۹۲لمريز کې د دانش خپرندويې ټولنې له لوري په کابل کې چاپ شو.

۲. ۲. ۷. ۱. ۸ـ ليکوالي

ليکوالي د استاد شپون يو اثر و، چې په ۱۳۵۲لمريز کال کې د کابل پوهنتون له لوري په ګستتنر بڼه خپور شو. دا کتاب د کابل پوهنتون د پښتو ځانګې د محصلينو لپاره درسي کتاب و. دا کتاب په ۱۳۹۸ کال کې د مومند خپرندويې ټولنې له لوري چاپ شو.

۲. ۲. ۷. ۱. ۹ـ ادبي څېړنې

دا کتاب يې د نوماند څېړنيار رتبې لپاره ليکلی. دا کتاب هم د بېلابېلو مقالو ټولګه ده؛ خو د علمي رتبې لپاره يې ليکلی دی.

۲. ۲. ۷. ۱. ۱۰ـ ادبي نقد

د استاد بل اثر دی، چې د چاپ او ناچاپ په اړه يې کره معلومات نشته. دا کتاب يې هم د کابل پوهنتون د محصلينو لپاره ليکلی.

۲. ۲. ۷. ۱. ۱۱ـ انګريزي ـ پښتو قاموس

کله چې استاد شپون د امريکې څخه افغانستان ته راستون شو او په پښتو ټولنه کې د بيا دندې سره سم دا هڅه وکړه او ښايي دا لومړی پښتو قاموس وي.دا قاموس په ۱۳۵۴لمريز کال کې چاپ شو.

۲. ۲. ۷. ۱. ۱۲ـ زوړ سړی او سيند

د استاد شپون د ژباړو له جملې څخه دا اثر د همينګوی رومان دی. د دې اثر پښتوژباړه استاد شپون په روانه پښتو کړې.

۲. ۲. ۷. ۱. ۱۳ـ د افغانستان د جهاد د بري لار

دا کتاب د افغانستان د جهاد د بري لپاره د مسافرۍ په دوران کې ليکل شوی او دومره ويل شوي، چې ۱۳٦۰لمريز کال کې چاپ شوی او اوسمهال په لاس کې نشته.

۲. ۲. ۷. ۱. ۱۴ـ کوکچه

دا کتاب د استاد شپون د ماسترۍ تېزس دی، چې په امريکا کې ليکلی.په دې کتاب کې لنډۍ په انګريزي ژبه تشريح شوي دي.

۲. ۲. ۷. ۲ـ منظوم اثار

استاد شپون د نثر ترڅنګ په نظم کې هم قلم چلولی او خواړه اثار يې پرېښې دي.زه اوس د منظومو اثارو شمېر درته وړاندې کوم:

۲. ۲. ۷. ۲. ۱ـ پرخه په ترخه

د استاد شپون لومړی شعري ټولګه پرخه په ترخه ده، چې په ۱۳۶۹لمريز کال کې د ازاد افغانستان د ليکوالو د ټولنې له لوري چاپ شوې. د معلوماتو له مخې استاد شپون د ادب دونيا لومړی د نظم له لارې مخه کړې؛ خو وروسته يې په نثر کې نايااب اثار په ميراث پرېښې دي.

۲. ۲. ۷. ۲. ۲ـ شين خالی پيدا شوه

د استاد شپون دويمه شعري ټولګه ده، چې په ۱۳۸۵لمريز کال کې د ختيځې سيمې د ليکوالو او ژورنالستانو د خپلواکې ټولنې له لوري چاپ شوې ده.د معلوماتو له لوري دا د استاد شپون لومړی شعري ټولګه ده؛ خو د ورځينو پېښو له امله لومړی چاپ نشوه او وروسته چاپ شوه.

۲. ۲. ۷. ۲. ۳ـ پښتو لنډی

دا کتاب لومړی ځل د پښتو ټولنې د پښتوځېړنو د بين المللي مرکز له لوري په ۱۳۵۸لمريز کال کې خپور شوی دی.د دې کتاب تشريح په انګريزي او دري هم شوې ده.

۲. ۲. ۷. ۳ـ د استاد سعدالدين شپون د هنري نثر ځانګړنې

استاد شپون چې کله د ادب برخې را دانګلي؛ نو په نظم پيل کړی؛ خو وروسته يې نثر ته شروع کړې او خورا دقيقې او خوندورې ليکنې يې کړي دي. استاد شپون يوازې څېړنيزې ليکنې نه دي کړې؛ بلکې په تول پوره هنري نثرونه يې ليکلي، چې نثر يې بېلې ځانګړنې لري او زه دلته ترې په لنډو ټکو يادونه کوم.

استاد شپون په داستاني ادبیاتو کې یو ښه نوم دی او د هر لیکوال او لوستونکي په خوله زمزمه کېږي. د داستاني ادبیاتو د لومړنیو او د پوخ قلم لرونکو لیکوالو له جملې څخه یې ګڼلی شو. استاد شپون د مړو کیسو بیان نه کوي؛بلکې د ژوندیو پېښو څخه خبرې کوي او ژوندي تصویرونه وړاندې کوي. ټول داستاني اثار یې خواږه، ژبه یې خوږه او روانه ده او ناولونه یې ډېر کرکټرونه نه لري. استاد روهي لیکلي دي:((د پښتو لیکوالو او شاعرانو په پاخه نسل کې څو تنه لیکوال او شاعران په هنري لحاظ د ډېر اوچت مقام خاوندان دي. الفت، حمزه شینواری، عبدالباري جهاني، اجمل خټک، ښېنوا، لایق پسرلی او شپون په دغه کتار کې درېږي))(روهي،۱۳۸۴: ۱۲۱) .

استاد شپون د پښتو هنري نثر په ډګر کې ابتکاري څېره ده او په نثر لیکلو او ټولنیز ژوند کې ریالست و. د خپلو افکارو د بیانولو او لیکولو لپاره یې یوه ښېله لاره او ښه طرز ټاکلی و او د چا تقلید یې نه دی کړی. هغه لیکوال یې غندلي، چې کلیشه یې لیکنې کړې دي. خپل احساسات یې په رنګینه او ښکلې ژبه کنټرول کړي او دا دده د نثر ښه خاصیت دی. زه وس غواړم، چې د استاد شپون د هنري نثر ځانګړنې شماره وار ذکر کړم:

۱ـ د هنري نثر ژبه یې ساده او روانه وه؛ ستونزمن لغتونه یې نه کارول.

۲ـ د نثر ژپه یې ریالیستیکه وه او واقعیتونه یې بیانول.

۳ـ په لیکنو کې یې د ډېرو کرکټرونو څخه یې ډه ډه کوله.

۴ـ په لیکنو کې شوخي ډېره لیدل کېږي او دا شوخي د ماشومانو ځانګړنه هم ده. له دې امله استاد شپون د خلکو سره نږدې پاتې شوی.

۵ـ په نثر کې اخلاص ډېر ښکاري، دا مانا چې هر څه بې له تکلیفه درته مخې ته اېږدي.

٦ـ د استاد شپون د لیکلو او ویلو ژبه یوه وه، یعنې هرڅه یې چې په ژبه ویل هغه یې لیکل هم.

د استاد شپون ژوند او د اثارو څېړنه یو کتاب دی، چې د علومو اکاډمۍ یوه څېړونکي محمد اسحاق مومند لیکلی او هلته یې د پوهانو نظرونه رانقل کړي، چې د ډاکتر څپاند نظر هم شته او لیکل شوي:((استاد سعدالدین شپون ما د ده له لیکنو او ناولونو څخه وپېژنده. استاد شپون زموږ د زمانې د هنري او داستاني ادبیاتو یو لوی لیکوال او

استاد و. ده زمونږ د زمانې په نثري ادبیاتو کې یوه ځانګړې لار درلودله. یوه ځانګړې ژبه یې درلودله او دا کار شعوري کاوه... ده په عام مجلس کې چې هر څه ویل هماغه به یې لیکل هم، مونږ به دا فکر کاوه چې دی به دا خبرې غیر شعوري کوي، خو نه، ده به دا کار شعوري کاوه او پخپله یې همداسې غوښتل چې لیکنې او وینایيزه ژبه یې یوه وي))(مومند، ۱۴۰۲: ۱۹۹).

په هر حال استاد شپون خپله ولسي ژبه، عادي ژبه او د خپلې محاورې ژبه په هنري بڼه بدلوله او ولسي ژبه یې په هنري بڼه بیانوله.هغه خواږه او خواږه فکرونه چې په ولسي ژبه کې موجود وو، په داسې ظریف او ښکلي انداز کې بیانول، چې د هر لوستونکي به میه ورسره پیدا شوه. سواد لرونکي او بې سواده ټول پرې پوهیږي. دا ځکه پرې پوهیږي، چې ده د کندوز په تېره بیا د خان آباد شولې او وریجې د امریکا په ښکلي ښارونو نه ورکول او له هغې ورته بهتره معلومېدل، همدا علت و، چې د استاد شپون له لیکنو سره د هر لوستونکي مینه پیدا کېده او شوې هم ده.

د خپل ژوند په دوران کې یې ډېر نایاب اثار پښتو ژبې او کلتور ته په میراث پرېښودل او دادی نن د هغې په اثارو څېړنې کېږي. په همدې موخه ما هم د استاد شپون په شین ټاغي ناول کې د چاروالې ژبپوهنې برچارونو څېړنه ټاکلې. په اړوند زه دا برخه نوره لوستونکو ته پرېږدم او خپلې اصلي موضوع څېړلو ته راګرځم.

۲. ۲. ۳ـ د مفاهیمو تعریفونه

۲. ۲. ۳. ۱ـ د چار والې ژبپوهنې پېژندنه

د چاروالې ژبپوهنې یا د چاروال ګرامر د پېژندنې څخه وړاندې، باید چار وپېژنو او د چار په ارزښت پوه شوو، وروسته بیا چاروال ګرامر او یا چاروالە ژبپوهنه تعریف کړو.

چار یا نقش: هغه ژبنی عنصر دی، چې رغښتواله او چاروالە سره ښلوي. تحت الفظي مانا یې رول هم کېدای شي، یا دنده هم ښایي ورته وویل شي؛ خو تر ټولو غوره نومونه یې چار ده، چې د دري ژبې د نقش سره هممانا ده. په غونډلو او فقرو کې نقش یا چار د کلماتو او الفاظو هغه رول او دندې ته وایي، چې ښایي یوه کلمه په ښلابښلو فقرو او

غونډولو کې بېلابېل نقشونه ولوبوي او بېلابېلې ماناوې ولري. د چار په باب د دبیر مقدم په کتاب کې راغلي دي:((په ژبپوهنه کې د «Function» نقش اصطلاح په عمومي ډول په درې معناوو کارول شوې ده:

۱ـ د ژبې اړیکنیز، ګفتماني او کاربُردي نقش په دې معنا کې function د ژبې هغه عمومي دنده ده، چې د اړیکې، خبرو او کارونې په بهیر کې ترسره کېږي.

۲ـ د ژبنې عنصر نقش د ژبې د ټول نظام له نظره یعنې کل‌ګرایي؛ لکه:د یو غږ نقش د ټول آوایي نظام په دننه کې او دا چې آیا دا غږ فونیم (واحد تمیزکوونکی غږ) دی که نه.

یا هم د ژبنې عنصر نقش د هغه جوړښت په دننه کې چې پکې راڅرګندېږي.

دا برخه پخپله لاندې ډولونه لري:

الف) نحوي نقشونه؛ لکه: فاعل، مفعول، متمم، هسته او نور.

ب) معنایي نقشونه؛ لکه: عمل کوونکی، فایده اخیستونکی، کارکوونکی، تجربه کوونکی

ج) اطلاعاتي نقشونه؛ لکه: مبتدا، خبر

۳ـ د ریاضي او منطق تعبیر له مخې تابع د بېلګې په توګه وایو د دیوې جملې معنا د هغې د جوړوونکو اجزاوو د معناوو تابع ده(مقدم، ۱۳۹۸: ۳۹ـ ۴۰)

نقش د جملې هغه هدف او دنده ده، چې د جملې د معنا د انتقال لپاره تر سره کېږي.

کله چې په ژبه کې د کلمې د چار په مانا یا نقش پوشوو، اوس دا مناسبه بربښي، چې چاروالې ژبپوهنه او یا چاروالې ګرامر تعریف کړو او یا د چاروال ګرامر موخې او ارزښت په ډاګه کړو.

د چاروالې اصطلاح د ژبې د شننې اوڅېړنې یو روش دی. چاروالې اهمیت او ارزښت دادی، چې د ژبې غږیز، ګرامري او مانیز رغښت، د هغو د چارونو او نقشونو له مخې تشرېح کوي، چې په ټولنه کې د وګړو ترمنځ کارپږي (سلامزوی، تېزس، ناچاپ) .

چاروال ژبپوهان ژبې ټولنیز نقشونه مطالعه کوي. یا داسې هم ویلای شو، چې چاروال ژبپوهان د ژبې نقشونه د ټولنې سره په تړاو کې مطالعه کوي. چاروالې ژبپوهنه ژبې ته د ټولنیزې پدیدې په نظر ګوري او دا یې موخه ده، چې ژبه د ټولنیزې اړتیا د پوره کولو

لپاره رامنځته شوې ده

د چاروالې ژبپوهنې له نظره د ژبې اساسي دنده د اړیکو ټینګوالی دی او له دې پلوه ژبه په ارتباطي، کارونپوهنې او د خبرو اترو نقشونو تاکید کوي. هالیډې چې د چاروالې ژبپوهنې یو مهم ژبپوه دی، هغو به د ژبې ظاهري بڼې ته ارزښت ورکاوه او د ژبې ظاهري بڼه یې په ارتباطي او کارونه پورې تړلې بلله. منظور دادی، چې هالیډې د ژبې ظاهري بڼه مهمه بلله او دا مهم والی یې د ژبې په ارتباطي او د ژبې په کارونه پورې اړوند ګڼلی دی.

چاروالې ژبپوهنه د خپل تاریخي سیر په مرحلو کې، په ډېرو هېوادونو کې وپالل شوه او ډېرو ژبپوهانو ترې پیروي کړې او خپل نظریات او د چاروالې ژبپوهنې په باب یې خپلې پوهې شریکې کړې دي. دلته زه غواړم، چې د بېلابېلو هېوادونو د چاروالې ژبپوهنې د ژبپوهانو نظرونه په لنډ ډول راوړم:

۲. ۲. ۴ـ پایله

د موضوع د شالید څخه دا راته ښکاره شوه، چې ځینو د ګوتو په شمېر څېړونکو د چاروال ګرامر اړوند په ځینو برخو کې یوه مقاله لیکلې ده. استاد حمیدزی یو کتاب او په یوه بل کتاب کې د چاروال ګرامر برخې راپېژندلي دي. استاد ښکلي د ژبپوهنې نظریې په کتاب کې درې مقالې همدې برخې ته ځانګړې کړې، چې زما د موضوع لپاره ښه ماخذ دی. نورو څېړونکو، لکه: حکیمي، کډوال، همای هم د درېو برچارونو یوه یوه برخه معرفي کړې ده. زه چې کومه څېړنه کوم، ښایي دا لومړنی کتاب وي، چې درې واړه برچارونه په یوه ناول کې څېړم. دا موضوع زما لپاره او هم د پښتو ژبې د لوستونکو لپاره ښه ده. ځکه دا معاصر ګرامر او معاصره ژبپوهنه ده. کومې پوښتنې چې دودېزې نحوې ورته ځواب نه دی موندلی، چاروال ګرامر ورته موندلی او له څو اړخونو څخه یې ځواب کړی. بل دا چې د معاصر چاروال ګرامر له مخې هم د ژبې شکل او هم مانا په نظر کې نیول کېږي، چې دا چار بیا تر ډېره ستونزې حلوي.چاروال ګرامر په یوه مهال کې د ژبې دنده او چار د درېو اړخونو له مخې څېړي او دا یې دنده ده، چې ژبه همهاله درې دندې سرته رسوي. دا ګرامر لومړی د نړۍ په نورو ژبپوهنیزو مکتبونو کې رامنځته شو؛ خو هالیډې انکشاف

ورکړ.پورتنۍ تیوري ما د خپلې موضوع د څېړلو لپاره وټاکله، چې د همدې تیوري په مرسته زه هڅه کوم، چې په شن ټاغي کې ذکر شوي درې برچارونه او د همدې برچارونو ځانګړنې وڅېړم.د همدې تیوري په مرسته زه غواړم، چې د برچارونو کمیت او کیفیت دواړه روښانه کړم. زه تیوري موخه نه ګرځوم؛ بلکې تیوري زما د څېړنیزې موضوع لپاره یوه وسیله ده، د همدې وسیلې په مرسته، په شین ټاغي کې برچارونو کمیت او کیفیت روښانه کوم. د کیفیت څخه موخه داده، چې په یوه برچار کې څه راغلي دي؟ د کمیت څخه بیا موخه داده، چې هر برچار په کومه اندازه په شین ټاغي ناول کې راوړل شوی. د ښلګې په توګه د تجربي برچار ټولې پروسې(مادي، ذهني، اړیکمنه، چلني، ویناییِ او وجودي) په کومه او څومره فیصدۍ راغلې دي. ما دا موضوع روښانه کړې، چې په شین ټاغي ناول کې د کومې پروسې کمیت ډېر دی او ولې دا پروسې پکې ډېرې راغلي دي؟ دې پوښتنې ما پوره څواب موندلی او په خپل تحقیق کې مې څواب کړې ده.

د هالېډې معاصره چارواله نظریه هم د همدې دریو برچارونو او د برچارونو د محتویاتو څخه بحث کوي. د هالېډې تر ټولو مهم اصل دا دی، چې یوه جمله په یو وخت کې دا ټول برچارونه ترسره کوي. د مثال په توګه:

۱ـ احمد کتاب ولوست.

- تجربوي: د لوستلو یوه پېښه بیانوي .
- وګړمنځی: ویناوال یو خبر وړاندې کوي .
- متني: احمد د پیغام د پیل ټکی (Theme) دی .

همدا دلیل دی چې هالېډې جمله یوه څو-برنقشي (multifunctional) جوړښت بولي.

درېيم څپرکی

د څېړنې مېتودولوژي

ښکاره خبره ده، چې هره څېړنیزه موضوع د یوه ټاکلي مېتود په ټاکلو سره تر سره کېږي. که د موضوع د څېړلو لپاره مېتود غوره نشي، څېړونکی نه یوازې دا چې خپلو تاکلو موخو ته نه رسېږي؛ بلکې د ډېرو ګډوډیو سره مخامخ کېږي او لار تړې ورکېږي. په دې خاطر اړینه ده، چې د موضوعاتو د لا ښه څېړلو لپاره مېتود غوره شي.

د هرې څېړنې لپاره ېبل مېتود او ټاکلې لاره شته، چې د همغه مېتود په وسیله څېړنیزه موضوع بشپړېږي.په همدې موخه ما هم د خپلې موضوع د لا ښه څېړلو لپاره مېتود غوره کړ. د یادې موضوع په څېړلو کې د تحلیلي ـ تشریحي مېتود څخه ګټه واخیسته. منظور دادی، چې د تحلیلي ـ تشرېحي(د منځپانګیز تحلیل) مېتود په مرسته کولای شم، چې هم په شین ټاغي ناول کې برچارونه وڅېړم او هم د پروسو کمیتونه ښکاره کړم او ورسره دا هم کولای شم، چې دې برخې له پوهانو نه مشورې واخلم، چې څو د موضوع تل ته ورسېږم او هغه تیوري، چې ما د موضوع لپاره ټاکلې ده، په ښه ډول تطبیق کړم.

د موضوع د څېړلو لپاره لومړی باید د کتابونو، علمي مقالو، علمي ژورنالونو، دایرة المعارف او نورو څخه استفاده وکړم او وروسته بیا اصلي موضوع د څېړلو لپاره باید د دې برخې د پوهانو سره مشورې هم وکړم، چې د مشورو په مرسته به اصلي موضوع مواد راټول او وروسته تحلیل کړم او په دې توګه موضوع د بشپړواي تر حده ورسېږي.

۳. ۱ـ د څېړنې ډول

د څېړنې په ډول په درېیو برخو وېشلای شم:

۳. ۱. ۱ـ د ماهيت له پلوه په عملي اړخ پورې اړه لري.

۳. ۱. ۲ـ د معلوماتو له پلوه کيفي ده.

۳. ۱. ۳ـ موخې له پلوه تحليلي ـ توصيفي ده.

۳. ۲ـ د څېړنې مېتود

د څېړنې مېتود تحليلي ـ تشريحي (منځپانګيز تحليل) دی.

۳. ۳ـ د موادو لاټولولو لارې چارې

د موادو راټولو لارو چارو کې بايد ووايم، چې په دې برخه کې کتابونه، علمي مقالې او نور اړوند ماخذونه مې راټول کړل او وروسته کې څېړنه پيل کړه.د موادو د راټولو لپاره لومړی کتابونه پيدا کړل، چې کتابتونونو ته ولاړم او په دې برخه کې مې د ډاکټر حميدزی کتابونه، چې په دغه اثر کې يې ذکر شوی راټول کړي دي.همداراز د ډاکټر صاحب ښکلي علمي مقالې چې په دغه برخه کې ليکل شوې هم راټولې کړې. وروسته مې ځينې نورې مقالې، چې د وړمې په مجله کې خپرې شوي دي او زما له موضوع سره په ځينو برخو کې اړخ لګوي راټولې کړې دي. کله مې چې دا مواد راټول کړل په څېړلو مې پيل وکړ او موضوع مې بشپړاوي تر حده ورسوله.

۳. ۳. ۱ـ سرچينې

۳. ۳. ۱. ۱ـ د ليکوال اثار

د استاد شپون اثار مې راټول او د څېړنې په ځينو برخو کې مې ترې ګټه واخيسته.يعنې د شپون د ژوند، اثارو او ليکنو په تشريح مې، د يادو اثارو څخه راوړه.

۳. ۳. ۱. ۲ـ نظري بنسټ، اثار او مقالې

د نظري بنسټ لپاره مې د ډاکټر حميدزی اثار، د ډاکټر صاحب ښکلي مقالې او زمور د ټولګيوالو مقالې راټولې کړې او د محتوا اړوند ځينې برخې مې ترې رانقل او تشريح کړې.

۳. ۳. ۱. ۳ـ اصلي موضوع اړوند کتابونه، علمي مقالې

۳. ۳. ۲ـ نمونه اخیستنه

۳. ۳. ۲. ۱ـ غیر احتمالي موخنه نمونه

د اصلي موضوع د موخې او هدف سره برابرې جملې مې را اخیستې دي.منظور دادی، محتوا ته په کتو مې د شین ټاغي ناول څخه جملې راټولې او وروسته مې تشرېح کړې، چې دې برخې ته منځپانګیز تحلیل هم وایي.

۳. ۴ـ د څېړنې اخلاقي اصول

اخلاقي اصولو په مورد باید ووایم، چې هره لیکنه، اقتباس، غیر مستقیم نقل قول مې، چې د کتابونو څخه را اخیستی ورسره مې ماخذ لیکلی او امانت مې پرځای کړی دی. امانت ساتل په څېړنه کې یو اصل دی. بله مهمه خبره داده، چې کله مې ، د کتابونو، مجلو او یا نورو برخو څخه مواد راټولول، محتوا ته په کتو مې راټول کړل او وروسته مې تشرېح کړل.د هر لیکوال لیکنه مې چې کله را اخیستې وروسره مې ماخذ هم لیکلی. د معلوماتو د راټولولو لپاره مې کتابونه، مقالې او نورې اړوند لیکنې او څېړنې ولوستې او د محتوا سره سم مې ترې ګټه واخیسته.دا لیکنې مې د کتابتونونو له کتابونو څخه راټولې کړې.

۳. ۵ـ خنډونه

د هرې نوې موضوع په څېړلو کې څېړونکی له ستونزو سره مخامخ کېږي او کله مې چې دا موضوع د څېړنې لپاره وټاکله، د استاد ښکلي او ډاکټر حمیدزی له یو څو کتابونو او مقالو څخه پرته نور هېڅ کتابونه او مواد زما په لاس کې نه وو، چې د موضوع د څېړلو پر مهال له خنډونو سره هم مخامخ شوم؛ خو د لار ښود استاد سره په مشوره مې وکولای شوای، چې د هالېډې چاروالې نظریه په شین ټاغي ناول کې تطبیق کړم او تطبیق هم شوه.

څلورم څپرکی

د موادو تحلیل او موندنې

۴ـ ۱ـ د استاد سعدالدین شپون په شین ټاغي ناول کې د برچارونو څېړنه

۴. ۱. ۱ـ په شین ټاغي ناول کې د تجربي برچار څېړنه

تجربي برچار د چاروال ګرامر لومړی برنقش دی، چې پېښې مفهومي کوي، زمور تجربي تنظیموي. د تجربي برچار له مخې مور پوهېږو، چې جملې او فقرې کومې تجربې بیانوي. بهرنۍ نړۍ ته مانا ورکوي. په تجربي برچار کې شپږ پروسې موجودې دي او یوه ما پکې ور ډېره کړې، چې مفهومي استعاري پروسه نومېږي او پاتې شپږ نورې پروسې یې مادي، ذهني، اړیکمنې، بیاني، چلني او وجودي دي. د دې نوې پروسې زیااتول هم اړین و. ځکه چې مفهومي استعارې ته مې د پروسې له اړخه کتلي او څېړلې مې ده. یعنې د یوې ښې تیورۍ له اړخه نه.اوس دا ټولې پروسې په شین ټاغي ناول کې څېړم.

۴. ۱. ۱. ۱. په شین ټاغي کې د آرو پروسو څېړنه

د پروسو پېژندنه

پروسه د هغو چارو پېښېدل یا واقع کېدل دي، چې په یو مهال کې تر سره شوي وي او یا کېږي. دا برخې ټولې په جملو او فقرو کې ښکاره کېدای شي.دا پروسې د خپلواکو فعلونو په څېر نه دي، چې هرومرو به خپلواک فعل وي. دلته کېدای شي، چې فعلي ترکیبونو کې را ښکاره شي او یا هم کېدای شي، چې په خپلواکه توګه یو خپلواک فعل وي. د تېرو

خبرو په تاييد سره پروسې دوه ډولونه لري، چې دلته زه لومړی د آرو پروسو څېړنه پيلوم.

الف) آرې پروسې

آرې پروسې درې دي:

۱ـ مادي آرې پروسې

۲ـ ذهني آرې پروسې

۳ـ اړيکمنې آرې پروسې

۴. ۱. ۱. ۱. ۱ـ د مادي پروسو څېړنه

مادي آرې پروسې هغه پروسې دي، چې په بهرنۍ نړۍ کې موجودې وي. يا بهرنۍ نړۍ کې وليدل شي يا د انسان د حواسو په وسيله حس شي.لکه: منډې وهل، ليکل، خوړل، تلل، رانيول، کښيناستل، لامبل، اورلګول، اوراخيستل، پورې وهل، ټېل وهل، اخيستل، او داسې نورې ډېرې پروسې شته. يا مادي پروسې هغه پروسې دي، چې يو فعاليت وښيي. په مادي پروسو کې دوه شريکبانې وي، چې دا شريکبانې بيا دوې برخې چې يوه يې(کړند) او بله يې (موخه) نومېږي، لري او بله برخه يې پخپله مادي پروسه ده.کله کله داسې هم کېږي، کړند پکې پټ وي. لاندې انځور ته وګورئ:

شريکبانې	
کړند	موخه

د پورتني انځور او د مادي پروسې لاښې توضيح لپاره، د شين ټاغي ناول څخه جملې راوړم.

۱ـ منانې ځايځوښه راوړه (شپون، ۱۳۷۹: ۱۰۲) .

- منانی: کړند
- ځايځوښه : موخه
- راوړه: مادي پروسه

په مادي پروسو کې يوه مهمه خبره داده، چې د څه وشول او هغه څه وکړل؟ پوښتنو ته به ځواب وايي. په پورته جمله کې هم د څه وشول؟ پوښتنې ته ځواب ويل شوی. بله

مهمه خبره دا چې کړند، موخه او مادي پروسه پکې موجوده ده.یا لکه په لاندې جمله کې:

۲ـ پیرعلي پخپله موټر ته راوخوت (شپون، ۱۳۷۹: ٦۹) .

- پیرعلي : کړند
- پخپله: شرایط
- موټر: شرایط
- ته راوخوت: مادي پروسه

په دغه جمله کې هم د تېرې جملې په څېر کړند، موخه او مادي پروسه موجوده او ورسره شرایط هم ذکر شوي او د څه وشول؟ پوښتنې ته يې ځواب ویلای او د درېو برخو ترځنګ شرایط پکې موجود دي او یو فعالیت يې ښوودلی دی.

۳ـ شین ټاغی په زګیروي زګیروي د ملکنۍ په غاښي وخوت (شپون، ۱۳۷۹: ۸۲) .

- شین ټاغی: کړند
- په زګیروي زګیروي: شرایط
- د ملکنۍ په غاښي: موخه
- وخوت: مادي پروسه

په دغه جمله کې څه وشول؟ پوښتنې ته ځواب ویل شوی او یو فعالیت يې ښوولی او له دې سره په څنګ کې کړند، موخه، شرایط او مادي پروسه هم پکې موجوده ده. په دې لحاظ مادي پروسه ورته ویلای شو.

۴ـ زه يې تر مټ ونیولم (شپون، ۱۳۷۹: ۸۷) .

- زه يې: کړند
- تر مټ : موخه
- ونیولم: مادي پروسه

په دغه جمله کې هغه څه وکړل؟ پوښتنې ته ځواب ویلای او ورسره د کړند، موخې او مادي پروسې موجودیت هم پکې شته؛ نو ځکه ورته مادي پروسه ویلای شو. دلته دوه نومځري چې (زه، يې) دي او دواړه کړند واقع شوي. په دغه جمله کې یو فعالیت هم

ښوول شوی.

۵ـ منانې جنګ ته تابیا نیوله (شپون، ۱۳۷۹: ۸۲) .

- منانی : کړند
- جنګ : شرایط
- تابیا : موخه
- نیوله: مادي پروسه

په دغه جمله کې یو فعالیت ښوودل شوی او د څه شول؟ پوښتنې ته هم ځواب ویل شوی او د مادي پروسې درې برخې چې کړند، موخه او مادي پروسه دي او ورسره شرایط هم راغلي دي. په دې لحاظ ورته مادي پروسه ویلای شو.

٦ـ ما په بیړه لاسونه د موټر نه بهر پریوول (شپون، ۱۳۷۹: ۸۳) .

- ما : کړند
- په بیړه: شرایط
- لاسونه: موخه
- د موټر نه بهر: شرایط
- پریوول: مادي پروسه

دا جمله هم مورِ ته یو فعالیت د ښوولو څخه خبر راکوي او ورسره د (پریوول) د فعل مصدري وجه هم راښیي او یو مادي فعالت سرته رسېږي؛ درې برخې او شرایط لري؛ نو ځکه ورته مادي پروسه وایي.

۷ـ زه شین ټاغي ته وختلم (شپون، ۱۳۷۹: ۸۳) .

- زه : کړند
- شین ټاغی ته: موخه
- وختلم: مادي پروسه

په دغه جمله کې درې برخې شته او یو فعالیت ښیي او وروسره د څه وشول؟ پوښتنه ځوابوي. په دې لحاظ ورته مادي پروسه وایي. کله چې په یوه غونډله کې کړند، موخه او مادي پروسه راوړل شي؛ نو مادي پروسه بلل کېږي.

۸ـ ما موټر چالان کړ (شپون، ۱۳۷۹: ۸۱) .

- ما : کړند
- موټر: موخه
- چالان کړ: مادي پروسه

په دغه جمله کې هم د څه وشول؟ پوښتنې ته ځواب ویل شوی او کړند، موخه او مادي پروسه پکې راغلي دي او ورسره یو فعالیت راښیي. په دې لحاظ ورته مادي پروسه وایي.کله چې دا درې برخې په یوه غونډله کې راوړل شي او وروسره یو فعالیت ښوودنه هم پکې وشي؛ نو مادي پروسه بلل کېږي.

۹ـ زما او ستا لارې همدلته بېلېږي (شپون، ۱۳۷۹: ۷۳) .

- زما او ستا: کړند
- لارې : موخه
- همدلته: شرایط
- بېلېږي: مادي پروسه

په دغه جمله کې(زما او ستا) کړند راغلي، ورسره(لارې) موخه واقع شوی (همدلته) شرایط دي او (بېلېږي) مادي پروسه واقع شوې. په دې لحاظ یو علمل هم پکې ښوودل شوی او ورسره درې برخې اوشرایط هم راغلي او د هغه څه وکړل؟ پوښتنې ته هم ځواب ویل شوی؛ نو ځکه ورته مادي پروسه وایي.

۱۰ـ منصبدار په یوه نظر معاینه ختمه کړه (شپون، ۱۳۷۹: ۷۲) .

- منصبدار : کړند
- په یوه نظر: شرایط
- معاینه: موخه
- ختمه کړه : مادي پروسه

په دغه جمله کې هم(څه وشول؟) پوښتنې ته ځواب ویل شوی. درې اساسي برخې لري او ورسره شرایط هم ذکر شوي او ورسره یو فعالیت هم پکې ښوودل شوی. کله چې په یوه غونډله کې دا درې برخې راوړل شي او د یوه فعالت ښوودنه پکې وشي؛ نو مادي

پروسه بلل کېدای شي. شرایط اړین نه دي. که وي ستونزه نه جوړوي او که را نه وړل شي، پروسه رامنځه ته کېدای شي.

۱۱ـ ما موټر ریورس کړ (شپون، ۱۳۷۹: ۸۵) .

- ما: کړند
- موټر ریورس: موخه
- کړ: مادي پروسه

په پورته غونډله کې یو فعالیت ښوودل شوی، چې د موټر ریورس دی. په دې لحاظ ما(کړند)، موټر ریورس(موخه) او (کړ)مادي پروسه ده. بل دا چې(څه وشول؟) پوښتنې ته ځواب هم ویل شوی؛ نو ځکه مادي پروسه بلل کېږي.

۱۲ـ هلکانو یې څنګ ته منډې وهلې (شپون، ۱۳۷۹: ٦٦) .

- هلکانو : ګړند
- یې څنګ ته : شرایط
- منډې: موخه
- وهلې: مادي پروسه

په دغه غونډله کې د کړند، موخې، شرایطو او مادي پروسې په راوړلو سره مادي پروسه جوړه شوې. یوه خبره د یادونې وړ ده، هغه دا چې د موخې ترڅنګ شرایط هم راغلي او یو فعالیت یې ښوودلی او وروسره په بیرونۍ نړۍ کې یو کار سرته رسېدلی؛ نو ځکه مادي پروسه بلل کېږي.

۱۳ـ ما ته یې زرګون راکړ (شپون، ۱۳۷۹: ۸٦) .

- ما: موخه
- ته: شرایط
- یې: کړند
- زرګون : شرایط
- راکړ: مادي پروسه

په دغه جمله کې هم درې اساسي برخې چې(کړند، موخه او مادي پروسه) دي،

راغلي دي او ورسره يو فعاليت هم ښوودل شوی او د(څه وشول؟) پوښتنې ته هم ځواب ويل شوی. کله چې (کړند، موخه او مادي پروسه) او ورسره په يوه جمله کې(يو فعاليت ښوودل شوی وي) او د(څه وشول؟) پوښتنې ته ځواب هم ويل شوی؛ نو مادي پروسه جوړولای شي.

۱۴ـ ما د حق لاره ونيوله (شپون، ۱۳۷۹: ٦۰) .

- ما : کړند
- د حق لاره : موخه
- ونيوله: مادي پروسه

په دغه جمله کې هم د تېرې جملې په څېر درې اساسي برخې راغلي دي او يو فعاليت هم پکې ښوودل شوی او ورسره د څه وشول؟ پوښتنه ځواب شوې؛ په دې لحاظ مادي پروسه يې جوړه کړې ده.

۱۵ـ شاترينې چای دم کړ (شپون، ۱۳۷۹: ۵۹) .

- شاترينه : کړند
- چای: موخه
- دم کړ: مادي پروسه

۱٦ـ شاترينه بستر ته وختله (شپون، ۱۳۷۹: ۵۹) .

- شاترينه : کړند
- بستر : موخه
- ته: شرايط
- وختله: مادي پروسه

۱۷ـ دواړه موټر ته وختلو (شپون، ۱۳۷۹: ۵۹) .

- دواړه : کړند
- موټر : موخه
- ته: شرايط
- وختلو : مادي پروسه

۱۸ـ زه به په موټر کې ټبل واچوم (شپون، ۱۳۷۹: ۴۷) .

- زه : کړند
- به په موټر کې: شرایط
- ټبل: موخه
- واچوم: مادي پروسه

دیوې خبرې یادول اړین دي، هغه دا چې په یاده جمله کې موخه په ترکیبي بڼه راغلې، هغه داسې که یوازې موټر ذکر شوی وای، مانا یې نه رسوله او هدف نیمګړی پاتې کېد او که یوازې ټبل راغلي وای هم همداسې. په دې خاطر اصلاً موخه په موټر کې د ټبلو اچول دي؛ نو ځکه ما هم همدا برخه د جملې موخه یاده کړې.

۱۹ـ ما ورغږ کړ (شپون، ۱۳۷۹: ۴۷) .

- ما : کړند
- ورغږ : موخه
- کړ: مادي پروسه

۲۰ـ هغې سلام وګرځاوه (شپون، ۱۳۷۹: ۴۷) .

- هغې: کړند
- سلام: موخه
- وګرځاوه: مادي پروسه

۲۱ـ مورِ هم د امینیانو ستې وایسته (شپون، ۱۳۷۹: ۴۵) .

- مورِ: کړند
- هم د امینیانو : شرایط
- ستې: موخه
- وایسته: مادي پروسه

۲۲ـ زه یې تر مټ ونیولم (شپون، ۱۳۷۹ :۸۷) .

- زه: موخه

- یې: کړند
- ترمټ: شرایط
- ونیولم: مادي پروسه

۲۳ـ ښځه په بستر کې کښېناسته (شپون، ۱۳۷۹: ۳۴) .

- ښځه: کړند
- په بستر کې: شرایط
- کښېناسته: مادي پروسه

۲۴ـ تا وار راباندې ړومبی کړ (شپون، ۱۳۷۹: ۳۴) .

- تا: کړند
- وار: موخه
- راباندې: شرایط
- ړومبی کړ: مادي پروسه

۲۵ـ بس د واورو د مینځه راووت (شپون، ۱۳۷۹: ۳۳) .

- بس : کړند
- د واورو :موخه
- د مینځه: شرایط
- راووت: مادي پروسه

۲۶ـ زه هم یخنی ورخطا کړم (شپون، ۱۳۷۹: ۳۱) .

- زه : موخه
- یخنی: چارگر
- ورخطاکړم: مادي پروسه

۲۷ـ ما یې په اوبه لاس کښېنود (شپون، ۱۳۷۹: ۸۴) .

- ما: کړند
- یې: موخه

- په اوږه لاس: شرایط
- کېښود: مادي پروسه

۲۸ـ خلکو به دلته باښې نیولې (شپون، ۱۳۷۹: ۱۴) .

- خلکو: کړند
- به دلته: شرایط
- باښې : موخه
- نیولې: مادي پروسه

۲۹ـ سړی په بیړه کور ته ننوت (شپون، ۱۳۷۹: ۸۵) .

- سړی : کړند
- په بیړه: شرایط
- کورته: موخه
- ننوت: مادي پروسه

۳۰ـ ما سترګې کوزې واچولې (شپون، ۱۳۷۹: ۸۷) .

- ما: کړند
- سترګې: موخه
- کوزې: شرایط
- واچولې: مادي پروسه

یوه خبره د یادونې وړ ده، چې د مادي پروسې لومړی برخه(کړند) مو بللی، استاد ښکلي د چارند په نوم هم یاد کړی. منظور دادی، چې چارند هم ورته وایي او کړند هم او دا دواړه شریکباني یادېږي.په شین ټاغي ناول کې تجربي برچار په تېره بیا مادي پروسه ډېره شته.

۳۱ـ په دې کال ټوله کورنۍ حج ته لاړو(شپون، ۱۳۷۹: ۸).

دغه جمله هم مادي پروسه ده؛ ځکه چې کړند، موخه او مادي پروسس پکې راغلی دی. د دې جملې تجزیه داسې کېږي:

- ټوله کورنۍ: کړند

- حج: موخه
- په دې کال: شرايط
- لاړو: مادي پروسس دی.

۳۲ـ شين ټاغی مې د سرک نه چپې خواته ودراوه(شپون، ۱۳۷۹: ۱۶).

دا غونډله هم مادي پروسه لري. په دغه غونډله کې کړند، موخه، شرايط او مادي پروسه پکې راغلي دي. کله چې دا ډول جملې د مادي پروسې له مخې تجزيه کوو؛ نو شننه يې داسې کېږي:

- مې: کړند
- شين ټاغی: موخه
- د سرک نه چپې خواته: شرايط
- ودراوه: مادي پروسس

۳۳ـ رسی مې را واخيسته(شپون، ۱۳۷۹: ۳۰).

دا جمله هم مادي پروسه، کړند او موخه لري. د پروسه له مخې دا مادي پروسه بلل کېږي. د دې پروسې شننه داسې کېږي:

- مې: کړند
- رسی: موخه
- راواخيسته: مادي پروسس

۳۴ـ د ټايرونه مې ځنځيرونه خلاص کړل(شپون، ۱۳۷۹: ۵۲).

په پورته غونډله کې کړند، موخه، شرايط او مادي پروسس راغلي دي. کله چې په يوه غونډله کې دا برخې راوړل شي، د چاروال گرامر اړوند د تجربي برچار له مخې ورته مادي پروسه وايي. د دې جملې شننه داسې ده:

- مې: کړند
- د ټايرونو څخه ځنځيرونه: موخه
- خلاص: شرايط
- کړل: مادي پروسس

۳۵ـ څو زرکان يې د وچې شوې ډوډۍ سره راوړل(شپون، ۱۳۷۹: ۵۷).

- يې: کړند
- زرکان: موخه
- د وچې شوې ډوډۍ سره: شرايط
- راوړل: مادي پروسس

۳۶ـ درېيم دالان ته چې ورسېدم(شپون، ۱۳۷۹: ۲۷).

په دغه جمله کې کړند پټ دی. دا څکه چې ليکوال خپل ځان ښيي او د(ورسېدم) د فعل(م) توری، چې صرفي روستاړی دی. کله چې د فعل په پای کې راوړل شي، فعل د لومړي وګړي لپاره تصريفوي. په دې لحاظ په پورته غونډله کې په خپله ليکوال کړند واقع شوی او درېيم دالان، موخه ده او ورسېدم يې مادي پروسس دی. په دې لحاظ يې مادي پروسه رامنځته کړې ده.

۳۷ـ زه بهر ولاړ وم(شپون، ۱۳۷۹: ۸۷).

په پورته غونډله کې کړند، موخه او مادي پروسه راغلي دي او د غونډلې شننه داسې کېږي:

- زه: کړند
- بهر: موخه
- ولاړ وم: مادي پروسه

۳۸ـ سهار مهال واوره ودرېده (شپون، ۱۳۷۹: ۳۴) .

په دغه جمله کې مادي پروسه شته؛ څکه چې کړند، موخه او مادي پروسه لري. شننه يې داسې ده:

- واوره: کړند
- سهار مهال: شرايط
- ودرېده: مادي پروسه

لاندې جملې هم ولولئ:

- پلار ته مې په غېږ کې ورکړ (شپون، ۱۳۷۹: ۸۴) .
- زه د سرو لاسو سره د بس نه کوز شوم (شپون، ۱۳۷۹: ۸۴) .
- زه يې له لاسه ونيولم. (شپون، ۱۳۷۹: ۸۵)

- د شبه خي والګاه په جیپ بدله شوې وه (شپون، ۱۳۷۹: ۱۱۹) .
- پتنوس والا هم زما مخې ته تم شو (شپون، ۱۳۷۹: ۱۲۲) .

په شین ټاغي ناول کې مادي پروسې شته؛ خو پورتنۍ غونډلې ښایي زما د دې لیکنې لپاره کافي وي.د تجربي برچار دوې پاتې آرې او درې ناآرې پروسې هم پاتې دي او غواړم، د هغو تشریح وکړم او په شین ټاغي ناول کې یې وڅېړم.

۴. ۱. ۱. ۱. ۲ـ ذهني پروسه

ذهني یل حسي پروسه هغه پروسه ده، چې د حس او عاطفې مانا ولېږدوي.منظور دادی، چې په باندینۍ نړۍ کې نه ترسره کېږي او په باطن کې وي؛ لکه: فکرکول، تصورکول، مینه کول او یا مینه لرل، غوښتل، لیدل، اورېدل، باور لرل، ګروهه لرل، عقیده لرل او نور هم کېدای شي. په دغه پروسه کې د مادي پروسې په څېر دوه شریکبانې وي، چې یو یې حسګر او بل ښکارنده یادېږي. حسګر به یې ساکښ وي او یا به د ساکښ تشخیص ورکړل شوی وي (سلامزوی، تېزس، ناچاپ) .

اوس غواړم، چې ذهني یا حسي پروسه په شین ټاغي ناول کې وڅېړم:

۱ـ هغوی وسلې غوښتې (شپون، ۱۳۷۹ :۲) .

- هغوی: حسګر
- وسلې: ښکارنده
- غوښتې: حسي پروسه

په پورته جمله کې دوه شریکبانې، چې یو یې حسګر او بل یې ښکارنده ده، راغلي دي او پروسه یې ذهني ده. کله چې پورتني درې موارد په یوه غونډله کې راوړل شي؛ نو حسي یا ذهني پروسه بلل کېدای شي.

۲ـ سیاسره څه مرګ غواړي؟(شپون، ۱۳۷۹: ۳۴)

- سیاسره: حسګر
- څه: شرایط
- مرګ: ښکارنده

- غواړي: ذهني يا حسي پروسه ده.

د تېرې غونډلې په څېر دا جمله هم دوه شريکبانې لري، چې يو يې حسگر (سياسره) او بل يې ښکارنده (څه مرگ) ده. غواړي يې ذهني پروسه ده، چې حسي پروسه هم ورته ويل کېږي. داچې په يوه غونډله کې حسگر، ښکارنده او ذهني پروسه يا هغه پروسه چې په باطن کې وي راوړل شي؛ نو ذهني پروسه بلل کېږي.

۳ـ په ما دا نوم بد ولگېد (شپون، ۱۳۷۹: ۳۵) .

- په ما : حسگر
- دا نوم: ښکارنده
- بد ولگېد: ذهني يا حسي پروسه

په پورته غونډله کې درې اساسي برخې (حسگر، ښکارنده او ذهني پروسه) راغلي دي. کله چې په يوه غونډله کې پورتنۍ درې برخې راوړل شي، ذهني پروسه بلل کېدای شي. بد لگېدل هم يو ذهني عمل دی او مادي نړۍ کې نه ليدل کېږي او يا هم نه وي. په دې لحاظ ذهني يا حسي پروسه بلل کېږي. يا لکه په لاندې غونډلو کې:

۴ـ په خوب کې مې يوه ښکالو واورېده (شپون، ۱۳۷۹: ۳۹) .

- په خوب کې: شرايط
- مې: حسگر
- يوه ښکالو: ښکارنده
- واورېده: ذهني يا حسي پروسه

په پورته جمله کې هم درې اساسي برخې راوړل شوې، چې د تجربي برچار دويمه پروسه (ذهني) يې جوړه کړې ده.د ذهني روسې اساسي برخې (حسگر، ښکارنده او ذهني پروسه) دي. په دغه جمله کې (مې) ناخپلواک نومڅړی دی او د جملې د لومړۍ برخې (حسگر) په توگه راغلي دي؛ نو ځکه حسگر ورته وايي.

۵ـ زه پوهېدم، چې دا د حوادثو سره زما د ورور د مقابلې طريقه وه (شپون، ۱۳۷۹: ۱۰) .

- زه: حسگر
- پوهېدم: ذهني پروسه

- چې دا د حوادثو سره زما د ورور د مقابلې طریقه وه: ښکارنده

یوه خبره د یادولو وړ ده، هغه دا چې (پوهېدم) یوه ذهني پروسه ده؛ ځکه (پوهېدل) فعل مادي وجود نه لري؛ دا چې دا په ظاهري او بهروني نړۍ پورې اړه نه لري؛ نو ځکه ذهني پروسه جوړوي. له دې غونډلې څخه زموږ موخه هم ذهني پروسه ده، چې(زه پوهېدم) په فقره کې شته او دویمه فقره(چې دا د حوادثو سره زما د ورور د مقابلې طریقه وه) یې ټوله ښکارنده بللی شو.

٦ـ ما غوښتل، چې په بیړه ځان دوشي ته ورسوم (شپون، ۱۳۷۹: ۴۱) .

- ما: حسگر
- غوښتل: ذهني پروسه ده.
- چې په بیړه ځان دوشي ته ورسوم: ښکارنده ده.

دا جمله هم د تېرې جملې په څېر ذهني پروسه(غوښتل) په برخه کې ده، چې(ما) یې حسگر واقع شوی او دویمه فقره ټوله(چې په بیړه ځان دوشي ته ورسوم) یې ښکارنده واقع شوې. ذهني پروسې تل په یوستوو جملو کې نه راوړل کېږي؛ ښایي په ترکیبي غونډولو کې هم راوړل شي.

۷ـ ما ټکان وخوړ (شپون، ۱۳۷۹: ۴۳) .

- ما: حسگر
- ټکان: ښکارنده
- وخوړ: ذهني پروسه

په پورته جمله کې د ذهني پروسې ټولې اساسي برخې(حسگر، ښکارنده او حسي پروسه)، شته او کله چې دا درې برخې په یوه پروسه کې راوړل شي؛ نو ذهني پروسه جوړولای شي. دا پروسه د تجربي برچار دویمه آره پروسه ده. لاندې نورې بېلګو ته هم پام وکړئ:

۸ـ زه پوهېدم، چې راباندې په غوسه دی (شپون، ۱۳۷۹: ۲) .

- زه: حسگر
- پوهېدم: حسي پروسه

- چې راباندې په غوسه دی: ښکارنده

په پورته جمله کې بیا هم درې اساسي برخې راغلي دي او ذهني پروسه یې جوړه کړې ده. یوه برخه(حسگر)، بله برخه(حسي پروسه) او درېیمه برخه(ښکارنده) ده. د دغو درېو برخو څخه حسي یا ذهني پروسه جوړېږي. ذهني پروسه مادي نه وي او ظاهراً موجوده نه وي.

۹ـ شیطانه ته خوپوهېدې، چې پلار دې په زیارتونو مین دی ((شپون، ۱۳۷۹ :۵) .

- شیطانه ته: حسگر
- خو: شرایط
- پوهېدې: ذهني پروسه
- چې پلار دې په زیارتونو مین دی: ښکارنده

دا جمله هم د ذهني پروسې درې اساسي برخې لري او په مادي نړۍ کې وجود نه ښیي؛ نو څکه ورته حسي یا ذهني پروسه وایي.دا پروسه هم د (پوهېدې) له فعل څخه ښکاري چې ذهني پروسه ده. څکه پوهېدې؛ لکه: کار کول، کتاب لوستل او یا نورې برخې ظاهراً نه ښکاري؛ نو په حس او ذهن پورې اړه لري.

۱۰ـ اوس مې د تېرې چړې نه هم بد راتلل (شپون، ۱۳۷۹: ۹۲) .

- اوس: شرایط
- مې: حسگر
- د تېرې چړې نه: ښکارنده
- هم بد راتلل: ذهني پروسه

دا جمله هم د تېرې جملې په څېر، ظاهراً په مادي نړۍ کې نه لیدل کېږي؛ خو د ذهن په وسیله یې پېژنو. بل دا چې حسگر، ښکارنده او ورسره شرایط هم شته.کله چې دا سې یو فعل په یوه غونډله کې راوړل شي؛ نو ذهني پروسه جوړولای شي.

۱۱ـ مگر ځان مې نشو قانع کولای (شپون، ۱۳۷۹ :۹۲) .

- مگر : شرایط
- ځان: ښکارنده

- مې: حسگر
- نشو قانع کولای: ذهني پروسه

په پورته فقره کې قانع کېدل او یا هم قانع نه کېدل، ظاهراً او په مادي نړۍ کې نه لیدل کېږي؛ بلکې په حس او ذهن پورې اړه لري او حسي پروسه یې جوړه کړې. بل دا چې حسگر، حسي پروسه او ښکارنده هم پکې راغلي دي.

۱۲ـ زه فکر کوم، چې دا کار مې په خپل مرگ سره وکړ (شپون، ۱۳۷۹ :۹۳) .

- زه: حسگر
- فکر کوم: ذهني پروسه
- چې دا کار مې په خپل مرگ سره وکړ: ښکارنده

دا جمله هم د تېرې جملې په څېر توضیح کېدای شي؛ دا چې (۱۱) غونډله هم د (۱۲) غونډلې په څېر ده او پروسه یې په ذهن پورې تړښت موندلی او ذهني پروسه ده. بل دا چې په دې پروسه کې هم درې برخې(حسگر، حسي پروسه او ښکارنده) راغلې . د حسي یا ذهني پروسې برخې همدا درې دي.

۱۳ـ زما بې علاقه گۍ په ده اثر ونه کړ (شپون، ۱۳۷۹ :۱۱۱) .

- زما: حسگر
- بې علاقه گۍ: ښکارنده
- په ده اثر ونه کړ: ذهني پروسه

په دغه غونډله کې هم درې اساسي برخې(حسگر، ښکارنده او ذهني پروسه) راغلي دي او حسي پروسه یې منځته راوړې ده.

۱۴ـ ما په اول کې فکر کاوه (شپون، ۱۳۷۹ :۹۴) .

- ما: حسگر
- په اول کې: شرایط
- فکر: ښکارنده
- کاوه: ذهني پروسه

د حسگر، ښکارندې او ذهني پروسې د راوړلو څخه، حسي پروسه رغېږي او دا درې

برخې په پورته جمله کې شته.

۱۵ـ ستا د مرګ او وينو نه وېره کېږي (شپون، ۱۳۷۹: ۵۱) .

- ستا: حسګر
- د مرګ او وينو نه: ښکارنده
- ويره کېږي: ذهني پروسه

دا جمله هم درې اساسي برخې لري او د (ويره کېږي) چې يو ذهني عمل دی؛ نو ځکه يې ذهني پروسه رامنځته کړې.

۱۶ـ د مور مې ګازي نغری ډېر خوښ شو (شپون، ۱۳۷۹ :٦) .

- د مور مې: حسګر
- ګازي نغری: ښکارنده
- ډېر: شرايط
- خوښ شو: ذهني پروسه

۱۷ـ پلار او مور مې ډېر وخته حج ته لېوال وو (شپون، ۱۳۷۹ :۷) .

- پلار او مور مې: حسګر
- ډېر وخته: شرايط
- حج ته: ښکارنده
- لېوال وو: ذهني پروسه

۱۸ـ ماته فرق نه کوي (شپون، ۱۳۷۹: ٦۳) .

- ماته: حسګر
- فرق: ښکارنده
- نه کوي: حسي پروسه

۱۹ـ زه پوهېدم، چې څه يې په زړه کې دي؛ خو د شروع کولو چل نه ورځي(شپون، ۱۳۷۹: ۸۸) .

- زه: حسګر

- پوهېدم: حسي پروسه
- چې څه يې : ښکارنده
- په زړه کې: شرايط
- دي: اړيکمن فعل

په پورته جمله هم د ذهني پروسې حسگر، ښکارنده او ذهني پروسه لري. دا درې برخې د ذهني پروسې مهمې برخې دي او شرايط پکې شرط نه دي، که راغلي وي او که نه. که پکې را شي هم، پروسې ته زيان نه اړوي.

۲۰ـ ونې خوارکی په ځان نه وې خبرې (شپون، ۱۳۷۹: ۷۵) .

- ونې خوارکی: حسگر
- په ځان: ښکارنده
- نه وې خبرې: حسي پروسه

۲۱ـ د شاتني سيټ نه مې يو قسم ستمېدل او زګيروی واورېد (شپون، ۱۳۷۹: ۸۲) .

- د شاتني سيټ نه: شرايط
- مې: حسگر
- يو قسم ستمېدل او زګړوی: ښکارنده
- واورېد: حسي پروسه

۲۲ـ نا څاپه مې د خپل پخواني کسب له تجربو پام شو (۱۳۷۹: ۸۲) .

- نا څاپه: شرايط
- مې: حسگر
- د خپل پخواني کسب له تجربو: ښکارنده
- پام شو: ذهني پروسه

۲۳ـ ځينو پنجابيانو او ښاريو ناغېړي کوله (شپون، ۱۳۷۹: ۸۲) .

- ځينو پنجابيانو او ښاريو: حسگر
- ناغېړي: ښکارنده

- کوله: ذهني پروسه

۲۴ـ مګر منانی چې په زړه کې هوښیار و او زما په مطلب زر پوهېده (شپون، ۱۳۷۹: ۸۲) .

- مګر منانی: حسګر
- چې په زړه کې: شرایط
- هوښیارو : ذهني پروسه
- زما په مطلب: ښکارنده
- زر پوهېده: ذهني پروسه

۲۵ـ زه د دغسې خلکو په روحیې پوهېږم (شپون، ۱۳۷۹: ۷۱) .

- زه: حسګر
- د دغسې خلکو: شرایط
- په روحیه: ښکارنده
- پوهېږم: حسي پروسه

۲۶ـ ماته یو څه غوسه راغله (شپون، ۱۳۷۹: ۸۶) .

- ماته: حسګر
- یو څه غوسه: ښکارنده
- راغله: ذهني پروسه

۲۷ـ د موټر نه پناه مې حال ورته تېر کړ (شپون، ۱۳۷۹ :۸۲) .

- د موټر نه پناه: شرایط
- مې حسګر: حسګر
- حال: ښکارنده
- ورته تېر کړ: ذهني پروسه

۲۸ـ زه نه پوهېدم، چې دا فرانسوی ولې ما ته ګډ دی (شپون، ۱۳۷۹: ۱۰۷) .

- زه: حسګر
- نه پوهېدم: حسي پروسه

- چې دا فرانسوی ولې ماته ګڼ دی:ښکارنده

۲۹ـ یو ځلې مې پام شو، چې روسی منصبدار ماته ځیر دی (شپون، ۱۳۷۹ : ۱۲۱) .

- یوځلې: شرایط
- پام شو: ذهني پروسه
- چې روسی منصبدار ماته ځیر دی: ښکارنده

۳۰ـ زه پوهېدم، چې د خوشحالۍ فضا هسې برغولی و (شپون، ۱۳۷۹ :۱۲۱) .

- زه: حسګر
- پوهېدم: ذهني پروسه
- چې د خوشحالۍ فضا هسې برغولی و: ښکارنده

۳۱ـ زه پوه شوم، چې ته افغان یې (شپون، ۱۳۷۹: ۸۹) .

- زه: حسګر
- پوه شوم: ذهني پروسه
- چې ته افغان یې: ښکارنده

۳۲ـ زه نه پوهېدم، چې خپل نوم څه ورکړم (شپون، ۱۳۷۹ :۱۲۲) .

- زه: حسګر
- نه پوهېدم: حسي پروسه
- چې خپل نوم څه ورکړم: ښکارنده

۳۳ـ زه ویریدم، چې اوس به الن ګیو څه وایي (شپون، ۱۳۷۹ :۱۳۴) .

- زه: حسګر
- وېرېدم: حسي پروسه
- چې اوس به الن ګیو څه وایي؟: ښکارنده

۳۴ـ زه په پاڼسو نه پوهېږم (شپون، ۱۳۷۹: ۱۳۵) .

- زه: حسګر
- په پاڼسو: ښکارنده

- نه پوهېږم: حسي پروسه

په پورته جمله کې (حسگر، ښکارنده او حسي پروسه) راغلي دي. کله چې دا درې برخې په يوه فقره يا غونډله کې راوړل شي، حسي پروسه منځته راوړي. يا لکه په لاندې جمله کې:

۳۵ـ ما فکر کاوه، چې خادیست به نېشه ویده وي (شپون، ۱۳۷۹: ۱۳۹).

- ما: حسگر
- فکر کاوه: حسي پروسه
- چې خادیست نېشه ویده دی: ښکارنده

په پورته جمله کې هم د حسي پروسې هغه درې مهمې برخې راغلي دي او ذهني پروسه يې جوړه کړې. د يادونې وړ ده، چې په حسي يا ذهني پروسه کې داسې هم کېدای شي، چې شرايط پکې راشي او ښايي لومړی شرايط ذکر شي او وروسته نورې برخې. داسې هم شونې ده، چې لومړی حسگر راشي، بيا حسي پروسه او بيا ښکارنده او داسې هم امکان لري، چې ښکارنده په منځ کې راوړل شي او حسگر لومړی ذکرشي او حسي پروسه په پای کې راوړل شي. يعنې دغه برخې که وړاندې وروسته راوړل شي، پروسې جوړښت ته زيان نه اړوي.

په شين تاغي ناول کې ذهني پروسې نورې هم شته؛ خو ما د خپلې څېړنې د محتوياتو سره سم څو بېلګې ذکر کړې او ښايي د نورو بېلګو راوړلو ته اړتيا نه وي.

۴. ۱. ۱. ۱. ۳ـ اړيکمنه پروسه

د تجربي برچار د آرو پروسو د ډلې څخه دريمه آره پروسه ده، چې د دوو شريکبانو ترمنځ اړيکه جوړوي او اړيکمن (ربطي) فعلونو په وسيله جوړېږي. دا ډول پروسې دوه ډوله جوړېږي. لومړی داچې يو شريکبانی دويم شريکبانې ته د يو کيفيت نسبت ورکوي، چې لومړي شريکبانې ته لېږدونکی او دويم شريکبانې ته شاخص ويل کېږي. دويم ډول داسې جوړېږي، چې دوه شريکبانې ولري او لومړي شريکبانې ته پېژندلی او دويم شريکبانې ته پېژندوی وايي. په دغه پروسه کې معمولا د (ول، لرل او کېدل) ربطي فعلونو

مصدري بڼې راځي. عبدالحق سلامزوی لیکلي، چې اړیکمنه پروسه درې ډوله چارې ترسره وي، چې وجودي، معلوماتي(اطلاعاتي) او مکاني (سلامزوی، د ماستری تېزس، ناچاپ) .

زه غواړم، چې دا پروسه په شین ټاغي کې وڅېړم او هره پروسه چې اړیکمنه وي، لېږدوونکی، شاخص، اړیکمنه پروسه(اړیکمن فعل) ولري او ورسره پېښې وجودي، معلوماتي او مکاني وي، راوړم او په بېلګو کې يې روښانه کوم.د دې پروسې د لاښې پېژندنې لپاره لاندې جملو ته ځیر شئ:

۱ـ زما لاسونه سره نه دي (شپون، ۱۳۷۹: ٦٠) .

- زما لاسونه: لېږدونکی
- سره: شاخص
- نه دي: اړیکمنه پروسه او ستاینومیزه

په دې غونډله کې درې اساسي برخې(لېږدونکی، شاخص او اړیکمن فعل) راغلي دي. په دغه پروسه کې د(لاسونو) نسبت (ما)ته شوی او د (سره) کلمه هم له لاسونو سره نسبت لري؛ خو له اړیکمن فعل سره یو ځای راغلې او اړیکمنه پروسه يې منځته راوړې ده.

۲ـ زه ځواب نه لرم(شپون، ۱۳۷۹ :۴۸).

- زه: لېږدوونکی
- ځواب: شاخص یا ملکیت
- نه لرم: اړیکمنه پروسه

په یوه غونډله کې د دې درو اساسي برخو په راوړلو سره، اړیکمنه پروسه رامنځته کېږي. کېدای شي، چې د لېږدونکي پرځای پېژندلی اود شاخص پرځای پېژندوی راوړل شي؛ خو شرط يې اړیکمن فعل دی. اړیکمن فعلونه نور هم شته، چې په وروسته جملو کې به لا ښه روښانه شي.

۳ـ زما لاین د پېښور نه تر سیدو شریف پورې و(شپون، ۱۳۷۹ :۸۵).

- زما: ملکي لېږدونکی

- لاين: شاخص
- د پېښور نه تر سيدو شريف پورې: شرايط
- وه: اړيکمنه پروسه ده

پورته غونډله، د لېږدونکي، شاخص او اړيکمنې پروسې په راوړلو سره، اړيکمنه پروسه جوړه شوې ده. کله چې په يوه غونډله کې دا درې برخې راوړل شي؛ نو اړيکمنه پروسه جوړوي. يا لکه په لاندې غونډلو کې:

۴ـ زړه لار کچه ده (شپون، ۱۳۷۹: ۵۲) .

- زړه لار: لېږدونکی
- کچه: شاخص
- ده: اړيکمنه پروسه.

دا غونډله هم درې اساسي برخې لري، چې لېږدونکی، شاخص او اړيکمنه پروسه او د همدې درو اساسي برخو په لړولو سره اړيکمنه پروسه جوړېږي.

۵ـ د مکرويانو بلاکونه زيات شوي وو (شپون، ۱۳۷۹: ۱۱۴) .

- د مکرويانو: لېږدوونکی
- بلاکونه: شاخص
- زيات شوي: شرايط
- وو: اړيکمنه پروسه

دلته د مکرويانو بلاکونه د ملکيت او اختصاص په توګه راغلي دي. بلاکونه يوازې مکرويانو ته مختص شوي، چې بلاکونه شاخص بلل کېږي او مکرويان لېږدوونکی دی. يعنې لېږدوونکی او شاخص خپل ځايونه يو ته نه شي پرېښودی؛ خو که چېرې په همدې اړيکمنه پروسه کې پېژندلی او پېژندوی راشي، ښايي ځايونه يې سره واوړي.

٦ـ پېښور راته د دروغو ښار ښکاره شو (شپون، ۱۳۷۹: ۷۹) .

- پېښور: پېژندلی
- راته د دروغو ښار: پېژندوی
- ښکاره: شرايط

- شو: اړيکمنه پروسه

په دې جمله کې د پېژندلي او پېژندوی ترځنګ شرايط هم شته. شرايط ښايي په ټولو پروسو کې راوړل شي؛ خو بايد د هرې پروسې هغه اصلي او مهمې برخې هم پکې وي.

۷ـ زمور په کور کې هم پخوانی جوش او خروش نه و (شپون، ۱۳۷۹ :۹) .

- زمور: لېږدوونکی او ملکيت
- کور: شاخص
- هم پخوانی جوش او خروش: شرايط
- نه و: اړيکمنه پروسه

پورته جمله هم د تېرو جملو په څېر د لېږدوونکي، شاخص او اړيکمنې پروسې ترځنګ شرايط هم لري او اړيکمنه پروسه ده. دا جمله معلوماتي جمله ده او پروسه يې اړيکمنه ده او ورسره د کور ملکيت (مور) ته شوی؛ نو ځکه اړيکنه پروسه ده.

۸ـ ورور مې په کلي په دهقانی بوخت وو (شپون، ۱۳۷۹: ۹) .

- ورور: پېژندوی
- مې: پېژندلی
- په کلي کې په دهقاني بوخت: شرايط
- و: اړيکمنه پروسه

پورته جمله هم معلوماتي جمله ده، چې اړيکمنه پروسه، پېژندلی، پېژندوی او شرايط لري او د اړيکمنې پروسې برخې پکې شته.

۹ـ زما د پلار دوست پيرعلي هم گدی و (شپون، ۱۳۷۹: ٦٦) .

- زما د پلار دوست پيرعلي: پېژندلی
- هم: شرايط
- گدی: پېژندوی
- و: اړيکمنه پروسه

يا:

۱۰ـ پیرعلي زما د پلار او ټولې کورنۍ قدیمي او وفادار دوست او هوښیار سړی و (شپون، ۱۳۷۹: ٦۷) .

- پیرعلي: پېژندوی
- زما د پلار او ټولې کورنۍ: پېژندلی
- قدیمي او وفادار دوست او هوښیار سړی: شرایط
- و: اړیکمنه پروسه

په پورته لومړۍ جمله کې (زما د پلار دوست پیر علي) پېژندلی، (هم) شرایط،(ګدی) پېژندوی، (و) اړیکمنه پروسه ده. په دویمه جمله کې(پیرعلي)، پېژندوی، (زما د پلار او ټولې کورنۍ) پېژندلی، (قدیمي او وفادار دوست او هوښیار سړی) او(و) اړیکمنه پروسه ده.

۱۱ـ هغه رادیو لګولې وه(شپون، ۱۳۷۹: ٦۹).

- هغه: لېږدوونکی
- رادیو: شاخص
- لګولې: شرایط
- وه: اړیکمنه پروسه

یا:

۱۲ـ مځکه توره وه(شپون، ۱۳۷۹: ۷۰).

- مځکه: پېژندلی
- توره: پېژندوی
- وه: اړیکمنه پروسه

پورته دواړه جملې، د اړیکمنې پروسې ټولې اساسي برخې لري او په لومړۍ غونډله کې شرایط هم ورسره ذکر شوي. کله چې پېژندلی، پېژندوی او اړیکمنه پروسه په یوه غونډله کې راوړل شي؛ نو اړیکمنه پروسه جوړوي. یا کله چې لېږدوونکی، شاخص او اړیکمنه پروسه په یوه فقره یا جمله کې راوړل شي؛ نو اړیکمنه پروسه رامنځته کوي.

۱۳ـ شپه پخه وه(شپون، ۱۳۷۹: ۵۱).

- شپه: لېږدونکی
- پخه: شاخص
- وه: اړیکمن فعل دی.

دا درې برخې د اړیکمنې پروسې اساسي برخې دي او کله چې په یوه غوندله کې راوړل شي؛ نو اړیکمنه پروسه جوړوي.

۱۴ـ ستا په موټر کې هېڅ هم نه و (شپون، ۱۳۷۹: ۷۳) .

- ستا: لېږدونکی
- په موټر: شاخص
- کې هېڅ هم: شرایط
- نه و: اړیکمنه پروسه

پورتنۍ جمله هم د نورو جملو په څېر درې اساسي برخې لري او اړیکمنه پروسه یې رامنځته کړې ده.

۱۵ـ ستا د سر خطر دی (شپون، ۱۳۷۹: ۷۳) .

- ستا: لېږدونکی
- د سر: شاخص
- خطر: شرایط
- دی: اړیکمنه پروسه

په پورته غوندله کې درې اساسي برخې، چې لېږدونکی، شاخص او اړیکمنه پروسه راغلې ده او د همدې درو برخو په راوړلو سره اړیکمنه پروسه جوړېږي.

۱٦ـ زمونږ غوږونه روږدي وو (شپون، ۱۳۷۹ :۷٦) .

- زمونږ: لېږدونکی
- غوږونه: شاخص
- وو: اړیکمنه پروسه

کله چې په یوه غوندله کې شاخص، لېږدونکی او اړیکمنه پروسه راوړل شي؛ نو اړیکمنه پروسه جوړوي. پروسې ټولې د فعلونو په راوړلو سره معلومېږي او د اړیکمنو

پروسو د پېژندنې ښه لاره اړیکمنې پروسې، شاخص او لېږدوونکي دي او کله کله پېژندلی او پېژندوی هم په فقرو او جملو کې راوړل کېږي او اړیکمنه پروسه پرې پېژندل کېږي .

۱۷- ترینا خو فرنګي نوم دی (شپون، ۱۳۷۹: ۳۵) .

- ترینا: لېږدونکی
- خو : شرایط
- فرنګي نوم: شاخص
- دی: اړیکمنه پروسه ده.

دا درې برخې د دې سبب کېږي، چې اړیکمنه پروسه رامنځته کړي. یعنې کله چې لېږدونکی، شاخص او اړیکمنه پروسه په یوه غونډله کې راوړل شي؛ نو اړیکمنه پروسه رامنځته کوي.

۱۸ـ د کړکۍ نه سالنګ رسا سپین ململ و (شپون، ۱۳۷۹: ۱) .

- د کړکۍ نه : شرایط
- سالنګ: لېږدونکی
- سپین ململ: شاخص
- و: اړیکمنه پروسه ده

دا غونډله هم د نورو غونډولو په څېر د اړیکمنې پروسې درې اساسي برخې لري، چې لېږدونکی، شاخص او اړیکمن فعل دی؛ نو ځکه اړیکمنه پروسه ورته ویل کېږي.

۱۹ـ د بهر سره مې د ارتباط وسیله یوه لنډې څېړې رادیو وه (شپون، ۱۳۷۹: ۲) .

- د بهر سره: شرایط
- مې د ارتباط وسیلې: پېژندلی
- د لنډې څېړې رادیو: پېژندی
- وه: اړیکمنه پروسه

په دغه جمله کې هم د تېرو نورو جملو په څېر دا درې برخې شته او اړیکمنه پروسه یې رامنځته کړې. په اړیکمنه پروسه کې لومړی شرط اړیکمن فعل دی.

۲۰ـ شین ټاغی زما د ګرځنده کور نوم و (شپون، ۱۳۷۹: ۲) .

- زما: پېژندوی
- شین ټاغی: پېژندلی
- د ګرځنده کور نوم: شرایط
- و: اړیکمنه پروسه

کله چې په یوه غونډله کې(پېژندوی، پېژندلي او اړیکمنه پروسه) راوړل شي، د تجربي برچار درېیمه پروسه چې اړیکمنه پروسه ورته وایي .

۲۱ د شین ټاغي کمالات ډېر وو (شپون، ۱۳۷۹: ۳) .

- د شین ټاغي: پېژندوی
- کمالات ډېر: پېژندلی
- و: اړیکمن فعل

د اړیکمنو پروسو ځانګړنې دا دري(پېژندلی یا لېږدوونکی، پېژندوی یا شاخص او اړیکمنه پروسه) دي. کله چې په یوه فقره کې راوړل شي، اړیکمنه پروسه جوړوي.

۲۲ـ زمور دا سفر تقریباً شل شپې و (شپون، ۱۳۷۹: ٦) .

- زمور دا سفر: لېږدونکی
- تقریباً شل شپې :شاخص
- و :اړیکمن فعل

۲۳ـد نوروز جشن د شریعت له مخې ناروا دی (شپون، ۱۳۷۹: ۷) .

- د نوروز جشن: پېژندلی
- ناروا: پېژندوی
- د شریعت له مخې: شرایط
- دی: اړیکمنه پروسه

۲۴ـدا د شین ټاغي د لس کاله پخوا کیسه وه (شپون، ۱۳۷۹: ۹) .

- دا د شین ټاغي: پېژندلی
- د لسک کاله پخوا کیسه: پېژندوی

- وه: اړیکمن فعل

۲۵ـ زما او شین ټاغي دواړو ځواني هم پخوالي ته رسېدلې وه (شپون، ۱۳۷۹: ۹) .

- زما او شین ټاغي: پېژندلی
- دواړو ځواني هم پهخوالي ته رسېدلې: پېژندوی
- وه: اړیکمن فعل

۲۶ـ زمونږ په کور کې هم پخوانی جوش او خروش نه و (شپون، ۱۳۷۹: ۹) .

- زمونږ په کور کې: لېږدونکی
- هم پخوانی جوش او خروش نه: شاخص
- و: اړیکمن فعل

۲۷ـ زما د سیاست سره د اول نه جوړه نه وه (شپون، ۱۳۷۹: ۱۱) .

- زما: لېږدونکی
- د سیاست سره د اول نه جوړه نه: شاخص
- وه: اړیکمن فعل

۲۸ـ دوی ته زما شین ټاغی په کار و (شپون، ۱۳۷۹: ۱۱) .

- دوی ته: لېږدونکی
- زما شین ټاغی په کار: شاخص
- و: اړیکمن فعل

۲۹ـ زه له آره د خرپ په ځای د ترپ سړی یم (شپون، ۱۳۷۹: ۱۲) .

- زه: لېږدونکی
- له آره: شرایط
- د خرپ په ځای د ترپ سړی: شاخص
- یم: اړیکمن فعل

۳۰ـ د دوی شفرونه د داکټر زړور اختراع وه (شپون، ۱۳۷۹: ۱۲) .

- د دوی شفرونه: پېژندلی

- د ډاکتر زړور اختراع: پېژندوی
- وه: اړیکمن فعل

په پورته ذکر شوو جملو کې اړیکمنې پروسې راغلې دي. د اړیکمنو پروسو درې اساسي برخې پکې ذکر شوې او له ځینو غوندولو سره شرایط هم راغلي. اړیکمنې پروسې یوازې په اړیکمنه پروسه نه جوړېږي؛ بلکې دوې نورې مهمې برخې چې لېږندوی او شاخص دي هم باید راوړل شي او یا هم پېژندلی او پېژندوی ورسره یو ځای راوړل شي. د دغو برخو سره بیا اړیکمنه پروسه لازمي ده. یوازې اړیکمنه پروسه لازمي نه ده.

۳۱ـ شین ټاغی زما د ګرځنده کور نوم و(شپون، ۱۳۷۹: ۲).

په پورته غوندله کې اړیکمنه پروسه موجوده ده. اړیکمنه پروسه د شریکبانو ترمنځ اړیکه جوړوي.دا پروسه دوه شریکبانې لري، چې یو یې لېږدونکی او بل یې شاخص بلل کېږي. دا پروسه هم د اړیکمن فعل په مرسته جوړېږي. د دې پروسې شننه داسې ده:

- شین ټاغی: لېږدونکی لومړی شریکبانی
- زما د ګرځنده کور نوم: دویم شریکبانی او شاخص دی.
- و: اړیکمنه پروسه ده.

۳۲ـ په اصل کې لوی ټېلر موټر و(شپون، ۱۳۷۹: ۲).

دا غوندله هم د تېرې غوندلې په څېر ده. لېږدونکی او شاخص لري. د دغه دوو برخو ترڅنګ اړیکمن فعل هم لري او اړیکمنه پروسه جوړوي. د دې غوندلې شننه داسې ده:

- په اصل کې لوی: شاخص
- ټېلر موټر: لېږدونکی
- و: اړیکمن فعل دی.

۳۳ـ د نوروز جشن د شریعت له مخې ناروا دی(شپون، ۱۳۷۹: ۷).

په پورته غوندله کې د(نوروز جشن) لېږدونکی، د(شریعت له مخې ناروا)شاخص او (دی) اړیکمنه پروسه ده. کله چې په یوه غوندله کې شریکبانې او اړیکمن فعل راوړل شي، اړیکمنه پروسه جوړوي.

۳۴ـ لوړ مازیګر و، چې کیله ګي ته ورسېدو (شپون، ۱۳۷۹: ۱۵).

په دغه غونډله کې هم لېږدونکی، شاخص او اړیکمن فعل راغلی دی او اړیکمنه پروسه یې رامنځته کړې. د دې جملې شننه داسې ده:

- لوړ مازیګر: لېږدونکی
- و: اړیکمنه پروسه
- چې کیله ګي ته: شاخص
- ورسېدو: اړیکمنه پروسه

۳۵ـ بهادرخان هم په شطرنج کې بد نه و (شپون، ۱۳۷۹: ۱۹).

- بهادرخان: لېږدونکی
- هم په شطرنج کې بد: شاخص
- و: اړیکمنه پروسه

۳۶ـ زه هم یخنۍ ورخطا کړم (شپون، ۱۳۷۹: ۳۱).

- زه: لېږدونکی
- هم یخنۍ ورخطا: شاخص
- کړم: اړیکمنه پروسه

۳۷ـ غاښونه یې د یخنۍ نه سره لګېدل (شپون، ۱۳۷۹: ۲۹).

- یې: لېږدونکی
- غاښونه: شاخص
- د یخنۍ نه سره: شرایط
- لګېدل: اړیکمنه پروسه

۳۸ـ ګورم چې د شین ټاغي نه سور ټاغی جوړ شوی و (شپون، ۱۳۷۹: ۱۰).

په دغه غونډله کې اړیکمنه او چلني پروسه دواړه شته. هغه داسې، چې لومړۍ فقره (ګورم) دا یو چلن ښیي او دویمه فقره مور ته اړیمنه پروسه راښیي. ځکه چې اړیکمن فعل لري او ورسره لېږدونکی او شاخص هم پکې شته. کله چې لېږدونکی، شاخص او اړیکمن فعل په یوه غونډله کې راوړل شي، اړیکمنه پروسه جوړوي.

۴. ۱. ۱. ۲ـ ناآرې(فرعي) پروسې

د آرو پروسو ترڅنګ فرعي پروسې هم شته، چې د آرو پروسو سره پر پوله پرتې دي. د هالېډې چاروالە تيوري وايي، چې فرعي پروسې درې دي. زه د هالېډې جاروالە تيوري وسيله ګرځوم او غواړم، چې د هغې په رڼا کې ناآرې پروسې وڅېړم او د هرې پروسې لپاره اړينې بېلګې راوړم. دا پروسې درې دي او په لاندې ډول دي:

۴. ۱. ۱. ۲. ۱ـ چلني پروسه

دا پروسه د مادي او ذهني پروسې ترمنځ پر پوله پرته ده. مانا دا چې مشخصې ځانګړنې نه لري او يو څه د مادي پروسو غوندې دي او څه د ذهني پروسو غوندي دي. دا پروسه تر سرولو ته ورته ده او شريکبانې ته يې چلنګر وايي. دا پروسې د غوړنيولو، کتلو، خندلو او داسې نور رانغاړي.زه غواړم، چې دا پروسه د هالېډې دچاروالې نظريې پر اساس او د هغو په وسيله په شين ټاغي ناول کې وڅېړم:

۱ـ شاترينې په ځير راته وکتل (شپون، ۱۳۷۹: ۳۶) .

- شاترينې: چلنګر
- په ځير: شرايط
- راته: ښکارنده
- وکتل: چلني پروسه

په پورته جمله کې چلنګر او چلني پروسه راغلي دي او په څنګ ورسره شرايط او ښکارنده هم ذکر شوې. د چلنګر او چلني پروسې په راوړلو چلني پروسه جوړېږي.د يادونې وړ ده، چې چلنګر يې شريکبانې هم دی او يو شريکبانې لري، چې د ماهيت په لحاظ شخص دی. شريکبانې ښايي د اشخاصو تر څنګ نور څيزونه هم راوړل شي او ماهيت يې بدل شي. دا برخه په راتلونکو بحثونو کې څېړم او دلته يې همدومره يادونه کافي بولم.

۲ـ منصبدار ماته کتل.(شپون، ۱۳۷۹: ۴۴)

- منصبدار: چلنګر

- ماته : ښکارنده
- کتل: چلني پروسه

کله چې په یوه فقره او یا یوه غونډله کې، چلنګر، ښکارنده او چلني پروسه درې واړه راوړل شي، چلني پروسه جوړوي.

۳ـ کپتان په زوره وخندل (شپون، ۱۳۷۹: ۲۰) .

- کفتان: چلنګر
- په زوره : شرایط
- وخندل: چلني پروسه ده

په دغه جمله کې یو چلنګر او یوه پروسه ده او دا پروسه (خندل) دي، چې د کفتان چلن او رفتار ښیي؛ نو ځکه ورته چلني پروسه وایي. لاندې غونډولو ته هم پام وکړئ:

۴ـ ښځې په کرار کرار ساه را ښکله (شپون، ۱۳۷۹: ۳۲) .

- ښځې: چلنګر
- په کرار کرار: شرایط
- سا راښکله: چلني پروسه

په دغه غونډله کې (ښځه) چلنګر دی، په کرار کرار شرایط دي او نوره برخه یې پروسه ده او دا پروسه هم چلني ده، چې د ښځې رفتار راښیي او دا ډول پروسې چلني پروسې بلل کېږي.

۵ـ شاترینې په ځیر راکتل او بیا یې مرموزه موسکا وکړه (شپون، ۱۳۷۹: ۳۶) .

- شاترینه: چلنګر
- په ځیر: شرایط
- را کتل: چلني پروسه
- او بیا یې: اړیکوییکي او مخ مرجع ده.
- مرموزه: شرایط
- موسکا وکړه: چلني پروسه

په دې جمله کې یو چلنګر او دوې چلني پروسې دي، چې یوه د کتلو او بله د

موسکا چلني پروسه ده. کله چې په يوه غوندله کې دا ډول پروسې راوړل شي؛ نو چلني پروسې ورته ويل کېږي.

٦ـ شاترينې ترخه خندا وکړه (شپون، ۱۳۷۹: ۴٦) .

- شاترينه: چلنگر
- ترخه خندا وکړه: چلني پروسه

د چلنگر او دا ډول پروسو د راوړلو څخه چلني پروسې جوړېږي. په چلني پروسو کې يو شريکبانې وي، چې هغه چلنگر بلل کېږي.په دغه غوندله کې شريکبانې په خپله شاترينه ده اوشاترينه د ناول يو فرعي کرکټر هم دی. شريکبانې د ماهيت په لحاظ انسانان هم کېدای شي نور څيزونه هم راتلای شي. يعنې هم کېدای شي، روح لرونکي حيوانات وي، چې انسان هم يو ناطق حيوان دی او غير ناطق حيوانات هم کېدای شي او غير روح لرونکي څيزونه هم راتلای شي.

۷ـ شاترينې راته ځير ځير کتل (شپون، ۱۳۷۹: ۴٦) .

- شاترينه: چلنگر
- ځير ځير: شرايط
- کتل: چلني پروسه

يا:

۸ـ هرې خواته مې کتل (شپون، ۱۳۷۹: ۴۷) .

- هرې خواته: شرايط
- مې: چلنگر
- کتل: چلني پروسه

په دغه غوندله کې (مې) نا خپلواک شخصي نومځری دی او په چلنگر دلالت کوي، يعنې چلنگر دی او کتل يې چلني پروسه ده.په دغه غوندلو کې(شاترينه او مې) شريکبانې دي او د ماهيت له مخې دواړه ناطق حيوانات دي.

۹ـ ما ورغږ کړ (شپون، ۱۳۷۹: ۴۷) .

- ما: چلنگر

- ورغږ کړ: چلني پروسه

په پورته غونډله کې(ما) چلنگر او شریکباښی او(ورغږ کړ)، چلني پروسه ده. داځکه چې د یو شخص رفتار ښیي او کله چې په یوه فقره کې داسې الفاظ(فعلونه) راوړل شي، چې تړې موخه د یو شخص رفتار او چلن ثابت شي، چلني پروسه بلل کېږي. بل دا چې دا یو شریکباښی لري او هغه هم په خپله (ما) نومځری دی او تړې موخه لیکوال دی. د ماهیت په لحاظ دا شریکباښی روح لرونکی ناطق حیوان دی. داسې نور فقرې او غونډلې هم شته چې شریکباښی یې بل څیز وي.

۱۰ـ هغې کټ کټ وخندل (شپون، ۱۳۷۹: ۵۰) .

- هغې: چلنگر او شریکباښی دی.
- کټ کټ: شرایط
- وخندل: چلني پروسه

۱۱ـ هغې بیا وخندل (شپون، ۱۳۷۹: ۵۰) .

- هغې: چلنگر اوشریکباښی
- بیا وخندل: چلني پروسه ده.

۱۲ـ ډاکتر ګله ته اوس غوږ شه (شپون، ۱۳۷۹: ۵۱) .

- ډاکترګله: چلنگر او شریکباښی هم دی.
- ته اوس: شرایط
- غوږ شه: چلني پروسه

په پورته غونډلو کې د چلني پروسې د پېژندې اړوند چلنگر چې شریکباښي هم واقع شوي، چلني پروسې او په ځینو غونډلو کې شرایط هم ورسره راغلي او چلني پروسې یې جوړې کړې دي. په چلني پروسو کې چلنگر او چلني پروسه شرط دي؛ خو که شرایط، ښکارنده او ځینې نورې برخې هم ورسره راوړل شي، پروسې ته کوم زیان نه اړوي.

۱۳ـ هغې په خندا وویل (شپون، ۱۳۷۹: ۵۱) .

- هغې: چلنگر او شریکباښی هم دی.
- په خندا: شرایط

- وويل: چلني پروسه

۱۴ـ په اول ځل دواړو وخندل (شپون، ۱۳۷۹: ۵۱) .

- په اول ځل: شرايط
- دواړو: چلنګر
- وخندل: چلني پروسه

۱۵ـ شاترينې په خوش طبعي وخندل (شپون، ۱۳۷۹: ۵۷) .

- شاترينې: چلنګر
- په خوش طبعي: شرايط
- وخندل: چلني پروسه

۱۶ـ شاترينې کټ کټ وخندل (شپون، ۱۳۷۹: ۶۰) .

- شاترينه: چلنګر
- کټ کټ: شرايط
- وخندل: چلني پروسه

۱۷ـ هر موټر ته يې کتل (شپون، ۱۳۷۹: ۷۱) .

- هرموټر ته: شرايط
- يې: چلنګر
- کتل: چلني پروسه

په څوارلسمه غونډله کې(دواړو)، په پينځلسمه غونډله کې(شاترينې)، په شپاړلسمه غونډله کې(شاترينې)، په اوولسمه غونډله کې(يې) چلنګر او شريکبانې دي. دا شريکبانې د ماهيت په لحاظ ټول انسانان او روح لرونکي ناطق حيوانان دي. له دې سره په څنګ کې په ۱۴ هغې کې(په اول ځل)، په ۱۵ هغې کې(په خوش طبعي)، په ۱۶هغې کې(کټ کټ) او په ۱۷ هغې کې(هر موټر) شرايط راغلي دي. په ۱۷ جمله کې(يې) د غايب لپاره نا خپلواک نومځرى دى او چلنګر بلل کېږي او کتل يې چلني پروسه ده. په چلني پروسه کې يو شريکبانې وي او پورته هم په غونډلو کې يو شريکبانې راغلى. شريکبانې ښايي پرته له انسانانو څخه نو ځيزونه هم راوړل شي او دا برخه به په راتلونکو بحثونو کې پوره وڅېړم

اودلته يې همدومره يادونه لازمه بولم.

۱۸ـ ټو لو راته ځير ځير کتل (شپون، ۱۳۷۹: ۹۸) .

- ټولو: چلنګر
- راته په ځير ځير: شرايط
- کتل: چلني پروسه

دا پروسه هم د مادي او ذهني ترمنځ واقع ده، يو چلنګر لري او يوه پروسه لري؛ په دې لحاظ ورته چلني پورسه وايي. په پورته غونډله کې(ټولو) نومځرى راغلى او دا مشترک نومځرى دى د نورو ځيزونو لپاره هم استعمالېږي؛ خو دلته پروسه(کتل) چلني ده؛ نو ځکه نومځرى د اشخاصو لپاره استعمال شوى.

۱۹ـ د مصنوعي موسکا سره مې په ترورتيا هره خوا کتل (شپون، ۱۳۷۹: ۱۲۱) .

- د مصنوعي موسکا سره: شرايط
- مې: چلنګر
- په ترورتيا هره خوا : شرايط
- کتل: چلني پروسه

په دغه جمله کې (مې) شخصي ناخپلواک نومځرى او د نورو اړوندونو(د مصنوعي موسکا سره) سره يو ځاى چلنګر راغلى او(په ترورتيا هره خوا کتل) يې چلني پروسه واقع شوې او چلني پروسه يې جوړه کړې ده.

۲۰ـ بې ځايه يې خندل (شپون، ۱۳۷۹: ۱۲۱) .

- بې ځايه: شرايط
- يې: چلنګر
- خندل: چلني پروسه

په دغه جمله کې(يې) د غايب لپاره ناخپلواک شخصي نومځرى دى او چلنګر واقع شوى او خندل د هغې لپاره چلني پروسه راغلې ده. بل دا چې(يې) چې چلنګر واقع شوى، شريکبانې هم دى او په چلني پروسه کې يو شريکبانې وي.

۲۱ـ بيا يې ماته ځير ځير کتل (شپون، ۱۳۷۹: ۱۲۲) .

- بیایې : چلنگر
- ماته ځیر ځیر : شرایط
- کتل: چلني پروسه

دلته هم د تېرې جملې په څېر(یې) نا خپلواک نومځری راغلی او چلنگر واقع شوی او کتل یې چلني پروسه ده. په پورته غونډله کې(یې) شریکبانی هم دی.

۲۲ـ تاتیانا کټ کټ وخندل (شپون، ۱۳۷۹: ۱۲۳) .

- تاتیانا: چلنگر
- کټ کټ: شرایط
- وخندل: چلني پروسه

پورته غونډله یو شریکبانی(تاتیانا) لري او یو چلنگر لري، چې شریکبانی هم دی. یوه چلني پروسه (وخندل) لري. کټ کټ شرایط دي. په پروسو کې شرایط اړین نه دي؛ خو پروسه او د پروسې چلنگر او شریکبانی پکې اړین دی، چې راوړل شي.

۲۳ـ په اول کې خو مې د ډاره هېڅ شاته ونه کتل (شپون، ۱۳۷۹: ۱۲۳) .

- په اول کې خو: شرایط
- مې: چلنگر
- د ډاره هېڅ شاته: شرایط
- ونه کتل: چلني پروسه

۲۴ـ ما په ورځطایې شاو خواته وکتل (شپون، ۱۳۷۹: ۱۲۲) .

- ما: چلنگر
- په ورځطایې شاو خواته: شرایط
- وکتل: چلني پروسه

۲۵ـ خو بیا به یې په موسکا ماته وکتل (شپون، ۱۳۷۹: ۱۲۵) .

- خوبیا به: شرایط
- یې: چلنگر

- په موسکا ماته: شرايط
- وکتل: چلني پروسه

٢٦ـ ما ته غوږ شئ (شپون، ١٣٧٩: ١٢٦) .

- ماته: چلنګر
- غوږ شئ: چلني پروسه

٢٧ـ د پله په بل سر کې محافظ بيا زموږ کاغذونه وکتل (شپون، ١٣٧٩: ١٤٧) .

- د پله په بل سر کې:شرايط
- محافظ: چلنګر
- بيا زموږ کاغذونه وکتل: چلني پروسه

٢٨ـ عبدالرحمن غوږونه څک کړل (شپون، ١٣٧٩: ١٥٠) .

- عبدالرحمن: چلنګر
- غوږونه:ښکارنده
- څک کړل: چلني پروسه

٢٩ـ عبدالرحمن راته کتل (شپون، ١٣٧٩: ١٥٣) .

- عبدالرحمن: چلنګر
- راته: شرايط
- کتل: چلني پروسه

٣٠ـ زه يو ځلې ځم، د تورن مريضان ګورم (شپون، ١٣٧٩: ١٥٢) .

- زه: چلنګر
- يو ځلې: شرايط
- د تورن مريضان: ښکارنده
- ګورم: چلني پروسه
- ځم: مادي پروسه

٣١ـ ما شاترينې ته کتل (شپون، ١٣٧٩: ١٥٢) .

- ما: چلنگر
- شاترينې ته: ښکارنده
- کتل: چلني پروسه

۳۲ـ د شا نه مې د ټوخي غږ واورېد (شپون، ۱۳۷۹: ۱۵۸) .

- د شا نه: شرايط
- مې: چلنگر
- د ټوخي غږ: شرايط
- واورېد: چلني پروسه

۳۳ـ خو هغه وخندل (شپون، ۱۳۷۹: ۱۵۹) .

- خو: شرايط
- هغه: چلنگر
- وخندل: چلني پروسه

۳۴ـ خو سړی موسک موسک کېده (شپون، ۱۳۷۹: ۱۵۹) .

- خو: شرايط
- سړی: چلنگر
- موسک موسک: شرايط
- کېده: چلني پروسه

۳۵ـ سواتي آشنا کټ کټ وخندل (شپون، ۱۳۷۹: ۱۶۰) .

- سواتي آشنا: چلنگر
- کټ کټ : شرايط
- وخند: چلني پروسه

۳۶ـ ښځې سترګې پرانيستلې(شپون، ۱۳۷۹: ۳۱).

په دغه غونډله کې چلني پروسه شته؛ دا څکه چې چلنگر، ښکارنده او چلني پروسه لري. د دې جملې شننه داسې ده:

- ښځه: چلنګر
- سترګې: ښکارنده
- پرانیستلې: چلني پروسه

۳۷ـ هر څه مې چې سترګې غړولې سرویس نه ښکارېده (شپون، ۱۳۷۹: ۲۷) .

په پورته غونډلو کې چلني پروسه ده؛ ځکه چې چلنګر، ښکارنده، شرایط او چلني پروسې لري او داسې یې شننه کېږي:

- مې: چلنګر
- هرڅه: شرایط
- سترګې: ښکارنده
- غړولې: چلني پروسه
- سرویس: چلنګر
- نه ښکارېده: چلني پروسه


دا څو غونډلې ما د نمونې لپاره د چلني پروسې د لاښې تشریح لپاره راوړې او ښایي دا جملې به بسنه وکړي. د څېړنې په دې برخه کې دویمې فرعي پروسې(بیاني) ته راګرځم.

۴. ۱. ۱. ۲. ۲ـ وینایي پروسه

وینایي پروسه هم یوه فرعي پروسه ده، چې د ذهني او اړیکمنو پروسو ترمنځ پر پوله واقع ده. د هالېډې له نظره په بیاني پروسه کې هر ډول فعل، چې مانا د مانا لېږد سبب وګرځي، پکې راځي. دا فعلونه که حقیقي وي که ظاهري، چې ویل ترې استنباط شي.په بله وینا وینایي پروسه په ټوله کې د ویل او خبرو پروسه پخپله لمن کې رانغاړي (حمیدزی، ۱۳۹۸: ۱۳۸) .

د دې پروسې دنده داده، چې د ژبې په وسیله پیغام ولېږدوي او ډېرې په عبارتونو کې لېږدوي.وینایي پروسې دا دي: ویل، پوښتل، ځواب ویل، توصیه کول، تکرارول، ستاینه کول، ګیله کول، نیوکه کول، ګزارش ورکول، اعلانول، قول ورکول، سپکاوی کول، تهمت

کړل او نور. په دې پروسه کې دوه شریکبانې دي، یو چې څوک کوم مطلب وایي او بل هغه څوک چې مطلب ترلاسه کوي. په لاندې ډول دي:



په دغه پروسه کې دوه شریکبانې وي، چې یو یې ویناوال او بل یې موخه وي. دا شریکبانې د ماهیت له مخې ښایي وګړي وي او ښایي نور څېزونه. دا حتمي نه ده، چې شریکبانې دې اشخاص وي، ښایي نور څیزونه هم د شریکبانو په توګه په جمله کې راوړل شي. همدا برخې به اوس په جملو کې راوړم.وینایي پروسه چې لاندې جملې د شین ټاغي څخه را اخیستل شوې ښه واضح شوې:

۱ـ یوه ورځ د پوهنتون استاد ډاکتر زړور د پوهاند لاروي سره کورته راغلل او په خبرو خبرو کې یې د ښاري مقاومت د یوې پټې شبکې د جوړېدو زېرې راکړې چې دوی یې هم غړي وو.په دې کې د پوهنتون استادان، د کابل او شین ډنډ د هوایي ډګرونو صاحبمنصبان هم شامل وو. ما تعجب کاوه، چې دوی ولې ماته دا خبرې کوي. زما د سیاست سره د اول نه جوړه نه وه. پس له څو ورځو د پوهنتون دغه استادان بیا راغلل او ایله یې په مقصد پوه شوم. دوی ته زما شین ټاغی پکارو و. ما ورته وویل چې په دې ټوله نړۍ کې همدا یو موټر لرم او دا نشم درکولی. مگر دوی پخه اېښې وه، نه یوازې موټر غوښت، بلکې زه یې هم د ډرایور په حیث غوښتلم. داسې ښکاري چې دوی د ډېره وخته په خپل پلان باندې کار کړی و. دوی ویل چې باید جهاد تعلیمیافته وو ته په لاس ورشي. دوی استدلال کاوه، چې د کمونېزم او ورس په مقابل کې د افغاناناو مقاومت عامه پاځون دی، د ظلم او پردو د یرغل په مقابل کې پاځون دی او تقدیر داسې راوستې ده، چې افغانان مسلمانان دي؛ نو دا یو ديني جهاد هم دی. دوی ویل چې ملیت او دین په افغانانو کې داسې اخښل شوي، چې نه سره بېلېږي او د بېلدو ضرورت یې هم نشته (شپون، ۱۳۷۹: ۱۱ـ ۱۲) .

په پورته متن کې وینایي پروسه ښه واضح شوې او هغه فعلونه چې مور پورته یاد کړل ټول پکې راغلي دي او پیغامونه پکې لېږدېدلي دي. کله چې د ژبې په وسیله پیغامونه ولېږدول شي، وینایي پروسه منځته راوړي. شریکبانې یې هم دوه دي، چې یو د لیکوال

سره د ډاکتر زړور لیدل او بل د هغو جهاد ته تشویقول، چې (جهاد ته تشویقول) یې موخه ده او (ډاکتر زړور) یې لومړی شریکبانې یا (ویونکی) بللی شو. لاندې جملې او متونونه هم ولولئ:

۲ـ پوره په یوولسو بجو د مخابرې شرهار شو. زر مې ماشین را وکښښ. ډاکتر زړور و.د شین ټاغي مخه ښرته ګرځولې شې؟ کوشش به وکړم چې لږ رښا شي. بس ښرته کوز شه په هماغه زړه لار راشه. هلته هم د شیبر سر ک د شنبل تنګی دی چې په اوړي کې هم کنګل وي.

- شیبر ته مه ځه په دواب او میخ زرین کې به زمونږ سړي درته ولاړ وي.
- یو مېلمه هم لرم
- ناممکنه ده.
- بس د دواورو د مینځه راووت.
- رخصت یې کړه.
- نه کېږي سیاسره ده.
- سیاسره څه مرګ غواړي؟
- بس د دواورو نه راووتله موټر یې اوښتی و.
- رخصت یې کړه امر دی.
- نه کېږي.
- مه خوګیانې کېږه ختمه یې کړه، امر دی. په دوآب کې به سره خبر شو (شپون، ۱۳۷۹: ۳۳ـ۳۴) .

په پورتني متن کې وینایي پروسه ښه واضح شوې او د وینایي پروسې اصلي موخه ده راغلې ده، چې هم شریکبانې لري او هم موخه او د ژبې په وسیله پیغام لېږدول شوی او دا ټول د وینایي پروسې ځانګړنې دي. په دغه متن کې (موخه) د سالنګ نه ښرته د موټر ګرځېدل دي او په دواب او میخزرین په لاره کابل ته رسېدل دي او هغه څه چې په موټر کې موجود وو، د هغو په سمه طریقه وړل وو او (ویونکی) یې هماغه ډاکتر زړور دی. کله چې په یوه متن کې دوه شریکبانې(ویونکی او موخه) راوړل شي او د متن په وسیله یو

پیغام ولېږدول شي، بیاني پروسه جوړوي.

۳ـ په چت کې نلونه لکه ماران هرې خواته غځېدلي وو. خاموشي تر حده زیاته شوه.زما په خیال هغې هم زما جاج اخیسته. بیا یې په کرار غږ په رسا پښتو په کندهاری لهجه وویل: ترینا غواړې؟ما بې خوده وویل هو. بیا یې وویل: زړور غواړې؟ ما وویل هو بیا نو غلي وه. شبخي ته یې کتل. شبخی لکه چې ورخطا و، خپله ږیره یې داسې ګروله لکه چې اور ورباندې بل وي، خو بیا یې هم وویل، زه هم خپل سړی غواړم (شپون، ۱۳۷۹: ۱۱۸) .

په پورتني متن کې د پیغام لېږد، شریکبانې او موخه موجود دي. کله چې په یوه متن کې داسې ځانګړنې راوړل شي، وینایي پروسه منځته راوړي.د وینایي پروسې بېلګې په شین ټاغي ناول کې ډېرې دي؛ خو د ټولو راوړل ښایي مناسب نه وي؛ خو دومره ویلای شم، چې کله د ژبې په وسیله پیغام ولېږدول شي او دا پیغامونه که د حقیقي فعلونو په وسیله وي او که سیمبولیکو فعلونو په وسیله، وینایي پروسه جوړوي.

۴ـ ترجمان وویل، ایله په دوو ورځو کې د خنجان نه دلته ورسېدو (شپون، ۱۳۷۹: ۴۱) .

- ترجمان: ویناوال
- وویل : وینایي پروسس دی
- ایله په دوو ورځو کې د خنجان نه دلته ورسېدو: وینایي ټوټه

په دې جمله کې هم وینا راغلې ده. ویونکی یې ترجمان دی او خنجانو ته رسېدل یې موخه ده. دا چې دوه شریکبانې لري او پروسه وینایي ده؛ نو ځکه وینایي پروسس ورته وایي.

۵ـ ته خپلې خبرې کوه (شپون، ۱۳۷۹: ۴۴) .

- ته: ویناوال
- خپلې: وینایي ټوټه
- خبرې :ښکارنده
- کوه: وینایي پروسه ده.

٦ـ ما ور غږ کړ (شپون، ۱۳۷۹: ۴۷) .

- ما: ویناوال

- ورغږ کړ: وینایي پروسه

۷ـ ما تړې پوښتنه وکړه (شپون، ۱۳۷۹: ۵۱) .

- ما: ویناوال
- تړې: مخاطب تړې مراد دی
- پوښتنه: وینایي ټوټه
- وکړه: وینایي پروسه

۸ـ ما منانې ته غږ کړ (شپون، ۱۳۷۹: ۸۳).

- ما: ویناوال
- منانې ته: مخاطب دی.
- غږ کړ: وینایي پروسه

۹ـ ما بیا خپل پخوانی انکار جاري وساته(شپون، ۱۳۷۹: ۸۵).

- ما: ویناوال
- بیاخپل پخوانی انکار: وینایي ټوټه
- جاري وساته: وینایي پروسه

۱۰ـ ما کیسه ورته تېره کړه(شپون، ۱۳۷۹: ۸٦).

- ما: ویونکی یا ویناوال
- کیسه: موخه
- ورته تېره کړه: وینایي پروسه

۱۱ـ د منیجر نه یې پوښتنه وکړه(شپون، ۱۳۷۹: ۸٦).

- د منیجر نه: شرایط
- یې: ویناوال
- پوښتنه وکړه: وینایي پروسه

۱۲ـ ما پوښتنه ونه کړه(شپون، ۱۳۷۹: ۸۹).

- ما: ویناوال

- پوښتنه: ويناييِ ټوټه
- ونه کړه: ويناييِ پروسه

۱۳ـ د کاپر لور روسی اقرار رانه واخيست(شپون، ۱۳۷۹: ۹۰).

- د کاپر لور روسی: ويناوال
- اقرار: ويناييِ ټوټه
- رانه واخيست: ويناييِ پروسه

۱۴ـ زان ژوزې بې مقدمې پوښتنه وکړه(شپون، ۱۳۷۹: ۱۱۱).

- زان ژوزې: ويناوال
- بې مقدمې: شرايط
- پوښتنه: ويناييِ ټوټه
- وکړه: ويناييِ پروسه

۱۵ـ په لار کې مې پلار ته د خپلو مزلونو کيسې کولې(شپون، ۱۳۷۹: ٦).

- په لار کې: شرايط
- مې: ويناوال
- پلار ته: شرايط
- د خپلو مزلونو کيسې: ويناييِ ټوټه
- کولې: بياني پروسه

۱٦ـ پلار ماته وويل، چې هلته سيالان او تربرونه دي(شپون، ۱۳۷۹: ۷).

- پلار: ويناوال
- ماته: شرايط
- وويل: بياني پروسه
- چې هلته سيالان او تربرونه دي: ويناييِ ټوټه

۱۷ـ ما په پوهنځي کې روحيات لوستي دي(شپون، ۱۳۷۹: ۵۱).

- ما: ويناوال

- په پوهنځي کې: شرایط
- روحیات: ویناییِ ټوټه
- لوستي دي: ویناییِ پروسس

۱۸ـ کلیوالو وربانديې د شین ټاغي نوم اېښی و(شپون، ۱۳۷۹: ۲).

- کلیوالو: ویناوال
- وربانديې: موخه
- د شین ټاغي نوم: ویناییِ ټوټه
- اېښی و: ویناییِ پروسس دی.

۱۹- پلار او مور مې په ظاهره کې څه نه ویل(شپون، ۱۳۷۹: ۴).

په دغه غونډله کې وینا شته. شریکباني لري او ورسره په څنګ کې شرایط هم راغلي دي. ویناییِ پروسه هم لري. تجزیه یې داسې کولای شم:

- پلار او مور: وینا وال
- په ظاهره کې: شرایط
- څه: ویناییِ ټوټه
- نه ویل: ویناییِ پروسه

۴. ۱. ۱. ۲. ۳ـ وجودي پروسه

وجودي پروسه د مادي او اړیکمنو پروسو ترمنځ واقع ده. دا مانا چې کله د مادي پروسې بڼه خپلوي او کله د اړیکمنو پروسو بڼه. دا پروسه مورِ ته د یوې مادې او یوې پدیدې شتون راښیي، یا هم موجود څیز راښیي. دا پروسه یو ګډونوال لري، چې موجود نومېږي، دا موجود د ماهیت له مخې وګړی، پېښه، مادي څیز او یا هم انتزاعي شی وي. د دغې پروسې د پېژندلو اسانه لار داده، چې د موجود شي، یا څیز، یا پدېدې د اېښودلو، رامنځته کولو، شته کولو، برلاکېدلو، غوړېدلو او نورو فعلونو په وسیله ښوودل کېږي. د دې پروسې د لاښې پېژندنې لپاره د شین ټاغي ناول لاندې غونډلو ته پام وکړئ:

۱ـ چې کتل مې کوچانی او شاترینه څنګ په څنګ ناستې وې (شپون، ۱۳۷۹: ۱۴۸) .

- مې: موجود وګړی
- چې: شرایط
- کتل: وجودي پروسه
- شاترینه او کوچانی: پېژندلی
- څنګ په څنګ: پېژندوی
- ناستې وې: اړیکمنه پروسه او وجودي پروسه ده.

په پورته غونډله کې موجود وګړي(مې، شاترینه او کوچانی) دي. پېژندلی، پېژندوی او وجودي پروسه هم لري. د وجودي پروسې د ځانګړنو له مخې ټولې برخې لري؛ په دې لحاظ وجودي پروسه بلل کېږي.

۲ـ کیله گی د دوشي او پلخمري ترمنځ یو لوی ډاګ دی(شپون، ۱۳۷۹: ۱۴).

دا غونډله یو موجود شی، چې هغه د کیله ګي ډاګ دی مور ته راښیي او د داسې موجود شي راوړل په غونډلو کې وجودي پروسه جوړوي.که چېرې په یوه غونډله کې د موجود شي پر ځای موجود وګړی راوړل شي، هم وجودي پروسه جوړوي. منظور دادی، چې موجود ځیز او یا هم موجود وګړی وي.

۳ـ درې څلور تنه منصبداران هم ناست وو (شپون، ۱۳۷۹: ۱۶).

په دغه غونډله کې بیا موجود وګړي(درې څلور تنه منصبداران) ښوول شوي دي او په صحنه کې موجود دي. د داسې موجود وکړي په راوړلو سره هم وجودي پروسه منځته راځي.

۴ـ لوبه نیم ساعت روانه وه (شپون، ۱۳۷۹: ۱۹).

دا غونډله د موجودې پېښې یا پدېدې څخه مور ته خبر راکوي او د موجودې پېښې په راوړلو سره هم وجودي پروسه جوړېږي.په دغه غونډله کې موجوده پېښه(لوبه) ده، چې نیم ساعت یې دوام پیدا کړی.

۵ـ هغه بل سرویس په پیچومو کې زګیروی کوي(شپون، ۱۳۷۹: ۲۶).

دا غونډله د یو موجود شي څخه خبر راکوي. دا موجود شی په استعاري ډول وجودي شوی او دا سرویس دی. سرویس خو زګیروی نشي کولای؛ خو ښایي کمزوری

به و. د موټر(سرویس) کمزوري یې د زګیوري لپاره استعاره کړې؛ نو مور ویلای شو، چې په استعاري ډول یې ځیز او پېښه وجودي کړې ده او وجودي پروسه یې رامنځته کړې. ښایي د یوه موجود تر څنګ دوه موجود شیان، یا وګړي او یا پېښې پکې راوړل شي او وجودي پروسه جوړه کړي.

٦ـ ماشوم لا هم غلی و (شپون، ۱۳۷۹: ۸۴) .

په پورته غونډله کې موجود وګړی او وجودي پروسه راغلې ده. دلته موجود وګړی(ماشوم دی) او وجودي پروسه(غلی و) ده او شننه یې داسې ده:

- موجود وګړی: ماشوم
- وجودي پروسه: غلی و

۷ـ ونې خواره کی به په ځان نه وې خبرې (شپون، ۱۳۷۹: ۷۵) .

دا جمله هم د تېرې جملې په څېر ده. په دغه جمله کې موجود ځیز(ونې) دي او وجودي پروسه یې(نه وې خبرې) ده او شننه یې داسې کېږي:

- موجود شی: ونې
- وجودي پروسه: نه وې خبرې

۸ـ د دواب دولتي هوټل د بازار نه وتلی و (شپون، ۱۳۷۹: ۵۴) .

په دغه غونډله کې موجود ځیز شته، چې هغه(د دواب دولتي هوټل) دی. کله چې په یوه غونډله کې موجوده پېښه، یا موجود وګړی او یا هم موجود ځیز راوړل شي؛ نو وجودي پروسه جوړوي.

- موجود شی: د دواب دولتي هوټل
- وجودي پروسه: وتلی و
- موجوده پېښه: سرویس نه ښکاربده

د پورته ټولو غونډلو څخه د موجودو پېښو، موجودو شیانو یا ځیزنو او یا هم د موجودو وګړو ښکارندویي کوي او کله چې په یوه غونډله یا یوه فقره کې موجود وګړی، یا موجوده پېښه او یا هم موجود شی یا ځیز راوړل شي؛ نو وجودي پروسه منځته راوړي. د دې پروسې بله ځانګړنه داده، چې یو موجود لري، چې هغه به یا وګړی وي، یا به پدېده

وي او یا به هم موجود شی وي.

۹ـ زه په شین ټاغي کې ګیر وم (شپون، ۱۳۷۹: ۲) .

- زه: موجود وګړی
- په شین ټاغي کې: شرایط
- ګیر وم: وجودي پروسس

پورته غونډله چلنګر، شرایط او وجودي پروسه لري. کله چې په یوه غونډله کې موجوده پېښه، موجود وګړی او یا هم موجود څیز راوړل شي، وجودي پروسه بلل کېږي.

۱۰ـ آته کچرې د هوټل مخې ته ولاړې وې(شپون، ۱۳۷۹: ٦۱).

- آته کچرې: موجود شی
- د هوټل مخې ته: شرایط
- ولاړې وې: وجودي پروسس

۱۱ـ هغه د سیند په غاړه ناسته وه(شپون، ۱۳۷۹: ۵۳).

- هغه: موجود شخص
- د سیند په غاړه: شرایط
- ناسته وه: وجودي پروسه

۱۲ـ شاترینه په موټر کې نه وه(شپون، ۱۳۷۹: ۵۳).

- شاترینه: موجود شخص
- په موټر کې: شرایط
- نه وه: وجودي پروسه

۱۳ـ لمر ختلی و(شپون، ۱۳۷۹: ۵۳).

- لمر: موجود شی
- ختلی و: وجودي پروسه

۱۴ـ ابا به ډېره شېبه په یوه تېره ناست و(شپون، ۱۳۷۹: ٦).

- آبا: موجود

- به ډېره شپبه: شرایط
- په یوه تیره ناست و: وجودي پروسس

۱۵ـ باغ تل زما د پلار د سیالۍ او دل آسایۍ ځای و(شپون، ۱۳۷۹: ۸).

- باغ: موجود
- تل : شرایط
- زما د پلار د سیالۍ او دل آسایۍ ځای و: وجودي پروسه

۱۶ـ ډاکتر زړور چېرته دی؟(شپون، ۱۳۷۹: ۱۱۱)

- ډاکتر زړور: موجود وګړی
- چېرته: شرایط
- دی؟ وجودي پروسه

۱۷ـ د چهاردهي حکومتي ودانۍ ته مخامخ د شاغاسیانو کلا وه (شپون، ۱۳۷۹: ۱۱۵) .

- د چهاردهي حکومتي ودانۍ ته مخامخ: شرایط
- د شاغاسیانو کلا:موجود
- وه: وجودي پروسه

۱۸ـ د کوټې په یو ګوټ کې یو برقي منقل اېښی و (شپون، ۱۳۷۹: ۱۱۵) .

- د کوټې په یو ګوټ کې: شرایط
- یو برقي منقل: موجود شی
- اېښی و: وجودي پروسه

۱۹ـ مور په دې لویه کوټه کې یوازې پاتې شوو (شپون، ۱۳۷۹: ۱۲۵) .

- مور: موجود
- په دې لویه کوټه کې: شرایط
- یوازې پاتې شو: وجودي پروسه

۲۰ـ یوه شپبه درېواړه کرار ناست وو (شپون، ۱۳۷۹: ۱۲۵) .

- یوه شپبه: شرایط

- درې واړه: موجود
- کرار:شرایط
- ناست وو: وجودي پروسه

د شین ټاغي د ناول د لوستلو او په همدغه ناول کې د درېو آرو او درېو ناآرو پروسو د پیداکولو څخه وروسته، یوه بله پروسه هم زما ذهن ته راغله، چې استعاري پروسه ده. په شین ټاغي کې ځینې داسې جملې هم مخې ته راغلې، چې د مجازي مانا لپاره استعمال شوې وې؛ نو اړینه مې وبلله، چې د استعاري پروسې تر سرلیک لاندې یې وڅېړم.

۴. ۱. ۱. ۲. ۴ـ په شین ټاغي کې د مفهومي استعاري پروسې څېړنه

په دغه بحث کط زمور مخې ته دوې موضوعګانې راځي. یوه استعاره ده او بله مفهومي استعاره.که د استعارې بحث مطرح کوم؛ نو بیا د مستعارله او مستعار منه ترمنځ د تشبیه په څېر د ورتوالي وجه شته او زمور موضوع بلې خواته بیایي. ځکه ډېر هغه مثالونه چې ما د استعاري پروسې لپاره راوړي، په هغې کې مفهومي استعارې موجودې دي او خالي استعاره پکې نشته؛ خو د مفهومي استعاري پروسې راوړل مې هم له د بلې تیورۍ په رڼا کې نه دي څېړلي؛ بلکې د پروسې له اړخه مې ورته کتنه کړې ده. لومړی اړینه بولم، چې دواړو استعارو پېژندنه وکړم. د استعارې په باب په شعرستان کتاب کې راغلي دي:((د استعارې موخه هم د تشبیه په څېر د نا لېدلو کیفیتونو اویا د شاعر د ذهني جهان تصویرول او مجسم کول دي...په استعاره کې مور ببلابېل حسي او غیر حسي توکي د ژوندي انسان یا بل ژوندي سري او یا هم د یو بل ډېر حسي توکي په جامه کې تصویرولای او لیدلای شو.څرنګه چې په استعاره کې د خیال وندې زیاته وي، نو هنري ارزښت یې هم زیات دی. ځکه چې په دې حالت کې مور پر ډېرو غیر ژوندیو شیانو د ژوندیو خیال کولی شو؛ په دې توګه شاعر د طبیعت ځینو اجزاوو ته ژوند ورکوي او هغه په انساني ژوند کې راشریکوي، نو لوستونکی او اورېدونکی د یو داسې نوي ذهني چاپېریال احساس کوي چې پخوا یې نه وي لیدلی))(درمل، ۱۴۰۱: ۱۰۷ـ۱۰۸) .

د پورته نقل قول څخه دا ښکاره شوه، چې د استعارې په وسیله مور ذهني توکي

تصویروو او غیر حسي توکي د ژوندي توکي په بڼه انځوروو. له همدې امله په استعاره کې خیال ډېره وړه لري. استعاري، تشبیهات ، انځور، هنریت، تخیل او نور هغه څه چې د هنري نثر لپاره اړین دي، په لنډو کیسو، ناولونو او نورو هنري اثارو کې ډېر لیدلای شو. اوس دا هم اړینه بولم، چې مفهومي استعاري پېژندنه هم وکړم. د مفهومي استعاري په باب ترابي لیکلي دي:((لیکاف او جانسن د استعاري دوه اړخونه ښوولي، چې یو یې سرچینه او بل یې موخه ده.هغه مفهومي حوزه چې پور ترې کېږي سرچینه او هغه چې ورته پورېږي موخن قلمرو ګڼل کېږي.لکه: روژه ماتوم . ګورئ مورِ د مادي شیانو د ماتلو تجربه لرو؛ نو روژه مو هم پرې مفهومي کړې ده. مانا دا چې د ماتولو یو خصوصیت ورته پور شوی دی.«ماتول» سرچینه او «روژه» موخن قلمرو بلل کېږي))(ترابي، ۱۴۰۳: ۹۲) دا چې زما د څېړنې موضوع په شین ټاغي ناول کې د برچارونو څېړنه ده او د برچارونو له جملې څخه یو تجربي برچار دی او په تجربي برچار کې شپږ پروسې څېړل کېږي او ورسره ځینې نورې برخې هم په دغه برچار پورې اړه لري. کله چې ما شین ټاغی ولوست؛ نو د مفهومي پروسې موضوع هم رامخې ته شوه؛ ځکه چې په دغه ناول کې ډېرې مفهومي استعارې شته. دا مې اړینه وبلله، چې مفهومي استعارې د یوې پروسې په توګه وڅېړم او د پروسې له زاویې ورته وګورم. نو هماغه وو، چې دا برخه مې هم پکې راوړه. د یادونې وړ ده، چې دا برخه مې د یوې بېلې تیورۍ په رڼا کې نه ده څېړلې؛ بلکې د پروسې له اړخه مې ورته کتلي دي. زه اوس غواړم، چې په دې ناول کې مفهومي استعاري پروسه وڅېړم. لاندې جملو ته پام وکړئ:

۱ـ ماته غوسه راتله (شپون، ۱۳۷۹: ۵۰) .

په پورته جمله کې استعاري پروسه د(غوسه راتله) ژبنۍ ټوټه کې ده؛ ځکه چې اصلاً(راتلل) مادي پروسه ده او په ژوندي توکي پورې اړه لري. دلته لیکوال د غوسې سره راتلل یو ځای کړي او ذهني پروسه یې هم رامنځته کړې او مجازاً راتلل د غوسې لپاره استعمال شوي او یو انځور یې هم جوړ کړی. بل دا چې په ناولونو کې ذهني توکي په ژوندیو توکیو بدلېږي؛ خو دلته مادي پروسه چې بېرون موجود وي، په ذهني توکي اړولی او یو بل انځور یې رامنځته کړی او مفهومي استعاري پروسه یې جوړه کړې.په دې پروسه

کې د مفهومي استعارې دوې برخې سرچینه او موخه شته.دلته «راتلل» مادي پروسه ده؛ خو دا چې«غوسه» ورسره راغلې؛ نو «غوسې» لپاره یو خصوصیت پور شوی.په دې لحاظ «راتلل» سرچینه او«غوسه» موخن قلمرو بلل کېږي.

۲ـ زما اشتها لاړه (شپون، ۱۳۷۹: ۴۴) .

په دې جمله کې استعاري پروسه په(اشتها لاړه) په ژبنۍ ټوټه کې ده. ځکه چې دلته هم د تېرې جملې په څېر د(لاړه) پروسه مادي پروسه ده او ظاهراً لیدل کېږي او په ژوندي توکیو پورې اړه لري؛ خو دلته د (لاړه) پروسه د(اشتها) د کلمې سره یوځای راغلې ده. سره له دې چې اشتها حسي تجربه ده؛ خو دلته د مادي پروسه یې په مفهومي استعاري پروسه اړولې ده او مجازاً راغلې ده او استعاري پروسه یې رامنځته کړې.د«اشتها» لپاره یو خصوصیت پور شوی او دا پور د«لاړه» سرچینې څخه اخیستل شوی. په دې خاطر«لاړه» سرچینه او «اشتها» موخن قلمرو دی.

۳ـ زه پوهېدم، چې کړۍ راباندې تنګېږي (شپون، ۱۳۷۹: ۱۰) .

پورته جمله اصلاً ذهني پروسه ده؛ ځکه(پوهېدل) په ذهن پورې اړه لري او کړۍ راباندې تنګېږي، اصلاً مادي پروسس دی؛ خو دلته استعاري پروسه هم په(کړۍ راباندې تنګېږي) ژبنۍ ټوټه کې ده. کړۍ حقیقي نه ده؛ بلکې د فشار، څار او محدودیت د زیاتېدلو مانا لري او د اصلي مانا پر ځای په استعاري مانا راغلې ده. د داسې پروسو راوړل استعاري پروسې جوړوي.دلته مادي پروسې راغلې؛ خو موخه ترې مفهومي استعاري پروسې دي او مجازي مانا ترې اخیستل کېږي. په دې جمله کې هم«کړۍ» موخن قلمرو دی او «تنګېږي» سرچینه ده، چې د موخن قلمرو لپاره یې یو خصوصیت پور ورکړی دی.

۴ـ وسله جنګ نه ګټي (شپون، ۱۳۷۹: ۲۲) .

- وسله: کړنه په توګه راغلې یا اکټور په توګه
- موخه: جګړه

په دغه جمله کې د(جنګ) د ګټلو لپاره (وسله) راغلې ده. حال دا چې جنګ انسانان ګټي، نه وسله. د دې لپاره چې مانا او مفهوم دواړه په لوستونکو ژر اغېز ولري؛ نو دا جمله داسې راغلې ده، چې وسله جنګ نه ګټي. د (وسلې) څخه اکټور یا کړنه او یا هم

فاعل جوړ شوی او وسله ژوندی توکی نه دی. کله چې له بې ساه توکي څخه ژوندی توکی جوړ شي، یا مادي توکي په ذهني واوړي او یا هم ذهني توکي په مادي توکیو واوړي، بیا د اصلي مانا پرځای استعاري مانا ورکوي او استعاري پروسه ورته وایي. ګټل اصلاً مادي پروسس دی. دلته مجازي مانا ترې اخیستل شوې او د مادي پروسس په مرسته مفهومي استعاري پروسس رامنځته شوی دی. په مفهومي استعاري پروسو کې دا ډول پېښې ډېرې تکرارېږي.

۵ـ شاترینې ترخه خندا وکړه (شپون، ۱۳۷۹: ۴۶) .

- شاترینه: چلنګر
- ترخه: شرایط
- خندا: ښکارنده
- وکړه: چلني پروسه

پورته جمله اصلاً چلني پروسه ده؛ خو د مفهومي استعاري پروسې په بڼه راغلې ده. دا مفهومي استعاري پروسه په(ترخه خندا وکړه) ژبنۍ ټوټه کې ده. (وکړه) اصلاً مادي پروسس دی؛ لکه کار وکړه، وار وکړه او نور. خو دلته له خندا سره یو ځای، چې د تریخ لفظ هم ورسره یوځای شوی استعاري مانا لپاره استعمال شوی او استعاري پروسه یې جوړه کړې. د چلني، مادي او نورو پروسو اړول، په استعاري پروسو باندې په دا ډول ناول کې څکه ډېرې راځي، چې دا یو سیاسي ناول دی اولیکوال هم هڅه کوي، چې پېښې داسې راوړي، چې په لوستونکو اغېز ولري.خندا موخن قلمرو دی او وکړه سرچینه ده.

٦ـ زما او د شین تاغي دواړو ځواني هم پخوالي ته رسېدلې وه (شپون، ۱۳۷۹: ۹) .

ځواني داسې یو څیز دی، چې معمولاً د ژوندیو څیزونو لپاره استعمالېږي. دلته د شین ټاغي لپاره هم راغلې ده. دا پروسه اصلاً اړیکمنه پروسه ده؛ خو دلته په استعاري پروسه بدله شوې.استعاري پروسه په (شین ټاغي د پخوالي په ځوانۍ ژبنۍ ټوټه کې ده. شین ټاغی د همغه موټر نوم دی، چې لیکوال وایي، چې ما په جرمني کې اخیستی و او کله چې دموټر لپاره ځوانۍ کلمه راوړي او هغه هم د ځوانۍ پخوالی؛ دا نو بیا د غیر ژوندي څیز نه ژوندی څیز جوړوي او یو انځور هم جوړوي او استعاري پروسه یې جوړه کړې ده.

۷ـ د کړکۍ نه سالنګ رسا سپین ململ و، چې تقریباً هوار غوړېدلی و (شپون، ۱۳۷۹: ۱) .

په پورته جمله کې استعاري پروسه په(سالنګ رسا سپین ململ و) ژبنۍ ټوټه کې ده. سپین رسا ململ خو یو ټوکر دی او دلته ترې هدف د سالنګ په واورو پوښل دي. سپین ململ په مځکه هوار غوړېږي؛ خو کله چې د ژمي په موسم کې په سالنګ کې ډېرې واورې وي، هغه هم سپین معلومېږي. لیکوال د سالنګ سپینوالی د ململ ټوکر له سپین والي سره ورته کړی او په مجازي مانا راغلي دي؛ نو ځکه یې استعاري پروسه رامنځته کړې ده.بل دا چې غوړېدل، چې د فعل مصدري وجه هم ده، مادي پروسس دی او دلته د نورو کلمو سره یو ځای راغلی او مجازي مانا ترې اخیستل شوې.

۸ـ دواړه پوهېدو، چې د زړه ستنې مو ماتې دي، د پېښور او سوات ترمنځ یې ګرځوم او چې په پېچومي خیژو؛ نو دواړه زګیروي کوو (شپون، ۱۳۷۹: ۷۴) .

په پورته جمله کې دوې استعاري پروسې شته. یوه استعاري پروسه په(د زړه ستنې) په ترکیب کې ده او بله استعاري پروسه په(دواړه زګیروي) په ترکیب کې ده. لومړۍ استعاري پروسه داده، چې زړه ستنې نه لري او مطلب ترې ضعیفه کېدل، کمزوري کېدل دي. دویمه استعاري پروسه دواړه زګیروي کوو کې ده. اسان خو زګیروی کولای شي؛ خو موټر یو نا ژوندی څیز دی او داسې یو څیز چې ژوندی نه وي او هغې ته ژوند ورکړې؛ نو هرومرو په استعاري مانا را وړل کېږي. دواړه زګیروي کوو، دا مانا چې زه هم ضعیفه شوی یم او موټر هم زوړ شوی او چې کله په پیچومي خېژو؛ نو نشو پورته کېدای. کله چې داسې الفاظ په جملو کې راوړل شي، استعاري پروسې منځته راوړي. ماتېدل اصلاً مادي پروسس دی؛ خو د لته د زړه ستنې ورسره یو ځای راغلې او مجازي مانا ترې اخیستل کېږي او استعاري پروسه جوړوي.

۹ـ واوره لا د پخوا په شان په زور کې وه (شپون، ۱۳۷۹: ۳۰) .

په پورته جمله کې زور د ژوندیو څیزونو لپاره دی؛ خو دلته د واورې لپاره هم راغلی او ویل شوي، چې واوره هم په زور کې وه. زور د ژوندیو شیانو لپاره وي. کله چې د ژوندي څیز ځانګړنه غیر ژوندي څیز ته ورکړل شي؛ نو د اصلي مانا پر ځای استعاري مانا ترې اخیستل کېدای شي او استعاري پروسه جوړوي. د دې ناول خوند په همدې برخه کې

دی، چې د ژوندي څیز ځانګړنه نا ژوندي څیز ته ورکول شوې، یا مادي پروسې په استعاري اوښتې او یا چلني، اړیکمنې او یا نورې پروسې په استعاري پروسې اوښتې؛ نو مکالمو ته یې خوند او رنګ ورکړی دی.

۱۰ـ په لا علاجه بلا کې نښتی وم (شپون، ۱۳۷۹: ۲) .

په پورته جمله کې انتزاعي مفهوم د ژوندي او خطرناک څیز په بڼه راغلی دی. بلا یو انتزاعي مفهوم دی؛ خو دلته لیکوال لیکلي، چې په لاعلاجه بلا کې نښتی یم. اصلاً بلا د وضعیت او ستونزو لپاره استعاره شوې کلمه ده. ستونزې او بد حالات پرې راغلي؛ نو ځکه د ستونزو او بدو حالاتو لپاره یې د بلا لفظ راوړی او بلا د ژوندي څیز لپاره استعمالېږي او د لته د ستونزو لپاره راوړل شوې او استعاري پروسه یې منځته راوړې ده.نښتل هم اصلاً مادي پروسس دی او دلته ترې مجازي مانا اخیستل شوې او استعاري پروسه جوړه کړې.

۱۱ـ نا څاپه مې په زړه کې د وېرې برید راغی (شپون، ۱۳۷۹: ۱۵) .

په پورته جمله کې استعاري پروسه د (وېرې برید راغی) په ژبنۍ ټوټه کې شته. هغه داسې چې (وېره) د ژوندي څیز او کړند په څېر په جمله راغلې ده او انتزاعي مفهوم او کلمه یې د ژوندي څیز په بڼه راوړې او استعاري کړې یې ده.

وېره نشي راتلی؛ خو دلته یې داسې راوړې، چې د وېرې برید راغی، یعنې وېرې برید راباندې وکړ. برید خو ژوندی څیز او هغه هم چې توان ولري او یو لوی څیز وي کولی شي. د وېرې برید یوه استعاري پروسه جوړه کړې.

۱۲ـ د واورو طوفان هر کار ناشونی کړی و (شپون، ۱۳۷۹: ۲۷) .

په پورته جمله کې استعاري پروسه د (وارو طوفان او شمال) په ترکیب کې دې. د واورو طوفان او شمال د یوه فاعل او کړند په توګه عمل ښیي او یو اکټور یې ترې جوړ کړی. حال دا چې هغه اکټور نه دی او په استعاري توګه راغلی دی. دا پروسه اصلا اړیکمنه پورسه ده؛ خو دلته د استعاري پروسې په بڼه راغلې ده. دا ډول پروسې په شین ټاغي کې ډېرې لیدل کېږي.

۱۳ـ د دې ارتې ورشو آهنګ ایله دوه ځایه مات شوی و (شپون، ۱۳۷۹: ۱) .

دلته واوره او طبیعي منظره د موسیقۍ له آهنګ سره تشبیه شوې ده. چې دا په

حقيقت کې کوم آهنګ نه دی؛ بلکې د سپينې منظرې يوشانوالي ته د "آهنګ" نوم ورکړل شوی او استعاري پروسه يې جوړه کړې ده.

۱۴ـ شپه پخه وه (شپون، ۱۳۷۹: ۵۱) .

په دې جمله کې استعاره شته. اصلاً شپه نه پخېږي؛ خو شپه چې نيمايي ته ورسېږي؛ نو مور وايو، چې شپه پخه وه. پخوالی د مېوې او دانو غلو يا حبوباتو لپاره استعمالېږي او دلته د شپې لپاره استعمال شوی، چې مجازي مانا ترې مراد ده او استعاره پکې راغلې او استعاري پروسه يې جوړه کړې ده.

۱۵ـ د زړه ستنې مو ماتې دي (شپون، ۱۳۷۹: ۷۴) .

دا جمله اصلاً وجودي پروسه لري. دلته د وجودي پروسې څخه استعاري پروسه جوړه شوې. د زړه ستنې ماتېدل يو موجود شی راښيي او يا موجوده پېښه راښيي.

په دې جمله کې استعاري پروسه د(زړه ستنې) په عبارت کې شته. زړه ستنې نه لري؛ خو کله چې څوک ناتوانه شي او د کوم کار سرته رسول يې له توان څخه پوره نه وي؛ نو معمولاً وايي، چې د زړه ستنې مې ماتې دي. دلته د زړه د ستنو د ماتوالي څخه موخه ناتوانه کېدل دي او مجازي مانا ترې مراد ده.

۱۶ـ ماسختن باران غلی شو (شپون، ۱۳۷۹: ۵۹) .

په دغه غونډله کې اصلاً مادي پروسه راغلې ده، چې کړند، شرايط او مادي پروسه لري. د دغې مادي پروسې څخه موخه استعاري پروسه ده. هغه داسې چې باران خو غلی کېږي نه؛ بلکې درېږي. دلته د(غلي) کلمه د باران د کلمې لپاره راغلې ده او د مادي پروسې په مرسته استعاري پروسه جوړه شوې. استعاري پروسه هم د(باران غلی) شو په ترکيبي کلمه کې ده.

۱۷ـ مخابره هم ختمه شوه (شپون، ۱۳۷۹: ۳۴) .

په دغه غونډله کې هم اصلاً مادي پروسه شته؛ خو د مادي پروسې په مرسته استعاري پروسه جوړه شوې. استعاري پروسه ځکه جوړه شوې، چې د مخابرې د کلمې لپاره د (ختمه)کلمه راوړل شوې او کله چې د يوې کلمې څخه اصلي مانا وا نه خيستل شي، استعاري پروسه جوړوي.په شن ټاغي کې استعاري پروسې ډېرې دي؛ پورتنۍ څو جملې مې د موضوع د وضاحت لپاره راوړې.

د دې بحث څخه دا پايله لاس ته راځي، چې په شين ټاغي ناول کې د استعاري

پروسې نقشونه دا دي:

١ـ طبعت ته انساني ځانګړنې ورکول.

٢ـ انتزاعي مفاهيم د فاعل يا اکټور په توګه راوړل.

٣ـ غير انساني شيانو ته شخصيت ورکول.

اوس غواړم، چې د پورته درېو برخو لپاره، يوه يوه هغه بېلګه هم راوړم، چې په څېړنه کې هم يادە شوې. د لومړۍ ځانګړنې لپاره بېلګه:

١ـ د ارتې ورشو اهنګ ماتېدل: دا اصلاً د ورشو اهنګ نه دی؛ بلکې د واورې سپينه منظره يې د ورشو اهنګ بللی، چې اهنګ انساني ځانګړنه ده او طبعيت ته ورکړل شوې.

٢ـ انتزاعي مفاهيم د اکټور په توګه راوړل: په شين ټاغي کې راغلي، چې ناڅاپه مې په زړه د وېرې بريد راغی. دلته د (وېرې بريد) يو انتزاعي مفهوم ته د اکټور نقش ورکړل شوی. مانا دا چې وېره يو انتزاعي مفهوم دی. کله چې د بريد کلمه ورسره يو ځای راغلې او د وېرې بريد عبارت يې جوړ کړی. د انتزاعي مفهوم څخه د اکټور يا فاعل نقش او مفهوم ته راغلی او دا هم د شين ټاغي په ناول کې د استعاري پروسو دويم نقش بلل کېږي.بل دا چې د مادي پروسې څخه د اړيکمنې پروسې لپاره کار اخيستل شوی.

٣ـ غير انساني شيانو ته شخصيت ورکول: په شين ټاغي کې راغلي، چې زما او د شين ټاغي ځواني د پوخوالي حد ته رسېدلې وه. ځواني انساني ځانګړنه ده او کله چې د شين ټاغي لپاره هم د ځوانۍ پوخوالي حد راوړل شوی؛ نو غير انساني ځيز ته يې شخصيت ورکړی او د استعاري پروسو درېيم نقش يې هم جوړ کړی دی.

په ټوله کې ويلای شو، چې د استعاري پروسو دا درې نقشونه په شين ټاغي ناول کې شته او د شين ټاغي ناول محتوا يې هم خوندوره کړې ده.

٤. ١. ٢ـ په شين ټاغي ناول کې کومې پروسې ډېرې استعمال شوې او لاملونه يې څه دي؟

د شين ټاغي ناول د لوستلو څخه دا پايله لاس ته راغله، چې درې اصلي او درې فرعي پروسې په دې ناول کې شته او ورسره استعاري پروسې هم ډېرې راغلې دي. خو پوښتنه

داده، چې د کومې پروسې فیصدي ډېره ده؟

د دې پوښتنې په ځواب کې ویلای شم، چې هنري نثرونه او په تېره بیا په سیاسي ناولونو کې مادي، اړیکمنې بیاني او ذهني پروسې ډېرې دي؛ ځکه چې پېښې عینې کېږي او له ذهني حالته راوځي. په همدې توګه شین ټاغی هم یو سیاسي ناول دی، چې د مطالعې ځخه وروسته راته ثابته شوه، چې مادي، اړیکمنې او بیاني پروسې پکې ډېرې راغلې دي. پاتې درې یا څلور نورې پروسې بیا په کمه اندازه پکې راوړل شوې. دا چې مادي پروسې ولې په دغه ناول ک تر ټولو په ډېره اندازه راغلې دي، بېلابېل لاملونه لري، چې زه غواړم په لنډ ډول تري یادونه وکړم:

الف) په شین ټاغي ناول کې مادي پروسې ځکه ډېرې راغلي دي، چې مادي پروسه چې کله جوړېږي، یا باید پېښه عیني وي او یا هم ذهني پېښې باید عیني شي. دا پروسه د همدې ناول بنسټ جوړوي. په شین ټاغي ناول کې کیسه د سفر حال او احوال په باب ده او عمل ښیي. مادي پروسې د پېښو او عملونو د پرمختګ ښیي. لیکوال مادي پروسې د پېښو، عملونو، حرکتونو او د کیسې د پرمختګ لپاره کارولي دي. د دغو پروسو په وسیله لوستونکی د کرکټرونو عملي فعالیتونه او د داستان جریان تعقیبوي.لکه په لاندې جملو کې:

۱ـ په جرمني کې مې اخیستی و (شپون، ۱۳۷۹: ۲).

۲ـ وطن ته روان شوم (شپون، ۱۳۷۹: ۴).

۳ـ موټر مې چالان کړ (شپون،۱۳۷۹ : ۲۵).

۴ـ پټ مې پاسپورټونه جوړ کړل (شپون، ۱۳۷۹: ۷) .

۵ـ هغوی وسلې غوښتې (شپون، ۱۳۷۹: ۲) .

په ناول کې مادي پروسې د قهرمان د سفرونو، مبارزې، ژغورنې او ورځنیو فعالیتونو د انځورولو لپاره کارول شوې دي، چې د داستان د پرمختګ اصلي وسیله ګڼل کېږي یا عینې پېښې دي او یا هم پېښې یې عینې کړي دي.لکه:

۱ـ دا درې ورځې کېدې، چې زه په شین ټاغي کې ګیر وم، بلکه دواړه ګیر وو (شپون، ۱۳۷۹: ۲).

په پورته جمله کې یو انځور وړاندې شوی، هغه داسې چې لیکوال خو په موټر کې ګیر و یا بند پاتې و؛ بلکې شین ټاغی هم ګیر شوی و. د شین ټاغي ګډبدل یو انځور دی، چې پېښه عیني کوي او یا یې له ذهني حالته را وباسي.

ب) په دویمه درجه چې پېښې په شین ټاغي کې ډېر راغلي دي، هغه بیاني پېښې دي. د بیاني پېښو راوړلو هم بېلابېل لاملونه دي. یو دا چې بیاني پروسې د خبرو اترو، نظریاتو، پیغامونو او معلوماتو د تبادلې لپاره کارول شوې دي. بل دا چې مکالمې پکې ډېرې دي او ناول د عمل او مکالمې زېرنده ده؛ نو ځکه دا ډول پروسې پکې ډېرې راځي او د همدې مکالمو په مرسته د نظریاتو، معلوماتو او پیغامونو تبادله شوې. په دې باب لاندې جملې هم د یادونې او لوستنې وړ دي.

۱ـ ما په جګ غږ، چې ټول یې واوري، خپل کشر ورور ته وویل، زما زړه دی، چې یو ځلې د غزني په زیارتونو وګرځم ته راسره ځې؟

په پورته جمله کې د لیکوال او ورور ترمنځ یې مکالمه شوې او د همدې مکالمې په صورت کې یې معلومات او نظریات وړاندې کړي دي. یا :

۲ـ په بل کال ما تجویز وکړ، چې د ګل سرخ په مېله کې مزار شریف ته لاړ شو، پلار مې ویل چې ګل سرخ د زردشتیانو مېله ده د نوروز جشن د شریعت له مخې ناروا دی (شپون، ۱۳۷۹: ۷) .

په دغه جمله کې هم د زوی او پلار ترمنځ مکالمه شوې او خپل نظریات او معلومات یې تبادله کړي دي. دا ډول مکالمې په شین ټاغي ناول کې ډېرې پیدا کېږي.

ج) په دریمه درجه کې چې ډېرې پروسې په شین ټاغي کې راغلي دي، هغه اړیکمنې پروسې دي. اړیکمنې پروسو په مرسته لیکوال د کرکټرونو، شیانو، ځایونو او حالتونو پېژندنه او توصیف ډېر کوي. د ښلګې په توګه، د شین تاغي، پلار، ډاکتر زړور، شاتریني، مناني، پیښور، سوات او نورو په اړه ځانګړنې او حالتونه بیانوي. ارتباطي پروسه د «څه شی څه دی؟» او «څه ډول دی؟» معنا جوړوي.اړیکمنې پروسو کې د کرکټرونو حالت، هویت، پېژندنه او ځانګړنې ډېرې بیان شوې دي .

مثلاً: زه ډاکتر محب الله یم، شاتریته خوشاله معلومېده، دا لار لویشت لویشت ماته

معلومه وه. دا ټولې اړيکمنې پروسې دي.

د) په څلورمه کټګورۍ کې ذهني پروسې ډېرې دي. دا پروسې ذهني پېښې راښيي؛ لکه:

۱ـ د فکر، احساس، درک او غوښتنې لپاره.

۲ـ د کرکټرونو داخلي نړۍ، احساسات او ذهنيت لوستونکي ته څرګندوي؛ لکه: فکر کول، ليدل، خوښول، وېرېدل .

هـ) په پينځمه کټګورۍ چلني پروسې راغلي دي. دا پروسې د اړيکمنو پروسو سره د کميت او اندازې په له پلوه څنګ په څنګ راغلي. يعنې ډېر توپير نه لري او لاملونه يې دا دي:

۱ـ د فزيکي او ذهني چلند ترمنځ حالتونه بيانوي .

۲ـ د کرکټرونو طبعي غبرګونونه او کړنې څرګندوي .

و) په شپږمه کټګورۍ کې وجودي پروسې راغلي دي. د دې پروسېد راوړلو لاملونه دادي:

وجودي پروسې تر ټولو لږې دي. په متن کې د کوم شي د **شتون يا موجوديت** بيان په مستقيم ډول ډېر محدود دی؛ لکه د «شته/وو/و» په معناوو کې چې د موجوديت مفهوم څرګندوي.

ز) استعاري پروسې ښايي په وروستۍ کټګورۍ کې وي. هغه څکه چې استعاري الفاظ او په مجازي مانا وو د الفاظو استعمال پکې کم دی. دا برخه نوې ده او يوه نوې پروسه پکې ډېره شوه.

د پايلې په توګه ويلای شم، په «شين ټاغي» ناول کې مادي پروسې د پېښو او عملونو د پرمختګ، ذهني پروسې د کرکټرونو د احساساتو او افکارو د څرګندولو، اړيکمنې پروسې د اشخاصو او شيانو د ځانګړنو د معرفي کولو، چلني پروسې د کرکټرونو د ظاهري او رواني غبرګونونو د انځورولو، بياني پروسې د مکالمو او پيغام رسونې، وجودي پروسې د اشخاصو، ځايونو او حالاتو د شتون د بيان لپاره او استعاري پروسې د الفاظو څخه د استعاري ماناو د کارونې او استعمال لپاره کارول شوې دي. پورتنۍ پروسو فيصدي د يو جدول په توګه وړاندې کوم:

شماره	پروسې	د پروسو فیصدي	بېلګې
۱	مادي	۴۷فیصده	**د کرکټرونو** فزیکي کړنې، حرکتونه، انتقال، اخیستل، اچول، ګرځېدل، کښېناستل، پورته کېدل
۲	بياني يا وينايي	۲۰فیصده	ما ورته وویل، هغې وویل، ما دوام ورکړ، خواب راغی.
۳	اړیکمنې	۱۵فیصده	داوړي وخت شپلې يې اوس هواره سپینه مخکه وه، دا لوی ټیلر موټر و، دا موټر په جرمني کې اخیستی و
۴	ذهني	۱۴فیصده	پوهېدل، فکر کول، وېرېدل، شک کول، پام کول، تعجب کول او احساس کول
۵	چلني	۲/۵فیصده	خندل، کتل، موسکېدل، غلی کېدل
٦	وجودي	۱/۵	شته، وو، و او نور

د پایلې په توګه ویلای شم، چې په شین ټاغي ناول کې مادي پروسې ډېرې دي او د مادي پروسو د زیاتوالي اصلي لامل یوازې د حرکتونو او سفرونو بیان نه دی؛ بلکې د ناول د پېښو-محور جوړښت، د کرکټرونو فعال حضور، د سفر او جغرافیایي بدلونونو پراخوالی، د «شین تاغي» موټر محوري رول، د جګړې او سیاسي پېښو شتون، د ورځني ژوند د عملي فعالیتونو بیان او د راوي د شخصي تجربو عملي اړخونه هم د دې پروسو د زیاتوالي مهم عوامل دي. لیکوال هڅه کوي چې پېښې د کرکټرونو د ترسره شوو کړنو له لارې په عیني او محسوس ډول وړاندې کړي؛ له همدې امله د «څه وشول؟» او «چا څه وکړل؟» پوښتنو ته په متن کې ډېر ځوابونه موندل کېږي. په نتیجه کې مادي پروسې د ناول د پېښو د حرکت، د کرکټرونو د فعالیت او د داستان د پرمختګ تر ټولو مهمه ژبنۍ وسیله ګرځي.

۴. ۱. ۳ـ ګډوني(مشارکتي) توکي

په غونډلو کې د ګډوني توکیو څخه موخه هغه څه دي، چې کار پرې اجرا کېږي او یا اجرا شوی وي او یا هم د فعل اثر ورته مستقیماً او یا غیر مستقیماً رسېدلی وي. د نحوې له پلوه

ورته مفعول یا بشپړونکی وایي او په دوه ډوله وېشل کېږي، چې د مستقیم او غیر مستقیم مفعول په نوم یادېږي.کله چې په یوه غوندله کې ګډوني توکي راشي؛ نو د غوندلې مرکزي نقش پروسه پر غاړه اخلي او بیا د شریکبانو شمېر او ډول هم ټاکي. دلته بیا یوه غوندله یو یا دوه او یا درې شریکبانې لرلای شي او د یو، دوه او درې ارزښتي پروسې په نومونو یادېږي.بله مهمه خبره داده، چې یو، دوه او درې ارزښتي پروسې د لازمي او متعدي فعلونو په لرلو سره راڅرګندېږي. دامانا چې کله پروسې نالېږندې(لازمي) وي، یو ارزښتي دي او که پروسې لېږندې (متعدي) بیا دوه ارزښتي او یا هم درې ارزښتي پروسو په نوم یادېږي.

ګډوني توکي به اوس په شین ټاغي ناول کې وڅېړو:

۱ـ هغوی وسلې غوښتې (شپون، ۱۳۷۹: ۲) .

په پورتنۍ غوندله کې پروسه لېږند ده؛ ځکه چې فعل یې مفعول لري او شریکبانې یې دوه دي او پروسه دوه ارزښتي ده او په لاندې ډول یې راړوم:

- هغوی: لومړی شریکبانی
- وسلې : دویم شریکبانی
- غوښتې: پروسه ده او پروسه هم ذهني پروسه ده.

په پورته غوندله کې(هغوی، وسلې) دوه شریکبانې راغلي او دوه ارزښتي پروسه یې رامنځته کړې او پروسه یې لېږند ده، یعنې فعل یې متعدي دی او مفعول لري. په دغه غوندله کې ترلاسه کوونکی (هغوی) دی او مخاطب هم(هغوی) دی. په ګډوني توکیو کې بله مهمه خبره داده، چې دا شریکبانې به یا برخمن وي او یالمن، که برخمن وي، بیا به یا تر لاسه کوونکي وي او یا به رانیوونکي. په دغه پروسه کې(هغوی) تر لاسه کوونکي دي.

۲ـ پټ مې پاسپورټونه په کندوز کې جوړ کړل (شپون، ۱۳۷۹: ۷) .

- مې: لومړی شریکبانې
- پاسپورټونه: دویم شریکبانی
- کندوز: شرایط

پروسه دوه ارزښتي ده او دوه شریکبانې لري. بل دا چې پروسه لېږند ده؛ ځکه چې

فعل يې متعدي دی. پروسه مادي ده او د پروسې ځای(ځمکه) يې راښودلی دی.که چېرې دويم شريکبانې په غونډله کې نه وی راغلی بيا هم مانا نه بشپړېده. اړتيا وه، چې (پاسپورټونه) ورسره راشي.

۳ـ دا سفر هم په خيريت تېر شو (شپون، ۱۳۷۹: ۹) .

- دا سفر: شريکبانې

دا پروسه يو ارزښتي ده؛ ځکه چې يو شريکبانې لري او پروسه يې نالېړند ده؛ ځکه فعل يې لازمي دی او مفعول نه لري.په نالېړند پروسه کې يو شريکبانې وي او پروسه يې يو ارزښتي بلل کېږي.

۴ـ بهادر خان بيا راسره کښېناست (شپون، ۱۳۷۹: ۱۸) .

- بهادرخان: لومړی شريکبانې
- پروسه: يو ارزښتي

دلته بهادرخان يو شريکبانې دی او پروسه هم يو ارزښتي بلل کېږي او ورسره پروسه نالېړند ده؛ ځکه فعل يې لازمي دی.

۵ـ کپتان راسره ومنله (شپون، ۱۳۷۹: ۲۰) .

د دې غونډلې پروسه يو ارزښتي پروسه ده؛ دا ځکه چې يو شريکبانې لري او هغه هم کپتان دی. له بل پلوه پروسه نالېړند ده، ځکه چې فعل يې لازمي دی. په نالېړند فعلونو کې يو شريکبانې راځي او که لېړند وي بيا ښايي دوه يا درې شريکبانې هم راوړل شي.

۶ـ ما معذرت وغوښت (شپون، ۱۳۷۹: ۲۱) .

دا پروسه هم د تېرې پروسې په څېر يو شريکبانې لري او هغه هم(ما) نومځری دی او پخپله ليکوال دی او پروسه نالېړند ده.

۷ـ بيايې پاس وکتل (شپون، ۱۳۷۹: ۲۱) .

- بيايې: شريکبانې
- وکتل: نالېړند پروسه

په پورته غونډله کې(يې) د غايب لپاره ناخپلواک شخصي نومځری دی او دلته د پروسې په سر کې راغلی او د دې پروسې شريکبانې دی او نالېړند هم دی؛ که چېرې يې

موږ تجزیه کوو؛ نو په پورته ډول یې لیکو.

۸ـ یو پیاده مې مفت ورکړ (شپون، ۱۳۷۹: ۲۱) .

- مې: لومړی شریکبانې
- پیاده: دویم شریکبانې
- پروسه: لېږند
- ترلاسه کوونکی: مخاطب چاته یې چې پیاده ورکړی

۹ـ بهادرخان چې بهر ولاړ و، د موټر کلی یې راکړه (شپون، ۱۳۷۹: ۲۴) .

دا غونډله، غبرګغونډله ده او دوې سره یو ځای شوې. په لومړی غونډله کې څنډني توکي شته او هغه قید(بهر) دی او د پروسې څرنګوالی راښیي او په دویمه غونډله کې بیا شریکبانې(د موټر کلی) ده او پخپله لیکوال یا اخیستونکی تر لاسه کوونکی هم دی او برخمن یا برخه وال هم یادېږي. په ټوله کې دوه شریکبانې لري، چې یو(بهادرخان) او بل د (موټر کلی) ده. پروسه لېږند ده. خو یوه خبره د یادونې وړ بولم، هغه داچې په کتابونو کې راغلي چې دا ډول پروسې باید په یوه ساده غونډله کې راوړل شي او باید په یوستوې غونډله کې موجودې وي. د همدې پوښتنې د حل او یا داچې په مرکبو جملو کې هم داسې موضوعګانې شته؛ نو په همدې خاطر مې پورتنۍ غونډله راوړه.

۱۰ـ موټر مې چالان کړ (شپون، ۱۳۷۹: ۲۵) .

- موټر: یو شریکبانې
- مې: دویم شریکبانې
- کړ: پروسه
- پروسه: لېږند ده

۱۱ـ وچه ډوډۍ، چای بوره مې د خو سره کړو چرګانو سره احتیاطي واخیستل (شپون، ۱۳۷۹: ۲۶).

- وچه ډوډۍ، چای بوره او سره کړي چرګان: دویم شریکبانې
- مې: لومړی شریکبانې
- پروسه: لېږند

- پروسه: برخمن او ترلاسه کوونکی اودوه ارزښتي ده.
- پروسه: مادي ده.

۱۲ـ ما موټر ودراوه (شپون، ۱۳۷۹: ۲۷) .

- ما: لومړی شریکبانی
- موټر: دویم شریکبانی
- ودراوه: پروسه
- پروسه: لېږند او دوه ارزښتي ده، ځکه دوه شریکبانې لري.

۱۳ـ د بسترې نه مې قدیفه راواخیسته (شپون، ۱۳۷۹: ۲۹) .

- مې: لومړی شریکبانې
- بستره: دویم شریکبانی
- پروسه: لېږند او دوه ارزښتي ده او مادي پروسه ده.

۱۴ـ ما ورته وویل (شپون، ۱۳۷۹: ۳۱) .

- ما: لومړی شریکبانې
- ورته: دویم شریکانی
- وویل: پروسه

دا پروسه نالېږند ده؛ خو دوه شریکبانې لري. لومړی شریکبانې یې(ما) او دویم شریکبانی یې(ورته) دی. د(ور) سمتي نومځری کله کله نومځری واقع کېږي او کله کله بیا مختاړی هم واقع کېږي. دلته زما په ګومان چې د مخاطب لوری یې مشخص کړی او نومځری واقع شوی او دویم شریکبانی یې جوړ کړی؛ خو پروسه نالېږند ده. له دې څخه ښکارېږي، چې په نالېږند پروسو کې هم دوه شریکبانې راتلای شي.

۱۵ـ مخابره هم ختمه شوه (شپون، ۱۳۷۹: ۳۴) .

- مخابره: شریکبانی
- ختمه شوه: پروسه
- پروسه : لېږند

په دغه پروسه کې بیا یو شریکبانی دی؛ خو پروسه یې لېږند ده. منظور دادی، چې

بل شریکبانې ترې لوېدلی په خبرو اترو کې. یعنې مخابره خو هم باید د چا له لوري ختمه شوي وي. پخپله خو نه ختمېږي. ځکه دویم شریکبانې هم لري او پروسه لېږند ده. مور دا نشو ویلای، چې یوازې په دوو شریکبانو کې به لېږند راځي په یوه شریکبانې په لرلوسره به د لېږند پروسه نه جوړېږي.پروسه هم دوه ارزښتي بللی شو.

۱۶ـ ماشین مې ځای پرځای کړ (شپون، ۱۳۷۹: ۳۴) .

- ماشین: یو شریکبانې
- مې: بل شریکبانې
- ځای پرځای کړ: پروسه، لېږند او دوه ارزښتي

۱۷ـ ماوویل. (شپون، ۱۳۷۹: ۳۴)

- ما: شریکبانې
- وویل: پروسه، نالېږند او بیاني پروسه ده، یو ارزښتي.

۱۸ـ زه ورکوز شوم (شپون، ۱۳۷۹: ۴۰) .

- زه: شریکبانې
- ورکوز شوم: پروسه، نالېږند او یو ارزښتي ده.

۱۹ـ زه نه کوزېږم (شپون، ۱۳۷۹: ۴۴) .

- زه: شریکبانې
- نه کوزېږم: پروسه
- پروسه: نالېږند، یو ارزښتي

۲۰ـ زه پوهېدم (شپون، ۱۳۷۹: ۴۹) .

- زه: شریکبانې
- پوهېدم: پروسه، نالېږند او یو ارزښتي

۲۱ـ باید ماته خط راکړئ (شپون، ۱۳۷۹: ٦۲) .

- ماته : لومړی شریکبانې
- خط: دویم شریک بانې
- راکړئ: دوه ارزښتي پروسه لېږند.

۲۲ـ موټر مې چالان کړ (شپون، ۱۳۷۹: ٦٣) .

- موټر: شریکبانې
- مې دویم شریکبانې
- چالان کړ. پروسه دوه ارزښتي او لېږند؛ ځکه چې فعل مفعول هم لري.

۴. ۱. ۴ـ څنډني توکي

څنډني توکي د پروسې شریکبانې بلل کېدای شي؛ خو دا شریکبانې غیرمستقیم دي او د پروسې په اړه څه زیات معلومات وړاندې کوي. دا توکي د پروسې د مهال، ځای، د کړنې د طرز او یا څرنګوالي پورې اړوند دي. په دغه توکیو کې معمولاً قیدونه راځي، چې قیدونه هم د فعلونو د واقع کېدو څرنګوالی، وخت، ځای او نورې برخې راښیي. دماهیت له پلوه څنډن توکي په مکان، زمان، حالت او نورو برخو ووېشل شي.دا برخه زه په شین ټاغي ناول کې څېړم:

۱ـ سرویس څو ځایه شاته راوښویید (شپون، ۱۳۷۹: ٢٦) .

په دغه غونډله کې(څو ځایه او شاته) قیدونه دي، چې د پروسې حالت یې مودِ ته بیان کړی. له دې سره په څنګ کې روانه کړنه مودِ ته راښیي او ورسره هغه څه مودِ ته راښیي، چې له کړنې اغېزمنېږي او هغه سرویس دی. دغه دواړه قیدونه مورګه وال توکي هم بلل کېږي او په ټوله کې څنډني توکي دي.د ماهیت له مخې پورتني څنډن توکي د پروسې مکان هم را په ګوته کوي.

۲ـ موټر دروند دروند کېده (شپون، ۱۳۷۹: ۲۵) .

- روانه کړنه: موټر دروند دروند کېدل.
- اغېزمن: موټر
- دروند دروند: څنډني توکي اوقیدونه دي او د پروسې حالت یې بیان کړی.

څنډن توکي د ماهیت له مخې په مکان، زمان، حالت او نورو برخو وېشل کېږي. په پورته غونډله کې څنډن توکي د پروسې حالت مودِ ته راښیي.

۳ـ ډېر ژر مې مات کړ (شپون، ۱۳۷۹: ۲۲) .

- څنډني توکي: ډېر ژر او د پروسې حالت يې بيان کړی.
- مې: فاعل
- مات کړ: پروسه

د ماهيت له مخې(ژر) د پروسې حالت راښيي او د حالت څنډن توکی هم بلل کېږي. ښايي چې د ځای، مهال، شمېر او د پروسې نورې برخې هم واضح کړای شي.

۴ـ يوه ورځ د پوهنتون استاد ډاکتر زړور د پوهاند لاروي سره کورته راغلل (شپيون، ۱۳۷۹: ۱۱).

- يوه ورځ: قيد او څنډني توکي د پروسې وخت راښيي.
- کور ته: څنډني توکي د پروسې ځای مشخص کړی.
- پوهاند لاروی او ډاکتر زړور: د پروسې فاعل
- راغلل: پروسه

په پورته غونډله کې څنډن توکي(يوه ورځ) دي او د ماهيت له مخې د پروسې شمېر او ځای مورِ ته معلوموي.

۵ـ زما او د شين ټاغي دواړو ځواني هم پخوالي ته رسېدلې وه (شپون، ۱۳۷۹: ۹).

- زما او د شين ټاغي: د پروسې فاعل
- دواړو ځواني: څنډني توکي او قيدونه
- پخوالي: څنډني توکي او قيدونه د پروسې حالت راښيي.
- رسېدلې وه: اړيکمنه پروسه

په پورته غونډله کې دوه ډوله څنډن توکي راغلي دي، چې يو د پروسې شمېر او بل د پروسې حالت راپېژني. د پروسې شمېر په(دواړو) کلمه راښيي او د پروسې حالت(پخوالي) کلمه راپېژني. کله چې په يوه غونډله کې دا ډول توکي راوړل شي، څنډن توکي ورته وايي.

٦ـ په هفته کې دوه ځلې د ډاکترانو د راتګ وار و (شپون، ۱۳۷۹: ۹۵).

- د پروسې فاعل: ډاکتران
- څنډني توکي: په هفته کې د پروسې وخت يې ښوولی

- څنډني توکي: دوه ځلې د پروسې اندازه يې ښوولې.
- پروسه : د راتګ وارو

په پورته غونډله کې د ماهیت له مخې څنډن توکي د پروسې شمېر(دوه ځلې) او په ترتیب سره د پروسې وخت(په هفته کې) مورِ ته راښيي.

۷ـ هغې کټ کټ وخندل (شپون، ۱۳۷۹: ٦۰) .

- هغې: د غونډلې لومړی اساسي برخه او اغېزمن
- کټ کټ: قیدونه او څنډني توکي
- وخندل: پروسه

په پورته غونډله کې(کټ کټ) د پروسې حالت راښيي او د ماهیت له مخې د حالت څنډن توکي دي.

۸ـ شاترینې په خوش طبعۍ وخند (شپون، ۱۳۷۹: ۵۷) .

- د پروسې فاعل: شاترینه
- څنډني توکي: په خوش طبعۍ
- پروسه: وخندل

۹ـ ته خپلې خبرې کوه (شپون، ۱۳۷۹: ۴۴) .

- ته: د پروسې فاعل
- خپلې خبرې: څنډني توکي او قیدونه
- کوه: پروسه

۱۰ـ مازیګر مهال مې کوشش وکړ (شپون، ۱۳۷۹: ۳۵) .

۴. ۱. ۵ـ په شین ټاغي ناول کې د پېښو د کارېدلو لاملونه

۴. ۱. ۵. ۱ـ د پېښو طبعي کېدل

په لنډو کیسو، ناولونو او یا نورو هنري نثرونو کې پېښې راوړل یو طبعي کار دی او د لیکوال هڅه داوي، چې پېښې راوړي. کله چې داپېښې پخپل اصلي حالت راوړي. دا

طبیعي پېښې دي. یعنې کله چې لیکوال او د هنري نثر لیکوال پېښې راوړي او هغه په نورو الفاظو ونه لیکي، نا اشنا نه یې نه کړي، انځوریزې نه شي، د حسي کېدنې څخه یې وساتي؛ نو دا پېښې بیا طبعي پېښې دي او دا طبعي پېښې په هر هنري نثر کې موجودې وي. په ځینو نثرونو کې لږ وي او په ځینو نثرونو کې بیا ډېرې وي. ما چې کله د استاد شپون شین ټاغی ناول ولوست، دا طبعي پېښې مې هم پکې ولېدې او ومې غوښتل، چې دا پېښې هم راوړم؛ ځکه زما د څېړنې یو سرلیک په شین ټاغي ناول کې د پېښو طبعي کېدل دي او یا هم د طبعي پېښو راوړل دي.بله مهمه خبره داده، چې وروسته بیا دا پېښې څه ډول انځوریز شوې اویا هم عیني شوې، چې بیا به وروسته په دې برخه بحث وکړم. د پېښو عیني کېدل هم ښایي د ځینو انځورونو او ځینو منظره کښنې په وسیله رامنځته شي. د منظره کښنې په باب فضل الرحمن همت په خپل تېزس کې لیکلي دي:((منظره کښنه د داستاني ادب هغه برخه ده، چې د زمان، مکان، فضا، حالت او د کرکټرونو د تعامل له لارې د داستان روح او روان پخوي، مکان یې د پېښو بستر جوړوي، که دا یو کلی وي، یو کور، یوه مدرسه او یا یو ښار؛ نو د همدې ځای طبیعت او حالت د داستان له احساس سره تړاو پیدا کوي))(همت، د ماستریۍ تېزس ناچاپ).

په دغه نقل کول کې ښکاره شوه، چې په داستاني ادب کې، چې ناولونه هم د داستاني ادب یوه برخه بلل کېږي، پکې منظره کښنه یو اساسي ټکی دی. د همدې منظره کښنې په وسیله د ناول پېښې انځوریزې کېږي او د پېښو د انځوریز کېدو په وسیله پېښې عیني کېږي او له ذهني حالت څخه عیني حالت ته راوځي. ټاکل شوي ناول کې پېښې ډېرې دي او دا پېښې هم د انځور او منظره کښنې په وسیله عیني شوې. اوس راځم، د همدې برخې لاښې توضیح ته؛ خو لومړی په شین ټاغي ناول کې د طبعي پېښو څېړلو ته. لاندې جملو ته پام وکړئ:

۱ـ دا درې ورځې کېدې چې زه په شین ټاغي کې ګیروم، بلکې دواړه ګیر وو، د بهر سره مې د ارتباط وسیلې یوه لنډې خبرې رادیو وه او بله همدا کړکۍ چې مابه د هغې نه ددې هیبتناک چاپیال نندارې کوله (شپون، ۱۳۷۹: ۲).

پورتنۍ جمله کې راغلې پېښه یوه طبعي پېښه ده.منظور دادی، چې ښاغلی لیکوال په

شین ټاغي موټر کې بند پاتې دی او موټر هم بند پاتې دی او کټ مټ يې همغه پېښه راوړې. خو د همدې جملې بله برخه بیا یوه پېښه انځوروي، چې شین ټاغی هم ګیرو و او دا یو ښه انځور بلل کېږي. دا ډول پېښې راوړل طبیعي پېښې دي.

۲ـ شین ټاغی زما د ګرځنده کور نوم و، په اصل کې لوی ټپلر و، چې به جرمني کې مې اخیستی و. کلیوالو وربانديې د شین ټاغي نوم اېښی و (شپون، ۱۳۷۹: ۲).

په دغه جمله کې هم لیکوال ویلي، چې زما ګرځنده کور شین ټاغی و، چې په اصل کې هغه لوی موټر و، چې په جرمني کې يې اخیستی و او دا پېښه هم یوه طبیعي پېښه بلل کېږي، چې هېڅ ډول انځورپکې نشته او نه پکې کومه د حسي کېدنې ښکلا پکې شته.

۳ـ په هماغه جرمني کې مې د موټر ټول ماشین او پرزې نوې کړې او وطن ته روان شوم.د جرمني نه یوګوسلاویې ته، بیا بلغاریې او بیا ترکیې ته لاړم. هلته اوګوټ کې د استانبول نه ترابزان ته او بیا د ایران له لارې په دوو هفتو کې افغانستان ته ورسېدم (شپون، ۱۳۷۹: ۳).

د موټر د ماشین د پرزو نوي کول او یا د ټول ماشین نوي کول، کومه داسې خبره نه ده، چې یا انځوریزه شوي وي او یا حسي کېدنه پکې وي. له دې سره په څنګ کې د جرمني نه راتلل د یوګوسلاویې له لارې ترکیې ته او بیا ایران او بالاخره افغانستان ته. دا پېښط هم طبعي دي او کېدای شي. دا ډول پېښو ته طبعي پېښې وایي.

۴ـ د مقاومت د ښاري پاڅون پیل ته شپږ ورځې پاتې وې او زه به دا وسلې څنګه پخپل وخت ور ورسوم (شپون، ۱۳۷۹: ۲).

په دغه جمله کې ذهني انځور نشته او پېښه يې کټ مټ په خپله اصلي بڼه راوړې او طبعي ده، چې همدا د پېښو طبعي کېدل دي.

۵ـ کلي ته په رسېدو مې موټر د کاله شاته ودراوه.بیا نو د کلیوالو وربانديې وار نه و. زه او زما ستړي مشي هېره وه. د خارج د تګ نه مې پخوا زیات قدر و او چې د کابل د علي آباد د روغتون نه په رخصتي کلي ته راغلم نو د مریضانو به راباندې وار نه و. مګر اوس زه هېر وم او بس د موټر نندارې ته به د نړدې لرې کلو خلکو لام جوړ کړی و (شپون، ۱۳۷۹: ۴).

کلي ته رسېدل او په کلي د خپل کورشاته د موټر درول هم کوم داسې یو عمل او پېښه نه ده، چې کوم انځور پکې راغلی وي او یا هم ناآشنا شوې وي؛ بلکې پخپل اصلي

حالت راوړل شوې او طبیعي ده.

٦ـ مور مې زه تم کړم.شیطانه ته خو پوهېدې چې پلار دې په زیارتونو مین دی. نو په دې خبرې کې دې څه مطلب و؟

ما ورته وموسل، ته هم را سره لاړه شه، چې دا ملکونه دربانديې وګورم. هغې وویل ته خوورځه پلار ته دې ووایه، ګوندې هغه یې هم ومني. زه چې د پلار کوټې ته وروانېدم؛ نو په هغه خپله شیطان وزمه خندا مې مورته کړه، ولې مې کړوې زه پوهېږم چې تا او آبامې لا دې وخته د سفر موزې په پښو کړې وې

(شپون، ۱۳۷۹: ۵) .

د مور لخوا تم کېدل داسې یو څه نه دي، چې کومه پېښه یې ناآشنا کړي وي او یا ذهني او یا هم خیالي انځور پکې راغلی وي؛ بلکې طبعي پېښه یې راوړې ده. بل د ډېرى خلک زیارتونو ته ډېر درناوی لري او د ښو خلکو زیارتونو ته درناوی پکار دی او دا ډول پېښې اکثره په کلو او بانډو کې لیدل کېږی، چې د شین ټاغي د ناول پلار هم په زیارتونو مین و او دا هم یوه طبعي پېښه ده. دا ډول پېښې په شین ټاغي ناول کې ډېرې دي او د ټولو راوړل ښایي مناسب نه وي او زه هم د همدې برخې بل عنوان چې د پېښو انځوریز کېدل راځم.

۴. ۱. ۵. ۲ـ د پېښو انځوریز کول

په هنري نثرونو او شعرونو کې پېښې انځورېزې کېږي. دا انځوریز کېدل یې په خپله لیکوال یا شاعر کوي او هڅه کوي، چې داسې الفاظ د خپل مطلب د افادې لپاره وټاکي، چې په لوستوونکو او یا اورېدوونکو ښه اغېز وکړي.پېښې اصلاً طبعي وي؛ خو کله چې لیکوال وغواړي، دا پېښې له خپل اصلي حالت څخه یو بل حالت ته بوځي او هغه ناآشنا کړي، بیا پېښې انځوریزې کېږي. د انځور جامه خیال دی. دلته د تصویر او تصور ترمنځ هم توپیر شته. تصور د ځان سره بوختېدل دي او تصویر د یو شي عکس کښل دي، چې څه نا څه د واقعیت سره تړاو لري او څرنګه چې د چا څېره وي هماغسې یې تصویر کښل کېږي. په عکاسی کې تصور لاس نه لري؛ خو په تصویر او انځور کې او په تېره بیا د

کلماتو په وسیله په انځور جوړونه کې خیال او تصور لوی لاس لري.د خیالونو په وسیله د کلماتو په بله بڼه راوړل د کلماتو نا اشنا کول هم وایي.استاد ښکلي لیکلي دي:((ژبه د انځور په مټ محتوا لېږدوي. ویناوال چې په عادي ژبه غږېږي، زموږ په ذهن کې انځوریزې فضاوې جوړوي او په مټ یې خپل پیغام رارسوي))(ښکلی، ۱۴۰۲: ۴۰۸) .

د انځور یوه ګټه دا هم ده، چې لوستونکو یا اورېدونکو ته پیغام د خوند په جامه کې ورکوي او دا انځورونه خوځنده وي او رنګونه هم پکې په حرکت کې وي، چې څوک یې ګوري یا یې لولي هغه هم په حرکت راولي او دغه حرکت په ذهن کې ښېرته د تصور له لارې پیدا کېږي (ازمون، ۱۳۸۹: ۴۵) .

انځورونه ډېر ډولونه لري؛ لکه: عیني انځور، حسي انځور، ذهني انځور، خیالي انځور، کلمه یي انځور او نور. د دغو انځورونو په مرسته، زموږ د هنري او داستاني ادب لیکوالو خپلې لیکنې موږ ته وړاندې کړې او د استاد ښکلي د خبرې په تایید د همدغو انځورونو په مرسته یې پیغامونه رارسولي او د لوستونکو په ذهن کې ځای نیولی دی.زه اوس غواړم، چې په شین ټاغي ناول کې د پېښو انځوریز کول وڅېړم او ستاسو مخې ته یې کېږدم.

۱ـ د کړکۍ نه سالنګ رسا سپین ململ و، چې تقریباً هوار غوړېدلی و، د اوړي د وخت شپلې یې اوس هواره سپینه مځکه وه (شپون، ۱۳۷۹: ۱) .

په یاده غونډله کې څو انځورونه شته، د سالنګ تشبیه د سپین ململ سره او هغه په ژمي کې د واورو له برکته دا یو انځور دی، چې لیکوال راوړی، دویم انځور یې هوارې شپلې د شپینې مځکې سره تشبیه کول دي. اصلاً دا یوه طبعي پېښه ده، چې سالنګ په ژمي کې په واورو پوښلی وي او خوړونه یې هم له واورو ډک وي؛ خو لیکوال په ښکلو الفاظو داسې ترتیب کړي، چې لوستونکي ذهن سم د لاسه همغه ځای ته ورولي او احساس یې راپاروي. دا ډول پېښې راوړلو ته د پېښو انځوریز کول وایي. په پورته غونډله کې د پېښې انځورونه د شرایطو په وسیله لا خوندورې شوي دي. هغه داسې چې (د اوړي د وخت شپلې یې له واورو ډکې وې)د اوړي د وخت شپلې په پورته غونډله کې شرایط دي او کله چې اوړی شي؛ نو هرومرو شپلې وچې وي، غرونو څخه واورې لېږې شوې وي

او کله چې ژمی شي بیا د سالنګ شپلې له واورو ډکې شي او ډېره واوره پرې پرته وي، چې حتا کمرونه یې هم پټ کړي وي، د واورې له امله یې سالنګ د سپین ململ سره ورته کړی او یوه ښکلې صحنه یې انځور کړې ده.یا له په لاندې نورو بېلګو کې:

۲ـ یو د تونل خوله وه، چې د کړکۍ نه داسې سره ورته وه چې بدن یې په سپین کفن پوښلی وي. بل هغه کمر و، چې څلور پینځه کلیومتره د تونل کینې خواته د سرک خواته راکړوپ شوی و او په دیواله باندې یې د واروې د تم کېدو ځای نه و او چې به د واورې په شېبو کې وقفه راغله او لمر به شو نو داسې سوربخون به ښکارېده لکه دپېغلې مخ چې چارچاپېر ترې سپین خادر تاوی شوی وي (شپون، ۱۳۷۹: ۱) .

په پورتني پراګراف کې څو انځورونه لیدلی شو. یو انځور د کمر راکړوپ کېدل دي، چې په خپله خو نه شي راکړوپ کېدلای؛ بلکې هغې ته یې حرکت ورکړی او لیکلي یې دي، چې د تونل خواته راکړوپ شوی و. دغې انځور ته حسي انځور هم وایي. بل د تونل خوله په واورو پوښلې وه، لکه مړی چې په سپین کفن پوښلی وي. دا ډول انځورونه عیني انځور جوړوي.له دې سره په لمر کې د کمر ښکارېدل، هغه هم داسې لکه د پېغلې مخ چې په سپین خادر پوښلی وي. دا انځور هم عیني انځور بللی شو. دا درې انځورونه لیکوال راوړي او پېښې یې انځور کړي دي. دا هغه وخت انځور شوې، چې کله لیکوال د ژمي په موسم کې په سالنګونو راتېرېږي او د داسې صحنو سره مخ کېږي. په پورته جمله کې د پېښې انځوریز کېدل د جملې د شریکبانې او د جملې د شرایطو له پلوه شوي دي. په دغه څو غونډلو کې شریکبانې(کمر، کړکۍ، تونل) راغلي دي اوشرایط(چې بدن یې په سپین کفن، څلور پینځه کلیومتره د تونل کینې خواته، په دیواله باندې یې د واروې د تم کېدو، د واورې په شېبو کې وقفه، لکه دپېغلې مخ چې چارچاپېر ترې سپین خادر) پکې موجود دي، چې ښکلي انځورونه یې رامنځته کړي او د همدې شرایطو په وسیله یې پېښې په خوندورو الفاظو کې انځوریزې کړي دي.

۳ـ دادرې ورځې کېدې چې زه په شین ټاغي کې ګیر وم، بلکې دواړه ګیر وو(شپون، ۱۳۷۹: ۲).

په دغه جمله کې د شخص ګیر کېدل په شین ټاغي کې، چې موخه ترې همغه موټر

دی او پخپله دشین ټاغي ګیر کېدل دا هم انځور جوړونه ده. موټر ته یې روح ورکړی او لیکلي یې دي، چې هغه هم راسره ګیر و، چې دا هم د پینځو حواسو په وسیله پېژندل کېږي او دا هم د پېښې انځورونه ده.بل دا چې په پورته غونډلو کې(شین ټاغی او زه) شریکباڼي دي او ورسره(دادرې ورځې کېدې) شرایط راغلي. د همدغو شریکباڼو او شرایطو په مرسته دا انځورونه جوړ شوي او پېښې یې انځور کړي دي.

۴ـ زما او شین ټاغي ځواني هم پخوالي ته رسېدلې وه(شپون، ۱۳۷۹: ۹).

په دغه غونډله کې انځور د شین ټاغي ځواني د پوخوالي حد ته رسېدل دي. موټر زړېږي، برزې یې ورستېږي، د کاره لوېږي؛ خو ځواني نه لري او که لري یې هم هغه نوی چې جوړ شي، ورته ویل کېږي، چې نوی موټر دی. دلته د موټر ځواني او هغه هم د پوخوالي حد ته رسېدل، دا یووه انځورونه ده او د کلماتو په وسیله یې ښکلې کړې. دلته تې شین ټاغي ته روح ورکړی او هغه یې ځوان بللی او دا هم عیني انځور بلل کېږي او هم خیالي. دا غونډله هم دوه شریکباڼي(زما او شین ټاغي) لري او ورسره شرایطو(ځواني پخوالي ته) راغلي. دیادونې وړ بولم، چې کله کومه پېښه انځوریزه کېږی، شریکباڼي او شرایط پکې ډېر اغېز لرلای شي. پورتنۍ بېلګې چې کومې راوړل شوې، د پېښو په انځوریز کېدلو کې هم شریکباڼي او شرایط موثر رول لري.

۵ـ د جلال آباد په ټوله لار مې زړه ژړغونی و. په بله ورز په رښتیا هم د پېښور په کوز تال کې وم.دهغې ورځې نه دوه کاله تېرېږي. د بدو ورځو یار شین ټاغي نه مې سم صفا فلاینکوچ جوړ کړ او بېرته مې آبي اوسپینې لیکې ورکړې. د قومندان د غوبل نښې مې پخپل لاس تړې پاکې کړې او بادۍ مې ورته بېرته نوې نوزې کړه. خو دواړه پوهېدو چې د زړه ستنې مو ماتې دي.د پېښور او سوات ترمنځ یې ګرځوم او چې په پیچومي خېژو نو دواړه زکیروي کوو.

هره هفته یو ځلې د شین ټاغي سره لکه ستن خوړلی په اسلام آباد او د پېښور په حیات آباد کې چې د رټل شوو افغانانو ځایونه دي کوځه په کوځه ګرځم او په تبجن انتظار خپله ورکه لټوم (شپون، ۱۳۷۹: ۷۴) .

په پورته متن کې د الفاظو انځور ګري شوې او د الفاظو انځور ګري د غوره نثري

ليکونکي ځانګړنه ده. ډېر ځله د هنري نثر ليکوال يوه پېښه او يا يوه منظره کښنه زمونږ مخې ته داسې دروي، لکه مونږ چې ورسره وو او په سترګو يې وينو او ننداره يې کوو. دلته استاد شپون هم ځينې پېښې ښې انځور کړې، لکه شين ټاغي ته يې چې روح ورکړی اوويلي يې دي، چې« خو دواړه پوهېدو چې د زړه ستنې مو ماتې دي ... او چې په پېچومي خپڑو نو دواړه زکيروي کوو » او يو ښه انځور يې جوړ کړی او داسې فکر کولی شو، چې شين ټاغی جسم او روح دواړه لري. د انځور جوړونې په باب ښاغلي رحماني ليکلي دي:((...انځورونه او منظره کښنه، تر کمرې، فلم او تر بل هر اصلي او مستند بيان ډېر موثر تمامېږي او ډېر ژر زمونږ عواطف او احساسات هم په خوځښت راولي چې دا ډول لفظي انځورګري نه يوازې چې ليکنې او شعر ته تلپاتې ژوند ور په برخه کوي، بلکې د مخاطب احساسات هم ډېر ژر خپلولی شي او پنځوونکی يې خپلې موخې ته ژر رسېږي))(رحماني، ۱۳۹۴: ۲۹) .

۴. ۱. ۵. ۳ـ د پېښو عيني کول

د هنري نثرونو ليکوال دا هڅه هم کوي، چې ځينې پېښې د لوستونکو او اورېدونکو د جذب، د هغوی د عاطفې او احساس د پارولو لپاره داسې راوړي او يا يې هم داسې انځوريزې کړي، چې له اصلي حالت څخه ووځي او ژور پام ورته وکړي. او يا هم په دې خاطر چې د لوستونکو پام داسې راواړوي او پر هغوی داسې ژور اغېز وکړي، چې ګواکې دوی هم هملته موجود دي.

د پېښو عيني کول هم د انځورونو په وسيله کېږي. مانا دا چې کله يو ليکوال وغواړي، خپل مطلب نورو ته په ښه ډول ورسوي؛ نو پېښې په داسې الفاظو سره پيې، چې لوستونکي تر تاثر لاندې راولي. دلته د ليکوال د مفاهيمو د بيان ژبه سېمبوليکه وي، ژبه يې انځوريزه وي او خپل هدف مستقيماً نه بيانوي. د داسې پېښو بيان هم هر ليکوال نه شي کولای؛ بلکې د هنري نثرونو ليکوال، شاعر، د داستاني ادب او داستاني نثر ليکوال يې د پياوړي تخيل په مرسته کولای شي. مصطفی سالک پخپل کتاب منشور کې ليکلي دي:((تخيل دی، چې پوهه منځته راوړي، پوښتنې مطرح کوي او د هغې حل لارې

وړاندې کوي))(سالک، ۲۰۱۳: ۱۱٦) .

کله چې پېښې عيني کېږي، ترې موخه داده، چې ليکوال د عيني انځورونو په وسيله پېښې له اصلي حالت څخه عيني حالت ته بيايي او بيا د پينځه ګونو حواسو په وسيله د درک وړ ګرځي. بې روحه څيز ته روح ورکوي او يا هم بې جسم څيز ته جسم.عيني انځور په متحرک او يا غير متحرک ډول هم وي. متحرک انځور په حرکت کې وي او غير متحرک انځور په نا متحرک ډول وي، حرکت نه لري. که دا خبره څومره سره وشنو، بيا دې پايلې ته رسېږو، چې د پېښو عيني کول، د بېلابېلو انځورونو او انځور جوړونې په وسيله کېږي.

د انځور جوړونې په مرسته حسي کېدنه هم رامنځته کېږي، چې دا هم د نثر ليکنې ښکلاييزه پروسه ده، چې پرمټ يې ليکوال د حواسو له لارې پېښې عيني کوي، د درک وړ يې ګرځوي او د يوې پديدې په پېژندلو کې د لوستونکو حواس ښهداروي او په اغېزناک ډول يې تر لوستونکو رسوي، چې مفهوم پرې ښکلی کېږی (Hakimi، ۲۰۲٦: ۷۵ـ۸۳) .

دپېښو او پديدو د عيني کولو د لاښې پېژندنې لپاره غواړم، چې د شين ټاغي ناول څخه ځينې نمونې راوړم:

۱ـ په بله ورځ مې ورور د شين ټاغي په سمبالولولګيا شو او زه لاړم په باغ کې وګرځېدم، بيا د شولو پټو ته لاړم او ښايسته شېبه مې د هغو د وړمو د اټن نندارە کوله، چې د اوړي د نري شمال سره يې څنګې اچولې او د چنچنو سيلونه ټيټ پرې الوتل او دومره لوی او ګڼ سيلونه وو، چې د شنو شولو په سر تور سوری ورپسې روان و. په چوپه خوله مې د کلي سره چې د ژوند د نيمايي نه زيات کالونه پکې تېر کړي وو خدای پامانې وکړه (شپون، ۱۳۷۹: ۱۱) .

په پورته نقل شوې ټوټه کې ليکوال څو ښکلي انځورونه راوړي. دا انځورونه د شريکبانو او شرايطو په وسيله رامنځته شوي. شريکبانې(مې، ، زه، ورور) دي او شرايط(شين ټاغی، په باغ کې، د شين ټاغي په سمبالولو لګيا، د اوړي نری شمال او...) دي. دا شرايط او دا شريکبانې د دې سبب شوي، چې پېښې انځور کړي او د همدغې انځورونو په وسيله يې پېښې عيني کړي دي. لومړی انځور دا دی، چې (د شولو د وړمو د اټن نندارە کول) شولې جسم لري، نباتات دي غټېږي، لاکن د شولو وړمې يو خيالي انځور

دی او د شولو د وړمو نندارہ هم یو خیالي انځور دی او ددغه خیالي انځور په وسیله یې پېښه عیني کړې او هغوی ته یې یو روح ورکړی، هغوی یې په حرکت راوستلي دي او لوستونکی داسې فکر کوي، چې ښځتیا هم د شولو وړمې به اټن کوي او خلک به د هغوی نندارہ کوي.بل دا چې د (شولو د څنې اچول د اوړي د نرۍ شمال سره) دا بل انځور دی. دلته موخه داده، چې د شولو څنې هماغه پخپله شولې دي، چې ښایي وړي به یې کښلي وو او د شولو وړي یې د شولو څنې بللې دي او بیا ورسره د اوړي نرۍ شمال بل انځور ډېر لګېدلی، چې په ښځتیا سره هم څنې د شمال په وسیله یوه خوا بله خوا لوېږي او دا بل ښکلی انځور دی او پېښې پکې عیني شوي دي. بل انځور دادی، چې کله شولې وړي وباسي؛ نو هرو مرو چنچنې یا(مرغۍ) پرې ګرځي او شولې خوري او سېل سېل راځي کښېنې الوځي او ځي. دلته د شولو پر سرونو د چنچنو ګرځېدل په داسې یوه بڼه، چې حتا د چنچنو سیل د سیوري په بڼه ښکاره شوی. دا یو بل ښکلی انځور دی، چې لیکوال راوړی او پېښې عیني شوي دي او بلاخره په چوپه خوله د کلي سره خدای پامانې کول هم یوه ښه صحنه جوړکړې. دا ټول هغه څه دي، چې پېښې عیني شوي دي.

۲ـ د کیله ګي یو بل شی چې زما تر اوسه یادېږي، هغه یو عجیب شانې ښکار و.خلکو به دلته باښې نیولې او بیا یې د اورېدو د قراره په عربو خرڅولې. زه به چې خان اباد ته د تګ په لاره کې دلته راپېښ شوم، نو لیدل به مې چې یو سړی لګیا دی، یوه رسۍ په هوا کې جورلي. دا رسۍ تقریباً دېرش څلوېښت متره وه او نه پوهېدم چې دایې څنګه په هوا کړې ده. د نژدې نه مې چې هغه ولیدله نو یو سر یې د سړي په لاس کې و نرۍ او هغه بل سر یې پرېږ او دروند و او ښکار ځن به نیم ساعت په هوا کې تاوولې. تر څو به د کاغذ پران په شان د هغې دروند سر هوا ګیر شو، د پرې په هواګیر سر کې د سنیو غونډاری و، چې په هغې کې لومې وې، د غه د سنیو غونډاری داسط جوړ شوی و، لکه مرغۍ، ګویا باښې به چې ولیده نو د مرغۍ ګومان به یې پرې وکړ او غوټه به یې پرې وکړه بیا به نو د سنیو په وړیو او لومو کې ونښته او سوټه بوټه به کوزه راپرېوته (شپون، ۱۳۷۹: ۱۴ـ ۱۵) .

په پورته متن کې څو انځورونه شته او پېښې عیني شوي دي. دا انځورونه د(زما، کیله ګی، رسۍ) اونورو شریکباټو او همدا راز د شرایطو(یو بل شی، عجیب شانې، اوبیا یې د

اورېدو د قراره په عربو او...) نورو شرایطو له امله خوندور شوي او پېښې هم د همدې شریکبانو او شرایطو له امله عیني شوي دي. دا انځورونه دادي: لومړی دا چې خان آباد ته تګ په لاره په کیله ګي کې د خلکو له لوري د باښو نیول او هغه هم د څلوېښتو مترو په رسۍ سره. دا یو انځور دی او پېښه یې عیني کړې او ورسره یو خیالي انځور هم دی، چې څلوېښت متره رسۍ به څرنګه پورته کېږی او بیا به نیم ساعت په هوا کې تاوېږي. بل دا چې د خلکو له لوري د باښو نیول امکان لري؛ خو په دام او لومو سره. د پرې په یو سر کې لومې وې او د همدې لومو په مرسته یې باښې نیولي دي.

۳ـ مازیګر هوا مخ په سړېدو وه. تورې ورېځې له غرونو راښکته شوې او ورسره پرخ پرخ باران راغی، دواړه موټر ته وختلو او باران زیاتېده، د سیند په مخ یې بړ بوکۍ جوړولې، شاترینې جای دم کړ او دواړو وربانډ ځانونه تودول او بهر مو د باران نندارە کوله چې اوس یو نیم څپولی واوره هم ورسره ګډه و (شپون، ۱۳۷۹: ۵۹) .

دلته هم ځینې انځورونه راغلي او پېښې یې عیني دي. لومړی انځور مازیګر مهال هوا سړېږي او ورسره د تورو ورېځو راښکته کېدل له غرونو څخه، پرخ پرخ باران هم یو ښه انځور دی او د باران زیاتېدل او د سیند په مخ یې بړبوکۍ جوړېدل یو بل ښکلی انځور دی، چې په مټ یې پېښې عیني شوي دي.بل دا چې په داسې یوه فضا کې د چای دمول او پرې ځان ګرمول او د موټر نه بهر د باران نندارە کول هم یوه عیني پېښه بلل کېدای شي.

۴. ۲ـ په شین ټاغي کې د وګړنځي بر چار څېړنه

وګړنځی برچار د هالېډې د چاروال ګرامر دویم برچار دی. دا برچار څرګندوي چې ویناوال د ژبې له لارې له اورېدونکي سره څنګه اړیکه جوړوي، خپل نظر، احساس، قضاوت، غوښتنه، امر، پوښتنه او باور څنګه څرګندوي.دا چې واضح شوه، چې وګړنځی برچار د دوو وګړو ترمنځ د خبرو او مکالمې تعامل راښیي؛ منظور دادی، چې په وګړنځي برچار کې راکړه او ورکړه کېږي. د دوو کسانو او یا د ډېرو کسانو ترمنځ مکالمې د راکړې ورکړې پر بنسټ سرته رسېږي. راکړه او ورکړه د وګړنځي برچار اساسي برخه جوړوي، چې دا راکړه او ورکړه په لاندې برخو کې راښکاره کېږي. په دغه برچار کې نه یوازې چې وینا وال یوه موضوع بیانوي؛ بلکې د یو چا هم سره غږېږي. د دې برچار برخې دادي:

۴. ۲. ۱ـ وجه

د هالېډې له نظره په ژبه کې د شیانو، معلوماتو او خدمتونو ورکړه او غوښتنه په فقره او غونډله کې ښکاره کېږي، په دې خاطر د فقرې نقش په وجه کې معلومېږي. د غونډلو وجهې هم په راکړه ورکړه کې ښکاره کېږي. یعنې راکړه ورکړه، چې کله د دوو کسانو او یا د ډېرو کسانو ترمنځ نه وي؛ نو وګړمنځی برچار اصلي موخه لاس ته نه راځي. وجه یو نحوي واحد دی او په درو ډولونو وېشل کېږي:

۴. ۲. ۱. ۱ـ خبري وجه

د خبري وجهې نقش مخاطب ته د معلوماتو لېږدول دي، په نامستقیم ډول د وړاندیز او غوښتنې لپاره هم کارېږي. د خبرې وجهې مثالونه په شین ټاغي ناول کې دادي:

۱ـ زما د پلار د ونو سره جوړوه وه (شپون، ۱۳۷۹: ۷۵) .

په دې جمله کې خبري وجه شته او د همدې خبري وجهې په وسیله یې معلومات مخاطب ته لېږدولي. دا جمله د دې بیان کوي، چې لیکول له بل چا سره خبرې کوي؛ نو ځکه ورته وایي، چې زما د پلار له ونو سره جوړه وه، یعنې د ونو د کښولو او ساتلو سره یې علاقه وه. د دې وجهې نقش هم دادی، چې مخاطب ته معلومات لېږدوي.

۲ـ د جلال آباد په ټوله لار مې زړه ژړغونی و (شپون، ۱۳۷۹: ۷۴) .

دا غونډله هم د تېرې غونډلې په څېر مخاطب ته معلومات لېږدوي، چې همدا د خبري وجهې نقش هم دی. دلته هم لیکوال له چا سره خبرې کوي او دا خبره ورته کوي، چې ټوله لار مې ژړل، یعنې خفه وم. د داسې وجهې راوړل خبري وجه جوړوي.

۳ـ زما د پلار دوست پیر علي نیم تاجک و، نیم هزاره (شپون، ۱۳۷۹: ٦٦) .

که پورتنۍ جملې ته ځیر شو؛ نو دا ښکاره کېږي، چې لیکوال د چا سره په خبرو او مکالمې بوخت دی او دا خبره ورته کوي، چې زما د پلار دوست پیر علي نیم تاجک و او نیم هزاره. کله چې دا داسې معلوماتو لېږد په غونډلو کې وشي، خبري وجه جوړوي.

۴ـ زما د پلار د مړینې فاتحه یې راکړه (شپون، ۱۳۷۹: ٦٦) .

که دغې جملې ته ځیر شو؛ نو داسې ښکاري، چې پخپله لیکوال ځان مخاطب

کړی او متکلم یې پیر علي دی. د متکلم څخه مخاطب ته د معلوماتو لېږدول د خبري وجهې په وسیله کېږي او دا د خبري وجهې نقش هم دی.

۵ـ شین ټاغي ته مې پناه ویوړه او د سوات په لین کې مې چلاوه (شپون، ۱۳۷۹: ۷۹) .

دا غبرګګونډله ده. لومړی غونډله هم خبري وجه لري او دویمه غونډله هم خبري وجه لري. دا دواړه غونډلې د خبرو اترو په وخت کې ویل شوي دي او مخاطب ته معلومات ورکړل شوي. کله چې په یوه غونډله کې مخاطب ته معلومات ورکړل شي، خبري وجهې په نوم یادېږي او همدا د ځان په اړه معلومات ورړاندې کول، چې په پورته غونډله کې وړاندې شوي، د خبري وجهې نقش هم یادېږي.

٦ـ و میاشتې د ډاکتر زړور پیغام رانغی (شپون، ۱۳۷۹: ۷۸) .

دا جمله هم مخاطب ته معلومات ورکوي او خبري وجه یې منځته راوړې او د همدې معلوماتو لېږد، د خبري وجهې نقش بلل کېږي.

۷ـ خو یوه ورځ مې بازي په بازار شوه (شپون، ۱۳۷۹: ۸۲) .

د بازي په بازار کېدل هم د دې وضاحت کوي، چې دوه کسان یو له بله مکالمه کوي او لومړی شخص دویم شخص ته معلومات ورکوي او یا هم نکل ورته کوي. د داسې یوې پېښې کېدل خبري وجه منځته راوړي او د همدې معلوماتو لېږد، د خبري وجې نقش بلل کېږي.

۸ـ هغه په ګیلنه کې سرې اوبه راوړې (شپون، ۱۳۷۹: ۸۳) .

دا هم خبري وجه ده؛ ځکه چې درېیم وګړي په ګیلنه کې اوبه راوړې او لومړی شخص دویم شخص ته دا معلومات ورکوي. د دې ډول معلوماتو ورکول خبري وجه جوړوي.

۹ـ عبدالرحمن غوږونه څک کړل (شپون، ۱۳۷۹: ۱۵۱) .

په دغه جمله کې د عبدالرحمن غوږونو څک کول، هغه معلومات دي، چې مخاطب ته یې ورکړي او د همدغو معلوماتو ورړه، خبري وجه ده او دا یې نقش هم بلل کېدای شي.

۱۰ـ په همدې وخت کې یوه دوړه په سړک راروانه وه او دهغې نه یو ډاتسن پیدا شو، سیده

په موږ راغی (شپون، ۱۳۷۹: ۱۵۱) .

دا جمله هم خبري ده او خبري وجه لري. په دې جمله کې هم معلومات ورکړل شوي او مخاطب ته يې د پېښې په اړه معلومات ورکړي. دا چې خبري وجه يې جوړه ړې او دا يې نقش هم دی. د داسې مفاهيمو وړاندې کول، د وګړمنځي برچار له مخې خبري وجه بلل کېږي.

۱۱ـ زه هم نه ځم (شپون، ۱۳۷۹: ۱۵۲) .

دلته هم معلومات ورکړل شوي، چې زه نه ځم او فعل منفي شوی هم دی. مخاطب ته معلومات ورکول، که مثبت وي او که منفي، خبري وجه منځته راوړي او دا يې بيا منفي نقش هم تلقي کېدای شي.

۱۲ـ زه يو ځلې ځم، د تورن مريضان ګورم (شپون، ۱۳۷۹: ۱۵۲) .

دلته معلومات په مثبته بڼه ورکړل شوي او فعل يې مثبت دی. له دې سره په ځنګ کې د تورن د مريضانو حال هم ورکړل شوی، چې دا هم خبري وجه بلل کېږي او کله چې په يوه غونډله کې، مخاطب معلومات ورکړل شي، خبري وجه جوړوي.

۱۳ـ زه د جنګي مريشانو په ډاکټری د تانه ښه پوهېږم (شپون، ۱۳۷۹: ۱۵۳) .

په دغه جمله کې مخاطب د کتاب ليکوال دی او خبرې کوونکی(لومړی شخص) هغه بل ډاکتر دی، چې د شين ټاغي د ليکوال سره مل و. بلکې دی ورسره مل و او دته معلومات ورکوي.

په يوه غونډله کې د داسې پېښو وړاندې کول، چې معلومات پکې وړاندې شوي وي، خبري وجه بلل کېږي.

۴. ۲. ۱. ۲ـ پوښتنې وجه

په پوښتنې وجه کې اساس د معلوماتو غوښتنه ده. يعنې په دې وجه کې کله چې څوک د چا څخه معلومات غواړي، د پوښتنې په بڼه يې ترې غواړي او په دوه ډوله تر سره کېږي. د دې وجهې د لاښې توضيح لپاره لاندې بېلګو ته پام وکړئ:

۱ـ ما ترې پوښتنه وکړه، چې اې داکټره، اې ساده سړيه، ولې دې ځان بې خايه تباه

کړ؟

ولې؟

هو ولې؟

نو بله لار وه؟

هو

ته يې راوښيه؟(شپون، ۱۳۷۹: ۹۳)

په پوښتني وجه کې د معلوماتو غوښتل دي، د پوښتنې په وسيله. په پورته فقرو کې د ډاکتر زړور څخه پوښتنې شوې، چې تا ولې ځان له منځه يوړ او ځان دې تبا کړ. هغه ورته وايي، چې بله لار مه نه درلوده او که بله لار وي، ته يې راوښيه. کله چې دا ډول غوښتنې په فقرو او غونډلو کې وشي، د وګړنځي برچار له مخې ورته پوښتنې وجه وايي. د همدې مکالمې په يوه برخه کې ليکي:

۲ـ د اسلام د پاره دې ځان وواژه؟

نه، اسلام زما تر زېړېدو پخوا هم و، اوس هم شته، زما په ژوندونې هم و او پې له ما به هم وي.

د وطن د پاره؟

نه وطن هم همداسې درواخله.

چې د دين او وطن د پاره نه و، نو اوس مې لږ ملا کړه چې د څه د پاره؟

د ځان د پاره.

څنګه؟

که ما دا قرباني نه واى ورکړې بيا مې سترګې ځان ته هم ټېټې وې.

څه مانا؟

ځان ناګاره مه اچوه ته هم پوهېرې او زه هم (شپون، ۱۳۷۹: ۹۳ـ ۹۴) .

په پورته مکالمه کې هم پوښتنې شوي دي؛ خو دا پوښتنې د معلوماتو د غوښتو لپاره شوي دي.

کله چې د معلوماتو غوښتنه د پوښتنې په بڼه تر سره شي او راکړه ورکړه پکې تر سره

شي. په دغه جمله کې هم پوښتنې شوې، غوښتنه شوې، راکړه ورکړه پکې شوې؛ نو پوښتنې وجه منځته راوړې. لاندې نورو بېلګو ته هم پام وکړئ، چې د مکالمې په بڼه شوي دي:

۳ـ چېرته یې؟

د دواب نه بهر.

تسلیم دې کړل؟

هو.

وسله؟

هو.

نقشه؟

هو.

خیر ویسې. ښځه دې فیصله کړه؟

نه.

زمونږ نفر ته دې وسپارله؟

نه.

کله یې فیصله کوې؟

نه یې فیصله کوم.

پوه نه شوم؟

نه یې وژنم. نه یې چاته ورکوم.

د مرکز امر دی؟

مرکز ته ووایه چې رنګ دې ورک شه.

دا نشي کېدای، چې ژوندۍ وي، ټول پلان خرابېږي؟

نه خرابېږي.

امر دی، تا تعهد کړی دی؟

ما خپل تعهد پوره کړ. نور تاسو پوه شئ کار مو.

نو ته زمونږ سره نه یې؟

خواخوږي لرم خو نور درکې نه یم (شپون، ۱۳۷۹: ٦٤ـ ٦٥) .

کله چې مکالمه دا ډول وشي، چې پوښتنې او ځوابونه وي او په پوښتنو کې د معلوماتو غوښتنه شوي وي. پوښتني وجه منځته راوړي.

۴ـ د شین ټاغي مخ ښېرته ګرځولې شې؟

ـ کوشش خو به وکړم، چې لږ رڼا شي.

ـ بس ښېرته کوز شه په هغه زړه لار لاړ شه؟

ـ هلته هم د شیبر نه سر کې د شنبل تنګی دی، چې په اوړي کې هم کنګل وي.

ـ شیبر ته مه ځه، په دواب او مېخ زرین کې به زمونږ سړي درته ولاړ وي؟

ـ یو مېلمه هم لرم.

ـ ناممکنه ده.

ـ بس د واورو د منځه راووت.

ـ رخصت یې کړه؟

ـ نه کېږي، سیاسره ده.

ـ سیاسره څه مرګ غواړي؟

ـ بس د واورو نه راووتله موټر یې اوښتی و.

ـ رخصت یې کړه، امر دی؟

ـ نه کېږي.

ـ مه خوګیانې کېږه، ختمه یې کړه، امر دی، په دواب کې به سره خبر شو؟(شپون، ۱۳۷۹: ۳۳)

دلته هم په ټولو پوښتنو کې د معلوماتو غوښتنه شوې او د معلوماتو غوښتنه، د فقرو نقشونه جوتوي او وجه یې پوښتنې ده.

۴. ۲. ۱. ۳ـ امري وجه

امري وجه هغه وجه ده، چې غوښتنه پکې د امر په بڼه شوي وي.یا که چېرې څوک له کوم

چا څخه په مثبته او منفي بڼه معلومات وغواړي، امري وجه بلل کېږي. د امري وجې لپاره به بېلګې د شین ټاغي څخه رانقل کړم.

۱ـ بس په حیا کې ښکته شه که ستا آمر ته تلېفون کوم (شپون، ۱۳۷۹: ۴۶) .

په یاده جمله کې غوښتنه شوې؛ خو د امر په بڼه. دا غوښتنه د موټر څخه کوزېدل دي او نور خو د جملې د سیاق نه معلومېږي، چې امر دی او دا امر په همغه کس شوی، چې موټر ته ورختلی و. کله چې یوه غوښتنه د امر په بڼه بیان شي، امري وجه بلل کېږي او دا غوښتنه په امري بڼه د جملې نقش هم دی.

۲ـ ده وویل: ته دې موټر د سیند له غاړې ودروه، موږ به نن شپه کچرې درولو او وسله به درنه بار کړو! (شپون، ۱۳۷۹: ۵۵)

په دغه غونډله کې هم امر شوی او د امر په وسیله یو څه غوښتل شوي. کله چې یو څه وغوښتل شي او هغه هم په آمرانه بڼه وي؛ نو امري وجه ورته وایي او د جملې نقش هم امري دی.د دې وجهې د لاښه وضاحت لپاره د شین ټاغي ناول څخه نورې بېلګې هم راوړم.

۳ـ ما ورغږ کړ، قومندان صاحب پام چې څوک سګریټ ونه لګوي، چې کیله ګي ته به دې اړتاو کړي! (شپون، ۱۳۷۹: ۷۱)

په پورته جمله کې هم امري وجه شته، هغه داسې چې لیکوال وایي ما ورغږ کړ او قومندان ته مې وویل، پام چې څوک سګریټ ونه لګوي. دا جمله امري ده، یوه غوښتنه د امر په بڼه شوې او امري وجه یې جوړه کړې.

۴ـ راځه همدلته شپه وکړه!(شپون، ۱۳۷۹: ۷۳)

دلته هم امري وجه شته او امر شوی، چې راځه نن شپه زموږ سره تېره کړه، یوه خبره د یادونې وړ ده، هغه دا چې دا جمله د غوښتنې بڼه هم لري؛ خو دا غوښتنه د امر په بڼه شوې او امري وجه یې جوړه کړې.

۵ـ سپرلیو ته مې کړه چې تاسو ټول کوز شئ، چې خبره درسره لرم (شپون، ۱۳۷۹: ۸۲) .

په دې جمله کې امري وجه د(ټول کوز شئ) په ژبنۍ ټوټه یا فقره کې ده. دلته خلکو ته امر شوی، چې د موټر څخه ښکته شئ او غوښتنه هم د امر په بڼه شوې او امري

وجه يې جوړه کړې ده.

٦ـ زه ډاکتر يم، ډاکتر محرم وي، پروا مه کوئ (شپون، ۱۳۷۹: ۸۳) .

په پورته جمله کې امري وجه د (پروا مه کوئ) په ژبنۍ ټوټه کې شته. دلته هم مخاطب ته ويل شوي، چې تشويش ونکړي. غوښتنه تري شوې.

۷ـ ځان راټول کړه، په وريندارې باندې ځادر وغوړوه (شپون، ۱۳۷۹: ۸۴) .

په دغه جمله کې هم امر شته. د(ځان راټول کړه او ځادر وغوړوه) دوه ځايه امر شوی او وجه يې هم امري ده. کله چې غوښتنه د امر په بڼه شوې وي، امري وجه بلل کېږي.

۸ـ مه خوګيانۍ کېږه، ختمه يې کړه، امر دی (شپون، ۱۳۷۹: ۳۳) .

دلته هم امر شوی، چې مه خوګيانۍ کېږه او هغه مطلوب شخص ختم کړه او له منځه يې يوسه. د داسې وجهو راوړل امري وجه بلل کېږي.

۹ـ بيه وکړئ!(شپون، ۱۳۷۹: ۱۵۱)

۱۰ـ بس کښتۍ ته خېژئ!(شپون، ۱۳۷۹: ۱۵۱)

په پورته دواړو فقرو کې امري وجهې شته. د (خېژئ او وکړئ) پروسې امري دي او مخاطبينو ته امر پکې شوی. کله چې په يوه پروسه يا فعل کې امر شوی وي او يا غوښتنه د امر په بڼه شوې وي، امري وجهې بلل کېږي.

۱۱ـ زړور درسره واخله او د باجوړ په سالارزو کې د ډانډوکی د ملک خيردين کره زما انتظار وباسئ! (شپون، ۱۳۷۹: ۱۵۲)

په پورته جمله کې دوې امري وجهې شته. يوه امري وجهه په (واخله) او بله امري وجهه په (انتظار وباسئ) په فعلونو کې موجوده ده. د يادونې وړ بولم، چې امري وجهې اوسمهال او راتلونکې مهال په پروسو کې موندلای شو او په تېرمهال پروسو کې نه شته.

۱۲ـ ته يې جراحي کوه!(شپون، ۱۳۷۹: ۱۵۳)

دا فقره هم په اوسمهال پورې اړه لري او وجهه يې امري ده؛ ځکه چې د (کوه) پروسه امري بڼه لري. امري وجهې په دوه ډوله موندلای شو، چې يوه يې مثبته بڼه ده او بله يې منفي بڼه ده. دا دواړه ډوله امري وجهې په شين ټاغي ناول کې شته.

۱۳ـ ما یوازې مه پرېږده!(شپون، ۱۳۷۹: ۱۵۳)

د(مه پرېږده) پروسه امري بڼه ده او وجهه یې هم امري ده. ځکه چې امر غوښتنه د امر په بڼه پکې راغلې ده.د مخاطب څخه غوښتنه شوې، چې ما یوازې مه پرېږده. مکالمه شوې، خبرې اترې شوې، راکړه ورکړه پکې شوې؛ نو ځکه امري وجه یې جوړه کړې اود وګړمنځې برچار له مخې ورته امري وجه وایي.

۱۴ـ بس ته څه!(شپون، ۱۳۷۹: ۱۵٦)

د (څه) کلمه امر دی او مخاطب ته ویل شوي، چې څه. وجهه یې هم امري بلل کېدای شي.

یوه خبره باید یاده شي، چې امري وجهې په مادي پروسو کې ډېرې وي او په نورو پروسو کې یا ښایي نه وي او که وي هم، کمې به وي.

۱۵ـ زما د آمر نوم وښیه!(شپون، ۱۳۷۹: ۱۴۷)

د (وښیه) پروسه امري وجهه لري. غوښتنه شوې په امري بڼه. کله چې داسې پروسې، چې غوښتنې په امري بڼه پکې شوې وي؛ امري وجهې بلل کېږي.

۱٦ـ تاسو به دواړه سم نه پوهېږئ! چې تاسو دلته څه کوئ! (شپون، ۱۳۷۹: ۱۲۵)

په پورته جمله کې امري وجهه د(سم نه پوهېږئ) په ژبنۍ ټوټه کې ده؛ ځکه چې امر پکې شوی . وړاندې مې وویل چې امري وجهې په مادي پروسو کې ډېرې راغلي دي؛ خو په ذهني پروسو کې هم شته، چې دا وجهه یې ښه بېلګه ده.

۱۷ـ ماته غوږ شئ!(شپون، ۱۳۷۹: ۱۲۵)

د پورته جملې پروسه ذهني ده؛ خو وجهه یې امري ده. امري وجهه په (غوږ شئ) په پروسه کې ده. امر پکې شوی او غوښتنه شوې.له دې وجهې څخه ښکاري، چې یو څوک شته، چې وینا وال ورته وایي، غوږ شئ! او راکړه او ورکړه هم پکې شوې ده.

۱۸ـ زه یې له لاسه ونیولم، چې راکوز شه!(شپون، ۱۳۷۹: ۸۵)

- راکوز شه: امري وجهه

دا وجه هم امري ده، د مکالمې په بڼه شوې. ویناوال مکالمه کوي، له یو چا سره خبرې کوي، غږېږي، غوښتنه کوي. کله چې داسې برخې په جملو کې راوړل شي، امري

وجهه بلل کېږي.

۱۹ـ تاسو همدلته پاتې شئ!(شپون، ۱۳۷۹: ۱۰۸)

- پاتې شئ: امري وجهه

دا جمله هم امري وجه لري. د امري وجهې ترڅنګ راکړه ورکړه پکې شوې او غوښتنه شوې، چې تاسو همدلته پاتې شئ! دا د مخاطب څخه غوښتنه ده، کله چې په یوه غونډله کې د یو چا څه غوښتنه وشي، د امر په بڼه نو امري وجهه بلل کېږي.

۲۰ـ دا عکسونه وګوره!(شپون، ۱۳۷۹: ۱۱۰)

- وګوره: امري وجهه

په پورته غونډله کې ویناوال مخاطب ته وایي، وګوره! امر ورته کوي. د امریې جملې په وسیله راکړه ورکړه تر سره کېږي. کله چې راکړه ورکړه تر سره شي، د وګړنۍ برچار له مخې ورته امري وجه وایي. په شین تاغي ناول کې دا ډول پروسې او دا ډول وجهې شته.

۲۱ـ ځان تیار کړه!(شپون، ۱۳۷۹: ۱۱۱)

- تیار کړه: امري وجهه

۲۲ـ دې ساعته آرام وکړه!(شپون، ۱۳۷۹: ۱۱۹)

- وکړه: امري وجهه

۲۳ـ مه وېرېږه.(شپون، ۱۳۷۹: ۱۲۴)

- مه وېرېږه: امري وجهه

۲۴ـ د یو نه تر لسو پورې حساب وکړئ!(شپون، ۱۳۷۹: ۱۲۷)

- وکړئ: امري وجهه

۲۵ـ بیا بېرته د لسو نه یو ته راشئ!(شپون، ۱۳۷۹: ۱۲۷)

- راشئ: امري وجهه

۲٦ـ وبه ګورئ!(شپون، ۱۳۷۹: ۱۲۷)

- وبه ګورئ: امري وجهه

۲۷ـ غږ به نه باسئ!(شپون، ۱۳۷۹: ۱۳۲)

- غږ به نه باسئ: امري وجهه

۲۸ـ لالا ته دې مینځوي سپټ ته شه!

- مینځوي سپټ ته شه: امري وجهه

دا جمله هم موږ ته دا خبر بیانوي، چې وجه امري ده او مکالمې کېږي او مخاطب ته وایي، چې مینځوي سپټ ته لاړ شه. دا ډول مکالمې او راکړه ورکړه، د وګړمنځي برچار له مخې امري ده.

۲۹ـ واخله! دا وخوره چې خوله دې لږ خوږه شي(شپون، ۱۳۷۹: ۱۳۵) .

- واخله: امري وجهه

دا جمله هم د راکړې ورکړې څخه حکایت کوي. ویناوال مخاطب ته وایي، چې دا څیز واخله او ویې وخوره. په جملو کې دا ډول مکالمې د راکړې ورکړې مکالمې دي او د وګړمنځي برچار اصلي برخه جوړوي. دا ډول مکالمې په امري وجه کې ډېرې وي.

۴. ۲. ۲ـ د وجهې ټوکونه

وجهه له درېو ټوکونو څخه جوړه وي او دا د وجهې ځانګړنې هم بلل کېږي. یا د همدې درېو برخو په لرلو سره وجهه پېژندل کېږي او وروسته د وجهې ډولونه ښوول کېږي، چې د وجهې ډولونه موږ وړاندې تشریح کړل. د وجهې ټوکونه دادي:

۴. ۲. ۲. ۱ـ اېښی(فاعل)

اېښې په دودیز ګرامر کې د فاعل معادل دی او یا فاعل هم ورته وایي؛ خو په چاروال ګرامر کې د اېښي څخه موخه یوازې فاعل نه دی؛ بلکې د نورو ګرامري چارونو غوندې مانیز توک هم بلل کېږي (حمیدزی، ۱۳۹۸: ۱۵۰) .

په یوه غونډ یا فقره کې اېښی هغه رغښتت دی، چې د وګړي او شمېر له مخې د اېښوني سره سمون ښیي او د یوه غونډ دنده په غاړه اخلي. د یادونې وړ ده، چې نومیز غونډ په اېښي کې راڅرګندېږي. د اېښي د پېژندنې لپاره لاندې جملې د شین ټاغي څخه راوړم:

۱ـ زه له آره د خرپ پر ځای د ترپ سړی یم (شپون، ۱۳۷۹: ۱۲) .

په پورته جمله کې اېښی او اېښونی یو له بله سمون لري او د جملې اېښی(زه) فاعلي نومځری دی او اېښونی یې(سړی یم) دی. د(یم) د ناخپلواک فعل (م) متحد، متصل، کومکی توری دی، چې د (زه) چې شخصي نومځری دی گردان شوی او سمون یې ښوولی دی.

۲ـ زه یې هم د ډرایور په حیث غوښتلم (شپون، ۱۳۷۹: ۱۲) .

په دغه جمله کې(زه) فاعلي ـ شخصي نومځری دی او دلته اېښی راغلی او (غوښتلم) د پروسې (م) د (زه) لپاره گردان شوی او(غوښتلم) پروسه اېښونی راغلې او د دواړو ترمنځ سمون رامنځته شوی.دلته ویناوال وایي، چې زه یې د ډرایور په توګه غوښتلم، یعنې مخاطب ښیي او چا چې غوښتنه ترې کړې او کوم بل څه (وسلې) به یې ترې غوښتي وي او ورسره یې دا غوښتنه هم کړې، چې ته به ډرایور هم وې. دا ډول مکالمې د وګړمنځي برچار اصلي برخې جوړوي.

۳ـ زه په لمانځه ولاړ وم (شپون، ۱۳۷۹: ۱۶) .

دلته هم (زه) چې اېښی دی، د (ولاړ وم)، چې اېښونی دی، سمون ښودلی دی. د(ولاړ وم) د پروسې(م) د (زه) لپاره گردان شوی.په دې جمله پسې بله جمله هم شته؛ خو دلته ځکه نه ده راوړل شوې، چې اصلي موخه ترې تر لاسه شوې او هغه موخه د اېښي او اېښوني سمون او مطابقت دی. د دې جملې د سیاق څخه معلومېږي، چې راکړه ورکړه پکې شته او په وګړمنځي برچار کې اصلي هدف هم دادی، چې راکړه ورکړه پکې تر سره شي.

۴ـ زه همداسې غلی ناست وم(شپون، ۱۳۷۹: ۲۳).

- زه : اېښی
- ناست وم: اېښونی

په دغه جمله کې(زه)اېښی دی او(ناست وم) اېښونی. د دواړو ترمنځ مطابقت هم شته، هغه داسې چې د (ناست وم)د کلمې(م) متحد، متصل توری دی او د لومړي شخص(زه) لپاره یې کلمه گردان کړې ده.

۵ـ زه هم یخنی ورخطا کړم(شپون، ۱۳۷۹: ۳۱).

- زه: اېښی
- ورخطا کړم: اېښونی

په پورته جمله کې (زه) اېښی واقع شوی او اېښونی (ورخطاکړم) راغلی دی. د (کړم) د کلمې (م) متحد، متصل، کومکی توری دی اوکلمه یې د (زه) لپاره ګردان کړې ده. د دواړو ترمنځ سمون شته او د جملې دسیاق څخه ښکارېږي، چې د دوو کسانو ترمنځ مکالمه شوې، دا ډول مکالمې د وګړمنځي برچار اساسي موخه جوړوي.

۴. ۲. ۲. ۲ـ مهالمن توک

مهالمن توک ژبنی عنصر دی، چې پېښه له انتزاعي حالته راوباسي او پېښې ته مهال او موقعیت ورکوي. د مهال څخه موخه درې مهالونه دي، چې پېښه په تېر، اوس او یا راتلونکي مهال کې شوې او د وینا له مهال سره د پېښې مهال هم ښکاره کېږي او پېښه ملموس کېږي (ښکلی، ۱۴۰۱: ۱۴۱).

د پېښې مهالونه هم په خپلواکو فعلونو کې ښوول کېږي او هم په ناخپلواکو فعلونو کې.د مهالمن توک د پېژندنې لپاره لاندې جملې له شین ټاغي څخه رانقلوم:

۱ـ نا چاره مې پرې له ملا راخلاص کړ او ببرته موټر ته وختم (شپون، ۱۳۷۹: ۴۰).

- مهال: بشپړ تېر مهال
- کړ: آر فعل تېرمهال
- وختم: آرفعل تېرمهال

۲ـ په لاس مې شوروي ته هغه واوره وښوده، چې لا هم د برنډې په منځ کې د موټر شاوخوا خره وه (شپون، ۱۳۷۹: ۴۱).

- مهال: تېرمهال
- وښوده: آرفعل
- وه: ناآرفعل

۳ـ خو ډوډۍ زما تر ستونې نه تېرېده (شپون، ۱۳۷۹: ۴۶).

- مهال: تېرمهال نا بشپړ (استمراري)

- نه تېرېده: آر فعل

۴ـ دا دويم ځل و، ټوکمار منصبدار د سپي په شان رټل شوی و (شپون، ۱۳۷۹: ۴۶) .

- مهال: تېر مهال بشپړ
- دويم ځل و: نا آرفعل
- رټل شوی و: نا آر فعل

۵ـ ما يې خبره غوڅوله، خو دې دوام ورکړ (شپون، ۱۳۷۹: ۴۸) .

- مهال: تېر نا بشپړ تېرمهال
- غوڅوله: آر فعل
- ورکړ: آر فعل
- مهال: بشپړ تېر مهال

په مهالن توک کې مهال معلومېږي او د مهال څخه مکالمې، راکړه ورکړه معلومېږي. دا ټولې برخې د وګړمنځي برچار اساسي برخې دي.

٦ـ مخابره خو دې ما وليده(شپون، ۱۳۷۹: ۴۹).

- مهال:بشپړ تېر مهال
- وليده: ار فعل

۷ـ زما په خيال کوم پيغام او يا کوم شی مجاهدينو ته رسوې(شپون، ۱۳۷۹: ۴۹).

- مهال: نا بشپړ اوس مهال
- رسوې: آرفعل

۸ـ زړه لار کچه ده(شپون، ۱۳۷۹: ۵۲).

- مهال: بشپړ اوسمهال
- ده: نا آر فعل

۹ـ دوآب دولتي هوټل د بازار نه وتلی، د غونډۍ په سر ودان شوی او ګرځندوی يې چلوي.هوټل ښه مضبوط جوړ شوی (شپون، ۱۳۷۹: ۵۴) .

- وتلی: آر فعل

- مهال: بشپړ تېرمهال
- ودان شوی: نا آر فعل
- مهال: بشپړ تېرمهال
- چلوي: بشپړ اوسمهال آرفعل
- جوړ شوی: بشپړ تېرمهال نا آر فعل

۱۰ـ نه دغه سړي خپل نوم را وښود او نه ما ځان ور معرفي کړ (شپون، ۱۳۷۹: ۵۵) .

- وينا د اوسمهال ده.
- راوښود: آر فعل دی
- مهال: بشپړ تېرمهال
- کړ: آر فعل
- مهال: بشپړ تېرمهال

۱۱ـ د هغې د ساعتېرۍ د پاره د دواب دوو سيندونو ته لاړو (شپون، ۱۳۷۹: ۵۵) .

- مهال او فعلونه: لاړو آر فعل او بشپړ تېرمهال

د مهالمن توک بله برخه وجهيتونه دي. د وجهيتونو په مرسته هم پېښې ملموسه وي. وجهيتونه درې دي؛ خو لومړی بايد د وجهې او وجهيت توپير وښيم.

۴. ۲. ۳ـ په شن ټاغي ناول کې وجهيتونه

د پروسو وجهې چې معلومې شوې، اوس غواړم، چې وجهيتونه هم معلوم کړم.لومړی غواړم، چې د وجهې او وجهيت توپير وکړم.

۱ـ وجهيت يو مفهومي، معنايي او کارونپوهنيز مفهوم دی، چې د ويونکي د دريځ، قضاوت، باور، احتمال، اړتيا، مکلفيت، وړتيا يا تمايل څرګندونه د يوې وينا يا قضيې د محتوا په اړه کوي .

۲ـ وجه يوه ګرامري (صرفي يا نحوي) کټګوري ده، چې د ويونکي دريځ د پېښې يا قضيې په اړه څرګندوي. په بل عبارت، وجه د فعل په جوړښت کې راڅرګندېږي .

۳ـ له همدې امله، **وجه** د «څنګه بيانېدو» سره تړاو لري، خو **وجهيت** د «کوم دريځ

په بیانېدو» پورې اړه لري .

۴ـ وجهیت (معنایي مفهوم) ← وجه (د هغې د څرګندولو ګرامري وسیله)

۵ـ وجهیت د فعل، قید، صفت، نوم یا نورو ژبنیو وسیلو له لارې څرګندېدای شي .

٦ـ وجه معمولاً د فعل په جوړښت کې څرګندیږي او تجلي مومي.

۷ـ وجهیتونه په ناخپلواکو فعلونو کې څرګندېږي او په التزامي، تواني او احتمالي بڼو ښکاره کېږي.

دا چې د وجهې او وجهیت ترمنځ توپیر وشو، اوس یې په شین ټاغي ناول کې څېړم. وجهیتونه درې دي:

۲،۴. ۳. ۱ـ التزامي وجهیت

دا هغه وجهه ده، چې لازموالی، اړتیا او مکلفیت بیانوي. لاندې بېلګې ولولئ:

۱ـ لس ورځې په مدینه منوره کې د پنځوسو لمنځونو د پاره، مانا څه د پاسه مو یوه میاشت په دې سفر تېره کړه(شپون، ۱۳۷۹: ۸).

په پورته جمله کې د حج د اداکولو لپاره او د دینې وجیبې د لازموالي لپاره حج ته تللی او التزامي وجهیت یې ښوولی دی.

۲ـ نور هرڅه تیار وو، فقط د وسلو ضرورت و، چې د کابل نه قیام پیل شي(شپون، ۱۳۷۹: ۱۲) .

په دغه جمله کې هم لازموالی راغلی او فعلونه یې هم ناخپلواک دي؛ لکه:(وو، و، شي) او د قیام لپاره د وسلو ضرورت حتمي و. نو چې کله کوم کار لازم شي وجهیت یې هم لازمي دی.

۳ـ باید جهاد تعلیمیافته وو ته په لاس ورشي(شپون، ۱۳۷۹: ۱۳) .

۲. ۲. ۳. ۲ـ تواني وجهیت

تواني وجهیت هغه دی، چې توان وښیي او د یوکار کېدل تر توان پورې ښکاره کوي. دا وجهیت په شین ټاغي کې څېړم:

۱ـ مګر دا هسې احساساتي خلک نه وو، چې ما به آسانه قانع کړي وای (شپون، ۱۳۷۹: ۱۲) .

که متوجه شو، پورتنۍ جمله کې د (به آسانه قانع کړي وای) تواني وجهیت شته. یو دا چې د امکان تر حده یې ښوولې او بل دا چې فعل یې ناخپلواک دی او وجهیت یې تواني دی.

۲ـ د چا نه به وسله اخلم او څنګه به یې کابل ته رسوم (شپون، ۱۳۷۹: ۱۳) .

په دغه جمله کې هم د (څنګه) کلمه چې توان ښیي، راغلې ده. یعنې وسلې به څرنګه کابل ته رسوم. چې دا په خپله توان ښیي. په دې خاطر وجهیت یې تواني ښوولی.

۳ـ دا رسۍ تقریباً ډېرش څلوېښت متره وه او نه پوهېدم، چې دا به یې څنګه په هواکړې ده (شپون، ۱۳۷۹: ۱۴) .

دلته هم تواني وجهیت شته.د تواني وجهیت لپاره ځینې کلمې شته، چې توان ښیي. په پورته جمله کې د تواني وجهیت کلمه(څنګه) ده. د څنګه کلمې سره د جملې مانا هم بدله شوې.

۵ـ د روسانو د استنطاق مې اوږدلي وو، چې د تیرې نه هم اقرار اخیستی شي (شپون، ۱۳۷۹: ۱۵) .

په پورته جمله کې هم تواني وجهیت شته او هغه د روسانو اقرار اخیستل دي، که تیره هم وي.

٦ـ ډېر کوشش یې کاوه، چې لوبه وګټي (شپون، ۱۳۷۹: ۱۹) .

- وجهیت: تواني
- د تواني وجهیت ژبنۍ برخه: ډېر کوشش یې کاوه.

۷ـ مګر ما څنځیر نه درلود (شپون، ۱۳۷۹: ۲۵) .

- وجهیت: تواني
- د تواني وجهیت کلمې: مګر

۸ـ د ډاره تړې مخکې کېدلی نه شوم (شپون، ۱۳۷۹: ۲٦) .

- وجهیت: تواني

- د تواني وجهيت ژبنۍ ټوټه: د ډاره

۹ـ پرې دومره اوږد نه و، چې زه ور کوز شوی وای.

- وجهيت: تواني
- د تواني وجهيت ژبنۍ ټوټه: چې زه ورکوز شوی وای.

۴. ۲. ۳. ۳ـ احتمالي وجهيت

دا هغه وجهيت دی، چې د پېښې په اړه احتمال او شک موجود وي. په شين ټاغي کې داسې راوړل شوي:

۱ـ داسې ښکاري، چې دوی له ډېره وخته په خپل پلان کار کړی و (شپون، ۱۳۷۹: ۱۲).

په پورته جمله کې احتمالي پېښه(داسې ښکاري) په غونډ کې ده. يعنې دا برخه شک او احتمال راښيي او مطلق يې نه دي ويلي.

۲ـ لا هم نه پوهېدم، چې د چا نه به وسله اخلم (شپون، ۱۳۷۹: ۱۳).

په دغه جمله کې احتمالي پېښه او فکر په(لاهم نه پوهېدم) په کړوال غونډ کې دی او واضح خبره يې نه ده کړې او شک لري. د داسې پېښې راوړل احتمالي وجهيت دی.

۳ـ که مې وپېژني بيا به څه کړم (شپون، ۱۳۷۹: ۱۵).

په دغه جمله کې شک پروت دی او وجهيت يې هم احتمالي يا شکي دی.دلته د (که) شک آدات دی او کله چې د جملې په سر کې يا بله برخه کې راوړل شي، د رغښت په لحاظ شکي جملې جوړوي. دلته يې وجهيت شکي دی، هغه هم د(که) په مرسته.

۴ـ کېدای شي، چې نه مقاومت و، نه بل څه (شپون، ۱۳۷۹: ۱۶).

- وجهيت: شکي او احتمالي
- د شک او احتمال کلمې: کېدای شي

۵ـ گويا بابنه به يې چې وليده، د مرغۍ کومان به يې پرې وکړ (شپون، ۱۳۷۹: ۱۵).

- وجهيت: احتمالي
- د احتمال برخه: گومان به يې پرې وکړ

۶ـ داسې راته ښکاره شوه، چې ټوکمار د بهادر خان په رتبه کې کوز و (شپون، ۱۳۷۹: ۱۸).

- وجهیت: احتمالي
- د وجهیت برخه: داسې راته ښکاره شوه.

۷ـ زما په خیال په روسیه کې تحصیل کړی و(شپون، ۱۳۷۹: ۱۹).

- وجهیت: احتمالي یا ګماني
- د ګومان برخه: زما په خیال

۸ـ فکر کوئ، چې ستاسو مجاهدین به یې وګټي(شپون، ۱۳۷۹: ۲۲).

- وجهیت: احتمالي یا شکي
- د شک برخه: فکر کوئ چې

۹ـ اشرار دي، که مجاهدین، که دشمن...زما په مقصد پوهیږې(شپون، ۱۳۷۹: ۲۲).

- وجهیت: شکي
- د شک آدات: که، که، که

۱۰ـ یوه کړکۍ چې خدازده خلاصېده او که نه(شپون، ۱۳۷۹: ۲۱).

- وجهیت: شکي
- د شک ادات او برخه: خدازده، که نه

۱۱ـ اورېدلي مې دي، چې برقي جریان پکې ځغلېدلی و(شپون، ۱۳۷۹: ۲۰).

۱۲ـ داسې راته ښکاره شوه، چې روسانو هم موږ ته پام شوی.

- وجهیت: احتمالي
- د احتمال ادات او برخه: داسې راته ښکاره شوه.

۴. ۲. ۴ـ قطبیت

د وجهې درېیم ټوک قطبیت دی. دا ټوک موږ ته د جملې نفیې یا اثبات راښیي. دا برخه په شین ټاغي کې دا ډول ده:

۱ـ پټ مې پاسپورتونه جوړ کړل(شپون، ۱۳۷۹: ۷).

په پورته جمله کې د یو کار اثبات ښوودل شوی او دا اثبات قطبیت دی. کله چې په یوه جمله کې اثبات وي، یا نفیې، قطبیت ښیي.

۲ـ شين تاغی زما د گرځنده کور نوم و(شپون، ۱۳۷۹: ۲).

په دغه جمله کې هم اثبات ښودل شوی او کله چې ديوې جملې اثبات وښوول شي، قطبيت جوړوي.

۳ـ په اصل کې لوی تېلر موټر و، چې ما په جرمني کې اخيستی و(شپون، ۱۳۷۹: ۲).

- قطبيت: مثبت
- د جملې اثبات: موټر و، اخيستی و.

۴ـ د شين تاغي کمالات ډېر وو(شپون، ۱۳۷۹: ۳).

- قطبيت: مثبت
- د جملې د اثبات برخه: کمالات ډېر وو

۵ـ په هماغه جرمني کې مې د موټر ټول ماشين او پرزې نوې کړې(شپون، ۱۳۷۹: ۳).

- قطبيت: مثبت
- د اثبات برخه: نوې کړې

٦ـ زمونږ په کور کې هم پخوانی جوش او خروش نه و(شپون، ۱۳۷۹: ۹).

- قطبيت: منفي
- د نفيې برخه: نه و

۷ـ ادې هم د هغه څلوښتي پوره نه کړه(شپون، ۱۳۷۹: ۹).

- قطبيت: منفي
- د نفيې برخه: نه کړه

۸ـ اوس وايم، ښه شو چې هغه اوس ژوندي نه دي(شپون، ۱۳۷۹: ۹).

- قطبيت: منفي
- د نفيې برخه: نه دي

۹ـ شين تاغی هېڅ وران نه شو(شپون، ۱۳۷۹: ۹).

- قطبيت: منفي
- د نفيې برخه: نه شو

۱۰ـ زما د سياست سره د اول نه جوړه نه وه (شپون، ۱۳۷۹: ۱۱).

- قطبیت: منفي
- د نفیې برخه: جوړه نه وه

۱۱ـ د بېلېدو ضرورت یې هم نشته(شپون، ۱۳۷۹: ۱۲).

- قطبیت: منفي
- د نفیې برخه: نشته

۱۲ـ دا هندوانې چندانې خوند نه لري(شپون، ۱۳۷۹: ۱۴).

- قطبیت: منفي
- د نفیې برخه: نه لري

۱۳ـ دوی په خندا خندا لاړل(شپون، ۱۳۷۹: ۱۶).

- قطبیت: مثبت
- د اثبات برخه: لاړل

۴. ۲. ۵ـ پاتې شونې

پاتې شونې د جملې یا فقرې هغه برخه ده، چې په وجه کې چندان رول نه لري. یا وجهې پرته نور ټوکونه پکې راځي.دا مانا چې کله وجهه جوړه شوه، نور پاتې برخې په پاتې یا پاتې شونې کې ګڼل کېږي. پاتې شونې له درېو چاریزو (نقشي) توکیو څخه جوړه شوې:

۱ـ لېږندوی(محمول)

۲ـ حاشیه یي زیاتونې(پایځوړ)

۳ـ بشپړاند(متمم) (شکلی، ۱۴۰۱: ۱۴۱).

اوس یې په لنډول پېژندنه راوړم:

۴. ۲. ۵. ۱ـ لېږندوی(محمول)

لېږندوی یو فعلي غونډ دی، چې د پروسې ډول او څرنګوالی(مادي، ذهني، اړیکمنه، چلنواله او...)، لوری(معلوم او مجهول او جنبه) ښیي. لېږندوی ټولې پروسې، د پروسو ډولونه او د پروسې لوري را ښیي. لېږندوی په ټولو لویو جملو او فقرو کې موجود وي او

په هره فقره یا جمله کې یوازې یو لېږندوی موجود وي. لېږندوی په مهال پورې اړه نه لري.
د لېږندوی د لاښې پېژندنې لپاره لاندې جملې د شین ټاغي ناول څخه را نقلوم:
۱ـ د بالاخانې د ماتو کړکیو نه سوړ باد راته(شپون، ۱۳۷۹: ۱۱٦).

په پورته جمله کې داسې برخې هم شته، چې په مهال پورې اړه نه لري او د وجهې نه بغیر د جملې برخه ده. دا برخه(ماتې کړکۍ) ده او د تعریف له مخې همدا لېږندوی برخه ده.

۲ـ یو د غلو لاټین چې ښیښه یې نیمه توره وه بلېده(شپون، ۱۳۷۹: ۱۱٦).

په دغه جمله کې هم د تېرې جملې په څېر لېږندوی شته او بدون د وجهې نه د جملې برخه ده او په مهال پورې هم اړه نه لري، هغه برخه(چې ښیښه یې نیمه توره) لېږندوی ده.

۳ـ هغه بل کابل، د کابلیانو او نازولو کابل ماته پردی و(شپون، ۱۳۷۹: ۱۱٦).

په پورته جمله کې لېږندوی(د کابلیانو او نازولو کابل) برخه کې موجود دی. دا څکه چې مهال تړې مراد نه دی او د وجهې برخه نه جوړوي.

۴ـ مورِ اطرافیان د خدای د دغو نعمتونو نه بې برخې او په خپل کابل کې جلا وطنه وو(شپون، ۱۳۷۹: ۱۱٦).

په دغه جمله کې لېږندوی برخه په (د خدای د دغو نعمتونو نه بې برخې او په خپل کابل کې) ژبنی ټوټه کې شته. په مهال پورې اړه نه لري، بل دا چې د وجهې نه بغیر راغلې ده.

۵ـ زمورِ د حیبیبې د لېسې هلکانو پکې سپورتونه کول(شپون، ۱۳۷۹: ۱۱۴).

- لېږندوی: د حیبیبې لیسې هلکانو

٦ـ خلک نظر پخوا ته یو څه په بیړه کې وو(شپون، ۱۳۷۹: ۱۱۴).

- لېږندوی: نظر پخواته

۷ـ شبه خی لکه چې زما په ترورتیا پوه و(شپون، ۱۳۷۹: ۱۱۴).

- لېږندوی: لکه چې زما

۸ـ دا ستا پښه لکه د زانې په شان لمده ده (شپون، ۱۳۷۹: ۱۱۴).

- لېږندوی: لکه د زانې په شان

۹ـ څو زرکان یې د وچې ډوډۍ سره راوړل(شپون، ۱۳۷۹: ۵۷).

- لېږندوی: د وچې ډوډۍ سره

۱۰ـ روسانو د خپل باو د ښودولو د پاره په ژمي کې همداسې نمایشونه ورکول(شپون، ۱۳۷۹: ۴۰).

- لېږندوی: د خپل باو د ښودولو د پاره

۱۱ـ باښه به یې چې ولیده، نو د مرغۍ ګومان به یې پرې وکړ او غوټه به یې پرې وکړه. بیا د سنیو په وړیو او لومو کې ونښته او سوټه بوټه به کوزه راپریوته(شپون، ۱۳۷۹: ۱۵).

- لېږندوی: سوټه بوټه

۱۲ـ یوه ورځ د پوهنتون استاد ډاکتر زړور، د پوهاند لاروي سره کور ته راغلل(شپون، ۱۳۷۹: ۱۱).

- لېږندوی: د پوهنتون استاد

۱۳ـ یوه ورځ چې زه په ښار کې د جمعې د لمانځه نه کلي ته راستون شوم، ګورم چې د شین تاغي نه سور تاغی جوړ شوی(شپون، ۱۳۷۹: ۱۰).

- لېږندوی: چې زه په ښار کې د جمعې د لمانځه نه

۱۴ـ زه پوه شوم، چې دا د حواثو سره زما د ورور د مقابلې طریقه وه(شپون، ۱۳۷۹: ۱۰).

- لېږندوی: چې دا د حوادثو سره، زما د ورور

۱۵ـ ما تل د ځانه دا پوښتنه کړې، چې دا څنګه چل دی چې اکثره که د کاله ښځه مړه شي، نو نارینه بله ښځه کوي او که مېړه مړ شي؛ نو ښځه ورپسې روانه وي(شپون، ۱۳۷۹: ۹).

- لېږندوی: چې دا څنګه چل دی چې اکثره
- لېږندوی: بله ښځه

۴. ۲. ۵. ۲ـ حاشیه یي زیاتونې

د چاروال ګرامر د وګړمنځي برچار په محتویاتو کې، حاشیه یي زیاتونې هغې دي، چې د

بالقوه فاعلیت توان ونه لري. دا مانا چې د فاعل کېدو یا اېښي کېدو توان یې نه وي. دا زیاتونې په دوه ډوله دي، چې یو ډول وجهي دي او بل ډول یې تفسیري دي. زه هڅه کوم، چې د دواړو برخو لپاره بېلګې ذکر کړم.

په وجهي زیاتونو کې چې کله په غونډله یا فقره کې راځي، هغه دا ژبنۍ ټوټې دي: ډېرى، معمولاً، پرلپسې، بیابیاؤ هېڅکله، بېخي، څوواره، کله ناکله، په اصل کې، په مطلق ډول، ډېر کم او نور. په تفسیري زیاتونو کې په ډېره خوښۍ، په پېښمانۍ، په نامه، له بده مرغه، له ښه مرغه، په لوی لاس، په تېروتنه او داسې نور راځي (سلامزوی، د ماستری تېزس) .

۴. ۲. ۵. ۲. ۱ ـ د وجهي زیاتونې

۱ـ شین ټاغی زما د ګرځنده کور نوم و، په اصل کې لوی ټېلر موټر و(شپون، ۱۳۷۹: ۲).

- وجهي زیاتونې: په اصل کې

۲ـ هسې هم زه تل په توکمارو شکمن وم(شپون، ۱۳۷۹: ۱۵).

- وجهي زیاتونې: تل

۳ـ نا څاپه مې د شین ټاغي ټول بکس ته پام شو(۱۳۷۹: ۲۷).

- وجهي زیاتونې: ناڅاپه

۴ـ په اصل کې شاترینه وم، خو په کور کې مې له نازه ترینا بولي(شپون، ۱۳۷۹: ۳۶).

- وجهي زیاتونې: په اصل کې

۵ـ په اصل کې زما د ډاکټرۍ سره جوړه نه وه(شپون، ۱۳۷۹: ۸۱)

- وجهي زیاتونې: په اصل کې

٦ـ ماتل فکر کاوه(شپون، ۱۳۷۹: ٦۰).

- وجهي زیاتونې: تل

۷ـ په لار کې به کله کله کوم ځناور د سرک نه تېرېده او د موټر رڼا به یې سترګې وځلولې(شپون، ۱۳۷۹: ۵۲).

- وجهي زیاتونې: کله کله

۸ـ همدا زمور د ژوند یوازینۍ مزی و(شپون، ۱۳۷۹: ۲۸).

- وجهي زیاتونې: یوازینی

۹ـ په غېږ کې مې شین ټاغي ته وخېژاوه(شپون، ۱۳۷۹: ۲۸).

- وجهي زیاتونې: په غېږ کې

۱۰ـ کتل مې چې په رښتیا یې لار زما خواته کړه کړه(شپون، ۱۳۷۹: ۲۸).

- وجهي زیاتونې: په رښتیا

۱۱ـ د زړه په تل کې د خپلو کابلي دوستانو نه هم وېرېدم(شپون، ۱۳۷۹: ۱۶).

- وجهي زیاتونې: د زړه په تل کې

۱۲ـ په همدې کې بهادر خان مخې ته راغی(شپون، ۱۳۷۹: ۱۷).

- وجهي زیاتونې: په همدې کې

۱۳ـ داسې راته ښکاره شوه، چې ټوکمار د بهادرخان نه په رتبه کې یو څه کوز و(شپون، ۱۳۷۹: ۱۸).

- وجهي زیاتونې: یو څه

۱۴ـ بهادرخان بیا راسره کښېناست (شپون، ۱۳۷۹: ۱۸) .

- وجهي زیاتونې: بیا

۱۵ـ دواړو د امپریالېزم او امریکا غندنې ته دوام ورکړ (شپون، ۱۳۷۹: ۱۸) .

- وجهي زیاتونې: غندنې ته

۴. ۲. ۵. ۲. ۲ـ تفسیري زیاتونې

۱ـ نا چاره مې پرې له ملا راخلاص کړ (شپون، ۱۳۷۹: ۴۰) .

- تفسیري زیاتونې: ناچاره

۲ـ هغه راته په حیرانتیا موسک شو (شپون، ۱۳۷۹: ۴۳) .

- تفسیري زیاتونې: په حیرانتیا

۳ـ په منډه موټر ته ورغلم (شپون، ۱۳۷۹: ۴۴) .

- تفسیري زیاتونې: په منډه

۴ـ سړی په بیړه کورته ننوت (شپون، ۱۳۷۹: ۸۵) .

- تفسيري زياتونې: په بيړه

۵ـ ښځه يې په مدار مدار د شين ټاغي نه کوزه کړه (شپون، ۱۳۷۹: ۸۵) .

- تفسيري زياتونې: په مدار مدار

٦ـ ده په خندا وويل (شپون، ۱۳۷۹: ۸٦) .

- تفسيري زياتونې: په خندا

۷ـ رسېدلې ونې به يې په څېله کې وښکلې (شپون، ۱۳۷۹: ۷۵) .

- تفسيري زياتونې: په څېله کې

۸ـ خوشحاله وم، چې د دې اوږده بد خوب نه په خير را وينې شوم (شپون، ۱۳۷۹: ۷۳) .

- تفسيري زياتونې: په خير

۹ـ بيا به يې مور او پلار ته جرګه ولېږم او په درنګ او درونګ به يې واده کړم (شپون، ۱۳۷۹: ٦۸).

- تفسيري زياتونې: په درنګ او درونګ

۱۰ـ په بيړه راون شوو (شپون، ۱۳۷۹: ٦۳) .

- تفسيري زياتونې: په بيړه

۱۱ـ زما په خيال کوم شی مجاهدينو ته رسوې (شپون، ۱۳۷۹: ۴۹) .

- تفسيري زياتونې: په خيال

۱۲ـ زه پوهېدم، چې دا قسم خلک په اسانه د خپل ښکار نه لاس اخيستونکي نه دي (شپون، ۱۳۷۹: ۴۷) .

- تفسيري زياتونې: په اسانه

۱۳ـ د بازار په بل سر کې د تېلو ټانګ و، چې په لاس چلېده (شپون، ۱۳۷۹: ۴۷) .

- تفسيري زياتونې: په لاس

۱۴ـ ما هم په بيړه چار اندام وکړ (شپون، ۱۳۷۹: ۴۷).

- تفسيري زياتونې: په بيړه

۱۵ـ په بيړه موټر ته وختم (شپون، ۱۳۷۹: ۴۷) .

- تفسيري زياتونې: په بيړه

۱۶ـ په منده موټر ته ورغلم (شپون، ۱۳۷۹: ۴۴) .

- تفسیري زیاتونې: په منډه

۱۷ـ نا څاپه یوه بدل چې په وړکتوب کې مې اورېدلې وه رانه ووته (شپون، ۱۳۷۹: ۱۶۰) .

- تفسیري زیاتونې: ناڅاپه

۴. ۲. ۶ـ بشپړاند

بشپړاند هغه ژبنۍ ټوټه ده، چې په دودیزه پښویه کې ورته مفعول وایي. کوم فعلونه چې لازمي دي، فعل د فاعل لپاره ګردانېږي او که فعل متعدي وي او تېرمهال وي، بیا فعل د مفعول لپاره ګردانېږي. بشپړاند یا بشپړونکی په دودیزه پښویه کې په دوه ډوله وېشل شوی، چې یو مستقیم او بل یې غیر مستقیم بشپړونکي په نوم یادېږي. بشپړاند د جملې هغه برخې ته هم وایي، چې د فعل اثر یا اغېز ورته ورسېږي. که دغه اغېز په مستقیم ډول فعل ته ورسېږي، مستقیم بشپړونکی او که د فعل اغېز ورته مستقیم ونه رسېږي، غیر مستقیم بشپړونکی وایي.په تېرمهال کې پروسه یا فعل بشپړونکي ته ګردانېږي او په اوسمهال کې پروسه یا فعل د جملې اېښي ته ګردانېږي. غواړم، چې د بشپړاند برخه په شین ټاغي ناول کې د چاروال ګرامر د وګړمنځي برچار له مخې په لاندې جملو کې در پېژندلای شم:

۱ـ په هماغه جرمني کې مې د موټر ټول ماشین او پرزې نوې کړې (شپون، ۱۳۷۹: ۳) .

په پورته جمله کې(ماشین او پرزې) د بشپړاند په توګه راغلي دي. دا ځکه چې (ماشین او پرزې) د مفعول په توګه ذکر شوې او کار پرې انجام شوی. کله چې په یو څیز کار انجام شي، مفعول یا بشپړاند ورته وایي. لاندې جملې هم ولولئ:

۲ـ شین ټاغی ما په جرمني کې د داسې یوه سیلاني نه واخیست، چې ټولې دنیا ته یې ورکې سفرونه کړي وو (شپون، ۱۳۷۹: ۳) .

په پورته جمله کې بشپړاند د (ورکې) نومڅرې دی. د(ورکې) نومڅرې راجع شین ټاغي ته دی او مخ مرجع هم بلل کېږي.دا ځکه بشپړاند بلل کېږي، چې کار پرې انجام شوی او د (ورکې) نومڅرې اشاره ده، د شین تاغي لپاره. یعنې سفرونه په همدې شین ټاغي کې شوي، نه په بل څه کې.

۳ـ کلي ته په رسېدو مې، موټر د کاله شاته ودراوه (شپون، ۱۳۷۹: ۴) .

په پورته جمله کې(کلي ته په رسېدو مې) د غونډلې (اېښی)، (موټر) د غونډلې(بشپړاند) د (کاله شاته) د غونډلې(پایځوړ) او (ودراوه) د غونډلې(اېښونی) یا خبر واقع شوی دی. ذکر شوې جمله داسې تجزیه کولای شو:

- کلي ته په رسېدو مې: اېښی
- موټر: بشپړاند
- د کاله شاته: پایځوړ
- و دراوه: اېښونی، مثبت قطبیت او مهالمن توک
- کلي ته په رسېدو مې، موټر د کاله شاته: پاتې او وجه

۴ـ زه پوهېرم چې تا او آبا مې لا د وخته د سفر موزې په پښو کړي دي (شپون، ۱۳۷۹: ۵) .

- زه: اېښی
- پوهېرم: اېښونی، مثبت قطبیت او مهالمن توک
- چې تا او آبا مې: اېښی
- لا د وخته: پایځوړ
- د سفر موزې: بشپړاند
- پښو کړي دي: اېښونی، مثبت قطبیت او مهالمن توک

۵ـ د مور مې ګازي نغری ډېر خوښ شو (شپون، ۱۳۷۹: ٦) .

- د مور مې: اېښونی
- ګازي نغری: بشپړاند
- ډېر: پایځوړ
- خوښ شو: اېښونی، مثبت قطبیت او مهالمن توک

٦ـ پټ مې پاسپورټونه په کندوز کې جوړ کړل (شپون، ۱۳۷۹ :۷) .

- پټ مې: اېښونی
- پاسپورټونه: بشپړاند

- په کندوز کې: پایځوړ
- جوړ کړل: اېښونی، مثبت قطبیت او مهالمن توک

۷ـ ما به هم موټر ودراوه (شپون، ۱۳۷۹: ٦) .

- ما: اېښی
- به هم: شرایط
- موټر: بشپړاند
- ودراوه: اېښونی، مثبت قطبیت او مهالمن توک

۸ـ زموږ په کور کې هم پخوانی جوش او خروش نه و(شپون، ۱۳۷۹: ۹).

- زموږ : اېښی
- په کور کې هم: بشپړاند
- پخوانی جوش او خروش: شرایط
- نه و: اېښونی، منفي قطبیت او مهالمن توک

۹ـ شورویانو هم په افغانستان برید وکړ(شپون، ۱۳۷۹: ۹).

- شورویانو: اېښی
- هم په افغانستان: پایځوړ
- برید: بشپړاند
- وکړ: اېښونی، مثبت قطبیت او مهالمن توک

۹ـ یوه ورځ چې زه په ښار کې د جمعې د لمانځه نه کلي ته راستون شوم، ګورم چې د شین ټاغي نه سور ټاغی جوړ شوی(شپون، ۱۳۷۹: ۱۰).

- یوه ورځ چې: پایځوړ
- زه: اېښی
- په ښار کې: پایځوړ
- د جمعې د لمانځه نه: شرایط
- کلي ته: پایځوړ

- راستون شوم، اېښونی مثبت قطبیت
- گورم: اېښونی
- چې د شین ټاغی نه سور ټاغی: بشپړاند
- جوړ شوی: اېښونی، مثبت قطبیت او مهالمن توک

۱۰ـ پلان دا و، چې زه به بیا یو ځلې کلي ته ځم(شپون، ۱۳۷۹: ۱۳).

- پلان: شرایط
- داو: اېښونی
- چې: اړیکویکی
- زه: اېښی
- به بیا یوځلې: پایځوړ
- کلي ته : بشپړاند
- ځم: اېښونی، مثبت قطبیت او مهالمن توک

۱۱ـ بیا به نو د خان آباد نه کابل ته روانېږم او په کیله گي کې به وسله او یوه نقشه اخلم(شپون، ۱۳۷۹: ۱۳).

- بیا به نو: وجهیتي پایځوړ یا لېږندوی
- د خان آباد نه کابل ته: بشپړاند
- روانېږم: اېښونی
- او په: وجهیتي پایځوړ
- کیله گي کې: بشپړاند
- به: پایځوړ
- وسله او یوه نقشه: بشپړاند
- اخلم: اېښونی، مثبت قطبیت او مهالمن توک

۱۲ـ څو شېبې د ښوونځي د شاگرد په شان د تلگرافي مخابرې سبق راکړ(شپون، ۱۳۷۹: ۱۴).

- څوشېبې: شرایط
- د ښوونځي: پایځوړ
- د شاګرد : بشپړاند
- په شان: پایځوړ
- سبق: بشپړاند
- راکړ: اېښونی، مثبیت قطبیت او مهالمن توک

۱۳ـ خلکو به دلته باښې نېولې(شپون، ۱۳۷۹: ۱۴).

- خلکو: اېښی
- به دلته: پایځوړ
- باښې: بشپړاند
- نیولې: اېښونی، مثبیت قطبیت او مهالمن توک

۱۴ـ شین ټاغی مې د سړک نه چپ یوې خواته ودراوه(شپون، ۱۳۷۹: ۱۶).

- شین ټاغی: بشپړاند
- مې: اېښی
- د سړک نه چپ یوې خواته: شرایط
- ودراوه: اېښونی، مثبیت قطبیت او مهالمن توک

۱۵ـ درې څلور تنه منصبداران هم ناست وو، چایونه یې څښل(شپون، ۱۳۷۹: ۱۶).

- درې څلور تنه منصبداران: اېښی
- هم ناست وو: اېښونی
- چایونه: بشپړاند
- یې: مخ مرجع او اېښی هم بلل کېږي.
- څښل: اېښونی، مثبیت قطبیت او مهالمن توک

۱۶ـ زه په لمانځه ولاړ وم(شپون، ۱۳۷۹: ۱۶).

- زه: اېښی

- په لمانځه: بشپړاند
- ولاړ وم: اېښونی، مثبت قطبیت او مهالمن توک

۱۷ـ هوټلي دوه کیسونه ولګول(شپون، ۱۳۷۹: ۱۷).

- هوټلي: اېښی
- دوه ګیسونه: بشپړاند
- ولګول: اېښونی، مثبت قطبیت او مهالمن توک

۱۸ـ لوبه نیم ساعت روانه وه(شپون، ۱۳۷۹: ۱۹).

- لوبه: بشپړاند
- نیم ساعت: پایځوړ
- روانه وه: اېښونی، مهالمن توک

۱۹ـ یو پیاده مې مفت ورکړ(شپون، ۱۳۷۹: ۲۱).

- یو پیاده: بشپړاند
- مې: اېښی
- مفت: پایځوړ
- ورکړ: اېښونی، مثبت قطبیت او مهالمن توک

۲۰ـ درېیمه لوبه ده وګټله(شپون، ۱۳۷۹: ۲۲).

- درېیمه لوبه: بشپړاند
- ده: اېښی
- وګټله: اېښونی، مثبت قطبیت او مهالمن توک

د دې برچار د هر اړخیزې څېړنې څخه وروسته دا راته جوته شوه، چې د وګړمنځي برچار او د هغو ټولې خانګړنې د راکړې ورکړې او مکالمې په مرسته ښکاره کېږي. یعنې په وګړمنځي برچار کې راکړه ورکړه وي، د دوو کسانو ترمنځ مکالمې وي او د همدې مکالمو او راکړې ورکړې په مرسته وجهې، وجهیتونه، پاتې، زیاتونې او نورې برخې معلومېږي. وګړمنځی برچار د وګړو ترمنځ د خبرو تعامل دی.

۴. ۳ـ په شين ټاغي کې د متني برچار څېړنه

متني برچار د هالېډې په اند هغه ژبنی برچار دی، چې ژبه په يوه منظم، منسجم او ماناداره متن بدلوي. د دې برچار دنده دا ده چې جمله له خپلې مخکنۍ او وروستۍ جملې سره وټړي او معلومات په داسې ترتيب وړاندې کړي چې لوستونکی يا اورېدونکی يې په اسانۍ درک کړي. متني برچار لاندې برخې لري او غواړم، چې د متني برچار ټولې برخې په شين ټاغي کې واضح کړم او د هرې برخې لپاره نوې بېلګې راوړم. لومړی د اطلاع نظام روښانه کړم.

۴. ۳. ۱ـ د اطلاع نظام

د اطلاع نظام څخه هدف دادی، چې اورېدونکی څه اوري، يا يې اورېدلي او يا هم په ټوله کې د اورېدونکي د لید زاويې ته د اطلاع نظام ويل کېږي. کله چې اورېدونکی دا اطلاع يا معلومات اوري؛ نو که اورېدونکی پر دغو معلوماتو له وړاندې پوه او خبر وي، زړه اطلاع بلل کېږي او که نوي ترې خبر؛ نو همدا نوې اطلاع ده.د دې څخه موخه دا شوه، چې د اطلاع په نظام کې ټول معلومات وړاندې کېږي او اورېدونکی يې اوري. دغه نظام دوې برخې لري:

۴. ۳. ۱. ۱ـ زړه اطلاع

۴. ۳. ۱. ۲ـ نوې اطلاع

۴. ۳. ۱. ۱ـ زړه اطلاع

زړه اطلاع هغې اطلاع ته ويل کېږي، چې کله د پيلګر له لوري يا ويناوال له لوري معلومات وړاندې شي او اورېدونکی هغه واوري او پخوا ترې خبر وي او يا يې هم په متن کې پخوا يادونه شوې وي، زړه اطلاع بلل کېږي.

۴. ۳. ۱. ۲ـ نوې اطلاع

نوې اطلاع هغې اطلاع ته ويل کېږي، چې په متن کې يې پخوا يادونه نه وي شوې او يا هم اورېدونکي د هغې اطلاع په باب پخوا څه نه وي اورېدلې او يا هم ترې خبر نه وي. زړه

اطلاع ډېرې په جملو کې د نومځرو په وسیله هم څرګندېږي او په نوې اطلاع کې ډېر نومځري نه کارېږي. د دغو دواړو اطلاعګانو د لاښه وضاحت لپاره د شین ټاغي ناول څخه جملې رانقلوم:

۱ـ کیله ګی د پلخمري او دوشي ترمنځ یو لوی ډاګ دی، چې یوې خواته یې د دوشي سیند او بلې خواته یې تر څو سترګې لګېږي، ډاګ او شنې غونډۍ دي.هغه قیر سړک چې کابل ته ځي، دا ډاګ تقریباً په نیمایي غوڅوي (شپون، ۱۳۷۹: ۱۴) .

پورتنۍ غونډلې، چې د وینا وال له لوري اورېدونکي یا هم لوستونکي ته ویل شوې، پکې نوې اطلاع د کیله ګي د ډاک بیان دی. دا ځکه چې پخوا لوستونکی ترې خبر نه دی او نه یې په اړه کوم معلومات لري او ورسره د کیله ګې د ډاک ځانګړنې دي، چې ویلي یې دي، چې یوه لوري ته یې شنې غونډۍ او بل لوري ته یې پخپله ډاګ دی. په پورته غونډلو کې بله نوې اطلاع د قیر د سړک ده، چې پخوا یې نه ده ویلې. خو په دې غونډلو کې زړه اطلاع دا شوه، چې بل لوري ته یې هم ډاګ دی او(هغه) نومځری دی، چې د قیر سړک لپاره راغلی دی. زړه اطلاع دا شوه، چې د سړک او ډاک په باره کې معلومات وړاندې شول؛ خو دا واضحه شوه، چې کیله ګی یو ډاګ دی او په بغلان کې د پلخمري او دوشي ترمنځ واقع دی.

۲ـ اوس په کیله ګي کې د رسانو د درنو وسلو یوه لویه ډیپو، څه د مځکې په سر او څه د مځکې لاندې جوړه وه (شپون، ۱۳۷۹: ۱۵) .

په دغه جمله کې هم نوې اطلاع او زړه اطلاع شته. هغه داسې چې د کیله ګي څخه بیا یادونه وشوه، لوستونکو او اورېدونکو ته زړه اطلاع بلل کېږي؛ ځکه چې د یاد ډاګ په باره کې مخکې معلومات وړاندې شول؛ خو په دې جمله کې نوې اطلاع هم شته، هغه نوې اطلاع د درنو وسلو یوه ډیپو ده، چې د وینا‌وال لخوا وړاندې شوې ده. د درنو وسلو په باب اوردونکو معلومات نه درلودل او په تېر متن کې هم نه وو راغلي، دا چې دا معلومات نوي وړاندې شول؛ نو نوې اطلاع ورته ویل کېږي.

۳ـ کابل نظر نورو ښارونو ته یو څه په دې ښه و، چې یو څه وخت هم زه او هم شین ټاغی پکې را لادرکه شوي وو. درې کله په کابل کې اوسېدم (شپون، ۱۳۷۹: ۱۱) .

په پورته غونډلو کې نوې او زړې اطلاعګانې شته. نوې اطلاع د کابل ښار یادونه ده او ویلي دي، چې کابل ښار نظر نورو ښارونو ته ښه و. دا اطلاع اورېدونکي ته نوې ده؛ ځکه چې د کابل ښار په مورد یې پخوا څه نه دي اورېدلي او یا ترې خبر نه دی؛ نو ځکه نوې اطلاع ده؛ خو دویم ځل چې بیا کابل یاد شوی، چې په کابل کې مې درې کاله تېر کړل، دا بیا زړه اطلاع بلل کېږي. دا ځکه چې اورېدونکي لپاره دویم ځل یادونه ده او ترې خبر دی. کله چې دا ډول یادونې په متن کې راوړل شي؛ نو زړه او نوې اطلاعګانې بلل کېږي.

۴ـ یوه ورځ د پوهنتون استاد ډاکتر زړور، د پوهاند لاروي سره کورته راغلل او په خبرو خبرو کې یې د ښاري مقاومت د یوې پټې شبکې د جوړېدو زېرى راکړ، چې دوی یې هم غړي وو (شپون، ۱۳۷۹: ۱۱).

په پورته غونډلو کې نوې اطلاع د (ډاکتر زړور او د پوهاند لاروي ورتګ، د ویناوال کورته او ورسره د ښاري مقاومت د پټې شبکې د جوړېدو خبرې) ده. ځکه چې پوا نه په متن کې راغلې او نه هم اورېدونکی ترې خبر دی؛ خو زړه اطلاع هم لري او هغه د(یې) نومځرى دی، چې د ډاکتر زړور ته یې اشاره کړې. په دې لحاظ ورستی(یې) زړه اطلاع ده. بله زړه اطلاع داده، چې (دوی یې هم غړي وو)؛ ځکه چې دا برخه هم دویم ځل بیا تکرار راغلې ده او د(یې) نومځرې په وسیله (ډاکتر زړور او لاروي) ته اشاره شوې؛ نو ځکه زړه اطلاع بلل کېږي. نورې پورتنۍ خبرې نوې اطلاع بلل کېږي.

۵ـ لوړ مازدیګر و، چې کیله ګي ته ورسېدم. البته تر هغې د مخه او ورسوته هم رسېدلی شوم؛ خو هدایت همداسې و.د سړک غاړو ته هندوانې نه وې، ځکه چې د جدی میاشت وه (شپون، ۱۳۷۹: ۱۵).

په پورته جملو کې زړه اطلاع(چې کیله ګي ته ورسېدم) ده. ځکه چې کیله ګی پخوا هم یاد شو او د اورېدونکو لپاره زړه اطلاع بلل کېږي. نوې اطلاع هم لري، چې هغه(د سړک غاړو ته هندوانې نه وې، ځکه چې د جدی میاشت وه.) ده. دا ځکه نوې اطلاع بلل کېږي، چې د هندوانې په باره کې اورېدونکو څه نه دي اورېدلي او یا یې هم په متن کې پخوا یادونه نه وه شوې. داسې او داسې نورې ډېرې جملې شته، چې نوې او زړې

اطلاعګانې لري. لاندې جملې هم درسره ولولئ:

٦ـ د روسانو د استنطاق نه مې اورېدلي وو، چې د تېرې نه هم اقرار اخیستی شي، برقونه او شاکونه خو یو عام شی دی. دیوه خلقي نه مې اورېدلي وو، چې ویل یې، زمور شوروي دوستان برقي شاکونه او شکنجې او جبري اعترافات د انساني کرامت نه لېرې ګڼي (شپون، ۱۳۷۹: ۱۵).

- نوې اطلاع: د روسانو استنطاق، د تېرې نه د اقرار اخیستل، برقي شاکونه
- زړه اطلاع: ویل یې، شوروي دوستانو برقي شاکونه او شکنجې او جبري اعترافات.

۷ـ هغوی داسې پیچکاری جوړې کړې، چې چاته یې ور کړي، بس لکه بلل خپل ټول حال وایي (شپون، ۱۳۷۹: ۱۵).

- نوې اطلاع: پیچکاري جوړول، د بلبل په څېر د حال ویل
- زړه اطلاع: هغوی

هغوی څکه زړه اطلاع بللی شو، چې د (هغوی) د جمع نومڅرې روسانو ته اشاره ده او روسان په مخکې جمله کې ذکر شول؛ نو څکه اوس زړه اطلاع بلل کېږي.

۸ـ ماښام مهال دوی په خندا لاړل. زه په لمانځه ولاړ وم، چې زما نفر چې نوم یې راته د بهادر خان ښودلی و، چې الته ما په سترګو نه و لیدلی راورسېد. ما چې سلام وګرځاوه، نو ده راته وویل، ته چېرته او کیله ګی چېرته؟(شپون، ۱۳۷۹: ۱٦ـ ۱۷)

په پورته جملو کې نوې اطلاعګانې د(بهادرخان راتګ دی، ما په سترګو نه و لیدلی) دي او زړې اطلاعګانې هم لري؛ لکه: دوی په خندا لاړل، ده راته وویل، کیله ګی چېرته) دي. کله چې په یوه متن کې داسې موارد راوړل شي، نو نوې اطلاع او زړه اطلاع بلل کېږي. یا لکه په لاندې غونډلو کې:

۹ـ بهادر خان بیا راسره کښېناست او دواړو د امپریالېزم او امریکا غندنې ته دوام ورکړ. هر څومره چې تیاره کېده د منصبدارانو جوپې زیاتېدې. یوه چوپه د روسي منصبدارانو پینځه کسیزه ډله هم وه. دوی هم د نورو منصبدارانو په شان په توشکو کښېناستل؛ مګر چپ له یوه نه چې ازبک راته ښکاره شو. ټولو پښې غځولې وې (شپون، ۱۳۷۹: ۱۸).

په پورته غونډلو کې نوې اطلاعګانې (منصبدارانو جوړې زیاتېدې، د روسي منصبدارانو پینځه کسیزه چوپه، چې له یوه نه چې ازبک راته ښکاره شو.)دي. ځکه چې د دې برخې یادونه پخوا نه وه شوې او په متن کې هم ترې یادونه نه وه شوې. زړې اطلاعګانې(بهادرخان بیا راسره کښېناست، دوی هم په توشکو کښېناسل، ټولو پښې غځولې وې.) دي. ځکه چې بهادرخان پخواهم یاد شو، د (دوی) اشاره وه د روسانو منصبدارانو ته او ټولو پښې غځولې هم پخوا په متن کې راغلل. په متن کې د داسې مواردو راوړل، نوې او زړه اطلاع جوړوي.

۱۰ـ زما د پلار د ونو سره جوړه وه. رسېدلې ونې به یې په ځیله کې له بېخه وښکلې او د باغ د یوه سر نه به یې بل ته یوړلې او همالته به یې کښېنولې.ونې خواره کې به په ځان نه وې خبرې (شپون، ۱۳۷۹: ۷۵) .

په پورته غونډولو کې زړه اطلاع او نوې اطلاع شته. نوې اطلاع داده، چې د ده د پلار د ونو سره جوړه وه او په ځیله کې یې ښکلې او بل ځای یې کښېنولې. زړه اطلاع داده، چې ونې به په ځان نه وې خبرې او اېستل شوې به وې. دغه ته ځکه زړه اطلاع ویلای شو، چې د ونو په باب خبرې په لومړۍ غونډله کې وشوې او اورېدونکی ترې خبر شو؛ خو دا چې په لومړۍ غونډله کې وویل شول، چې زما د پلار د ونو سره جوړه وه او هر کال به یې ښکلې، دا هغه څه دي، چې نوي بیان شوي او اورېدونکی لا ترې خبر نه دی او په متن کې هم ترې یادونه نه ده شوې؛ نو ځکه دا نوې اطلاع بلل کېږي.

۱۱ـ د ژمي په خوب به ویدې وې، چې پسرلي ته ویښې شوې، رېښو به یې رد او روود ورک کړی و، چې کوم پلو وغځېږي.په هغه لور چې پخوا ورتلې اوس یې تیرو لار بنده کړې وه. د اوبو او خاورو خوند بل ډول و او څو نور کالونه پکار وو، چې رېښې لارې ګودرې پیدا کړي.خانګې به یې هم تورورې وې. د لمر وړانګې چې پخوا به د دوی ورته مخ و، اوس په بلې زاویې او بلې خانګې پرېوتې(شپون، ۱۳۷۹: ۷۵) .

په پورته جملو کې زړې اطلاعګانې دادي:

- د ژمي په خوب ویدې وې.(منظور ترې ونې دي، چې پخوا یې یادونه شوې وه.)

- چې پسرلي ته ويښې شوې. (منظور ترې ونې دي، چې پخوا يې يادونه شوې وه.)
- چې رېښې لارې ګودرې پيدا کړي.(د ونو رېښې ترې منظور دي، چې په متن کې ترې يادونه شوې)
- اوس په بلې زاويې او بلې څانګې پرېوتې.(منظور ترې ښاخونه دي، چې په متن کې ترې يادونه شوې.
- رېښو به يې رد او رود ورکړی و. دا هم زړه اطلاع ده.
- د دوی ورته مخ و.(زړه اطلاع)
- اوس په بلې څانګې پرېوتې.(زړه اطلاع)

نوې اطلاعګانې دا دي:

- د اوبو او خاورو خوند بل ډول و.(د دې يادونه پخوا نه ده شوې.)
- څانګې به هم تروړې وې.(دا هم نوې خبره او نوې اطلاع ده.)
- د لمر وړانګې(نوې اطلاع ده.)

۱۲ـ منانی په دې نه و خبر، چې زه ډاکتر يم. له همغې ورځې نه چې ما د علي آباد روغتون نه خدای پامانې وکړه، تر اوسه پورې چې يوه نيمه لسيزه يې تېرېږي، ما ډاکتري نه وه کړې (شپون، ۱۳۷۹: ۸۱) .

پورته متن هم زړه او نوې اطلاع لري او زه غواړم، چې په لاندې بڼه يې روښانه کړم؛ خو لومړی نوې اطلاع راوړم:

- مانانی په دې نه و خبر، چې زه ډاکتر يم.(نوې اطلاع ده؛ ځکه چې پخوا نه ده تکرار شوې.)
- د علي آباد د روغتون نه خدای پامانې کول(نوې اطلاع)

زړه اطلاع داده:

- يوه نيمه لسيزه کېږي.(زړه اطلاع)
- ما ډاکتري نه وه کړې.(زړه اطلاع)

۱۳ـ په هفته کې دوه ځلې د ډاکترانو د وزېټ يا راتګ وار و. مګر دوی به د پېښور

پوهنتون د طب محصلین د ځان سره دله کړي وو او یوازې د هغوی د عملي درس د پاره یې دا دوره کوله (شپون، ۱۳۷۹: ۹۵) .

نوې اطلاع:

- په هفته کې دوه ځلې د ډاکترانو د وزېټ وار.

زړه اطلاع:

- مګر دوی به د پېښور پوهنتون د طب محصلین؛
- یوازې د هغوی د عملي درس لپاره؛

۱۴ـ کابل دومره هم نه و بدل شوی، چې زه به یې ونه پېژنم. موټر د هارتن د پله نه تېر شو او د ګذرګاه لاره یې ونیوله (شپون، ۱۳۷۹: ۱۱۴) .

نوې اطلاع:

- کابل دمره هم نه و بدل شوی.(نوې خبره ده او پخوا نه ده ذکر شوې)
- موټر د هارت د پله نه تېر شو.(دا برخه هم په متن کې نه ده راغلې او اورېدونکی تړې خبر نه دی.)

زړه اطلاع:

- چې زه به یې ونه پېژنم.(دلته د «یې» نومځری اشاره د کابل ته ده او زړه اطلاع بلل کېږي.
- د ګذرګاه لاره یې ونیوله.(دلته هم «یې» نومځری د موټر لپاره دی او زړه اطلاع ده.

۱۵ـ خلک د قومندان عبدالحق د کارنامو کیسې ډېرې کوي او دده نه یو افساني قهرمان جوړ شوی دی. ربښتیا هم د روسانو د لکۍ لاندې لوی اغزی دی (شپون، ۱۳۷۹: ۱۳) .

نوې اطلاع:

۱۶ـ د قومندان عبدالحق د کارنامو کیسې؛(دا ځکه نوې اطلاع ده، چې اورېدونکی تړې خبر نه دی او په پخوا متن کې هم نه ده راغلې)

زړه اطلاع:

- د ده نه يو افسانوي قرمان جوړېدل؛(دلته «دده»نومځری اشاره عبدالحق قومندان ته ده؛ نو ځکه زړه اطلاع بلل کېږي او قومندان عبدالحق په متن کې پخوا راغلی دی او اورېدونکی ترې خبر دی.
- د روسانو د لکۍ لاندې لوی اغزی جوړېدل؛(دلته هم نوموړي قومندان ته اشاره ده.

١٧ـ د وشو ظالمه يخني شروع وه. واوره خو پخوا هم په مځکه پرته وه خو اوس يې د هغه نري سرک پل هم پټاوه چې هوټل ته راختلی و (شپون، ١٣٧٩: ١٦٢) .

نوې اطلاع:

- د وشو ظالمه يخني؛(نوې اطلاع ده، ځکه چې اورېدونکې نه وه اورېدلې او پخوا په متن کې نه وه راغلې.
- واوره خو پخوا په مځکه پرته وه.(د واورې يادونه هم نه وه شوې.)

زړه اطلاع:

- اوس يې د سرک پل پټاوه.(د«يې» د واورې لپاره اشاره شوې او زړه اطلاع ده.
- چې هوټل ته راختيلی و.(دلته موخه هغه سرک دی، دا هم زړه اطلاع بلل کېږي، ځکه چې سرک پخوا ذکر شوی او اورېدونکی ترې خبر دی.)

۴. ۳. ۲ـ پيلامي نظام يا رغبت

د متني برچار د نظامونو څخه دويم نظام پيلامي نظام دی.دغه نظام په وينا وال او يا هم په ليکوال پورې اړوندېږي.په دې نظام کې جمله د پيغام د لېږد وسيله بلل کېږي.په دې نظام کې د جملې د توکيو ترتيب او پرلپسې والی بيانېږي.د دنظام له مخې غونډله په لاندې برخو وېشل کېږي:

۴. ۳. ۲. ۱ـ پيلگر او پايگر

پيلگر لکه د نوم څخه يې چې معلومېږي، د غونډلې د پيل برخه ده او دا راښيي، چې

ویونکی د کومې زاویې له مخې د هدف څرګندلو لپاره توکي سره یوځای کوي. استاد حمیدزی لیکلي، چې پیل ګر باید دغه ځانګړنې ولري:

((۱ـ شریکبانې ولري.

۲ـ لږ ندوی وي.

۳ـ حاشیه وي زیاتونې ولري))(حمیدزی، ۱۳۹۸: ۱۶۴) .

زه غواړم، چې پیلګر دپورتنی درېو ځانګړنو لپاره، بېلابېلې جملې راوړم.

❖ **پیلګر** چې شریکبانی ولري، لکه په لاندې غونډلو کې:

۱ـ هغوی وسلې غوښتې (شپون، ۱۳۷۹: ۲) .

په پورته جمله کې (هغوی) د پیل برخه ده او پیلګر ورته ویل کېږي او دوه شریکبانې لري. یو (هغوی) او بل (وسلې) دي. په یوه غونډله کې چې دوه شریکبانې موجود وي او د پیل برخه وي؛ پیلګر ورته وایي. دا جمله دوه شریکبانې لري، چې پورته ذکر شول، د پیلامي رغښت له مخې پیلګر ورته ویلای شو.

۲ـ خلکو به دلته باښې نیولې (شپون، ۱۳۷۹: ۱۴).

- خلکو: پیل ګر او لومړی شریکبانی
- به دلته: شرایط
- باښې: دویم شریکبانې
- نیولې: پایګر

۳ـ یو پیاده مې مفت ورکړ (شپون، ۱۳۷۹: ۲۱).

- یو پیاده: شریکبانی او پیل ګر
- مې: شریکبانی
- مفت: حاشیوي زیاتونې
- ورکړ: پایګر

۴ـ ماته خط راکړئ (شپون، ۱۳۷۹: ٦۲) .

- ما ته: پیل ګر
- ما: شریکبانی

- خط: شریکبانی
- راکړئ: پایگر

۵ـ د موټر آنتن مې فعال کړ (شپون، ۱۳۷۹: ٦٣) .

- د موټر آنتن: پیلگر
- مې: شریکبانی
- آنتن: شریکبانی
- د موټر انتن: موخه
- فعال کړ: پایگر

٦ـ پیرعلي پخپله موټر ته راوخوت (شپون، ۱۳۷۹: ٦٩) .

- پیرعلي: پیلگر
- پیرعلي: شریکبانی
- پخپله: شرایط
- موټر ته: دویم شریکبانی
- راوخوت: پایگر

۷ـ ونې به یې په څیله کې له بېخه وښکلې (شپون، ۱۳۷۹: ۷۵) .

- ونې به یې: پیلگر
- په څیله کې له بېخه: شرایط
- وښکلې: پایگر
- ونې: لومړی شریکبانی
- یې: دویم شریکبانی

د پورته جملو څخه دا ښکاره شوه، چې په هره جمله کې دوه شریکبانې موجود دي او د پیلگر رغښتي نظام له مخې غوندې پیلگر او پایگر برخې هم لري.

❖ **پیلگر** باید لېرندوی(محمول) وي. او دا هغه پیلگر دی چې، محمول پیلگر هغه ګرامري اړیکه ده چې یوه پروسه د بلې پروسې وینا یا فکر د خپلې محتوا په

توګه وړاندې کوي.لاندې جملې يې ښه څرګندونه کولای شي:

۱ـ پوه شوم، چې د حج ارمان کوي (شپون، ۱۳۷۹: ۷) .

په پورته جمله کې پيلګر چې لېږندوی واقع شوی وي(پوه شوم) برخه ده. دا څکه چې همدا پروسه د بلې پروسې وينا د محتوا په توګه وړاندې کړې. لېږندوی پيلګر معمولاً په پروسه پيل مومي؛ خو دا پروسه بايد داسې جوړښت ولري، چې د بلې پروسې فکر د خپلې محتوا په توګه وړاندې کړي.دلته هم (پوه شوم) يوه پروسه ده او دا پروسه ذهني ده؛ خو د بلې پروسې(چې د حج ارمان کوي) فکر، د خپلې محتوا په بڼه راوړي؛ نو څکه ورته محمول پيلګر هم وايي. يا لکه په لاندې جمله کې:

۲ـ وايم ښه شو چې هغوی ژوندي نه وو (شپون، ۱۳۷۹: ۹) .

دلته (وايم) بياني پروسه ده او محمول پيلګر په توګه راغلې ده، هغه څه چې ويونکی يې بيانوي، هغه برخه(چې هغوی ژوندي نه وو) داده او دا هغه محتوا ده، چې لومړۍ برخه(پيلګر) غوښتل چې بيان يې کړي. محمول پيلګر معمولاً په پروسه پيل کېږي. که دا پروسه ذهني وي، که بياني. خو په دا ډول ناولونو کې ذهني پروسې ډېرې د محمول پيلګر په توګه راځي. لاندې نورې بېلګې هم ولولئ:

۳ـ ګورم چې د شين ټاغي نه سور ټاغی جوړ شوی (شپون، ۱۳۷۹: ۱۰) .

په پورته غوندله کې محمول پيلګر(ګورم) ژبنۍ ټوټه ده او دا څکه چې پروسه هم ده. کله چې يوه پروسه د غوندلې سر ته راوړل شي، هلته بيا محمول پيلګر جوړوي. دويمه برخه يا دويمه فقره(چې د شين ټاغي نه سور ټاغی جوړ شوی) هغه محتوا ده، چې وينا وال يې غواړي ووايي . په محمول پيلګر کې ځانګړنه داده، چې د بلې برخې وينا يا د بلې پروسې وينا د محتوا په توګه وړاندې کوي.

۴ـ پوه شوم، چې د ځينو قشلو د قومندانانو سره يې خبره پخه کړې وه (شپون، ۱۳۷۹: ۱۳) .

- محمول پيلګر: پوه شوم، چې دا ذهني پروسه هم ده.
- دويمه فقره او دويمه پروسه: چې د ځينو قشلو د قومندانانو سره يې خبره پخه کړې وه.
- لومړۍ پروسې د دويمې پروسې فکر د خپلې محتوا په توګه وړاندې کړی.

په دې خاطر ورته محمول پیلګر وایي.

۵ـ پوهېدم چې که دی یې واخلي نو بیا به دې همدې لوبې تر آخره د همدې پیاده په ساتنه بوخت وي(شپون، ۱۳۷۹: ۲۱).

- محمول پیلګر: پوهېدم، ذهني پروسه
- لومړۍ پروسې د دویمې پروسې فکر خپلې محتوا په توګه وړاندې کړی او محمول پیلګر ورته وایي.

٦ـ خوشاله وم چې ددې اوږده بدخوب نه په خیر راویښ شوم(شپون، ۱۳۷۹: ۷۳).

په پورته جمله کې محمول پیلګر(خوشحاله وم) برخه ده او ځکه ورته محمول پیلګر ورته وایي، چې د غونډلې په سر کې واقع ده او جمله هم په فعل پیل شوې، بل دا چې د دیمې غونډلې محتوا هم وړاندې کوي.

❖ درېیم ډول پیلګر سره حاشیه وي زیاتونې راوړل کېږي. دا ډول پیلګر په شین ټاغي کې ډېر تر سره ګو کېږي او زه یې په لاندې ډول راوړم.

۱ـ په هفته کې دوه ځلې د ډاکترانو د وېزېټ یا راتګ وار و(شپون، ۱۳۷۹: ۹۵).

په پورته جمله کې پیلګر(په هفته کې) برخه ده، حاشیوي زیاتونې(دوه ځلې) دي او د غونډلې پایګر برخه(د ډاکترانو د وېزېټ یا راتګ وار و) ده. کله چې حاشیوي زیاتونې په غونډله کې راوړل شي او دا زیاتونې د پیلګر د برخې سره وي او یا په پیلګر پورې اړه ولري، درېیم ډول پیلګر ترې رغېږي. لاندې جملې هم ولولئ:

۲ـ پټ مې پاسپورټونه په کندوز کې جوړ کړل(شپون، ۱۳۷۹: ۷).

په دغه جمله کې پیلګر(پټ مې) برخه ده. حاشیوي زیاتونې(پاسپورټونه او په کندوز کې) دي. دا برخه په دودیز ګرامر کې قیدونه دي او همدا قیدونه په غونډله کې حاشیوي زیاتونې بلل کېږي او د پای برخه یې(جوړ کړل) ده. دا مادي پروسه هم ده.

۳ـ زه پوه شوم، چې درې ساعته پس به بل هدایت راکوي(شپون، ۱۳۷۹: ۳۲).

په دغه غبرګغونډله کې پیلګر(زه) دی او پایګر یې(پوه شوم) دی او دا هم ذهني پروسه ده. حاشیوي زیاتونې په دویمه څرمه غونډله کې راغلي دي او د (درې ساعته) برخه ده او دویمه غونډله کې هم ذهني پروسه(بل هدایت راکوي) ده. دلته زمور منظور

یوازې هغه حاشیوي زیاتونې دي، چې ځینو ورته مورګه وال پایځوړ هم ویلی.

۴ـ زما د پلار د ونو سره جوړه وه(شپون، ۱۳۷۹: ۷۵).

- پیلګر: زماد پلار
- حاشیوي زیاتونې: د ونو
- پایګر: سره جوړه وه.

۵ـ زه چې پېښور ته رامهاجر شوم، همداسې ونو ته ورته وم(شپون، ۱۳۷۹: ۷۶).

- پیلګر: زه
- حاشیوي زیاتونې: چې پېښور ته
- پایګر: رامهاجر شوم
- شرایط: همداسې
- حاشیوي زیاتونې: ونو ته
- پایګر: ورته وم

۶ـ ما موټر چالان کړ(شپون، ۱۳۷۹: ۸۱).

- پیلګر: ما
- حاشیوي زیاتونې: موټر
- چالان کړ: پایګر

۷ـ ما په بیړه لاسونه د موټر نه بهر پریوول(شپون، ۱۳۷۹: ۸۳).

- پیلګر: ما
- حاشوي زیاتونې: په بیړه، لاسونه او د موټر
- شرایط: نه بهر
- پایګر: پریوول
- پروسه: مادي

۸ـ منانی به هره ورځ پوښتنې ته راته(شپون، ۱۳۷۹: ۹۶).

- پیلګر: منانی

- حاشیوي زیاتونې: هره ورځ
- شرایط: پوښتنې ته
- پایګر: راته

۹ـ په سبا مې دوی بېرته پېښور ته ورسول(شپون، ۱۳۷۹: ۱۰۱).

- پیلګر: په سبا مې چې پایځوړ هم ورسره راغلی او هغه(سبا) کلمه ده.
- دوی: زړه اطلاع
- حاشیوي زیاتونې: بېرته پېښورته
- پایګر: ورسول

۱۰ـ منانی خېمې ته رانانوت(شپون، ۱۳۷۹: ۱۰۱).

- پیلګر: منانی
- حاشیوي زیاتونې: خیمې ته
- پایګر: رانانوت

۱۱ـ د شبخي والګاه په جیب بدله شوې وه(شپون، ۱۳۷۹: ۱۱۹).

- پیلګر: شبخی
- حاشیوي زیاتونې: والګا او جیپ
- پایګر: بدله شوې وه.

۱۲ـ ورو مې ټول د شاتوتو په شېرې سور رنګ کړی دی(شپون، ۱۳۷۹: ۱۰).

- پیلګر: ورور مې
- ټول: مشترک نومځری
- حاشیوي زیاتونې: د شاتوتو په شیرې سور
- پایګر: رنګ کړی دی. دا اړیکمنه پروسه هم ده.

۱۳ـ زه له آره د خرپ پرځای د ترپ سړی یم(شپون، ۱۳۷۹: ۱۲).

- پیلګر: زه
- حاشیوي زیاتونې: د خرپ پرځای د ترپ

- شرایط: له آره
- پایګر: سړی یم

۱۴ـ پیر علي پخپله موټر ته راوخوت (شپون، ۱۳۷۹: ٦۹) .

- پیلګر: پیرعلي
- شرایط: پخپله
- حاشیوي زیاتونې: موټر
- پایګر: ته راوخوت

۴. ۳. ۲ـ د پیلګر ډولونه

پیلګر د غونډلې لومړۍ برخې ته وایي. پیلګر به یا خبره پیل کوي، یا به د مخکې خبرو سره د روانو خبرو تړاو پیدا کوي او یا به هم موضعي برجستګي رامنځته کوي. پیلګر په درېو ډولونو وېشل شوی، چې په لاندې ډول تړې یادونه کولای شم:

۴. ۳. ۲. ۱ـ تجربي پیلګر

دا هغه پیلګر دی، چې د جملې په پیل کې راشي. ښایي فاعل وي، یا مفعول وي اویا هم د جملې نورې برخې لکه قیدونه او یا نور. لاندې جملې د شین ټاغي څخه راوړم، چې پکې تجربي پیلګر راغلی دی:

۱ـ د کړکۍ نه سالنګ رسا سپین ململ و(شپون، ۱۳۷۹: ۱).

په پورته جمله کې (د کړکۍ نه) پیلګر دی او تجربي پیلګر دی. ځکه چې د جملې په سر کې راغلی. دا پیل ګر ښایي ګډونوال هم راوړل شي. لکه:

۲ـ بل هغه کمر و(شپون، ۱۳۷۹: ۱).

په دغه جمله کې ګډونوال(بل) دی او پیلګر راغلی او تجربي پیلګر هم ورته وایي. پاتې برخې ته پایګر وایي.

۳ـ د اوړي د وخت شپلې یې اوس هواره سپینه مځکه وه(شپون، ۱۳۷۹: ۱).

په پورته جمله کې ګډونوال او تجربي پیلګر(د اوړي د وخت شپلې یې) دی. هغه

نوره برخه چې پاتې کېږي، هغه پایګر ورته وایي.یا:

۴ـ د واورې د دې ارتې ورشو آهنګ ایله دوه ځایه مات شوی و(شپون، ۱۳۷۹: ۱).

دلته تجربي پیلګر او ګډونوال(د واورې د دې ارتې ورشو آهنګ) دی. او پاتې برخه(ایله دوه ځایه مات شوی و) پایګر برخه ده. د (آهنګ ماتېدل) یوه استعاري پروسه ده. د آهنګ څخه موخه د سپینه واوره او د وخوړونو څخه د اوبو غږ موخه ده او په مجازي مانا راغلې ده؛ نو ځکه یې استعاري پروسه هم جوړه کړې.

۵ـ د نابلده سړي به زړه غوښتل، چې د سرک نه ورکوز شي(شپون، ۱۳۷۹: ۱).

په دغه جمله کې تجربي پیلګر(د نابلده سړي) برخه ده. دا یوه ذهني پروسه هم ده؛ ځکه چې مادي وجود نه لري؛ خو د سرک نه ورکوزېدل بیا یوه مادي پروسه یادېږي او د پایګر نوم ورکولای شو.

٦ـ دا درې ورځې کېدې چې زه په شین ټاغي کې ګیر وم(شپون، ۱۳۷۹: ۲).

په دغه جمله کې پیلګر، چې د تجربي پیلګر په توګه راغلی(دادرې ورځې) برخه ده. دا قیدونه هم دي؛ خو تجربي پیلګر په توګه راغلی دی.

۷ـ زه په شین ټاغي کې ګیر وم(شپون، ۱۳۷۹: ۲).

دلته تجربي پیلګر(زه) نومځرۍ دی او ګډونوال هم واقع شوی او (په شین ټاغي کې) مورګه وال پایځوړ بلل کېږي، چې حاشیوي زیاتونې هم ورته وایي. خو دلته (په شین ټاغي کې ګیر وم) د پایګر په توګه هم راغلی.

۸ـ د بهر سره مې د ارتباط وسیلې یوه د لنډې څېړې راډیو وه(شپون، ۱۳۷۹: ۲).

په دغه جمله کې تجربي پیلګر او ګډونوال(د بهر سره مې د ارتباط وسیلې)برخه ده. پاتې نوره برخه پایګر بلل کېږي.

۹ـ ما به دهغې نه د دې هیبتناک چاپېریال نندارە کوله(شپون، ۱۳۷۹: ۲).

دلته تجربي پیلګر او ګډونوال(ما) نومځرۍ دی او پاتې برخه پایګر دی. په دغه جمله کې (هیبتناک چاپېریال) مورګه وال پایځوړ هم دی.

۱۰ـ هغوی وسلې غوښتې(شپون، ۱۳۷۹: ۲).

تجربي پیلګر(هغوی) اشاري نومځرۍ دی او ګډونوال هم ورته وایي. وسلې غوښتې

د پایګر په توګه راوړل شوې.

۱۱ـ په لاعلاجه بلا کې نښتی وم(شپون، ۱۳۷۹: ۲).

- پیلګر: په لاعلاجه بلا کې
- پایګر: نښتی وم

۱۲ـ هغه زما سره دلته په واورو کې نښتې وې(شپون، ۱۳۷۹: ۲).

- پیلګر او ګډونوال: هغه(وسلې)
- پایګر: زما سره دلته په واورو کې نښتې وې.

۱۳ـ د مقاومت د ښاري پاڅون پیل ته شپږ ورځې پاتې وې (شپون، ۱۳۷۹: ۲).

- پیلګر: د مقاومت د ښاري پاڅون پیل ته
- حاشیوي زیاتونې: شپږ ورځې
- پایګر: پاتې وې

تجربي پیلګر تل فاعل نه وي؛ ښایي قیدونه(زمان، مکان او نور) د پیلګر په توګه راشي او یا ښایي د جملې نورې برخې.

۴. ۳. ۲. ۲ـ وګړمنځی پیلګر

دا هغه پیلګر دی، چې د تجربي پیلګر څخه وړاندې راځي او د اورښدونکي او ویونکي ترمنځ اړیکې ښیي. په دغه پیلګر کې ندایي کلمې، د وجهیت کلمې، د نظر څرګندولو کلمې او یا نورې کلمې راځي. لاندې جملې ولولئ:

۱ـ البته د ګاز چالانول او دا نورې خبرې ټول زما اوقي ورور کولې(شپون، ۱۳۷۹: ٦).

د پورتني تعریف له مخې وګړمنځی برچار(البته) کلمه ده او د تجربي پیلګر څخه وړاندې راغلې ده. تجربي پیلګر(د ګاز چالانول او دا نورې خبرې) برخه ده. دلته د(البته) کلمه د ارزونې لپاره راغلې ده.

۲ـ فقط د وسلو ضرورت و(شپون، ۱۳۷۹ :۱۲).

په دغه جمله کې هغه کلمه چې د وګړمنځي پیلګر په توګه راغلې هغه د (فقط) کلمه ده. دا ځکه چې د وړاندې خبرو په وړاندې د ویوونکي محدودیت او ټینګار څرګندوي.

تجربي پیلګر د (وسلو) کلمه ده او (ضرورت و) یوه مادي پروسه ده.

۳ـ خو داسې پوه شوم، چې د ځینو قشلو د قومندانانو سره یې خبره پخه کړې وه(شپون، ۱۳۷۹ :۱۳).

دغه جمله کې د(خو داسې) کلمه د وګړمنځي پیلګر په توګه راغلې ده. د (پوه شوم) کلمه ذهني پروسه ده. د(خو) کلمه ځکه د وګړمنځي پیلګر په توګه راغلې، چې د مخکنیو خبرو لپاره د ارزونې او اټکل چار پر غاړه لري.

۴ـ لا هم نه پوهېدم، چې د چا نه به وسله اخلم(شپون، ۱۳۷۹ :۱۳).

په پورته جمله کې د (لا هم) کلمه د وګړمنځي پیلګر په توګه راغلې ده. دلته هم دا کلمه د نورو خبرو لپاره د ارزونې او دوام په توګه ذکر شوې.

۵ـ محب ګله کښېوتې(شپون، ۱۳۷۹: ۱۴).

په پورته جمله کې د وګړمنځی پیلګر په توګه د(محب ګله) کلمه راغلې ده او دا کلمه د ندا کلمې په توګه ذکر شوې او په همدې خاطر ورته وګړمنځی پیلګر وایي.

٦ـ البته تر هغې د مخه او وروسته هم رسېدلی شوم(شپون، ۱۳۷۹: ۱۵).

دلته وګړمنځی پیلګر د (البته) کلمه ده، چې د غونډلې په پیل کې واقع ده.دا کلمه لیکوال تبصره ده او تبصره هم د وګړمنځي پیلګر په توګه راتلای شي.

۷ـ حتی د سر څېړې یې هم نه وې (شپون، ۱۳۷۹: ۱۵).

دا جمله هم وګړمنځی پیلګر لري او هغه د (حتی) کلمه ده او د غونډلې په پیل کې واقع شوې او تجربي پیلګر بیا(د سر څېړې) کلمې دي او د (حتی) څخه وروسته راغلي دي.دا کلمه هم د تاکید او ارزونې لپاره راغلې ده؛ نو ځکه ورته وګړمنځی پیلګر وایي.

۸ـ کېدای شي، چې نه مقاومت و او نه بل څه(شپون، ۱۳۷۹: ۱٦).

په دغه جمله کې وګړمنځی پیلګر د (کېدای شي) کله ده او د غونډلې په پیل کې راغلې ده او د تجربي پیلګر څخه وړاندې راغلې او احتمالي وجهیت ښیي. د وګړمنځي پیلګر په توګه وجهیتونه هم راتلای شي. لاندې جملې ته وګورئ:

۹ـ ښه ې یادېږي(شپون، ۱۳۷۹: ۱۹).

- وګړمنځی پیلګر: ښه

دا څکه وګړمنځی پیل ګر دی، چې ارزونه کوي او کله چې د ارزونې کلمې د غوندلې په پیل کې راشي؛ وګړمنځی پیلګر بلل کېږي.

۱۰ـ الته ما په سترګو نه و لیدلی(شپون، ۱۳۷۹ :۱٦).

- وګړمنځی پیلګر: الته

۱۱ـ خالقه د بې چاروو چاره سازه(شپون، ۱۳۷۹: ۷).

په دغه جمله کې وګړمنځی پیلګر(خالقه) کلمه ده او دا کمله د ندا کلمه ده او په پیل کې هم راغلې؛ نو څکه ورته وګړمنځی پیلګر وایي.

۱۲ـ ښه شوو، چې هغوی اوس ژوندي نه وو(شپون، ۱۳۷۹: ۹).

په دغه جمله کې(ښه شوو)چې د جملې په پیل کې راغلې کلمه ده، د خلکو ارزونه پرې شوې اوچې کله کومه کلمه د ارزونې لپاره راوړل شي، وګړمنځي پیلګر بلل کېږي.

۱۳ـ ته نورځه کابل ته(شپون، ۱۳۷۹: ۱۰).

په دغه جمله کې(ته) د مخاطب لپاره راغلی نومڅری دی. د وګړمنځي پیلګر یوه ځانګړنه دا هم ده، چې مخاطب متوجه کوي او په پورته غوندله کې هم دا برخه واضحه ښکاري؛ نو څکه د وګړمنځي بیلګر په توګه راغلې ده.دا جمله داسې هم ښایي ولوستل شي(نورځه کابل ته) کله چې نومڅری پکې پټ وي او بیا د(نور) کلمه هم د وګړمنځي پیلګر په توګه راتلای شي.

۱۴ـ ما پرېږده(شپون، ۱۳۷۹: ۱۱).

په دغه جمله کې وګړمنځی پیلګر د (ما) نومڅری دی او په پیل کې راغلی او امر دی. د امر په توګه هم وګړمنځی پیلګر راتلای شي.

۱۵ـ هسې هم زه تل په ټوکمارو شکمن یم(شپون، ۱۳۷۹: ۱۹).

په دغه جمله کې وګړمنځی پیلګر (هسې) کلمه ده او دا کلمه د لیکوال تبصره ده. د تبصرې کلمه هم د وګړمنځي پیلګر په توګه راتلای شي.

۱٦ـ هلکه ته درې صفتونه لري(شپون، ۱۳۷۹: ۱۹)

په دغه جمله کې د ندا کلمه راغلې او د (هلکه) کلمه ده او غږ ورته شوی؛ نو څکه وګړمنځی پیلګر دی.

۴. ۳. ۲. ۳ـ متني پیلګر

متني پیلګر هغه پیلګر دی، چې جملې یو له بله سره نښلوي، د متن منطقي تسلسل ساتي، په متن او جملو کې د علت، تقابل، وخت او ترتیب اړیکې رامنځته کوي او لوستونکي ته ښیي، چې نوې جملې له مخکښو جملو سره څه ډول اړیکه لري.لاندې جملې یې ښه وضاحت کولای شي:

۱ـ مګر زه پوهېدم چې ابا مازې د یو آشناځای ملاقات کوي(شپون، ۱۳۷۹: ٦).

په دغه جمله کې هغه کلمه چې د متني پیلګر په توګه راغلې هغه د (مګر) کلمه ده. دا ځکه چې د وړاندې خبرو په وړاندې د ویوونکي دریځ څرګندوي. تجربي پیلګر د (زه) کلمه ده او (پوهېدم) یو ذهني پروسه ده.

۲ـ خو پلار مې ویل چې ګل سرخ د زردشتیانو مېله ده (شپون، ۱۳۷۹: ۷) .

دغه جمله کې د(خو) کلمه د متني پیلګر په توګه راغلې ده. د (پلار) کلمه بیا د تجربي پیلګر په توګه راغلې او (ویل) ذهني پروسه ده. د(خو) کلمه ځکه د متني پیلګر په توګه راغلې، چې د مخکښو خبرو سره تسلسل چار پر غاړه لري.

۳ـ خو ډوډۍ زما تر ستوني نه تېرېده(شپون، ۱۳۷۹: ۴٦).

په پورته جمله کې هم د (خو) کلمه د متني پیلګر په توګه راغلې ده. دلته هم دا کلمه د نورو خبرو سره او د متن تسلسل ساتي او د نورو جملو سره اړیکه ټینګوي.

۴ـ مګر اوس یې دیوالونو پتري نیولي وو(شپون، ۱۳۷۹: ۵۴).

په پورته جمله کې د متني پیلګر په توګه د(مګر) کلمه راغلې ده او دا کلمه د نورو تېرو جملو سره د رغښت لپاره ذکر شوې. په همدې خاطر ورته متني پیلګر وایي.

۵ـ مګر ځان مې نشو قانع کولای(شپون، ۱۳۷۹: ۹۲).

دلته متني پیلګر د (مګر) کلمه ده، چې د تجربي پیلګر(ځان مې) نه وړاندې راغلې ده او د نورو جملو او مخکښو خبرو د علات لپاره راغلې.کله چې ځینې کلمې د غونډلې په پیل کې راشي او د نورو کلمو د علت او د اوږدونکي او ویونکي ترمنځ د اړیکو د ټینګولو لپاره راځي. په همدې خاطر ورته متني پیلګر وایي.

٦ـ بلکه د هغې ورځې چې د سالنګ لار خلاصه شوې، بیا د زړې لارې د احوال پوښتنه

چا نه ده کړې (شپون، ۱۳۷۹: ۵۲).

دا جمله هم متني پيلګر لري او هغه د (بلکه) کلمه ده او د غوندلې په پيل کې واقع شوې او تجربي پيلګر بيا(دهغې ورځې) کلمې دي او د (بلکه) څخه وروسته راغلې ده.دا کلمه هم د علت او وخت لپاره راغلې ده؛ نو ځکه ورته متني پيلګر وايي.

۷ـ خو بېرته ودرېده(شپون، ۱۳۷۹: ۴۷).

په دغه جمله کې متني پيلګر د (خو) کله ده او د غوندلې په پيل کې راغلې ده او د تجربي پيلګر څخه وړاندې راغلې او د جملو سره د پيوستون او اړيکې لپاره راوړل شوې. لاندې جملې ته وګورئ:

۸ ـ مګر نا معلوم سفر په مخکې و(شپون، ۱۳۷۹: ۴۷).

- متني پيلګر: خو
- تجربي پيلګر: نامعلوم سفر

۹ـ خو زه پوهېدم، چې دا قسم خلک په اسانه د خپل ښکار نه لاس اخيستونکي نه دي(شپون، ۱۳۷۹: ۴۷).

- متني پيلګر: خو
- تجربي پيلګر: زه

۱۰ـ بلکه دواړه ګير وو(شپون، ۱۳۷۹: ۲).

- متني پيلګر: بلکه

۱۱ـ بيا بلغاريا ته لاړم(شپون، ۱۳۷۹: ۴).

- متني پيلګر: بيا

۱۲ـ بيانو د کليوالو وربانديې وار نه و(شپون،۱۳۷۹ :۴).

متني پيلګر: بيانو

۱۳ـ نوبيا به يې خپل ويشتېن جيبي ساعت چې حاجي سلطان ورته د حج نه راوړی و ورو راويست (شپون، ۱۳۷۹: ٦)

- متني پيلګر: نوبيا

۴. ۳. ۲. ۴ـ ساده او مرکب پیلګر

که چېرې د تېرو یاد شوو پیلګر له ډولونو څخه، په تېره بیا تجربي چې اساسي پیلګر دی، یو په یوه غونډله کې راوړل شي، ساده پیلګر ورته وایي او که چېرې په یوه غونډله کې دوه پیلګر راوړل شي، بیا مرکب پیلګر بلل کېږي. دلته زه هڅه کوم، چې د دواړو برخو لپاره د شین ټاغي څخه بېلګې راوړم.

۴. ۳. ۲. ۴. ۱ـ ساده پیلګر

چې یو پیلګر وي او هغه هم چې تجربي پیلګر وي؛ لکه:

۱ـ زه په شین ټاغي کې ګیر وم(شپون، ۱۳۷۹: ۲).

په پورته جمله کې تجربي پیلګر د (زه) نومځرۍ دی او د جملې په پیل کې راغلی دی. کله چې په جمله کې یو پیلګر راشي، ساده پیلګر ورته وایي.

۲ـ شین ټاغی زما د ګرځنده کور نوم و(شپون، ۱۳۷۹: ۲)

په پورته جمله کې ساده پیلګر(شین ټاغی) دی. ځکه چې یو پیلګر پکې راغلی. یوه خبره د یادونې وړ ده، په چاروال ګرامر کې، ساده پیلګر دادی، چې په یوه غونډله کې یوازې یو پیلګر راوړل شي، هغه که دوې کلمې هم وي، لکه پورته چې د(شین ټاغي) کلمه راوړل شوې او په اوسنیو نورو نحوي کتابونو کې مبتدا ورته وایي؛ خو د یوې کلمې پرځای دوې کلمې د مبتدا په توګه راوړل شي، بیا ورته مرکبه مبتدا وایي.

۳ـ په لاعلاجه بلا کې نښتی وم(شپون، ۱۳۷۹: ۲).

په دغه جمله کې ساده پیلګر(په لاعلاجه بلا کې) کلمې دي او د جملې په پیل کې راغلې دي او ساده پیلګر یې رامنځته کړی.

۴ـ په اصل کې لوی ټپلر و(شپون، ۱۳۷۹: ۲).

په دغه جمله کې ساده پیلګر(په اصل کې) کلمې دي. دا چې په جمله کې یو پیلګر راغلی؛ نو ځکه ورته ساده پیلګر وایي.

۵ـ یو یخچال هم و(شپون، ۱۳۷۹: ۳).

په دغه جمله کې ساده پیلګر(یو یخچال) کلمه ده او پیل کې راغلې ده.بله برخه(هم

و) مادي پروسه یادېږي، ځکه چې بېرون وجود لري.
٦ـ یوه بله وسیله هم وه(شپون، ۱۳۷۹: ۲)

۴. ۳. ۲. ۴. ۲ـ مرکب پیلګر

مرکب پیلګر هغه پیلګر ته وایي، چې دوه پیلګره یو ځای په یوه غونډله کې راوړل شي. په دغه دوه پیلګرو کې یو متني او بل تجربي پیلګر شامل وي. په شین ټاغي ناول کې دا ډول پیلګر هم شته او په ډېرو جملو کې لیدل کېږي. لاندې جملې د مرکب پیلګر د پېژندلو لپاره ولولئ:
۱ـاوس دا مشکلات لا کم وو(شپون، ۱۳۷۹: ۲).

په پورته غونډله کې دوه پیلګر شته. یو متني پیلګر دی او هغه (اوس) کلمه ده او بل تجربي پیلګر او هغه (دا مشکلات) کلمه ده او کله چې دوه پیلګر په یوه غونډله کې راوړل شي؛ مرکب پیلګر بلل کېږي.
۲ـ بلکه دواړه ګیر وو(شپون، ۱۳۷۹: ۲).

په دغه غونډله کې هم دوه پیلګر شته. یو پیلګر متني دی او هغه لومړی راغلی او د(بلکه) کلمه ده او دویم تجربي پیلګر دی او هغه(دواړه) کلمه ده. داسې دوه پیلګر په یوه غونډله کې راوړل مرکب پیلګر بللی شو.
۳ـ مګر د نابللې په مخې مې د ډاکټر زړور سره مخابرې ته زړه نشو ښه کولای(شپون، ۱۳۷۹: ۲).

په دغه جمله کې هم دوه پیلګر شته. یو پیلګر متني دی او هغه د(مګر) کلمه ده او بل تجربي پیلګر دی او هغه(د نابللې په مخکې) کلمې دي. د دواړو پیلګر د یوځایوالي څخه مرکب پیلګر رامنځته کېږي.
۴ـ که یوه به تشه شوه د تنې په وهلو به بله ټانکی چالانه شوه(شپون، ۱۳۷۹: ۳).

دلته دوه پیلګر دي. یو متني دی او هغه(که) کلمه ده او بل پیلګر تجربي دی او هغه(یوه) کلمه ده. د دواړو پیلګر کلمو څخه مرکب پیلګر جوړېږي.
۵ـ نو بستر به شو(شپون، ۱۳۷۹: ۳).

په پورته جمله کې د(نو) کلمه متني پیلګر دی او د (بستر) کلمه تجربي پیلګر دی او د دواړو پیلګرو څخه مرکب پیلګر رامنځته کېږي.

٦ـ چې ملخ یا خمځوکی ووینې، نو لکه باښه پرې راشېوه شي(شپون، ۱۳۷۹: ۲)

په دغه جمله کې د(چې) کلمه یو متني پیلګر بللی شو او د (ملخ) کلمه یو تجربي پیلګر دی او همداراز په دویمه څرمه غونډله کې(نو) بیا یو متني پیلګر دی.یعنې په لومړی فقره کې(چې خمځوکی ووینې) دوه پیلګر دي. د (چې او خمځوکی) کلمې او پورته تشریح شول او د همدې غونډلې په دویمه فقره کې (نوبیا لکه د باښه پرې راشېوه شي) د (نو) کلمه بیا یو متني پیلګر بلل کېږي. په ټوله غونډله کې درې پیلګر راغلي دي. په هغه صورت کې، چې غونډله تجزیه شي .

۷ـ بیا بلغاریا او بیا ترکیې ته لاړم(شپون، ۱۳۷۹: ۴).

په دغه جمله کې(بیا) متني پیلګر دی او ورسره تجربي پیلګر د(بلغاریا) کلمه ده او دواړه یو ځای راوړل شوي اومرکب پیلګر یې رامنځته کړی او همداراز د همدې غونډلې په دویمه فقره کې هم دوه پیلګر شته. یو یې د(بیا) متني او بل یې تجربي هغه د(ترکیې) کلمه ده.

۸ـ بیا نو د ایران له لارې په دوو هفتو کې افغانستان ته ورسېدم(شپون، ۱۳۷۹: ۴).

په پورته غونډله کې دوه پیلګر او دواړه متني پیلګر څنګ پر څنګ راغلي دي او هغه د (بیا، نو) کلمې دي او دواړه کلمې په سر کې واقع شوې او مرکب پیلګر بلل کېږي. له دې سره بل پیلګر د (ایران له لارې) بل پیلګر هم راغلی، چې ټول درې پیلګر کېږي.

۹ـ بیا نو د کلیوالو ورباندې وار نه و(شپون، ۱۳۷۹: ۴).

په دغه غونډله کې هم د ټېرې غونډلې په څېر دوه پیلګر شته. د(بیا او نو) کلمې د متني پیلګر کلمې دي او ورسره د(کلیوالو) تجربي پیلګر هم شته او مرکب پیلګر یې جوړ کړی.

۱۰ـ مګر اوس زه هېر وم(شپون، ۱۳۷۹: ۴).

په دغه غونډله کې د (مګر، اوس) کلمې د متني پیلګر کلمې دي او د (زه) نومځری د تجربي پیلګر لپاره راغلی او مرکب پیلګر یې جوړ کړی دی.

۱۱ـ خو زه پوهېدم، چې راباندې په غوسه دي(شپون، ۱۳۷۹: ۴).

په پورته جمله کې د(خو) کلمه متني پيلګر دی او (زه) تجربي پيلګر دی او دواړو مرکب پيلګر جوړ کړی.

۱۲ـ چې کړی راباندې تنګېږي(شپون، ۱۳۷۹: ۴).

په پورته جمله کې (چې) متني پيلګر دی او (کړی) تجربي پيلګر دی. دواړه پيلګر يوځای راغلي دي او مرکب پيلګر يې جوړ کړی.

۱۳ـ چې البته ما په سترګو نه و ليدلی راورسېد(شپون، ۱۳۷۹ :۱۶)

چې+ البته+ ما= په مرکب پيلګر متني+ متني+ تجربي= مرکب پيلګر

۴. ۳. ۳ـ د متن د انسجام عوامل

لومړی د متن انسجام درپېژنم.انسجام د بانظمه، روان او شفاف مانا لري. د توکيو خپلمنځي اړيکې، چې کلام ته رواني وربښي، پيغام ښه لېږدوي، لوستونکي د مفاهيمو په درک کې له ستړيا څخه ژغوري انسجام بلل کېږي.د ژبې ټول دار اومدار په ترتيب او انسجام ولاړ دی. که په يو متن کې انسجام نه وي؛ نو متن له روانۍ او شفافيت څخه خلاصېږي، لوستونکي يې مفهوم ښه نشي درکولای او له ډېرې سرګردانۍ سره مخامخېږي(حکيمي، ۱۳۷۹: ۲۳۰).

انسجام فکرونو ته شفافيت وربښي او دا هغه وخت شونتيا مومي، چې له ګرامر او وييکو څخه سمه ګټه واخيستل شي او د دې کار په کولو سره به لوستونکي ته د متن په لوستنه او د پيغام په لېږد کې تساهل رامنځته شي. د يوه متن انسجام د کلمو په زنځيره يي استعمال، د ورته وييونو ځای په ځايينه، د ضمني مانا لرونکو وييونو په حذف، د اړيکويکو څخه په ګټې اخيستنې او اړيکو ولاړ دی.

انسجام د ژبنيو عناصرو ترمنځ اړيکې جوړوي او د ژبنيو عناصرو ترمنځ اړيکو ارزښت د دې لامل شو، چې د هالېډې پام يې هم ځانته واړوه او دا برخه د چاروالې ژبپوهنې مهمه برخه هم وبلل شوه.کله چې يو علمي متن بشپړېږي؛ نو اړينه ده، چې د سرليک نه نيولې تر پايلې پورې ټول سرليکونه يو له بله سره اړيکې ولري. په همدې خاطر

هر توکی دوه ډوله اړیکې لري. یوه اړیکه یې د راروان توکي سره او بله اړیکه یې د عمومي سرلیک سره.کله چې یو توکی د بل توکي سره اړیکه پیدا کوي، همدا انسجامي اړیکه ده.

دا چې دا انسجامي اړیکې د کومو اوزارو په مرسته ټینګېږي او کوم عوامل دي، چې په وسیله یې انسجام او انسجامي اړیکې رامنځته کېږي؟ دلته به په همدې اوزارو او عواملو خبرې وکړم. دا عوامل په دوه ډوله دي:

- د ګرامري انسجام ابزار او عوامل
- د وییز انسجام ابزار او عوامل

۴. ۳. ۳. ۱ـ د ګرامري انسجام ابزار او عوامل

هغه ابزار چې د ګرامري نظام په مټ تحقق مومي او یا د ګرامر زېرنده وي، هغه: ارجاع، حذف، ځایناستی او اړیکوییکي دي(سلامزوی، تېزس، ناچاپ).

پورتني ټول موارد به د بېلګو په راوړلو سره تشریح کړم. لومړی په ارجاع بحث کوم.

۴. ۳. ۳. ۱. ۱ـ ارجاع

د ارجاع په باب استاد ښکلي لیکلي دي:((په ژبه کې داسې توکي چې له نورو توکیو سره له رجوع پرته یې د مانا درک شونی نه دی. دې توکیو ته ارجاعي توکي وایي، چې یوې مرجع ته ارجاع کوي، چې یو ځیز وي.ارجاع په متن کې انسجام پیدا کوي. که مرجع په متن کې د ننه وه، ارجاع متن د ننه او که مرجع له متن ځخه بهر وه، متن بهر ارجاع نومېږي.چې دویم ډول یې د فرهنګي او موقعیتي قرینې په مټ معلومېږي او ژبه له بهرنۍ قرینې سره نښلوي...متن د ننه ارجاع په متن کې د متن د بېلابېلو ټوکونو ترمنځ انسجام پیدا کوي او په دوه ډوله ده: یو؛ مخ مرجع، چې مرجع تر ارجاعي توک مخکې راشي. دوه پس مرجع، چې مرجع تر ارجاعي توک وروسته راشي. پس مرجع په متن کې ابهام پیدا کوي او په داستاني ادب کې ترې استفاده کېږي))(ښکلی، ۱۴۰۱: ۱۴۴).

د پورته نقل قول ځخه دا ښکاره شوه، چې ارجاع په متن کې انسجام رامنځته کوي او د متن لپاره انسجام ډېر اړین ځکه دی، چې پیغام لوستونکي او اورېدونکي ته په ښه توګه

انتقال شي. بل دا چې متن باید روانوالی ولري ، شفاف او ثلاثت پیدا کړي. ارجاع په دوه ډوله ده، چې زه یې دلته په لنډ ډول راوړم.

۴. ۳. ۳. ۱. ۱. ۱ـ مخ مرجع

دا د ارجاع هغه ډول دی، چې مرجع تر ارجاعي توک مخکې راشي. دا ډول مرجع په شین ټاغي ناول کې ډېره شته. لاندې جملې یې ښه وضاحت کولای شي:

۱ـ د اوړي د وخت شپلې یې اوس هواره سپینه مځکه وه(شپون، ۱۳۷۹: ۱).

په پورته غونډله کې مخ مرجع راغلې ده، دلته ارجاعي توک(یې) نومځری دی، چې د(شپلې) لپاره ارجاع شوی او(شپلې) مرجع بلل کېږي، چې تر ارجاعي توکي مخکې راغلې ده. دا ډول مرجع مخ مرجع بلل کېږي.

۲ـ ګړنګونه او ژور خوړونه یې داسې له واورو ډک وو، چې د نابلده سړي به زړه غوښتل، چې د سرک نه ورکوز شي(شپون، ۱۳۷۹: ۱).

په دغه غونډله کې هم د تېرې غونډلې په څېر مخ مرجع راغلې. په دې غونډله کې ارجاعي توکی(یې) دی، چې د مرجع(ژور خوړونو) لپاره ارجاع شوی.

۳ـ بدن یې په سپین کفن پوښلی و(شپون، ۱۳۷۹: ۱).

په دغه جمله کې مرجع(بدن) دی او ارجاعي توکی(یې) دی. داځکه مخ مرجع بولي، چې ارجاعي توکی تر مرجع وروسته راغلی او مرجع مخکې تړې راغلې ده.

۴ـ په دیواله باندې یې د واورې د تم کېدو ځای نه و(شپون، ۱۳۷۹: ۱).

- مرجع کلمه: دیواله باندې
- ارجاع شوی توک: یې
- د مرجع ډول: مخ مرجع ده.

۵ـ بله وسیله هم وه، چې وروسته به یې بیان کړم(شپون، ۱۳۷۹ :۲).

- مرجع کلمه: بله وسیله
- ارجاع شوې کلمه: یې
- د مرجع ډول: مخ مرجع

٦ـ شین تاغی ما په جرمني کې د داسې یوه سیلاني نه واخیست، چې ټولې دنیا ته یې ورکې سفرونه کړي وو(شپون، ۱۳۷۹ :۳).

- مرجع کلمه: سیلاني
- ارجاع شوی توک: یې
- د مرجع ډول: مخ مرجع

۷ـ اوس یې پیسې نه لرلې(شپون، ۱۳۷۹ :۳).

- مرجع کلمه: سیلاني
- ارجاع شوی توک: یې
- د مرجع ډول: مخ مرجع

۸ـ په لار کې مې پلار راته کیسې کولې او هغه ځایونه به یې راښودل، چې ده به پکې شپه کړې وه(شپون، ۱۳۷۹ :٦).

- د مرجع کلمه: پلار
- ارجاع شوې کلمه: یې
- د مرجع ډول: مخ مرجع

۴. ۳. ۳. ۱. ۱. ۲ـ پس مرجع

دا د ارجاع هغه ډول دی، چې ارجاع شوی توک د مرجع څخه وړاندې راشي او مرجع کلمه وروسته تر راشي. دا ډول مرجع هم په شین تاغي ناول کې شته او په لاندې ډول یې روښانه کوم:

۱ـ یو څه تکلیف چې و، هغه د عبور د مقرراتو او معلم لخوا و(شپون، ۱۳۷۹: ۹).

په دغه جمله کې پس مرجع راغلې ده. دا ځکه چې ارجاع شوې کلمه د مرجع د کلمې څخه مخکې راغلې ده. په دې جمله کې ارجاع شوې کلمه(هغه) ده او د مرجع کلمې د (عبور او مقرراتو او معلم) دي او وروسته تر راغلې دي؛ نو ځکه ورته پس مرجع وایي.

۲ـ دوی پخه اېښې وه(شپون، ۱۳۷۹: ۱۲).

په دې جمله کې ارجاع شوې کلمې د مرجع د کلمې څخه وړاندې راغلې ده. په دې جمله کې ارجاع شوې کلمه(دوی) ده او مرجع کلمه(پخه) ده.

۳ـ دوی ته زما شین ټاغی پکار و(شپون، ۱۳۷۹: ۱۱).

په دې جمله کې (دوی) ارجاع شوې کلمه ده او د مرجع کلمه(زما شین ټاغی) کلمې دي. کله چې ارجاع شوې کلمې د مرجع د کلمې څخه وړاندې راوړل شي، پس مرجع بلل کېږي.

۴ـ هغوی ټولو په شوروي کې یا امریکا کې ارکان حرب لوستی و(شپون، ۱۳۷۹: ۱۲).

- ارجاع شوې کلمه: هغوی
- مرجع کلمه: ټولو
- د مرجع ډول: پس مرجع

۵ـ دوی په کار پوه خلک وو(شپون، ۱۳۷۹: ۱۳)

- ارجاع شوې کلمه: دوی
- مرجع کلمه: په کار پوه خلک
- د مرجع ډول: پس مرجع

٦ـ د هغوی مشر یو دنګ او خیټو افسر ورته وموسل(شپون، ۱۳۷۹: ۱۸).

- ارجاع شوې کلمه: هغوی
- مرجع کلمه: مشر یو دنګ او خیټو افسر
- د مرجع ډول: پس مرجع

۷ـ هغه سر د هو په علامه ټیټ او پاس وښوراوه(شپون، ۱۳۷۹: ۱۸).

- ارجاع شوې کلمه: هغه
- مرجع: سر د هو په علامه ټیټ او پاس
- د مرجع ډول: پس مرجع

۸ـ هغوی داسې پیچکاری جوړې کړې، چې چاته یې ورکړي بس، لکه بلبل خپل ټول حال وایي (شپون، ۱۳۷۹: ۱۵).

- ارجاع شوې کلمه: هغوی

- مرجع: داسې پیچکاری
- د مرجع ډول: پس مرجع

۹ـ د هغوی مشر خپټور قومندان راغی(شپون، ۱۳۷۹: ۲۰).

- ارجاع شوې کلمه: هغوی
- مرجع کلمه: مشر او خپټور قومندان
- د مرجع ډول: پس مرجع

۴. ۳. ۳. ۱. ۲ـ اړیکوییکي

د متن د انسجام دویم ډول ابزار او عوامل اړیکوییکي دي. اړیکوییکي مانیزې منطقي اړیکې ښیي.

یا د اړیکوییکو په مرسته د یو متن بېلابېلې برخې سره یوځای کېږي. اړیکوییکي په دوه ډوله وېشل شوي دي.

- رغښتي اړیکوییکي
- انسجامي اړیکوییکي

۴. ۳. ۳. ۲. ۱ـ رغښتي اړیکوییکي

دا هغه اړیکوییکي دي، چې د یوې غوندلې بېلابېلې برخې او ټوکونه سره نښلوي او یا هم دوې غوندلې سره یو ځای کوي؛ لکه: او، چې، ځکه، ولې، خو، نو، مګر او داسې نور. زه غواړم، چې دا اړیکوییکي په شین ټاغي کې روښانه کړم.

۱ـ لوړ مازیګر و، چې کیله ګي ته ورسېدم(شپون، ۱۳۷۹: ۱۵).

په دې جمله کې دوې غوندلې یوځای شوې، چې د دودېزې نحوې له پلوه ورته یوه اصلي او بله څېرمه جمله وایي. اصلي جمله لومړۍ ده اودویمه هغه یې څېرمه ده. دا څېرمه غوندله د اړیکوییکي(چې) په وسیله د لومړۍ هغې سره یوځای شوې او یو هدف یې بشپړ کړی. د چاروال ګرامر له نظره(چې) اړیکوییکی دی؛ خو د دوو غوندلو ترمنځ یې رغښت رامنځته کړی، په دې خاطر ورته رغښتي ابزار وایي.

۲ـ کیله ګی د پلخمري او دوشي ترمنځ یو لوی ډاګ دی(شپون، ۱۳۷۹: ۱۴).

په پورته جمله کې د یوې جملې دوې برخې د رغښتي(او) ابزارو په وسیله رغښت موندلی. یعنې پلخمری او دوشی د(او) په وسیله یوځای شوي او د کیله ګي وضاحت یې کړی. په مورفولوژي کې ورته د عطف ادات وایي.

۳ـ مګر داهسې بې سواده احساساتي خلک نه وو، چې ما به په آسانه قانع کړي وای(شپون، ۱۳۷۹: ۱۲).

دلته دوه ځایه رغښتي ابزار(اړیکوییکي) راغلي دي. لومړی د غوندلې په پیل کې، چې پیلګر هم ورته وایي او دا کلمه د(مګر) کلمه ده او بل د(چې) کلمه ده، چې د دوو غوندلو ترمنځ راغلې او رغښت یې موندلی. دا دواړه رغښتي ابزار دي.

۴ـ داسې ښکاري، چې دوی په کار پوه خلک لرل، ځکه موټر یې څو ورځې رانه د جنګلک فابریکې ته بوته(شپون، ۱۳۷۹: ۱۳)

دا غوندله هم دوه اړیکوییکي لري، چې درې غوندلې سره تړلې یې دي. لومړی اړیکوییکی (چې) دی، چې دوې لومړۍ جملې یې سره تړلې او دویم اړیکوییکی (ځکه) دی، چې درېیمه جمله یې د دویمې جملې سره تړلې ده. په چاروال ګرامر کې ورته رغښتي ابزار وایي؛ خو په دودیز ګرامر کې ورته اړیکوییکي وایي، چې دوې جملې، یا د جملې د ځینو ټوکونو او برخو ترمنځ لوړي او جملې او کلمې سره تړي.

۵ـ هر کال به مې پلار عریضې ورکولې، خو پچه به یې نه خته(شپون، ۱۳۷۹: ۷).

په دې جمله کې رغښتي ابزار د(خو) کلمه ده او د دوو غوندلو ترمنځ واقع شوې او دواړه غوندلې یې سره پیوند کړې.

۴. ۳. ۳. ۲. ۲ـ انسجامي اړیکوییکي

انسجامي ابزار هم اړیکوییکي دي؛ خو د دوو غوندلو ترمنځ لوړي او دواړه غوندلې سره پیوسته کوي. له بل پلوه دا قیدونه دي، چې د جملو په منځ کې راځي او دوې غوندلې سره نښلوي. دا ابزار دادي: نو، په پایله کې، پردې بنسټ، له دې ور هاخوا، له دې سره جوخت، د دې ترڅنګ او نور. دا ابزار په شین ټاغي دا ډول راوړل شوي:

۱ـ شپه او ورځ په موټر کې اوسېده، چې نور نه و، نو آرنډونه به یې تړې ایستل(شپون،

۱۳۷۹: ۴).

په دې جمله کې دوه ډوله ابزار شته. هم رغښتي او هم انسجامي. رغښتي ابزار(او، چې) کلمې دي او انسجامي ابزار د دوو ورستیو فقرو ترمنځ د(نو) کلمه ده او دا د(نو) کلمه انسجامي ابزار بلل کېږي.

۲ـ ما چې سلام وګرځاوه، نو ده راته وویل(شپون، ۱۳۷۹: ۱۶).

په پورته جمله کې رغښتي او انسجامي ابزار دواړه راغلي دي. د لومړۍ فقرې(چې) رغښتي ابزار یادېږي او د دواړو فقرو ترمنځ(نو)کلمه انسجامي ابزار دي.

۳ـ داسې ښکاري چې په ټول سوات کې که نه وي، نو زما په خپل لین کې زما د ډاکټرۍ اوازه خپره وه، خو ما بیاخپل انکار جاري وساته او د ناروغانو خواته مې کتل قدرې هم نه(شپون، ۱۳۷۹: ۸۵).

په پورته غونډلو کې دواړه ډوله ابزار شته. یعنې رغښتي او انسجامي. رغښتي ابزار یا اړیکوییکي (چې، خو، او) او انسجامي اړیکوییکي(نو)چې د دواړو غونډلو ترمنځ واقع دی راغلی دی. ډېرې داسې غونډلې شته، چې د دواړه ډولو اړیکوییکو په مرسته جملې رغښت مومي او هدف بشپړوي.

۴ـ چې نارینه یې راووت، نو هماغه د پانسو کوتک هم ورسره و(شپون، ۱۳۷۹: ۸۸).

۴. ۳. ۳. ۲. ۳ـ حذف او ځایناستي

په غونډلو کې حذف شته. یا په مکالمه او خبرو اترو کې ځینې برخې لېرې کېږي. دا برخې هغه وخت حذفېږي، چې کله ویونکی وغواړي خپل هدف او موخه اورېدونکي ته ژر انتقال کړي؛ په دې وخت کې بیا یوه برخه لوېږي. هغه برخه لوېږي، چې له تېرې برخې څخه یې استنباط کېږي او کله یې ځای نوي توکي نیسي او ځایناستي ورته وایي. دا برخه هم په شین ټاغي کې شته او زه غواړم، چې دلته یې راوړم.

۱ـ د کړکۍ نه سالنګ رسا سپین ململ و، چې تقریباً هوار غوړېدلی و(شپون، ۱۳۷۹: ۱).

په پورته لومړۍ غونډله کې (سالنګ) راغلی او ذکر شوی؛ خو په دویمه غونډله کې بیا سالنګ کلمه ترې لېرې شوې ده. دا هغه شونتیا مومي، چې ورته اړیتا ډېره نه وي، چې

ذکر شي او بل دا چې هدف ژر انتقال شي.

۲ـ شین ټاغی زما د ګرځنده کور نوم و، په اصل کې لوی ټپلر و(شپون، ۱۳۷۹ :۲).

په دغه غونډله کې شین ټاغی ذکر شوی او په دویمه غونډله کې د شین ټاغي ذکر نه دی راغلی او ویل شوي، چې په اصل کې لوی ټپلر و، چې هرف ترې همدا شین ټاغی دی. د داسې کلماتو لپړې کول د رغښتي ابزارو یو بل ډول دی.

۳ـ د شین تاغي مخه ښرته ګرځولې شې؟

کوشش خو به وکړم، چې لږ ړنا شي.

بس ښرته کوز شه، په هغه زړه لار لاړ شه.

هلته هم د شیبر نه سر کې د شنبل تنګی دی، چې په اوړي کې هم کنګل وي.

شیبر ته مه څه په دواب او میخ زرین کې به زمونږ سړي درته ولاړ وي.

یو مېلمه لرم.

ناممکنه ده.

بس د واورو دمینځه راووت.

رخصت یې کړه.نه کېږي سیاسره ده.

سیاسره څه مرګ غواړي؟

بس د دواورو نه راووتله.موټر یې اوښتی و.

رخصت یې کړه امر دی.

نه کېږي.

مه خوګیانې کېږه، ختمه یې کړه امر دی. په دواب کې به سره خبر شو.

په پورته متن کې ډېرې داسې برخې راغلې، چې په بله برخه کې حذف شوې او اشاره ورته وشوه.لکه چې وویل شول، چې مېلمه لرم. په ځواب کې ورته وویل شول، ناممکنه ده او بیا ټینګار وشو، چې ختم یې کړه. یعنې همدا مېلمه ختم کړه او په دې شکل ترپایه.یا لکه:

چېرته یې؟

د دواب نه بهر.

تسلیم دې کړل؟

هو

وسله؟

هو

نقشه؟

هو

خیر یوسې. ښځه دې فیصله کړه؟

نه

زمور نفرو ته دې وسپارله؟

نه

کله یې فیصله کوې؟

نه یې فیصله کوم.

پوه نشوم؟

نه یې وژنم. چا ته یې هم نه ورکوم.

د مرکز امر دی.

په دې شکل ډېرې داسې مکالمې شته، چې ځینې برخې یې ترې لېرې وي او ټول جریان پکې نه وي ویل شوی.

۴. ۳. ۳. ۲ـ د ویبز انسجام ابزار او عوامل

د متن د انسجام دویم عامل د کلمو ترمنځ د مانیزو اړیکو شتون دی. دا مانیزې اړیکې په دوو برخو کې خلاصه کېږي:

۴. ۳. ۳. ۲. ۱ـ تکرار

په متن کې تکرار کله کله د تکرار حسن بنه غوره کوي او متن ته نور خوند هم ورکوي. دا برخه په هنري نثرونو کې ډېره د استعمال وړ ده. دا تکرار په درې ډوله دی.

ـ د کلمو تکرار

کله کله په متن کې کلمې تکرارېږي او دا تکرار د وییز انسجام مستقیمه بڼه ده. دا تکرار متن ښکلی کوي او د لوستونکي د پام وړ هم ګرځي. په شین ټاغي کې دا ډول راوړل شوي.

۱ـ چوکۍ خو نه وې خو سره قالینه غوړېدلې وه او د اوږدو نیالیچو هر سر ته د قالینو بالښتونه وو (شپون، ۱۳۷۹: ۱۶)

په پورته غونډلو کې د(قالینو) د کلمې تکرار راغلی او دغو تکرار متن ښخونده کړی نه دی، بلکې روانوالی یې هم ورکړی دی.

۲ـ کیله ګی د پلخمري او دوشي ترمنځ یو لوی ډاګ دی، چې یوې خواته یې د دوشي سیند او بلې خواته یې تر څو سترګې لګېږي، ډاګ او ټیټې شنې غونډۍ دي(شپون، ۱۳۷۹: ۱۴).

په پورته متن کې د(ډاګ) کلمه تکرار په دول راغلې او دا تکرار د یوې اړتیا په صورت کې شوی او وییز انسجام یې رامنځته کړی. په هنري نثرونو کې دا ډول کلمې هم تکرار بلل کېږي؛ خو ځینې نورې کلمې چې کله د تکرار په بڼه راوړل کېږي، هغه بیا قیدونه یا د غونډلې بشپړونکې برخه هم جوړوي.

۳ـ لوړ مازیګر و، چې کیله ګي ته ورسېدم. البته تر هغې د مخه او وروسته هم رسېدلی شوم(شپون، ۱۳۷۹: ۱۵).

په دغه غونډله کې مادي پروسه(ورسېدم، رسېدلی شوم) دوه ځله تکرار راغلې ده او وییز انسجام یې رامنځته کړی.

۴. ۳. ۳. ۲. ۲ـ همانییز توب

همانییز توب دا مانا چې کله په یوه متن کې یا یوه غونډله کې هم مانا کلمې تکرار راوړل شي. په شین ټاغي کې داسې راوړل شوي:

۱ـ بیا به یې د پیوند شوې ونې یو نغوړګی یا زخه غوځه کړه(شپون، ۱۳۷۹: ۸).

په پورته جمله کې هممانا کلمې راوړل شوې دي. دا هممانا کلمې(نغوړګی او زخه)

دي، چې کلیوال یې په یوه مانا استعمالوي او د وییز انسجام دویم ډول یې رامنځته کړی.
۲ـ شین ټاغی زما د گرځنده کور نوم و، په اصل کې یو لوی ټپلر موټر و(شپون، ۱۳۷۹: ۲).

په پورته غونډله کې یو ځل شین ټاغی راغلی او وسره لوی ټپلر موټر هم ذکر شوی، چې دا دواړه هممانا کلمې دي. کله چې په یوه متن او یا یوه غونډله کې دا ډول هممانا کلمې راوړل شي، وییز انسجام جوړوي.

۳ـ په خوب کې مې یو حه ښکالو واورېده او چې کله راویښ شوم نو یو قسم کریغې او غرهاری و(شپون، ۱۳۷۹: ۳۹).

په پورته جمله کې دوې هممانا کلمې راغلې دي، چې(کریغې او غرهاری) دي او چې کله په یوه غونډله کې داسې هممانا کلمې راوړل شي، انسجامي اوزار ورته ویل کېږي.

۴ـ کله به داسې شور ماشور شو، چې لکه یو دبل سره جنگونه کوي(شپون، ۱۳۷۹: ۳۸).

په پورته جمله کې دوې هممانا کلمې راغلې دي، چې (جنگونه او شور ماشور) دي. دا کلمې په ځینو وختونو کې هممانا کېدای شي؛ خو تل نه. کله چې شور وي؛ نو موږ وایو چې څوک په جنگ اخته دي.

۵ـ پلار مې د نورو په روایت یو څه ناڕامۍ او خونونه کړي وو(شپون، ۱۳۷۹: ۳۷)

په پورته جمله کې هممانا کلمې(ناڕامۍ او خونونه) راغلې دي. دا کلمې هم تل په یوه مانا نه استعمالېږي؛ ځینې وخت کلمې نقش ته په کتو په یوه مانا راځي.

۴. ۳. ۳. ۲. ۳ـ مانیز ګډون

مانیز ګډون دېته وایي، چې د یوجنس د ځیزونو ترمنځ د سلسله مراتب اړیکې له مخې د کلمو تکرار پکې وي. مانیز ګډون په شین ټاغي کې دا ډول دی:

۱ـ په لا علاجه بلا کې نښتی وم(شپون، ۱۳۷۹: ۲).

په پورته جمله کې د(بلا) کلمه راغلې ده. د بلا کلمې څخه موخه ټولې هغه ستونزې دي، چې لیکوال پکې ګیر شوی. بلا: د لارې ستونزې، د روسانو څخه د صلاح راوړل مجاهدینو ته، د لارې ستونزې او داسې تر کابل پورې او له کابل څخه تر پېښور، سوات او

نورو علاقو پورې، ټولې هغه ستونزې رانغاړي، چې لیکوال ورسره مخامخ شوی.

۲ـ د ګاز څلور ټانکی بهر د موټر په اړخ پورې ټینګې وې(شپون، ۱۳۷۹: ۳).

په پورته جمله کې د ټانکی کلمه راغلې ده. د ټانکی څخه یوازې د ګاز ټانکی نه ده؛ بلکې د اوبو، ګاز، تېلو ټانکی هم مراد دي.

۲ـ پوخلاتوب

په متن کې پوخلاتوب دېته وایي، چې ځینې کلمې په متن کې راشي او هغې څخه نورې کلمې او پېښې رایادې شي او د همغه کلمې په اورېدو ټولې پېښې ذهن ته راشي. د استاد ښکلي په وینا راتداعي شي. دا وړ کلمې هم په متن کې شته.په شین ټاغي کې په دې ډول دي:

۱ـ په لاعلاجه بلا کې نښتی وم، د مخابرې وسیله راسره وه، مګر د نابللې په مخکې مې د ډاکتر زړور سره مخابرې ته زړه نشو ښه کولای(شپون، ۱۳۷۹: ۲)

د پورته جملې ځینې کلمې چې څوک اوري؛ نو نورې پېښې راتداعي کوي او ذهن ته یې راولي. هغه کلمې، چې نورې کلمې ترې تداعي کېږي، هغه(لاعلاجه بلا)ده. د لاعلاجه بلا په اورېدو سره او د ډاکتر زړور د مخابرې په اورېدو سره د شین ټاغي ټوله کیسه رایادېږي، چې له کوم ځایه پیل، څه ډول مخ ته تللې او څه ډول پای ته رسېدلې ده؟ بل دا چې لاعلاجه بلا هم ټولې ستونزې د کیسې د کرکټر رایادوي، چې په ټوله کیسه کې کومې ستونزې ورته پېښې شوې دي. د ډاکتر زړور مخابره هغه څه ده، چې د کیسې پلاټ، کرکټر، منظره کښنه، ستونزې او نورې ټولې پېښې ترې رایادېږي.

۴. ۳. ۳. ۴ـ پیوستون

پیوستون په یوه متن کې د دوو توکیو ترمنځ اړیکې ته وایي. استاد ښکلي یې په اړه لیکلي دي:((د پیوستون اړیکه هله رامنځته کېږي، چې په وینا کې دځو توکیو تاویل او تعبیر په یوه توکي او یا په بل پورې تړلی وي او د یوه په له پامه غورځولو سره متن سم د درک وړ نه وي))(ښکلی، ۱۴۰۱: ۱۴۶).

د پورته متن څخه دا راښکاره شوه، چې په متن کې د توکیو ترمنځ اړیکې پیوستون

منځته راوړي او کله چې یو توکی د متن له بطن څخه لېرې کېږي؛ نو هرو مرو مانا له منځه ځي.پیوستون یوه مانیزه اړیکه هم ده او دا اړیکه د متن نه بهر ده، لکه په متن کې د نومځرو او نورو توکیو ترمنځ اړیکه.

د پیوستون اړیکه هغه وخت رامنځته کېږي، چې کله په خبرو اترو کې د خبرو تعبیر او مفهوم په بل توکي پورې تړلی وي او کله چې یو توکی تړې لېرې کېږي؛ نو مفهوم پاشل کېږي. متن کې هرو مرو توکي یو په بیل پورې تړلي وي او کله چې یو په بل پور ونه تړل شي؛ نو متن معنا او مفهوم له لاسه ورکوي.

د پیوستون اړیکه په دوه ډوله وېشل شوې:

۴. ۳. ۳. ۴. ۱ـ له سیاق سره همغږي

له سیاق سره همغږي دا مانا چې ژبه د همغه وخت له چاپېریال، حالت او ټولنیزو شرایطو سره همغږې وي. یعنې کله چې څوک ناول لیکي، د ناول جملې د همغه وخت له حالت، شرایطو او چاپېریال سره مناسبت ولري. د همدې برخې د لاښې څرګندونې لپاره لاندې جملې ولولئ:

۱ـ د کړکۍ نه سالنګ رسا سپین ململ و، چې تقریبا هوار غوړیدلی و . داوړي دوخت شیلې یې اوس هواره سپینه مځکه وه او ګړنګونه او ژور خوړونه یې داسې له واورو ډک وو چې د نابلد سړي به زړه غوښتل چې دسرک نه ورکوزشي او چکر پرې ووهي دواورې ددې ارتې ورشو آهنګ ایله دوه ځایه مات شوی و . یو د تونل خوله وه چې دکړکۍ نه داسې سرته ورته و ه چې بدن یې په سپین کپن پوښلی وي. بل هغه کمر و چې څلور پنځه کیلو متره د تونل کینې خواته دسرک خواته راکړوپ شوی و او په دیواله باندې یې دو اورې د تم کیدو ځای نه و او چې به دو اورې په شیبو کې وقفه راغله او لمر به شو نو داسې سور بخون ښکاریده(شپون، ۱۳۷۹: ۱).

په پورته متن کې ژبه له سیاق پوره همغږې ده. ځکه چې چاپېریال د ژمي دی او سالنګ هم په واورو پوښلی او د سالنګ شیلې د واورو څخه ډکې دي، چې سپینې ښکارېږي او ورسره خوړونه او نورې شیلې یې ټولې له واورو ډکې دي. په همدې مهال

کمر هم نور په واورو پټ دی، خو یوازې سر یې ښکارېږي او داسې معلومېږي، چې ته به وایې، چې راکړوپ شوی او دا رښتیا ده، چې کله په ژمي کې په واوره لمر ولګېږي؛ نو طبعاً څه لمبه غوندې د لېدونکي سترګې برېښوي او لمبه یې هم سوربخنه ښکاري. دا هغه څه دي، چې له حالت، چاپېریال سره همغږي راغلې ده. بلې ببلګې ته هم پام وکړئ:

۲ـ دادې ورځې کیدې چې زه په شین تاغي کي ګیروم ، بلکه دواړه ګیر وو . دبهر سره مې دارتباط وسیلې یوه دلنډې څېې رادیو وه(شپون، ۱۳۷۹: ۲).

په پورته جملو کې د ژبې له بند پاتې کېدو له سیاق سره پوره همغږي ښودلې ده. لیکوال لیکلي، چې درې ورځې زه په شین ټاغي کې ګیروم او دواړه ګیر و او وروسته بیا زیاتوي، چې د بهر سره مې د ارتباط وسیله رادیو وه. دلته د ګیر پاتې کېدو، د ارتباط وسیله رادیو دا ټول هغه څه دي، چې یو له بله سره همغږي دي او که یوه برخه تري حذف شي، نو بیا د متن مانا هم نه بشپړېږي.

۳ـ هغوی وسلې غوښتې او هغه زما سره دلته په و اورو کې نښتې وې . د مقاومت دښاري پاڅون پیل ته شپږ ورځې پاتې وې اوزه به داوسلې څنګه پخپل وخت ور رسوم ؟(شپون، ۱۳۷۹: ۲)

په پورته متن کې له سیاق سره د ژبې همغږي داسې ده، چې ټولنیز شرتیطو ته پام هغوی وسلې غوښتې او هغه زما سره بندې پاتې وې او له بل پلوه پاڅون ته هم شپږ ورځې پاتې وې. دا ټولې هغه خبرې دي، چې یو له بله سره همغږې دي او که یوه برخه هم تري لېرې شي، ښایي ټول متن مانا له منځه لاړه شي. کله چې داسې برخې په یوه متن کې راوړل کېږي، پیوستون منځته راوړي. د هغه وخت شرایط داسې وو، چې د روسانو په مقابل کې پاڅونونه کېدل او هرځای او هر چېرې مجاهدین را پورته شوي وو، په دې خاطر وسلې، پاڅون او بند پاتې کېدل دا هغه څه وو، چې د جګړې له سیاق سره یې همغږي درلوده. پورته مورِ ذکر کړل، چې له سیاق سره همغږي دېته وایي، چې د حالاتو، شرایطو او چاپېریال سره باید همغږي ولري. په لومړۍ برخه کې ډېره د چاپېریال سره همغږي وه، په دویم او درېم متن کې له حالاتو او شرایطو سره همغږي لیدل کېده، په همدې خاطر یې پیوستون رامنځته کړی دی. دا خبره هم د یادونې وړ ده، چې که چېرې

یوه برخه هم تري لېرې شي، نو د متن مانا ته ضرر پېښولی شي. د نورې لاښې توضېح لپاره د شین ټاغي څخه نورې بېلګې هم راوړم:

۴ـ شین ټاغی زما دگر څنده کورنوم و . په اصل کې لوی ، ټیلر موترو چې په جرمني کې مې اخیستی و . کلیوالو وربانديې دشین ټاغي نوم ایښی و چې په فارسي کې یې نیله زاغ بولي ، داوړي او شولگرو مارغه دی چې دسړک د سر د تلفون په مزو کښیني او ټغیږي . چې ملخ یا څمخو کی ووینې نو ، لکه باښه پرې را شیوه شي او ایسته یې دځان سره د تلفون دمزي سرته یوسي اوسر په څیړی یې گوروت کړي. سپینې او آبي لیکي لري.

دشین ټاغي کمالات ډیر و و . د دیواله پورې یې داسې سیتمونه وو، چې دشپې به دې را کش کړل نو بستر به شو . توشکې، نیالی ، کمپلې داټول یې لرل. په لر سر کې یې یو نغری یاداش و، چې په گاز چلیــده. دگاز څلور تانکی بهر د موټر په اړخ پورې ټینگې وې او یونل تري نغري ته راغلی و . که یوه به تشه شوه د تنی په وهلو به بله ټانکی چالانه شوه. همدې گاز دشین ټاغي دگر مولو کار هم ورکاوه . د تیلو هم دري ټانکی وې چې اتومات به دیوې په تشید و بله چالانه شوه . یو یخچال هم و چې په گاز چلیده(شپون، ۱۳۷۹: ۲ـ ۳).

په پورته متن کې موټر ته د کور خطاب شوی او کله چې د کور نوم اخیستل کېږي؛ نو زموږذهن ته د کور ټولې آسانتیاوې راځي. دلته هم په موټر کې سیټونه، توشکې، بالښتونه، ټانکی، نغری، د اوبو ټانکی، د گازو ټانکی او نور هغه څه دي، چې یو له بله سره اړیکه لري او د کور له سیاق سره ټول همغږي دي او یا اړین دي. که له دې متن څخه یوه برخه هم لېرې شي؛ نو د پیوستون موضوع له منځه ځي.

۴. ۳. ۳. ۴. ۲ـ له فرهنگي اوبد سره همغږي

له فرهنگي اوبد سره همغږي دې ته ویل کېږي، چې متن د هغې ټولنې له فرهنگ، دودونو، ارزښتونو، باورونو او ټولنیزو شرایطو سره سمون ولري. یعنې لوستونکی د خپل فرهنگي شالید پر بنسټ د متن مانا په اسانه درک کړي. له فرهنگي اوبد سره همغږي د شین ټاغي څخه راوړم:

۱ـ پلار مې چې په لسهاوو ځلې دآس په سپر لی او کله لا هم پښې یبله د خوګیانو او خان آباد تر مینځ مزلونه کړي وو هم خوشاله و هم په خوله یې څه نه ویل . کله به چې کومې بیشې ته ورسیدو یا مثلاً د دره شکاري تنګې ته چې دواړو خواوو ته د غره دیوالونه وو او د سړک د ژۍ سره جوخت، کوز څپاند سیند بهیده چې او به یې د پاسه شنې لګیدې، نو بیا به یې خپل جیبي ویشتن ساعت چې حاجي سلطان ورته د حج نه راوړی و راویست چې ګوندې د لمانځه وخت دی(شپون، ۱۳۷۹: ٦).

په پورته متن کې د (آس په وسیله سپرلي او پښې یبلې) تر ډېره لېرې ځایه مزلونه کول، دا ټول هغه څه دي، چې زمونږ په فرهنګ پورې تړلې خبره ده. بل د حج څخه د تحفې(ساعت) راوړل هم زمونږ د فرهنګ برخه ده او له فرهنګي اوبد سره پوره همغږي لري. دویمه خبره چې زمونږ له اسلامي فرهنګ سره پوره همغږي لري، هغه په پورته متن کې د لمانځه کول دي یعنې (ګوندې دلمانځه وخت دی). پورتنۍ خبرې ټولې له فرهنګي اوبد سره همغږي لري.

۲ـ په دریم کال د شین ټاغي د ټولونه د لوی از میښت و ار راغی. پلار او مور مې د ډېره وخته حج ته لیواله وو او هر کال به مې پلار عریضي ورکولې خو پچه به یې نه خته . د حاجیانو کاروان به چې روان شو، نو پلار او مور به می د هغوی د را تګ پورې ګنګس وو، مور به مې چې د غوا د لوشلو نه پس راغله، د وچو شوو اوښکو لاره به یې په مخ ښکارېده او پلار به مې تل د ځانه سره بنګېده او کوم شی به یې ویلې، چې په اول کې ما د سندرې د زمزمې خیال پرې کوه؛ خو یوه ورځ مې کتل چې ابا د ځانه سره بنګیږي او په شمله خپلې سترګې وچوي . پوه شوم چې د حج ارمان کوي(شپون، ۱۳۷۹: ۷).

په پورته متن کې له اسلامي ارزښتونو سره پوره همغږې وینو او په متن کې لیدل کېږي، چې دوی حج ته ځي او د لیکوال د مور او پلار تر ټولو ستره هیله هم د حج اداکول دي. حتا تر دې چې څوک به د حج نه راتلل دوی به ژړل، چې ګواکې مونږ ترې پاتې شو. کله چې په یوه متن یا جمله کې داسې موارد راوړل شي، له اسلامي ارزښتونو او فرهنګ سره همغږي بلل کېږي. یا لکه په لاندې جملو کې:

۳ـ یوه ورځ چې زه په ښار کې د جمعې دلمانځه نه کلي ته راستون شوم، ګورم چې د شین

تاغي نه سور تاغی جوړ شوی(شپون، ۱۳۷۹: ۱۰)

په پورته جملو کې له اسلامي فرهنګ سره هم همغږي ښودل شوې او هم د ځان د خلاصون او نجات لپاره يې د شين تاغي نه سور تاغی جوړېدل هم د افغاني فرهنګ يوه برخه جوړېدای شي.د اسلامي فرهنګ سره همغږي په(يوه ورځ چې زه په ښار کې د جمعې دلمانځه نه کلي ته راستون شوم) دغه جمله کې ښه واضح ډول راغلې ده. ځکه لمونځ د مسلمانانو لپاره اساس او اسلامي ارزښت دی.

۴ـ ما پرېږده، چې يو بېسواده سړی يم، خپله دهقاني به کوم(شپون، ۱۳۷۹: ۱۱)

په پورته جملو کې افغاني ژوند، کلیوالي فرهنګ، د دهقاني په وسیله د اقتصادي وضعیت پرمخ وړل دا ټول هغه څه دي، چې زمونږ له کلتور سره نېغ په نېغه اړیکه لري او همغږي شوي. دا ډول راوړنه له فرهنګي اوبد سره همغږي ښوول کېږي.

۵ـ دکیله ګي يو بل شی چې زما تر اوسه يادېږي، هغه يو عجیب شانې ښکارو. خلکو به دلته باښې نیولې او بیا به يې د اورېدو د قراره په عربو خرڅولې. زه به چې کله خان آباد ته دتګ په لاره کې دلته را پېښ شوم ، نولیدل به مې چې يو سړی لګیا دی يوه رسۍ په هوا کې چورلوي . دا رسۍ تقریباً دېرش څلویښت متره وه او نه پوهېدم چې دايې څنګه په هوا کړې ده . د نژدې نه مې چې هغه ولیدله نو يو سر، هماغه سر يې چې د سړي په لاس کې و، نری او هغه بل سر يې پرېږ او دروند و او ښکارځن به نیم ساعت په هوا کې تاووله چې تر څو به د کاغذ پران په شان د هغې دروند سر هوا ګیر شو. د پرې په هواګیر سر کې د سنیو غونډاری و چې په هغې کې لومې وې. دغه د سنۍ غونډاری داسې جوړ شوی و، لکه مرغۍ ګویا باښې به چې ولیده نو د مرغۍ ګمان بـه يـې پرې وکړ او غوټه به يې پرې وکړه بیا به نو دسنیو په وړیو او لومې کې و نښته او سوته بوته به کوزه را پریوته(شپون، ۱۳۷۹: ۱۴).

په پورته متن کې له فرهنګي اوبد سره همغږي پوره لیدل کېږي. هغه داسې چې ښکار زمونږ د افغانانو يوه مهمه فرهنګي مېله ده. هر څوک ښکار کوي او له ډېره پخوا وخته راپاتې ده. ان تردې چې خوشحال خان خټک پوره کتاب د بازنامې په نوم هم لیکلی دی. د پیوستون دويم ډول، چې له فرهنګي اوب سره همغږي ده. په دغه ټوټه متن کې

لیدل کېږي. دلته ښکار، لومې، د باښې نیول، د رسۍ تاوول یا په رسۍ د باښې نیول، دا ټول هغه څه دي، چې یو له بله سره پیوستون لري او که ترې لېرې شي، د متن مفهوم ته زیان اړوي او مانا نه پکې پاتې کېږي.

٦ـ چار قل مې وویلې او په ځان مې چپ کو او په توکل ورکوز شوم(شپون، ١٦).

یو بل ډېر مهم او د مسلمانانو په عقیدو پورې تړلی شی، چې هر مسلمان ته روحي تسکین ورکوي او اسلامي خبره هم ده او د هر مسلمان لپاره اړینه هم ده، هغه خبره په الله ﷻ توکل دی. په پورته جملو کې لیکوال لیکلي، چې چهارقل سورتونه(د کافرون، اخلاص، الفلق او الناس سورتونه) مې په ځان چپ کړل او د الله ﷻ په توکل ورکوز شوم. دا خبره د مسلمانانو د عقېدې اړوند ده او زموږ د پښتني فرهنګ هم مهمه برخه بلل کېږي. په پورته متن کې(چارقل، توکل، چپ کول) دا ټول هغه خبرې دي، چې یو له بله تړلې او د مسلمانانو د عقېدو او پښتني فرهنګ برخې دي.

٧ـ په رستوران کې مې چې خلکو ورته هو ټل وایه د ټاکلي قرارداد سره سم د زرکې د ښوروا فرمایش ورکړ او کښېناستم . بیا نوشنې چای راغلې او ما هم ورته ډډه ووهله . چوکۍ خونه وې خوسره قالینه غوړېدلې وه او د اوږدو نیالیچو هر سرته د قالینو بالښتونه وو، چې مینځونه یې دبوسو ډک وو . د کوټې په سم نیمایی منځ کې یوه ابدان داره دبیلر نه جوړه شوی بخاری وه ، د کوټې نه یوه وړه کړکۍ شاته پخلنځی ته خلاصه وه ، په داسې ډاګ کې، د داسې یوه رستوران موجودیت پخپله د حیرانتیا خبره وه(شپون، ١٣٧٩: ١٦)

په دغه متن کې چې له افغاني فرهنګي اوبد سره همغږي ښیي، ډېرې کلمې شته. اصلاً مېلمه پالنه زموږ د افغاني فرهنګ یو خوندور دود دی، چې ښایي په نورو ټولنو کې نه وي. د همدې دود له مخې باید په هوټلونو کې ورته مسایل چې پورته راغلي دي وي. په پورته متن کې(هوټل، زرکې ښوروا، شین چای، قالینې غوړېدل، بالښتونه، ابدان داره بخاری، پخلنځی) دا ټول هغه څه دي، چې د مېلمه پالنې سره نېغ په نېغه اړیکه لري او مېلمه پالنه زموږ د افغاني ټولنې یو ارزښتمن دود دی.

٨ـ زه په لمانځه ولاړ وم، چې زما نفر چې نوم یې راته د بهادر خان ښودلی و ، چې البته ما په سترګونه ولیدلی راورسید . ما چې سلام و ګرځاوه نو ده راته وویل، ته چېرته او کیله ګی

چېرته؟(شپون، ۱۳۷۹: ۱۶).

په دغه جملو کې زمونږ اسلامي فرهنګ پالل شوی او هغه په هر ډول شرایطو کې د لمانځه کول دي او باید قضا نشي، دلته هم په (لمانځه درېدل) او د لمانځه ادا کول، یوه اسلامي وجیبه ده او په هر مسلمان فرض دي، چې په هر ډول شرایطو کې لمونځ ادا کړي. بل دا چې لیکوال لیکلي، چې کله مې سلام وګرځاوه، نو هغه زما نفر بهادر خان راورسېد او له لمانځه نه وروسته یې ولیدم او ډېر خوشحاله شو. زمونږ د افغاني فرهنګ یو بل مهم کار دا هم دی، چې د خپلو دوستانو په لیدلو ډېر خوشحالېږي. البته هغه دوستان، چې انډیوالان وي؛ نه خپلوان. بهادرخان او لیکوال ښایي لومړی ځل لیدلي وي؛ خو چا ورته معرفي کړی، دغه د معرفي کولو نه وروسته د دومره خوشحالۍ احساس هم یوازې زمونږ د افغاني فرهنګ برخه ده. بل دا چې یوازې په یو ځل معرفي کولو یې هغه ته دومره درناوی کړی، دا هم زمونږ د افغاني فرهنګ یوه لویه او مهمه برخه جوړوي. دا ټول هغه څه دي، چې زمونږ په اسلامي او افغاني فرهنګ پورې تړلي دي او دغه برخه له فرهنګي اوبد سره پوره همغږي لري.

د پایلې په توګه ویلای شم، چې په شین ټاغي ناول کې درې برچارونه اود دهمدې دریو برچارونو ټولې ځانګړنې او برخې په پوره وضاحت راوړل شوې او هرې برخې لپاره بېلګې کره دي.

پینځم څپرکی

پایله او مناقشه

۵. ۱ـ پایله

د پورته ټولې لیکنې څخه دا پایله لاس ته راغله، چې په لومړي سر کې شین ټاغی یو سیاسي ناول دی او د مجاهدینو د پېداکېدو له لومړیو وختونو څخه یادونه کوي، چې په خپله لیکوال هم ورسره ملګری دی. نه یوازې لیکوال؛ بلکې موټر یې(شین ټاغی) هم د مجاهدینو په خدمت کې دی او د وسلې د انتقال لپاره یې بغلان ته لېږلی. دا چې شین ټاغی یو سیاسي ناول دی؛ نو لیکوال هم هڅه کړې، چې د یاد جریان ټولې پېښې عیني کړي او اکثره پروسې یې مادي کړې دي.

منظور دادی، چې په شین ټاغي ناول کې ډېرې پروسې چې کارېدلي دي، هغه مادي دي او د پېښې د عیني کولو په مرسته لیکوال دا هڅه کړې، چې لوستونکو ته هر څه روښانه وښیي، چې د لوستونکو پرې ښه باور راشي. بل دا چې په دغه ناول کې ډهني پروسې په دویم قطار کې ولاړې دي او ورپسې، چلني، بیاني، اړیکمنې او وجودي هم ډېرې راغلي دي. یو بل ډول پروسې په شین ټاغي ناول کې ما پیدا کړې، چې هغه استعاري پروسې دي او ښایسته بېلګې مې هم ورته راوړې.

د پروسو تر څنګ په شین ټاغي کې مشارکتي توکي، څنډني توکي او د تجربي برچار ټولې برخې لیدلای شو. د تجربي برچار ترڅنګ د وګړمنځي پرچار ټولې برخې؛ لکه: وجهې(خبري، امري، پوښتني)، وجهیتونه(التزامي، احتمالي او شکي)، د وجهې ټوکونه(فاعل، قطبیت، مهالمن توک)، پاتې شونې، زیاتونې، چې حاشیوي زیاتونې او

تفسیري زیاتونې یې ډولونه دي د بېلګو سره څېړل شوې.

له دې سره په څنګ کې بشپړاند هم د وګړمنځي پرچار یوه مهم برخه ده. دغې برخې ته مې هم پوره بېلګې پیدا کړې او د بېلګو په راوړلو سره مې روښانه کړ. د وګړمنځی برچار ټولې نورې هغه برخې، چې ضروري وې او اړتیا ورته ډېره لیدل کېده، په یاد ناول کې مې پوره وڅېړلې او هرې برخې ته مې تر خپل توانه پورې بېلګې راوړې. دا برخې هم په شین ټاغي کې پوره پیدا کېږي او د موضوع د محتوا سره سمې مې څېړلې دي.

درېیمه برخه چې ما په شین ټاغي کې وڅېړله، هغه متني برچار برخه ده. په متني برچار کې د اطلاع نظام دی، چې دوې برخې لري، زړه اطلاع او نوې اطلاع. دا برخې مې په شین ټاغي کې د بېلګو سره واضح کړې دي.دویم نظام چې په متني برچار پورې اړوند دی، هغه پیلامي نظام رغښت دی. په پیلامي نظام رغښت کې د پیلګر او د هغې د ډولونو(تجربي پیلګر، وګړمنځی پیلګر، متني پیلګر)، د جوړښت له مخې پیلګر(ساده، مرکب)، د پیلګر ځانګړنې، پایګر راځي او دا ټولې برخې مې روښانه کړې دي او د هرې برخې لپاره مې پوره بېلګې راوړې دي.

له دې موضوع سره په څنګ کې په انسجام هم غږېدلی یم. په انسجام کې مې د انسجام په اوزارو(ګرامري نظام اوزار، د وییز نظام اوزار) بحث کړی. په ګرامري نظام اوزارو کې ارجاع(مخ مرجع، پس مرجع) بحث شوی اوورسره په حذف او ځایناستي هم پوره څېړنه شوې ده. د وییز نظام په اوازو کې پر تکرار هم بحث شوی دی.

په تکرار کې د کلمې تکرار، هممانا کلمو بحث شوی او مانیز ګډون هم څېړل شوی او د بېلګو په راوړلو سره مې واضح کړی دی. د متني برچار په پای کې په پیوستون بحث شوی، چې په دوه ډوله وېشل شوی. یو له سیاق سره همغږي ده او بل له فرهنګي اوبد سره هم په همغږي بحث شوی. دغې دواړو برخو ته هم پوره بېلګې موندل شوې او څېړل شوي دي.

د یادونې وړ بولم، چې د یادو درېو برچارونو څېړنې لپاره مې تر خپل توان پورې هڅه کړې، چې د برچارونو ټولې برخې د بېلګو په راوړلو سره وڅېړم. ان شاءالله په دغه

برخه کې بریالی هم یم او الله ﷻ په مرسته مې ټولې برخې په ډېره ساده او روانه او د ټولو لوستونکو د پوهېدو وړ ژبه مې پورتنۍ څېړنه سرته رسولې ده.

بیا هم یادونه کوم، چې انسان د کار په جریان کې تېر وخې، که کومه تېروتنه شوې وي، راته ویې ښیئ، چې اصلاح یې کړم او په راتلونکې ورسره مخامخ نه شم.

۵. ۲ـ مناقشه

په شن ټاغي ناول کې د برجارونو څېړنې څخه ښکاره شوه، چې د هالېډې تيوري د پښتو ژبې په نثرونو په تېره بيا په ناولونو کې د تطبيق وړ ده. دري واړه برچارونه سره له ټولو برخو يې پکې روښانه شول او هري برخې لپاره لازمې ښېلګې وړاندې شوې. د کتاب پايله هم دا راښيي، چې هر برچار سره ټولو څانګړنو په شين ټاغي ناول کې روښانه شو.د هري برخې لپاره ورته پوره مثالونه او لازمې جملې راوړل شوې او هغه پوښتنې چې ما د موضوع لپاره ټاکلې وې، ځواب شوې او کوم اهداف چې ما د خپلې څېړنيزې موضوع لپاره ټاکلي وو، هغه مې هم لاس ته راوړل. په دې خاطر تيوري تطبيق شوه او پايله يې هم مثبته شوه. دا تيوري نحوي تيوري ده او د نحوې په باره کې ډېرې داسې پوښتنې ځوابولای شي، چې پخوانيو نحوو ورته ځواب نه دی موندلی.

په شين ټاغي ناول کې د برچارونو څېړنه لا تر دې مهاله د کوم څېړونکي له لوري نه وه څېړل شوې. په خپله برچارونه او د چاروال ګرامر نوري برخې په ښلابښلو کتابونو کې معرفي شوي دي؛ خو زما د څېړنيزې موضوع سره نېغ په نېغه اړيکه نه لري؛ بلکې په ځينو څنګزنو برخو کې ښايي ورسره ارتباط پيدا کړي او د برچارونو او يا ځينو نورو برخو يادونه، چې په ځينو کتابونو او مقالو کې شوې، يوازې او يوازې زما د موضوع لپاره د پېژندنې تر حده ده. داسې يو اثر چې برچارونه پکې تشرېح شوي وي او يا په يوه ناول کې تطبيق شوي وي، ما پيدا نه کړ، چې زما د موضوع سره مستقيماً اړخ ولګوي؛ خو بيا هم ځينې کتابونه او يا مقالې چې په دغه برخه کې ليکل شوي، زه ترې يادونه کوم؛ خو دا چې مناقشې په توګه يې پرتله کړم، ما پيدا نه کړل.

د چاروال ګرامر په باب يو بشپړ کتاب د پوهنوال ډاکتر راحلې حميد زی(ګذار از معقوله ومیزان به دستور نقش گرای نظام مند هالېډې) دی. دا کتاب د هالېډې د چاروالې نظريې پر اساس ليکل شوی او د چاروال ګرامر برچارونه او نورې برخې د ځينو ښلګو سره راوړل شوي دي. دا کتاب زما د موضوع سره يوازې د برچارونو د پېژندلو او د برچارونو د څنګزنو برخو په پېژندلو کې مرسته کوي. کومه پېژندنه چې استاد حميدزی د برچارونو راوړې ده، هماغه پېژندنه ماهم په خپل اثر کې راوړې. دا اثر زما لپاره د يو معتبر ماخذ په

توګه هم مرسته کړې او ما هم ترې د برچارونو او د هغو د څنګزنو برخو په پېژندلو کې ترې ګټه پورته کړې.

د هالېډې له نظره برچارونه درې(تجربي، وګړمنځی او متني) ښوول شوي، ډاکتر حمیدزی هم همدا درې راوړي او زما څېړنیزه موضوع هم د همدغو درېو برچارونو څېړنه په شین ټاغي ناول کې ده. په تعریفونو کې داسې متفاوتې برخې نشته، چې زه دلته ترې یادونه وکړم؛ خو دومره یادونه کولای شم، چې استاد حمیدزی برچارونه لومړی تعریف کړي او بیا یې یوه یوه یا دوې دوې ېېلګې ورته راوړي دي. ما په شین ټاغي کې د هر برچار د ځانګړنو او برخو لپاره ډېرې ېېلګې راوړې، چې موضوع یې لا روښانه کړې ده. استاد حمید زی د تجربي برچار پروسې شپږ ښودلې، چې درې یې اصلي دي او درې نورې یې فرعي. دا پروسې ماهم راوړې او یوه بله پروسه ما ور ډېره کړې، چې هغه استعاري پروسه ده او دا پروسه لا تر اوسه چا نه ده څېړلې. ښایي د استادې به فکر نه وي او یا به یې مناسبه نه وي بللې.د پروسو ترڅنګ نورې برخې د تجربي برچار لکه ګډوني توکي او حاشیوي عناصر هم راوړي دي؛ خو ما دا برخې په نورو جزیاتو وېشلې دي او د هرې برخې جزیات مې د ېېلګو په راوړلو سره روښانه کړي.

بل اثر چې ما په خپل کتاب کې ترې پوره ګټه اخیستې او زما د موضوع لپاره د یوه معتبر اثر په توګه تر یادونه شوې، هغه د ډاکتر صاحب ښکلي د ژېپوهنې نظریې کتاب دی. دغه کتاب کې دوې مقالې د چاروال ګرامر د ځینو برخو تشرېح وړاندې کوي. دا کتاب زما لپاره ځکه ډېر ګټور تمام شو، چې استاد مقالې په پښتو ژبه دي او مورِ ښه ګټه ترې اخیستی شو. استاد په خپل کتاب(ژېپوهنې نظریې) کې د(برنقشونه د متني ژېپوهنې یو مهم بحث) تر سرلیک لاندې مقاله لیکلې ده. په دغه مقاله کې همدا درې برنقشونه، چې وړاندې یې هم یادونه وشوه راغلي دي او ورسره د هر بر نقش برخې په ډېر لنډ ډول تشرېح شوي دي. ټوله مقاله په ۱۱مخونو کې راوړل شوې او هره برخه یې ډېره لنډه رامعرفي کړې او ما هم پوره ګټه ترې واخیسته؛ خو په (شین ټاغي کې د برچارونو څېړنه) په باب څه نه لري او زه د مناقشې په برخه کې پرې نوره تبصره نشم کړای.

د هرې برخې او هر برچار په پېژندلو کې د استاد حمیدزی، استاد ښکلي او زما د نظر

ترمنځ کوم اختلاف نشته.

بله مقاله چې استاد ښکلي لیکلې د(چاروالې ژبپوهنې نظام) تر سرلیک لاندې ده. په دغه مقاله کې د ژبې درې سطحې، ډلبندۍ او برخې یې، تلې او ډولونه یې، دندې(نقشونه) او ډولونه یې پکې څېړل شوي دي. د دې مقالې څخه هم، ما د خپلې څېړنیزې موضوع لپاره د یو ښه ماخذ په کار اخیستی او ګټه مې ترې پروته کړې ده. یوه خبره د یادونې وړ بولم، چې دا مقاله د هالېډې پخوانۍ نظریه وه، چې د ژبې سطحې، ډلبندۍ او نورې برخې پکې معرفي شوې دي. د هالېډې اوسنۍ چاروالې نظریه په برچارونو ولاړه ده او برچارونه د ژبې دندې دي، چې د ژبې مانا هم تر اخیستل کېدای شي. په دې مقاله کې هم برچارونه معرفي شوي، چې پورته یې هم یادونه وشوه. د برچارونو نورې څنګزنې برخې هم پکې پېژندل شوي دي. په دغه مقاله کې هره برخه په ډېره لنډه توګه بیان شوې، چې ما یوازې د یوه ماخذ په توګه ګټه ترې اخیستې ده او د برچارونو د نورو برخو د لا تشریح لپاره ما خپله هڅه کړې او هرې برخې لپاره مې د شین ټاغي څخه جملې راوړې دي.

بله مقاله چې استاد ښکلي ژباړلې، هغه د ډاکتر حمیدزۍ هغه کتاب یې په لنډ ډول ژباړلی، چې ما یې لومړی یادونه وکړه او نوم یې ورکړی د(هالېډې د میزان او ډلبندۍ نظریه). په دغه مقاله کې د ژبې سطحې او برخې یې د خواناستۍ محور، د ځای ناستۍ محور، ډلبندۍ، قرینې، تلې او نورې برخې پکې ژباړل شوي دي او لنډیز یې راغلی. دا مقاله هم زما لپاره ماخذ کېدای شي؛ خو متفاوتې برخې نه لري.

بل کتاب چې ما ترې ګټه اخیستې هغه(نظریه های زبانشناسي) د ډاکتر حمیدزۍ دی. په دغه کتاب کې هم په (زبانشناسي نقش ګرای نظام مند هالېډې) بحث شوی او ما یوازې د یوه ماخذ په توګه تر ې ګټه اخیستې، چې ښایي د نقش او برنقشونو د پېژندلو لپاره مې تر ګټه اخیستې وي. دا کتاب زما د څېړنیزې موضوع سره په یوه برخه کې اړخ لګوي، چې همدا د برنقشونو پېژندل دي او بس.

نور ماخذونه چې ما د خپلې څېړنیزې موضوع د بشپړلو لپاره د یوه ماخذ په توګه ګټه تر اخیستې، ځینې مقالې دي. دا مقالې په یوه برخه کې نه په یوه برخه کې زما د څېړنیزې موضوع سره اړخ لګوي. د دې مقالو له جملې څخه یوه مقاله د پکتیکا د پوهنتون د پښتو

ادبیاتو د استاد ښاغلي حکیمي ده، چې د(په علمي مقالو کې د انسجام د نقش څېړنه) تر سرلیک لاندې لیکل شوې. په دغه مقاله کې یوازې په انسجام او د انسجام په اوزارو بحث شوی. په علمي مقالو کې د انسجامي اړیکو سره کوم څېړونکی مخالف نه دی او نه یې د اوازو سره کوم مخالت لري. استاد حکیمي هم دا منلې، چې په علمي مقالو او یا نورو متونونو کې انسجام او اړیکې یې مهمې دي. دا نظر موږ هم تایدوو. د استاد حکیمي بله مقاله د(وینا کړ له زاویې د بیان، امر او پوښتني سناریو څېړنه) تر سرلیک لاندې څېړل شوې ده. د دې مقالې څخه موخه داده، چې په وینا کې دا درې وجهې مهمې دي، چې یوه امري ده، بله بیاني او بله هم پوښتنې ده. په وینا او متن کې دا درې وجهې شته؛ خو د دې سره جوخت درې وجهیتونه هم شته، چې شکي، احتمالي او التزامي دي. باید دا هم ورسره یو ځای څېړل شوي وای. ښایي لیکوال د موضوع د اوږدوالي لپاره وجهیتونه نه وي څېړلي.

بله مقاله چې په بشپړاند لیکل شوې، هغه د استاد کډوال ده. استاد کډوال لیکلي، چې وګړنځي برچار کې هره فقره دوې برخې لري، چې یوه برخه یې پاتې شونې او بله برخه یې وجه ده. د وجه یادونه وړاندې وشوه، چې درې دي او درې یې وجهیتونه دي. پاتې شونې هغه برخې دي، چې یا به بشپړاند وي، یا به پایځوړ وي او یا هم لېرندوی. بشپړاند نور ډولونه هم لري، چې ښاغلي کډوال ورته اشارې کړې دي. بشپړاند یې داسې معرفي کړی، چې په فقره کې یوه برخه(فاعل، مفعول او یا فعل) بشپړوي. بشپړاند په یوه جمله کې د یوې برخې د بشپړاوي لپاره راوړل کېږي، چې د فعلونو د بشپړولو لپاره معمولاً قیدونه راځي او د فقرې د نورو برخو د بشپړولو لپاره ښایي، چې ستاینومونه او یا نورې برخې هم راوړل شي.

استاد همای د(د چاروالې ژبپوهنې پر بنسټ د پښتو رسنیو په خبرونو کې د پیلامګر جوړښت څېړنه) تر سرلیک لاندې مقاله لیکلې ده. دا مقاله په رسنیو کې پیلامګر څېړي. پیلامګر د فقرې یا غوندلې لومړی برخې یا هغه برخ ته وایي، چې د غوندلې په پیل کې راشي. دا پیلامګر ښایي خپلواکه کلمه وي او ښایي ناخپلواکه، ښایي ساده کلمه وي او یا ښایي مرکبه. دا خبرې سمې دي. پیلامګر د جملې په پیل کې راځي. البته دا خبرې یوازې

چاروال ګرامر له اړخه پیلامګر او هغه هم د متني برچار له مخې ورته ویلای شو. که د نورې نحوې له مخې ورته ځیرنه وکړو، بیا پیلامګر نه بلل کېږي؛ دا ځکه چې په نحوو کې ناخپلواکه کلمه پیلامګر نشي کېدای یا مبتدا نشي کېدای.

یو بل کتاب چې زما لپاره ګټور تمام شو، هغه د عبدالحق سلامزوی د ماسترۍ تېزس(چاروال ګرامر ته کتنه) دی. په دې تېزس کې د چاروال ګرامر ډېرې برخې تشرېح شوې دي او د مفاهیمو په تعریفونو او پېژندلو کې مې ترې ګټه واخیسته. سلامزوی هڅه کړې، چې د چاروال ګرامر ټولې برخې راوړي او څه نا څه پکې بریالی هم دی. د ښاغلي سلامزوی د لیکنې ژبه یو څه ساده نه ده او موضوعات یې په پوره روانه او ساده ژبه نه دي راوړي. زه یې ځکه نه ملامتوم، چې په چاروال ګرامر کې لا تر اوسه داسې کتابونه نه دي لیکل شوي، چې لیکونکي دې ترې ډېره ګټه واخلي.

دا هغه کتابونه او مقالې وې، چې زما د څېړنیزې موضوع سره په ځینو برخو کې مرستندوی واقع کېدای شي. دا کتابونه زما د اصلي موضوع(په شین ټاغي ناول کې د برچارونو څېړنه) سره پوره اړخ نه لګوي؛ خو د مفاهیمو په پېژندلو کې ترې ګټه پورته کېږي.

د شین ټاغي په باب هم چا ډېر څه نه دي لیکلي. محمد اسحق مومند د سعدالدین شپون ژوند او اثار یو کتاب لیکلی او په هغې کې یې د شین ټاغي په باب لیکلي، چې دا یو سیاسي ناول دی. شین ټاغی یو سیاسي ناول دی او دا ځکه سیاسي لیکل شوی، چې د وخت د حالاتو غوښتنه وه. د وخت حالات داسې وو، چې روسانو زموږ په وطن حملې کړې وې او نوی پیل یې و؛ نو مجاهدیونو هم ځای ځای غونډېدل او د روسانو د مقابلې لپاره یې تیاری نیوا. په دې وخت کې شپون یې د موټر سره مقاومت ته راداخل کړ او بغلان د کیله ګي نه یې وسلې پرې رانقل کړې. لیکوال دغه صحنې انځور کړې دي؛ نو ځکه سیاسي ناول یې لیکلی دی.

دا هغه موارد وو، چې زما د څېړنیزې موضوع سره یې په ځینو برخو کې اړخ لګاوه او د اصلي موضوع سره هېڅ داسې اثر پیدا نه شو، چې ما د یوه ښه او معتبر ماخذ په توګه ترې ګټه اخیستې وای او موضوع مې پرې بشپړه کړې وای.

د یادونې وړ بولم، چې پورتني کتابونه او مقالې چې ما د ماخذ په توګه ترې ګټه پورته کړه، زما د موضوع سره په څنګزنو برخو اړخ لګوي او د اصلي موضوع سره په ارتباط کې نه دي. په دې خاطر د مناقشې په برخه کې نظرونه سره نشم پرتله کولای. دا څکه چې په شین ټاغي کې لا تر اوسه دا سې څه کوم څېړونکي نه دي لیکلي، چې د همدې موضوع سره مستقیماً اړیکه ولري. له همدې امله یوازې د همغو برخو یادونه مې وکړه او پېژندنه مې راوړه. یا داسې یو اثر مې تر لاسه نه کړ، چې د هالېډې چارواله نظریه یې تطبیق کړې وي، هغه هم په کوم ناول کې.

۵. ۳ـ پای‌پایله

د پورته مناقشې څخه وروسته زه دې نتیجې ته ورسېدم، چې په شین ټاغي ناول کې لا تر اوسه کوم لیکوال برچارونه او یا هم د برچارونو کومه برخه نه ده څېړلې او زما څېړنه په دغه برخه کې ښایي لومړۍ څېړنه وي. له دې څېړنې او مناقشې څخه وروسته راته څرګنده شوه، چې په شین ټاغي کې تجربي برچار ټولې پروسې(مادي، ذهني، اړیکمنې، بیاني، چلني او وجودي) شته او له دې سره په څنګ کې(استعاري) پروسې هم پکې ډېرې پیدا کېږي. له دې څېړنې څخه وروسته راته جوته شوه، چې په شین ټاغي کې مادي پروسې نظر نورو پروسو ته ډېره ده او دا ځکه چې دا یو سیاسي ناول دی او په سیاسي ناولونو کې لیکوال دا هڅه کوي، چې پېښې له ذهني بهیر څخه مادي ته راوباسي او هره پېښه لیدونکو او لوستونکو ته بیرون کېږ دي. پېښې عیني کړي، تر څو د لوستونکو پام لاښه وروواړي او په ډېر دقت یې واوري او یا هم ولولي. له بله پلوه په سیاسي ناولونو کې لیکوال دا هڅه هم کوي، چې کلمې داسې راوړي، چې د اصلي مانا پر ځای بله مانا هم ترې واخیستل شي. دا ځکه چې لوستونکو هنوز پام ځانته واړوي.

د پروسو تر څنګ په دا ډول سیاسي ناولونو کې مکالمې د دوو نفرو ترمنځ ډېرې کېږي، چې وګړمنځی برچار جوړوي. کله چې مکالمه کېږي؛ نو هرو مرو باید د اطلاع نظام رامنځته شي او د هرې نوې اطلاع په راتګ سره تېره اطلاع زړه بلل کېږي او دا برخه په دویم برچار(وګړمنځي) کې کېږي، چې په شین ټاغي ناول کې دا ډول برخې بیخي ډېرې دي، دا ځکه چې دا یو سیاسي ناول دی.بله مهمه خبره داده، چې په سیاسي ناولونو کې ډېره وي، هغه د امر په بڼه او یا د پوښتنې په بڼه مکالمې دي او دا ډول مکالمې په شین ټاغي ناول کې ډېرې دي. د امر او پوښتنې مکالمې د وګړمنځي برچار بله برخه جوړوي، چې وجهې بلل کېږي. همدا راز شین ټاغی ناول د انسجامي اړیکو له نظره او د پیلګر نظام له نظره پوره په تول برابر دی. ځکه چې انسجامي اړیکې او اوزار یې او همدا راز د پیلګر نظام د رغښت له نظره هم پوره په تول برابر دی.

بله مهمه خبره چې ما په دغه ناول کې پیدا کړه، هغه د مادي پروسو او یا نورو پروسو د ډېر راوړلو لاملونه وو او ما پکې ومونډل، چې مادي پروسې په سیاسي ناولونو کې ډېرې

وي. پېښې پکې عيني کېږي، له ذهني نه مادي ته راوړي او بلاخره مکالمې صورت نيسي. د دې ټولو خبرو تر څنګ يوه بله مهمه خبره چې ما په دغه ناول کې وموندە، هغه دا وه، چې د دې ناول ژبه ساده، د هر لوستونکي د سويې سره برابره او تر ډېره يې خپله کليوالي لهجه پکې استعمال کړې وه.

شين ټاغی ناول، د وخت د شرايطو، چاپېريال، اسلامي او افغاني کلتور سره سم ليکل شوی، چې ما يې ځينې بېلګې هم راوړي دي.

۵. ۴ـ وړاندیزونه

وړاندیزونه په دوو برخو وېشم:

۱ـ علمي وړاندیزونه

۱ـ د ماستریٰ او دوکتورا دورې د محصلینو څخه دا غوښتنه کېږي، چې خپلې علمي مقالې د چاروال ګرامر اړوند ولیکي، تر څو دغه ګرامر لا ښه ساده شي او لوستونکي ترې ښه ګټه واخلي.

۲ـ د ماستریٰ او دوکتورا دورې د استادانو څخه هم دا هیله کوم، چې خپلې علمي مقالې په دغه برخه کې ډېرې ولیکي، چې د چاروال ګرامر ټولې برخې لا ښې روښانه شي او لوستونکي ترې ښه ګټه واخلي.

۳ـ د لوړو زده کړو وزارت، علومو اکاډمي، کابل پوهنتون او نورو اړوندو ادارو څخه هم دا غوښتنه کوم، چې د معاصرې ژبپوهنې د لا ډېر دود لپاره عملي قدمونه پورته کړي.

۴ـ د چاروال ګرامر تیورې، چې د هالېډې څخه پخوا هم وه او د سایمنډک تیورې سره پرتله شي او یا دهغې د هغې تیورې په رڼا کې هم څېړنې وشي.

۲ـ عملي وړاندیزونه

۱ـ د لوړو زده کړو وزارت څخه دا غوښتنه کوم، چې د دوکتورا دورې د محصلینو لپاره دې زمینه برابره کړي، تر څو ګاونډي ملک(ایران) ته د علمي سیر په توګه لاړ شي او هلته دې په دغه برخه کې کوتا مدت کورسونه تعقیب کړي.

۲ـ د دوکتورا دورې استادان باید په معاصره ژبپوهنه(چاروال ګرامر) کې محصیلنو ته سیمینارونه، تېزسونه، ډېزرتیشنونه ورکړي او دغه برخه دې لا غني کړي.

۳ـ د کابل پوهنتون د پښتوژبې او ادبیاتو څانګې څخه دا غوښتنه کوم، چې معاصر ګرامر او معاصره ژبپوهنه دې د ماستریٰ مفرداتو ته هم راډېره شي او که لېسانس دورې ته راګډه شي، هنوز به ښه شي. تر څو مور د دودیزې ژبپوهنې پرځای په لېسانس دوره کې معاصره ژبپوهنه ولولو.

اخځليکونه

ازمون، لال پاچا.(۱۳۸۹).منظوم انځورونه.پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.

ترابي، محب اله.(۱۴۰۳). د مفهومي استعارې پربنسټ د پښتو ښېراوو او دعاوو ځيرنه. وړمه مجله.اوومه گڼه. کابل پوهنتون، د ادبياتو پوهنځی: د پښتوژبې او ادبياتو څانگه.

حکيمي، رحمت الله.(۱۴۰۳).د انسجام د نقش څېړنه.مقالو ټولگه.لومړی ټوک.کابل: افغان نړيوال اسلامي پوهنتون.

حکيمي، رحمت الله.(۱۴۰۳).د وينا کړ له زاويې د بيان، امر او پوښتنې سناريو څېړنه. وړمه مجله.اوومه گڼه. کابل پوهنتون: د ژبو او ادبياتو پوهنځي، پښتو څانگه.

حميدزی، راحله.(۱۳۹۸).کذار از معقوله و ميزان به دستوری نقش گرايی نظام مند هالېدی.کابل: نمايشگاه دايمی کتاب اريانا.

حميدزی، راحله.(۱۴۰۲).نظريه های زبانشناسی.کابل: سمون خپرندويه ټولنه.

درمل، احسان الله.(۱۴۰۱). شعرستان.درېيم چاپ.کندهار: بېنوا خپرندويه ټولنه.

رحماني، گل رحمن.(۱۳۹۴).د ستور سيند. جلال آباد: مومند خپرندويه ټولنه.

روهي، محمدصديق.(۱۳۸۴). د پښتو ادبياتو تاريخ.پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.

سالک، مصطفی.(۲۰۱۳).منشور. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.

سلامزوی، عبدالحق. چاروال گرامر ته کتنه. د ماستری تېزس. ناچاپ.

سمون، محمد مصطفی.(۱۴۰۳). ډيسکورس شننه. کابل: سمون خپرندويه ټولنه.

شاهد، سمېع الله.(۱۴۰۳).د هالېډې د چاروالې نظريې پر بنسټ د اوب څېړنه.کابل: سمون خپرندويه ټولنه.

شپون، سعدالدين.(۱۳۹۸). د سعدالدين شپون داستاني کليات. د لال پاچا ازمون په

زیار.کابل.

شپون، سعدالدین.(۱۳۷۹). شین ټاغی.دویم چاپ. پېښور: دانش خپرندویه ټولنه.

ښکلی، اجمل.(۱۴۰۲). د هنر نا اشناکول. کابل: سمون خپرندویه ټولنه.

ښکلی، اجمل.(۱۴۰۱). د ژبپوهنې نظریې. کابل: پکتوس خپرندویه ټولنه.

کډوال، شاه محمود.(۱۴۰۳).د چاروالې ژبپوهنې پر بنسټ په پښتو جمله کې د بشپړاند څېړنه. وړمه مجله. اوومه گڼه.کابل پوهنتون: د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، پښتو ژبې او ادبیاتو څانگه.

مقدم. دبیر.(۱۳۹۸). زبانشناسی نظری(پیدایش و تکوین دستور زایشی). لسم چاپ. تهران: سازمان مطالعه او تدوین کتب انسانی دانشگاها.

مومند، محمد اسحق.(۱۴۰۲). د سعدالدین شپون ژوند او اثار.کابل: د افغانستان د علومو اکاډمي.

همای، یحیا.(۱۴۰۳). د چاروالې ژبپوهنې پر بنسټ د پښتورسنیو په خبرونو کې د پیلامگر جوړښت څېړنه. وړمه مجله. اوومه گڼه. کابل پوهنتون: د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، پښتو ژبې او ادبیاتو څانگه.

همت، فضل الرحمن.د منظره کښنې په رڼا کې د خونکار ناول څېړنه. د ماستری تېزس ناچاپ.

Halliday, M. A. K. (1985). *An Introduction to Functional Grammar*. London: Edward Arnold.

Halliday, M. A. K., & Matthiessen, C. M. I. M. (2014). *Halliday's Introduction to Functional Grammar* (4thed.). London: Routledge.

Rahmatullah Hakimi(2026) The Beaty of Sensuality in Prose. Integrated Journal for Research in Arts and Humanities, volhme - 6, Issue-3, pp75- 83.